د پنځم فصل پېژندنه :

عنوان : مقیاسات

د درسي کتاب مخونه : ۵۱ــ۶۳

د پېشنهاد شوي درسونو شمېر : ۲۵

درسي معاونات : خط کش ، لښتی ، کاغذي پټی ، تار ، ساعتونه ، وزني کانې ، ترازو او مختلف شیان .

د موضوعاتو تفصیل او تبصری :

د مقیاساتو فصل د ماشومانو د ورځنۍ ژوند سره خاص او نږدې اړیکې لري . په دې فصل کې د اوږدوالي ، وزن او وخت درې اساسي مقیاسات معرفي شوي دي . مونږ فقط هغه د اندازه اخیستلو واحدونه معرفي کړي دي چې په ورځنۍ ژوند کې ډېر استعمالېږي .

۱. اوږدوالی : ملي متر ، سانتي متر ، متر او کیلو متر
۲. وزن : ګرام ، کیلوګرام
۳. وخت : ثانیه ، دقیقه ، ساعت ، ورځ هفته ، میاشت او کال

په درسي کتاب کې مقیاسات په نیمه عملي طریقې سره د اشکالو او رسمونو په واسطه بنودل شوي دي . (نکه خط کش ، ترازو ، ساعت ، کلی او داسې نور .)

په درسي خاکو کې داسې عملي کارونه او لوبې پېشنهاد شوي دي چې زده کوونکي به د هغو د لارې نه ، نه یوازې د اندازه ګیرۍ په هکله معلومات ترلاسه کړي بلکې دا مهارت به هم پیدا کړي چې "څنګه ېې په عملي ژوند کې په کار یوسي ."

د ډېرې پیاورتیا دپاره وخت په وخت مونږ د سانتي مترونو په مترونو ، د کیلو ګرامونو په ګرامونو ، د کیلو مترونو په مترونو ،

د ثانیو په دقیقو او داسې نورو اړول را اړول پېشنهاد کړي دي .

د دې درسونو د صحیح او مناسب تدریس څخه وروسته به زده کوونکي د دې دپاره چمتو شي چې د اندازه کولو څخه پرته د شیانو د وزن ، اوږدوالي ، وخت او فاصلې قیاس وکړي .

په دې وخت کې به زده کوونکي د اندازه ګیرۍ د آلاتو او وسایلو سره اشنایي پیدا کړي او وکولای شي مغه استعمال کړي .

همدارنګه په دې فصل کې د لومړي ځل دپاره انګلیسي عددونه هم معرفي شوي دي.

۵۰ + ۵۰ = ۵ × ۲۰ =

۱۰ × ۱۰ = ۸۰ + ۲۰ = او داسې نور.

* نور هغه عددونه چې باید حاصل شي، په نوټو تخته لیکي : ۵۰۰ ، ۱۰۰۰ ، ۱۰۰۰۰

۲. تکرار :

– د کودنۍ کار کتنه او مقایسه

– د ۵۰ مخ د ① مشق مطالعه کول او پرې بحث کول، په یو یا دوو نورو مشابهو سوالونو باندې کار کول

۳ د شیانو د اوږدوالي اندازه کول :

– ښوونکی د ټولګي څخه یو د تېښتې وړې خلوند او یو لوړ زده کوونکی راغواړي .

* دواړه ، زده کوونکي او ښوونکی په خپلو لوښتو سره د نوټ تختې اوږدوالی یو په بل پسې اندازه کوي او د لوښتو تعداد په نوټه تخته لیکي .

* زده کوونکي بحث کوي ،او پیدا کوي چې د یو شانته اوږدوالي د پاره د لوښتو مختلف تعداد لرو چې د لوښت په اوږدوالي پورې مربوط دی .

* ښوونکی د زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې : آیا د شي د اوږدوالي د اندازه کولو د پاره کومه طریقه شته چې ټول واړه اوعنې خلک یو ځواب حاصل کړي .

* زده کوونکي پیدا کوي چې : خط کش هر نفر ته مساوي اندازه په لاس ورکوي .

* ښوونکی ټولګي ته خط کش ښیي او زده کوونکو ته پې ورکوي ، ترڅو زده کوونکي وکولای شي خط کش واضح او تشریح کړي . ځنې زده کوونکي ښایي کوشش وکړي چې ځنې شیان د خط کش په واسطه اندازه کړي .

– د ۱۰۱ مخ پرانیستل ، د چاپ شوي خط کش مطالعه اوتشریح کول، په خط کش ۲۰ لوبې نخښې دې چې نومړي لرې ، د هغوی ترمنځ فاصلې مساوي دي . په خط کش باندې د دوو ګاونډیو لوبو نخښو ترمنځ ۱۰ واړه قدمونه (نخښې) دي .

۵۱

پنځم فصل

مقیاسات یا اندازې

① اوږدوالی : د شیانو د اوږدوالي د سمد کولو د پاره ټاکلې او منل شوې مقیاسونو ته ضرورت ټرو ټکه زمونږ خط کش ، خط کش ملي متر او سانتي متر لري .

② د اندازه کولو د لاندې قلمونو اوږدوالي د رسم شوې خط کشونو په مرسته اندازه او حسابي خلې کې کړئ .

د ب او ج په پرتله کې د اوږدوالي پیدا کولو اسانه به ډول .

③ د دوو نخښه شوې غاښونو ترمنځ د ملي مترونو تعداد پیدا او خالي خلې کې کړئ

④ پیدا کړئ چې د دو نخښه شوې غاښونو ترمنځ څو سانتي مترونه دي او خالي خلې کې کړئ

⑤ پیدا کړئ چې د دو نخښه شوې غاښونو ترمنځ څو سانتي مترونه او ملي مترونه دي

۵۱ مخ - لومړی لوست

عنوان : د شیانو د اوږدوالي اندازه کول

درسي معلومات : د زده کوونکو د تعداد مطابق خط کشونه او د مختلفو اوږدوالیو لرونکي لښتي / کاغذي پټۍ (د لښتو او کاغذي پټیو اوږدوالی باید د ۲۰ سانتي مترو څخه کم وي .)

۱. ذهني روزنه :

– د جمع او ضرب په واسطه د یوه عدد حاصلول

* ښوونکی یو عدد (لکه ۱۰۰) په پاک ډول په نوټه تخته لیکي .

* زده کوونکي د لیکل شوي عدد (یعنې ۱۰۰) د حاصلولو دپاره مختلف تعداد د جمع یا د ضرب سوالونه پیدا کوي او وایي . لکه : (دوم ټکنار ګورئ)

- په ۱۰۱ مخ کې د چاپ شوې خاکش په واسطه د مختلفو لښتو د اوږدوالیو اندازه کول

* ښوونکی هر زده کوونکي ته یوه لښته یا کاغذي پټی ورکوي او کار تشریح کوي : لښته / کاغذي پټی پر خاکش باندې ږدي . د لښتې یو سر باید د صفر نخښې سره ولږږي . د خاکش څخه لوی قدمونه خپلې لښتې ته د قلم یا پنسل په ذریعه نقل کړئ . خپلې لښتې باندې د نخښو ترمنځ د قدمونو تعداد وشمېرئ .

* زده کوونکي د ملګرې سره د کتنې دپاره خپلې لښتې بدلوي . (د خپل کار د کتاب د خاکش سره د مقایسې په ذریعه)

- د ملګرې سره د رسم شوې خاکش په واسطه د مختلفو شیانو لکه د ګوتو ، لوښت ، قلم ، پنسل او داسې نورو د اوږدوالیو اندازه کول

* زده کوونکي د لوړو قدمونو تعداد او د اضافي کوچنیو قدمونو تعداد پیدا کوي او وایي لکه د ګوتې اوږدوالی ٦ لوی قدمونه او ۴ واړه قدمونه دي .

۴. د پټې خولې کار / کورنی کار :

مختلف شیان اندازه کول ، د مغزو اوږدوالیو لیکل ، د لوړو او ټرو عددونو ذکرول .

۵۱ مخ - دوهم لوست

عنوان : د سانتي متر او ملي متر معرفي کول

درسي مواد : د ۷ سانتي مترو اوږدوالي لرونکې خو لښتې

۱. ذهني روزنه :

- د تفریق او ضرب په واسطه د یوه عدد لاس ته راوړل (د تېر درس په شان)

* خوابونه باید په تورو تخته ولیکل شي ، لکه : ۱۰ ، ۵۰ ، ۲۰۰ ، ۱۰۰۰ ، ۵۰۰۰ .

۲. تکرار :

- ښوونکی د ۵۰ مخ د ② مشق ځینې سوالونه په تورو تخته لیکي .

* زده کوونکي د عددونو خایونه بدلوي او په تورو تخته یې په مختلف ترتیب سره جمع کوي چې یوه نتیجه لاس ته راشي .

۳. د سانتي متر او ملي متر معرفي کول :

- ښوونکی د زده کوونکو څخه غواړي چې د خپل ملګري سره د ۵۱ مخ ① مشق مطالعه او بحث پرې وکړي .

* یو زده کوونکی جملې په لوړ آواز لولي .

* بل زده کوونکی رسم شوی خاکش تشریح کوي : د لوړو نخښو ترمنځ فاصلې ته سانتي متر او د وړو نخښو ترمنځ فاصلې ته ملي متر وایي .

* ښوونکی د څو زده کوونکو څخه غواړي چې د دوو کاونډیو لوړو علامو ترمنځ د ملي مترونو تعداد وشمېرې . زده کوونکي پیدا کوي چې په دې منځ کې ۱۰ ملي مترونه دي . زده کوونکي ترتیبوي چې ۱۰ ملي متره ۱ سانتي متر جوړوي .

* ښوونکی په تورو تخته لیکي : ۱ سانتي متر = ☐ ملي متر . زده کوونکي ځواب پیدا کوي او خالي خانې ډکوي .

- ښوونکی د زده کوونکو څخه غواړي چې د خپل ملګرې سره د ۱۰۱ مخ د رسم شوې خاکش په مرسته مختلف شیان اندازه کړي ، لکه د پښتو د کتاب سور او داسې نور .

* زده کوونکي د بېلابېلو شیانو اوږدوالی په سانتي - متر او ملي متر معلوموي او وایي لکه د کتاب سور ۱۸ سانتي متره او ۵ ملي متره دی او داسې نور .

* ښوونکی د ۷ سانتي متره اوږدوالي لرونکی خو لښتې راوړي او زده کوونکو ته یې ورکوي او ورڅخه غواړي چې د خاکش په لوړو علامو باندې پېنسل شیړیو مختلفو موقعیتونو باندې یې کېږدي ، لکه :

۰ — ۷ ، ۳ — ۱۰ او داسې نور .

* هر ځل زده کوونکي د سانتي مترونو تعداد شمېري او صحیح ځواب یعنې ۷ سانتي متره وایي .

۴. تولګی کې د پټې خولې کار / کورنی کار : ۵۱ مخ ② مشق

۵۱ مخ - دریم لوست

عنوان : د خط‌کش پر مخ د دوو نخښه شویو خایونو ترمنځ د فاصلې پیدا کول (د ملي مترونو او سانتي مترونو تعداد)

درسي مواد : څو خط‌کشونه

۱. ذهني روزنه :

- د ۱۰۰۰ پوره کول

* ښوونکی ۱۰۰۰ په توره تخته لیکي .
* زده‌کوونکي د جمع ببل ببل مساواتونه چې ځواب یې ۱۰۰۰ وي، پیدا کوي او وایي ، لکه :

۵۰۰۰ + ۵۰۰۰ =
۱۰۰۰ + ۱۰۰۰ + ... + ۱۰۰۰ =
۹۲۰۰ + ۸۰۰ =
۹۹۹۰ + ۱۰ =
۹۹۹۹ + ۱ = او داسې نور.

۲. تکرار :

- ښوونکی د ببلابېل اوږدوالي لرونکي لښتي راوړي چې پوره سانتي مترونه وي ، لکه ۳ سانتي مټره ، ۸ سانتي مټره ، ۵ سانتي مټره او داسې نور او د هر یوه څوکه د خط‌کش د لوېو ښیلو نخښو سره برابري (= پوره سانتي متر)

* زده‌کوونکي هرځل سانتي مترونه شمېرې او صحیح ځوابونه یعني ۳ سانتي مټره ، ۸ سانتي مټره او ۵ سانتي مټره او نور وایي.

۳. په خط‌کش باندې د دوو نخښه شویو خایونو ترمنځ د فاصلې پیدا کول

(د سانتي مترونو او ملي مترونو شمېر)

- ښوونکی ګروپونه جوړوي او هر ګروپ ته یو خط‌کش ورکوي ، د هر ګروپ یو زده‌کوونکی یې تشریح کوي :

الف : دوو ورځو علامو ته اشاره کوي :

* نور زده‌کوونکي د ښودل شویو علامو ترمنځ واړه قدمونه (علامې) شمېرې او وایي ☐ ملي مټره .
* په همدې طریقې سره دوام ورکول (فاصله هرځل مختلفه وي)

ب : دوو لوېو نخښو ته اشاره کوي :

* نور زده‌کوونکي د ښودل شویو علامو ترمنځ لوی قدمونه (علامې) شمېرې او وایي ☐ سانتي مټره .
* په همدې طریقې سره دوام ورکول

ج : دوو مختلفو علامو ته اشاره کوي چې هر یو یې د ورځو او لوېو علامو ښودونکی او د مختلفو ملي مترونو او سانتي مترونو لرونکی وي .

* نور زده‌کوونکي لوی قدمونه (سانتي مترونه) او واړه قدمونه (ملي مترونه) شمېرې او وایي.
* په همدې دول کار ته دوام ورکول

- زده‌کوونکي د ۵۱ مخ په ⑦ مشق بحث کوي. (ښوونکی مرسته کوي)

- د ۵۱ مخ په ③ مشق کار کول

* جملې په لوړ آواز لوستل ، بحث پرې کول او نتیجه اخیستل چې : مونږ باید د ملي مترونو تعداد وشمېرو او ولیکو.
* د خالي بکسونو دکول ، په لوړ آواز یې ویل د ځوابونو مقایسه کول

- د ۵۱ مخ په ④ مشق کار کول

* جملې په لوړ آواز لوستل ، بحث پرې کول او نتیجه اخیستل چې : مونږ باید د پوره سانتي مترونو تعداد وشمېرو او ولیکو .

* د خالي بکسونو ډکول ، په لوړ آواز يې ويل / د خوابونو مقايسه کول

– د ۵۱ مخ په ⑤ مشق کار کول

* جملې په لوړ آواز لوستل ، بحث پرې کول او نتيجه اخيستل چې : موږ بايد د پورته سانتي مترونو او پاتې شويو ملي مترونو تعداد وشمېرو او ولېکو .

* د خالي بکسونو ډکول ، په لوړ آواز يې ويل / خوابونه مقايسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

په ټولګي او يا په کور کې د خط کش او يا د کتاب په شا کې د خط کش په واسطه د مختلفو شيانو اندازه کول ، د هغو د نومونو او اوږدوالي ليکل

۲. تکرار :

– د هغو شیانو نومونه اخیستل چې اوږدوالی یې په خطکش باندې اندازه کېږي لکه کتاب قلم ، پنسل،لاسي تخته (سلېټ) او داسې نور (اعظمي اوږدوالی ۳۰ سانتي متره)

۳. د خطکش په واسطه د مختلفو شیانو د اوږدوالي پیدا کول ، د خطکش استعمال

– ښوونکی د مختلفو اوږدوالیو لرونکي یوځو لنډې لښتي ټولګي ته راوړي او د سانتي متر او ملي متر دپاره خالي بکسونه په تورې تخته ببل ببل یو په بل پسې رسمويې ، لکه :

[ ] سانتي متره او [ ] ملي متره

* زده‌کوونکي د صنف مخکې د لښتو اوږدوالی د خطکش په واسطه ببل ببل اندازه کوي او په تورې تخته خالي خانې ډکوي .

– په همدې طریقه د ټولګي په مخکې د څو زده‌کوونکو د لوښتو د اوږدوالي اندازه کولو ته دوام ورکول ، د زده‌کوونکو نومونه او هغو د لوښتو د اوږدوالي اندازه په تورې تخته لیکل.

د ۱۰۱ مخ څخه-په صحیح توګه د لومړنۍ شکل (د خطکش) پرې کول

– د مختلفو شیانو د اوږدوالي اندازه کول

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غواړي چې د ملګري سره د خطکش په واسطه د ټولګي د مختلفو شیانو د اوږدوالي اندازه پیدا کړي، لکه د کتابونو ، پنسلونو ، قلمونو ، لوښتو او داسې نورو (ښوونکی مرسته کوي.)

– د ۵۲ مخ په ⑦ مشق کار کول ، کاغذي خطکش استعمالول

* په لوړ آواز د خوابونو ویل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

۵۲ مخ ، ① مشق


۵۲
① د هر پنسل اوږدوالی د خطکش په مرسته پیدا کړئ او خالي خانې ډکې کړئ .
② د لاندې شیانو اوږدوالی د خطکش په واسطه پیدا کړئ او خالي خانې ډکې کړئ .
③ لاندې سوالونه د مثالونو په شان حل کړئ .

۵۲ مخ - لومړی لوست

عنوان : د مختلفو شیانو د اوږدوالی پیدا کول ، د خطکش استعمالول

درسي معاونات : څو لنډې لښتي

۱. ذهني روزنه :

– د ۱۰۰۰ تکمیلول

* ښوونکي په تورې تخته ۱۰۰۰ لیکي .

* زده‌کوونکي د جمع ، تفریق او ضرب مختلف ممکن مساواتونه ، چې حاصلبونه یې ۱۰۰۰ وي پیدا کوي او وایي :

۵۰۰ + ۵۰۰ =
۸۰۰ + ۲۰۰ =
۱۰۰۰ – ۹۰۰ =
۵ × ۲۰۰ =
۱۰ × ۱۰۰ =
۵۰۰۰ – ۴۰۰۰ =

او داسې نور.

۵۲ مخ ـ دوهم لوست

عنوان : د سانتي متر اړول په ملي مترونو او د پورې لس ملي مترونو اړول په سانتي مترونو

درسي مواد : کاغذي پټۍ (۷ سانتي متره) ، لښتي (۴ سانتي متره) ، مختلف شيان چې د پورې سانتي مترونو اوږدوالی ولري

۱. **ذهني روزنه :**

ـ د عددي دايرو سره کار کول



۲. **تکرار :**

ـ بنوونکی يو خو لنډ (واړه) شيان تولګي ته راوړي او د سانتي متر او ملي متر لپاره په تورې تخته خالي خانې يو په بل پسې رسموي لکه :

☐ سانتي متر ☐ ملي متر

* زده کوونکي د شيانو اوږدوالی يو يو د تولګي په مخ کې د خط کش په واسطه اندازه کوي او په تخته باندې خالي خانونه ډکوي

ـ د کورني کار کتل او مقايسه کول

۳. **د سانتي مترونو اړول په ملي مترونو او د پورې لس ملي مترونو اړول په سانتي مترونو**

ـ د مختلفو شيانو د اوږدوالي په سانتي مترونو او ملي مترونو اندازه کول

* بنوونکی دوه تنه زده کوونکي د تولګي مخې ته رابولي او لاندينی جدول په تورې تخته ليکي. (لاندې وګورئ!)

* بنوونکی مختلف شيان لکه کاغذي پټۍ، لومړۍ زده کوونکي ته ورکوي چې په سانتي متر يې اندازه کړي ، دروسته يې دوهم زده کوونکي ته ورکوي چې په ملي متر يې اندازه کړي. (نور زده کوونکي يې خاري)

* هر ځل بنوونکی د شيانو نومونه لکه کاغذي پټۍ په جدول کې ليکي او زده کوونکي د هغوی له مقابل کې د تورې تختې په مناسبو خايونو کې سانتي مترونه يعنې ۷ او ملي مترونه يعنې ۷۰ ليکي.

شی	سانتي متر	ملي متر
لومړۍ کاغذي پټۍ	۷	۷۰

* په همدې ډول د نورو شيانو اندازه کولو ته دوام ورکول

* زده کوونکي په جدول کې د يو شي د سانتي مترونو او ملي مترونو شمېر سره مقايسه کوي او د هغوی تر منځ ارتباط پيدا کوي لکه ۷ سانتي متره د ۷۰ ملي مترونو سره مساوي دي ، ۷ سانتي متره د ۷ خلې ۱۰ (۷ × ۱۰) ملي مترونو په معنا دي ، ۷۰ ملي متره د ۷۰ تقسيم پر ۱۰ ملي متر (۷ سانتي متر) په معنا دي او داسې نور. ډېر زده کوونکي دغه ارتباط تنظيموي.

ـ د ۳ مشق د مثالونو مطالعه او تشريح کول

* د مشق د لومړيو شپږو سوالونو حلول

۴. **په تولګي کې د پټۍ خولې کار / کورنی کار :**

۵۲ مخ د ۲ مشق پاتې ځلورو سوالونه

۵۳

① لاندې ملي مترونه لکه څنګه چې په مثال کې ښودل شوي په سانتي متر واړوئ.



۶۵ ملي متره = ۶ سانتي متره + ۵ ملي متره

۲۳ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره | ۱۱ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره

۶۸ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره | ۷۱ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره

۹۷ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره | ۵۲ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره

② لاندې سانتي مترونه په ملي مترونو او يا ملي مترونه په سانتي مترونو لکه څنګه چې په مثالونو کې شوي دي، واړوئ او خالي خايونه ډک کړئ.

۷ سانتي متر = ☐۷۰☐ ملي متره ۸۰ ملي متره = ☐۸☐ سانتي متره

سانتي متر	۷	۸	۱	۹		۵			۳
ملي متر	۷۰	۸۰			۶۰		۴۰	۹۰	۲۰

③ لاندې لګې اندازه اوږده والی يې په يکسونو کې ولیکئ.



④ د ټولو لګيدو اوږدوالی سره جمع کړئ.

د ټولو لګيدو اوږدوالی ☐ سانتي متره دی.

۵۳ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : د ملي مترونو اړول په سانتي مترونو

درسي مواد : د لښتو او يا کاغذي پټيو زيات شمېر بنډلونه، چې هر يو يې د يو شان اوږدوالي لرونکي لښتي او يا کاغذي پټي ولري، خو بنډلونه بايد بېل بېل اوږدوالی ولري لکه ۳۷ ملي متره ۸۶ ملي متره، ۹۸ ملي متره، ۴۳ ملي متره.

۱. ذهني روزنه :

ـ د عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

ـ ښوونکی د ۵۱ مخ ③ مشق، د کورنۍ کار سوالونه يو په بل پسې په تخته ليکي، لکه: ۷ سانتي متره = ☐ ملي متره، ۸۰ ملي متره = ☐ سانتي متره او داسې نور.

* زده کوونکي د خطکش په مرسته د ملي مترونو او سانتي مترونو شمېر معلوموي او په تخته باندې خالي خايونه ډکوي.

ـ د کورنۍ کار کنته او مقايسه کول

۳. د ملي مترونو اړول په سانتي مترونو

ـ ښوونکی د زده کوونکو څخه ګروپونه جوړوي.

* ښوونکی هر ګروپ ته د يوه بنډل څخه يوه لښته ورکوي او د لښتې اوږدوالی په ملي متر په تخته باندې ليکي، لکه ۳۷ ملي متره = ☐ سانتي متره + ☐ ملي متره

* زده کوونکي د پورې سانتي مترونو او پاتې ملي مترونو تعداد د خطکش په مرسته پيدا کوي او په تخته باندې خالي خايونه ډکوي.

* په همدې ډول د نورو بنډلونو د لښتو او يا کاغذي پټيو سره کار ته دوام ورکول.

ـ ښوونکی ځيني فاصلې په ملي مترونو په تخته ليکي، لکه: ۵۸ ملي متره، ۴۵ ملي متره، ۶۷ ملي متره او داسې نور.

* زده کوونکي د دغو اوږدوالیو په اندازه په خپلو کتابچو کې خطونه رسموي، پورې سانتي مترونه شمېري او ټول په خط باندې په نخښه کوي او وروسته هر ملي متر په نخښه کوي. يعنې:

۵ سانتي متره + ۸ ملي متره

* په همدې ډول د نورو نمبرونو سره دوام ورکول

– د ۵۳ مخ په ① مشق کار کول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار / کورنۍ کار :

۵۳ مخ ، ② مشق (په مثالونو بحث او د هغوی تشریح کول .

۵۳ مخ - دوهم لوست

عنوان : د مختلفو اوږدو والیو اندازه کول

درسي مواد :

۱۰ لښتې/کاغذي پټۍ : ۱۰ سانتي متره ، ۱۲ سانتي متره ، ۱۳ سانتي متره ، ۱۵ سانتي متره ، ۸ سانتي متره ، ۹ سانتي متره ، ۷ سانتي متره ، ۱۱ سانتي متره ، ۶ سانتي متره ، ۹ سانتي متره .

يوه اوږده لښته چې اوږدوالی يې د ۱۰۰ سانتي مترو څخه ډېر وي .

۱. ذهني روزنه :

– عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

– د کورنۍ کار کتنه او مقايسه

– بنوونکی مختلف اوږدوالي په توره تخته لیکي ، ځينې په سانتي متر ، ځينې په ملي متر لکه : ۳۵ ملي متره ، ۸۶ ملي متره ، ۴۰ ملي متره ، ۶۲ ملي متره ، ۴ سانتي متره ، ۹ سانتي متره ، ۱ سانتي متر او داسې نور .

* زده کوونکي سانتي متر په ملي متر او ملي متر په سانتي متر يو په بل پسې اړوي .
يعنې : ۳۵ ملي متره = ۳ سانتي متره او ۵ ملي متره
۴ سانتي متره = ۴۰ ملي متره

۳. د مختلفو اوږدو والیو اندازه کول

– بنوونکی ۱۰ لښتې / کاغذي پټۍ چې اوږدوالی يې مختلف سانتي مترونه وي صنف ته راوړي ، لکه :

۱۰ سانتي متره ، ۱۲ سانتي متره ، ۱۳ سانتي متره
۱۵ " " ۸ " " ۹ " "
۷ " " ۱۱ " " ۶ " "
۹ " "

* زده کوونکي د لښتو / کاغذي پټيو اوږدوالی د خطکش په واسطه ببل ببل يو په بل پسې اندازه کوي او خوابونه په توره تخته لیکي . يعنې ۱۰ سانتي متره ، ۱۲ سانتي متره او داسې نور .
* زده کوونکي د ټولو لښتو / کاغذي پټيو اوږدوالی پر توره تخته جمع کوي .
(خواب ۱۰۰ سانتي متره دی .)
* زده کوونکي ټولې لښتې / کاغذي پټۍ يوه خط باندې يو په بل پسې پرمېز ږدي .
* زده کوونکي بحث کوي او وايي چې د ټولو لښتو يا کاغذي پټيو اوږدوالی ۱۰۰ سانتي متره دی .
* بنوونکی د بلې (اوږدې) لښتې څخه د ټولو لښتو / کاغذي پټيو د اوږدوالي په اندازه بله لښته د صنف مخکې غوځوي .

– د ۵۳ مخ په ② مشق د ملګرې سره کار کول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقايسه کول (د امکان په صورت کې د عددونو د بکسونو څخه پرته لښتې رنګه کړئ !)

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار / کورنۍ کار :

۵۳ مخ ، ④ مشق

۵۴

متر:
① ملي متر او سانتي متر وپرې وړې اندازې دې. د لوړ شمېر واړه واحد دواړې په متر اندازه کوو.
۱۰۰ سانتي متر = ۱ متر
② د متر اوږدوالی په دې صنعه باندې ښودل شوی دی. دلیکل شوې سانتي مترونو غبه عددونه ولیکئ.
③ د خپل کتاب (۱۰۰) مخ واړوئ. هلته پوښتنې پوښتنو برخو کې چې هره برخه یې ۲۰ سانتي متره ده ښودل شوی دی. هغه پرې: فرق او پوه د یلې سره سرښین کړئ. د اندازه کولو ډیاړ به پوښتنې په لاس درشي. د خپل ټولګي اوګن شمېر اندازه او نتیجې یې سره مقایسه کړئ.
④ په لاندې تصویر کې هلک خپل توپ څومره لرې ګذار کړی دی؟
ځواب: ☐ متره
⑤ نغښه شوې ځایونه د هغه د توپ د رسېدو مختلف ځایونه ښیي. هغه فاصلې پیدا او خالي خانونه یې ولیکئ.
۱۰ متر
۲۰ متر
۳۰ متر
۴۰ متر
متر
متر
متر
متر

۵۴ مخ - لومړی لوست

د متر معرفي کول

درسي معاونات: تار او د یومتر ټغه او پدې پوځو لښتې

۱. ذهني روزنه:

- د ضرب او تقسیم د سوالونو جوړول

* ښوونکی لاندې عددونه یو پر بل پسې په نوره تخته لیکي لکه: ۲۴ ، ۳۰ ، ۱۲ ، ۲۰ ، ۴۰
* زده کوونکی داسې سوالونه جوړوي چې دا عددونه یې ځوابونه وي لکه:

۲۴ = ۶×۴	۴=۶÷۲۴
۲۴ = ۴×۶	۶=۴÷۲۴
۲۴ = ۳×۸	۸=۳÷۲۴
۲۴ = ۸×۳	۳=۸÷۲۴
۳۰ = ۶×۵	۵=۶÷۳۰
۳۰ = ۵×۶	۶=۵÷۳۰

اوداسې نور

۲. تکرار:

- د تېرې ورځې دعملي کار را په یاد ول
- د کورني کار کتنه او مقایسه

۳. د متر معرفي کول

- زده کوونکي د ۵۴ مخ ① مشق مطالعه، پرې بحث او تشریح کوي.
- د ۵۴ مخ ② مشق باندې په انفرادي ډول کارکول.

* په لوړ اواز د جملې لوستل او غښه شویو ځایونو سره د غیبې عددونو لیکل.
* زده کوونکی بحث کوي او وایي:
  ۱۰۰ سانتي متره = ۱ متر
  یا ۱ متر = ۱۰۰ سانتي متره.
  د ۵۴ مخ شاوخوا سانتي مترونه یومتر جوړوي.

- ښوونکی ګروپونه تشکیلوي.

* زده کوونکي د ۵۴ مخ په شاوخوا درسم شوي متر د خارجي خط د اوږدوالي مطابق تار پرې کوي.
* د ګروپونو زده کوونکي د هغو د تار د اوږدوالي سره برابر لښته غوڅوي (پرې کوي) او وایي مونږ یو متر جوړ کړ.
* زده کوونکي په خپل صنف کې مختلف شیان او فاصلې د خپل متر (تار/لښته) په واسطه اندازه کوي، ښوونکی مرسته کوي.
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول (زده کوونکي باید خپل د تار یا د لښتې متر د نورو [ورځستنیو] مشقونو د پاره وساتي).

۴. کورنی کار:

د مور او پلار په مرسته د ۱۰۱ مخ څخه د متر د پخځو وارو برخو چې هره یوه یې شل سانتي متره ده په صحیح ډول پرې کول. د دغه عمل د اجرا کولو د طریقې د ښودلو لپاره ښوونکی دیوه متر برخې د ټولګي مخکې پرې کوي.

۴ مخ - دوهم لوست

د ۱۰ څخه تر ... ۱ پورې سلسله کې دیوه په قدم شمېرکول

۱. ذهني روزنه :

– جمع ، د لسیزونو انتقال :

۹ + ۵ = ۸۸ + ۵ =

۳۹ + ۳ = ۶۵ + ۹ =

۲۷ + ۶ = ۹۹ + ۵ =

۴۶ + ۷ = ۹۷ + ۸ =

– د پوره لسیزونو جمع ، د لسیزونو انتقال :

۹۰ + ۲۰ = ۱۸۰ + ۳۰ =

۸۰ + ۴۰ = ۱۶۰ + ۵۰ =

۷۰ + ۵۰ = ۱۹۰ + ۷۰ =

۶۰ + ۷۰ = ۱۷۰ + ۶۰ =

– د پوره سلیزونو جمع ، لکه :

۱۵۰ + ۱۰۰ = ۳۶۰ + ۲۰۰ =

۱۹۰ + ۱۰۰ = ۴۱۰ + ۲۰۰ =

۴۸۰۰ + ۱۰۰ = ۶۵۰ + ۲۰۰ =

۲۷۰ + ۱۰۰ = ۳۷۰ + ۳۰۰ =

۲. تکرار : د کورنۍ کار مقایسه کول

۳. د ۱۰ څخه تر ... ۱ پورې سلسله کې دیوه په قدم شمېرکول

– د ۱۰ په قدم شمېرکول او په تخته د رسم شویو بکسونو کول



* د ۱۰ دیوه قدم انتخابول ، مثلاً ۲۳۰ څخه ۲۴۰ پورې او د هغو ترمنځ د ټولو عددونو شمېرل



* د ۱۰ دپل قدم انتخابول ، مثلاً ۲۷۰ څخه ۲۸۰ پورې او د هغو ترمنځ د ټولو عددونو شمېرل



په همدې ډول د پل سلیز سره د یوه په قدم شمېرکول ، لکه د ۷۴۰ څخه ۷۵۰ پورې

– د ۴ مخ په ۴۳ مشق ځانله ځانله کار کول ، د کار کتنه او اصلاح کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار :

په کتابچو کې د ۴۸۸ څخه تر ۵۰۳ پورې او د ۷۶۲ څخه تر ۶۸۳ پورې د عددونو لیکل

۵۴ مخ - دوهم لوست

عنوان : د متر په واسطه د فاصلو اندازه کول

درسي معاونات : توپ ، وړوکی لرګی (تقریباً ۲۰ سانتي متره اوږد) ، اوږد لرګی یو متر اوږد ، سریښ (که چېرې په شوونځي کې نه وي نو رایې وړئ .)

۱. ذهني روزنه :

- د لاندې عددونو دپاره د جمع ، تفریق او ضرب مختلف سوالونه جوړول لکه: ۱۸ ، ۳۶ ، ۴۵

مثال :

۱۸ : ۳ × ۶ ، ۹ + ۹ ، ۲۲ - ۴
۲ × ۹ ، ۸ + ۱۰ ، ۳۰ - ۱۲
۶ × ۳ ، ۲ + ۱۶ ، ۲۰ - ۲

اوداسې نور . اوداسې نور . اوداسې نور .

۲. تکرار :

- شوونکی زده کوونکو ته لاړشوونه کوي چې د ۲۰ سانتي متره پنځه واړه توټې په صحیح توګه یو پر بل پسې سره سریښ کړي تر څو ۱ متر تر په لاس راشي .

* د دې متر اوږد والی د لرګي یا تار څخه د نېږو جوړ شویو متروسره مقایسه کول .
* د نوي متر په واسطه د مختلفو شیانو لکه مېز ، تور ه تخته ، کړکی ، دروازه او داسې نورو اندازه کول ، په لوړ اواز د اندازو ویل او ځوابونه سره مقایسه کول .

۳. د متر په واسطه د فاصلو اندازه کول

- شوونکی زده کوونکو ته لاړشوونه کوي تر څو د « د نېږو کلک » (پر مشهوره لوبه ده) د لوبې د کولو (دهلکانو دپاره) یا د توپ د ګزارولو (د نجونو دپاره) د پاره د صنف څخه بهر لاړشي .

* بېل بېل زده کوونکی وړوکی لرګی د لوی لرګي (متر) په واسطه وهي یا توپ ګزاروي او هغه فاصله چې وړوکی وهل شوی لرګی یا ګزار شوی توپ وهي ، د لوی لرګي (د متر لرګي) په واسطه اندازه کوي .
* زده کوونکی هرځل د غورځول شوي لرګي یا توپ ځای په کاپي نښه کوي .
* د فاصلو مقایسه کول (بېرته ټوټګي ته تلل)

- شوونکی د مختلفو شیانو لکه د پنسل ، تورې تختې ، مېز ، د ټوټګي اوږدوالی ، د کتاب اوږدوالی او داسې نورو اوږدوالي اندازه کولو په هکله پېړې پوښتنې کوي. لکه د پنسل (تورې تختې ، مېز ، صنف ، کتاب او داسې نورو شیانو) اوږدوالی په څه شي اندازه کوو ، په متر ، سانتي متر یا ملي متر ؟

* زده کوونکی وایي په سانتي متر (متر ، ملي متر) .

- زده کوونکی د ۵۴ مخ ④ مشق تشریح کوي او خالي خانه پرکوي .

* یو زده کوونکی عددي قصه وایي : هلک ۲۰ متره توپ لرې ګزار کړی دی .

۴. په ټوټګي کې د پټې خولې کار کول

کار : ۵۴ مخ ⑤ مشق

۵۵

① لاندې سارلنونه د مثال په شان تکميل کړئ .

۲متره = ۲ × ۱۰۰ سانتي متره ، ۳۰۰ سانتي متره = ۳۰۰ ÷ ۱۰۰ = ۳ متره

۶ متره = ☐ سانتي متره ، ۲ متره = ☐ سانتي متره ، ۹ متره = ☐ سانتي متره

۸۰۰ سانتي متره = ☐ متره ، ۵۰۰ سانتي متره = ☐ متره ، ۱۰۰ سانتي متره = ☐ متره

② لاندې سوالونه د مثال په شان حل کړئ .

۲۲۰ سانتي متره = ۲ متره + ۲۰ سانتي متره ، ۲۰۷ سانتي متره = ☐ متره + ☐ سانتي متره

۳۱۲ سانتي متره = ☐ متره + ☐ سانتي متره ، ۱۰۳ سانتي متره = ☐ متر + ☐ سانتي متره

۴۲۹ سانتي متره = ☐ متره + ☐ سانتي متره ، ۶۲۹ سانتي متره = ☐ متره + ☐ سانتي متره

③ لاندې مترونه په سانتي مترونو او يا سانتي مترونه په مترونو کې خپګه پې په مثال کې ښودل شوي ډيډوک او خالي خانې ډکې کړئ .

۵ متره = ۵ × ۱۰۰ سانتي متره = ۵۰۰ سانتي متره ، ۹۰۰ سانتي متره = ۹۰۰ ÷ ۱۰۰ = ۹ متره

متر	۵	۹	۶	۳	۲	۴				۱	۷
سانتي متر	۵۰۰	۹۰۰		۱۰۰	۱۰۰۰			۸۰۰			

کيلو متر : دهږي اوږدې فاصلې په کيلو متر اندازه کوو .

۱۰۰۰ متره = ۱ کيلو متر

④ د خپل ښوونکي سره بحث وکړئ چې ستاسو په کلي کې کومې فاصلې تقريباً يو کيلو متر دي او ځکه يې اندازه کولی شئ .

⑤ لاندې تصوير د ژيان لاره ښوونځي پورې ښيي . د هغه : لاږې اوږدوالی ☐ دی .

۱ له کوږ تر حوماڼه ☐ متره لاږه ده . ۲ له جوماټ تر پله ☐ متره لاږه ده .

۲ له مکتبه تر پله ☐ متره لاږه ده . ۴ له کوږ تر دوکانونو ☐ متره لاږه ده .

۵۵ مخ - لومړی لوست

عنوان : مترونه په سانتي مترونو او سانتي مترونه په مترونو اړول

درسي مواد : د مختلف اوږدوالي لرونکي پوڅو تاروونه لکه ۲۲۰ سانتي متره ، ۱۷۵ سانتي متره ، ۳۱۲ سانتي متره ، ۲۵ سانتي متره او داسې نور .

۱. ذهني روزنه :

- د ۷ مخ لومړي لوست په شان د ۵۰۰ په شاوخوا پورې زړيزونو سره محاسبه کول ، جمع او تفريق کول

۱۰۰۰ ۲۰۰۰ ۳۰۰۰ ۴۰۰۰ (۵۰۰۰) ۶۰۰۰ ۷۰۰۰ ۸۰۰۰ ۹۰۰۰ ۱۰۰۰۰

۲. تکرار :

- د تېرې ورځې د عملي کار بيا په ياد راوړل او ويل
- تکرارول چې د ۱۰۰ سانتي مترونو څخه يو متر جوړيږي .
- د کورنۍ کار کنټرول او اصلاح کول

۳. مترونه په سانتي مترونو او سانتي مترونه په مترونو اړول

ښوونکی خو خطونه يو د بل لاندې په تخته رسموي . مثلاً ۴ خطونه (د هر خط اوږدوالی بايد يو متر وي) د تورې تختې په ښي خوا کې ☐ متره او په کينه خوا کې ☐ سانتي متره ليکي .

* يو زده کوونکی د مترونو تعداد شمېرې او د خپل خط کش په واسطه ټول اوږدوالي (خطونه) په سانتي متر اندازه کوي او د دواړو خوا وو خالي بکسونه ډکوي .

۴ متره

۴۰۰ سانتي متره

* په همدې طريقه د نورو يو متري خطونو سره کار ته دوام ورکول
- د ۵۵ مخ په ① مشق کار ته دوام ورکول
- د تاروتو اوږدوالی په متر او سانتي متر پيدا کول
* ښوونکی د هر تار اوږدوالی يو يو ښيي او په تخته يې ليکي ، لکه ۲۲۰ سانتي متره = ☐ متره + ☐ سانتي متره .
* زده کوونکی هر ځل د تار اوږدوالی اندازه کوي (لومړی د پورو مترونو او بيا د سانتي مترونو تعداد پيدا کوي) او خالي خانې ډکوي .

۲۲۰ سانتي متره = ۲ متره + ۲۰ سانتي متره

- د ملګري سره د ۵۵ مخ په ② مشق کار کول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. په تولګي کې د پښتې خولې کار / کورنۍ کار :

۵۵ مخ ③ مشق (ښوونکی يې تشريح کوي)

۵۵ مخ - دوهم لوست

عنوان : د "کیلومتر" معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

- د پورهٔ سلیزونو سره د ۷۰۰۰ په شاوخوا کې د ۷ مخ د لومړي لوست په شان محاسبه کول ، جمع او تفریق کول

۶۵۰ - ۶۶۰ - ۶۷۰ - ۶۸۰ - ۶۹۰ - (۷۰۰) - ۷۱۰ - ۷۲۰۰ - ۷۳۰ - ۷۴۰ - ۷۵۰

۲. تکرار :

- ښوونکی د ۵۵ مخ د ۳ مشق جدول په تور تخته رسموي.
* زده کوونکي د مثالونو په شان متر په سانتي متر او سانتي متر په متر اړوي او خالي خانې ډکوي .
- د کورني کار کتنه او مقایسه

۳. د کیلومتر معرفي کول :

- د ۵۵ مخ په ۵ مشق باندې کار کول
* زده کوونکي کار (تصویر) مطالعه کوي ، بحث پرې کوي او تصویر تشریح کوي .
* ښوونکی د تصویر په هکله، او که ممکن وي په کلي کې د څه وخت مخکې قدم وهلو مربوط سوالونه کوي لکه :
۱. د کور څخه تر بازاره څومتره دي ؟
۲. د بازار څخه تر پله پورې څومتره دي ؟
۳. د مسجد څخه تر ښوونځي پورې څومتره دي ؟
او داسې نور .
* زده کوونکي هرځلې مترونه شمېرې او وایي لکه ۷۰ متره ، ۲۰۰ متره ، ۵۰۰ متره او داسې نور .
* د خالي خانو ډکول (د ملګرې کتنه)
- ښوونکی په سوال کولو پیل کوي : ستاسې د کور څخه تر مکتبه پورې ، ستاسې د کلي څخه تر بنارو پورې څو متره کېدای شي ؟ او داسې نور .
* زده کوونکي پیدا کوي چې دېر زیات مترونه پکار دي چې دا فاصلې پرې وښودل شي .
* ښوونکی وایي : د فاصلو د ښودلو دپاره یوه ساده طریقه موجوده ده . دېرې اوږدې فاصلې (دویم ټولګي کورنۍ!) په کیلومتر اندازه کېږي دا ۱۰۰۰ متره دی او په توره تخته یې لیکي :

۱۰۰۰ متره = ۱ کیلومتر

- ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه چې د ملګرې سره په پټه خوله د ۴ مشق جمله ولولي .
* زده کوونکي د مختلفو ځایونو ترمنځ فاصلې کومې چې تقریبًا یو کیلومتر وي پیدا کوي او وایي لکه : زمونږ ښوونځي څخه تر شفاخانې پورې تقریبًا یو کیلومتر دی .

۴. کورنی کار : نه لري .

د ۵۵ مخ د دوهم لوست ضمیمه

- ښوونکی او زده کوونکي د تار یوه برخه چې اوږدوالی یې ۱۰۰ متره وي تیاروي .
* زده کوونکي او ښوونکی ښوونځي څخه ووځي . زده کوونکي د ۱۰۰ مترېز تار (د واحد په توګه) په استعمالولو سره د ښوونځي د دروازې څخه فاصلې په پرله پسې توګه اندازه کوي ، هره ۱۰۰ متره فاصله د لرګي یا د یوه مستقیم خط په واسطه په نښه کوي . هغوی وایي د احمد کور ۱۰۰ متره د ښوونځي څخه لرې دی، کلاب دوکان ۲۰۰ متره لرې دی او داسې نور. هغوی ترهغه پورې دې عمل ته ادامه ورکوري چې تار ۱۰ ځله کارول شي. یعنې ۱۰ × ۱۰۰ = ۱۰۰۰ متره . ښوونکی د دې فاصلې په هکله خبرې کوي
* زده کوونکي بحث کوي او پیدا کوي چې هغه ۱۰ ځله ۱۰۰ متره دی چې ۱۰۰۰ متره کېږي .
* زده کوونکي ډېرته په همدې لاره راګرځي . د ۱۰۰۰ متره په واحد فاصلې توضیح کوي .
ښوونکی په ټولګي کې توضیح کوي چې د ۱۰۰۰ مترو فاصله د کیلومتر په نامه یادېږي ، کیلومتر کلمه په توره تخته لیکي او په واضح ډول یې تلفظ کوي زده کوونکي یې تکراروي .

یادونه :

یو کیلومتر تګ او ډېرته راتګ د ۲۰ څخه تر ۳۰ دقیقې پورې وخت غواړي . باید دغه سیر علمي ته آماده واوسو او مناسب وخت کې یې ترسره کړو.

۵۶

① خوښه پاتې ځای ډک يې کيلومتر پوره شي . مساوا تونه د مثال په شان تکميل کړئ .

۱۸۰ متره + ۸۲۰ متره = ۱ کيلومتر

۹۲۰ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر | ۶۰۰ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر

۵۸۰ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر | ۴ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر

۷۰ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر | ۳۰۰ متره + ☐ متره = ۱ کيلومتر

② د اشرف د کور څخه تر مختلفو ځايونو فاصلې په کيلومتر بدول شوې دي په متر يې واړوئ .



۵۶ مخ - لومړی لوست

عنوان : د ورکړل شوی ځای څخه د فاصلې محاسبه کول تر څو يو کيلومتر پوره شي ، د کيلومتر اړول په متر

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

- شوونکی لاندې جدول په توره تخته رسموي :

کيلومتر	۴	۳		۱		۹			۸	۱۰
کيلومتر			۷۰		۶۰		۲۰	۵۰		

- زده کوونکي سانتي مترونه په ملي مترونو او ملي مترونه په سانتي مترونو اړوي .

۳. د ورکړل شوي ځای څخه د فاصلې محاسبه کول تر څو يو کيلومتر پوره شي ، کيلومتر په متر اړول :

- د عددي دايرو سره کار کول



- د ۵۶ مخ په ① مشق کار کول

* په توره تخته د ځينې سوالونو حلول، لکه :
۹۷۰ متر + ۳۰ متر = ۱۰۰۰ متر = ۱ کيلومتر
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول

- د ۵۶ مخ په ② مشق کار کول

* د موضوع مطالعه کول او تشريح کول او د واقعي چاپيريال سره يې مقايسه کول
* شوونکی يو شمير کيلومترونه په توره تخته ليکي لکه ۵ کيلومتره ، ۳ کيلومتره ، ۸ کيلومتره ، ۶ کيلو متره او داسې نور .
* شوونکی يې په مترونو اړوي يعنې ۵ کيلو متره = ۵ × ۱۰۰۰ = ۵۰۰۰ متره او داسې نور .
* د ۵۷ مخ په ② مشق (د زړې سوالونو) د ملګري سره کار کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۵۶ مخ د ② مشق پاتې سوالونه


۵۷
وزن یا درونوالی :
① په لاندې شکلونوکې څوک درونده دی ؟
محمود
امان
احمد
شریف
عابد
منیژه
تر ... درونده دی. ... تر ... درونده دی. ... د ... او ... درنه سپک دی.
② د شیانو د درونوالي د پیدا کولو لپاره لاندې ترازوګانې اوګادئ استعمالوي.
کیلوګرام
ګرام
③ لاندې تصویرونه وګورئ، د هغو وزنونه راوباسئ او سره مقایسه یې کړئ.
۱۰ ګرام
۵۰ ګرام
۸۰ ګرام
۲ ګرام
۲ ګرام
سپک شیان په ګرام اندازه کیږي.
د نورو سپکو شیانو نومونه واخلئ چې په ګرام اندازه کیږي.
۲۵ کیلوګرام
۵ کیلوګرام
۶ کیلوګرام
۱ کیلوګرام
۳ کیلوګرام
درانده شیان په کیلوګرام اندازه کیږي.
د نورو درنو شیانو نومونه واخلئ چې په کیلوګرام اندازه کیږي.

۵۷ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : د کیلوګرام او ګرام معرفي کول

درسي مواد : تله ، د کیلوګرام تیږه ، د کوچنیو مختلفو وزنونو کانې

۱. ذهني روزنه :

ـ شبوونکی لاندینی شکل د عددونو سره په تخته رسموي او د هغو د منځنیو عددونو یوه عدد ته اشاره کوي، لکه ۱ ته



* زده کوونکي هر ځل شبودل شوی عدد د چوکاټ د عددونو سره ضربوي ، یعنې :
۱×۷=۷ ، ۱×۹=۹ ، ۱×۶=۶ او داسې نور.

۲. تکرار :

ـ زده کوونکي د خپلو کورونو څخه تر شوونځي پورې فاصلې تخمینوي او وایي (د... مترونو ، ۱۰۰۰ مترونو او کیلو متر استعمالول)

ـ زده کوونکي د خپلو کورونو یا شوونځي څخه تر مختلفو ځایونو پورې فاصلې تخمینوي او وایي لکه تر شفاخانې ، بازار ، غرونو سیند او داسې نورو ځایونو پورې .

ـ د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د کیلوګرام او ګرام معرفي کول :

ـ څو زده کوونکي د تولګي مخې ته راببل او هر ځلې د هغو دوه تنه سره مقایسه کول پې:(څوک درونده دی؟) .

ـ د ۵۷ مخ په ① مشق کار کول

* یو زده کوونکی جملې په لوړ آواز لولي .

* زده کوونکي موضوع مطالعه او هغه تشریح کوي : په لومړۍ رسم کې عزیز تر عابد درونده دی ، په دوهم رسم کې احمد تر شریف درونده دی ، خو په دریم رسم کې د امان او محمود وزنونه سره مساوي دي .

* زده کوونکي صحیح نومونه په خالي بکسونو کې لیکي .

* شبوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي تر څو ووایي چې د چا سره ، چېرته او څه وخت موږ په رسم کې شبودل شوې لوبه کړې او څوک درونده و ؟ (د کتابونو تر منځ) .

- بنسوونکی تله او وزنونه (تیرې) زده‌کوونکو ته ښیي او د هغو څخه پوښتنه کوي چې دا تله او کانې د څه دپاره استعمالیږي؟

* زده‌کوونکي وایي چې د شیانو د وزن د پیدا کولو دپاره یې استعمالوو او د تلو په مختلفو ډولونو چې لیدلي یې دي بحث کوي

* زده‌کوونکي وزنونه (تیرې) سره مقایسه کوي او د هغو د دروندوالي مطابق یې په صحیح ترتیب سره ږدي .

- د ۵۷ مخ په ⑦ مشق کار کول

* زده‌کوونکي یې مطالعه کوي او پیدا کوي چې مونږ کولای شو چې د شیانو د تللو دپاره د تلو مختلف ډولونه استعمال کړو او هم مختلفې تیرې (وزنونه) لرو چې د شیانو د تللو دپاره استعمالیږي.

* زده‌کوونکي د هرې تیرې وزن په لوړ آواز لولي ، لکه ۱ کیلوګرام ، ۵۰۰ ګرام ۲۰۰ ګرام او داسې نور او د هغو مربوطه واقعي وزنونه پیدا کوي ، یعنې ۱ کیلوګرام ۵۰۰ ګرام ، ۲۰۰ ګرام او داسې نور او ټولګي ته یې ښیي .

- بنسوونکي ځینې درانده او سپک شیان په ځمکه ږدي او زده‌کوونکي درانده او سپک شیان سره بېلوي .

* زده‌کوونکي بحث کوي او پیدا کوي چې د درندو شیانو وزن په کیلوګرام او د سپکو شیانو وزن په ګرام اندازه کوو.

- د ۵۷ مخ په ⑧ مشق کار کول

* یو زده‌کوونکی هدایت په لوړ آواز لولي ، نور بحث کوي او وایي چې باید د شیانو وزنونه ولولو او سره مقایسه یې کړو.

* زده‌کوونکي د شیانو نومونه اخلي او د هغو وزنونه لولي .

* زده‌کوونکي د نورو ښه پېژندل شویو شیانو تخمیني وزنونه وایي .

۴. کورنی کار :

د مختلفو لاس ته راتلونکو شیانو لکه د اورلګیت د پېلیو ، د نارنجانو د نیمو پوټکو، لښتو ، تار او داسې نورو څخه د تلو جوړول .

۵۸

① د شیانو دروندوالی په ګرام او کیلوګرام اندازه کړئ .

په یوه کیلوګرام کې خو ګرامه دي ؟
۱ کیلوګرام = ☐ ګرامه
په یوه کیلوګرام کې ☐ ګرامه دي .

② د لاندې شیانو دروندوالی په ګرام د مثال په شان پیدا کړئ .



۵۰۰ + ۲۰۰ + ۵۰ = ۷۵۰ ګرامه. ☐ + ☐ + ☐ = ☐ ګرامه ☐ + ☐ + ☐ = ☐ ګرامه

③ د لاندې شیانو دروندوالی پیدا او خالي خانې ډکې کړئ .



د ناکونو وزن ☐ ګرامه دی. د روښانو وزن ☐ ګرامه دی. د منو وزن ☐ ګرامه دی.

د مالټې وزن ☐ ګرامه دی. د انګورو وزن ☐ ګرامه دی. د انګورو وزن ☐ ګرامه دی.

④ د ډبرو د اندازو د مقایسې له مخې د بوږې د هر ډبرې وزن د چوکاټ څخه پیدا کړئ .

۳۲۰ ګرامه ☐ ګرامه ☐ ګرامه ☐ ګرامه ☐ ګرامه ☐ ګرامه

۳۲۰ګرامه ۲۵۰ګرامه ۵۰ګرامه ۱۲۰ګرامه ۵۰۰ګرامه ۸۰ګرامه

⑤ د ډبرو (۳) منو دروندوالی څنګه پیدا کولی شو ؟

د منو وزن ☐ ګرامه دی.

۱. د ښې خوا وزنونه جمع کړو :
۱۰۰ګرامه + ۲۰۰ګرامه = ۳۰۰ ګرامه

۲. د کیڼې خوا وزنونه جمع کړو :
۲۰ګرامه + ۵ګرامه = ۲۵ ګرامه

۳. د لوی وزن څخه کوچنی وزن تفریق کړو :
۳۰۰ګرامه - ۲۵ګرامه = ۲۷۵ګرامه

۵۸ مخ ـ لومړی درس

عنوان : د کیلوګرام او ګرام ترمنځ اړیکې ، په ګرام د شیانو د وزن معلومول

درسي مواد : تله ، کانۍ ، کڅوړې ، مختلف وزنونه : ۱ کیلوګرام ، ۵۰۰ ګرام ، ۲۵۰ ګرام ، ۱۲۵ ګرام ، ۱۰۰ ګرام ، ۵۰ ګرام ، ۱۰ ګرام

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۲۲ مخ د دوهم لوست په شان د ځنځیرې سوالونو سره کار کول

۵۰۰ + ۲۰۰ + ۵۰ + ۲۰ =
۳۰۰ + ۳۰۰ + ۹۰۰ + ۱۰ =
۴۰۰ + ۵۲۰ + ۴۰ + ۴۰ =
۵۰۰ + ۵۰ + ۱۵۰ + ۳۰۰ =
۶۰۰ + ۶۰۰ + ۶۰۰ − ۸۰۰ =
۷۰۰ + ۷۰۰ − ۳۰۰ − ۲۰۰ = او داسې نور

۲. تکرار :

ـ د کورنۍ کار کتل

* زده کوونکي د تلې د جوړولو په هکله معلومات ورکړي (ښوونکی لارښوونه کوي)

* ښوونکی سپک شیان لکه پنسل ، قلم او درانده شیان لکه چوکۍ ، کتابونه او نور ښیي او پوښتنه کوي چې څنګه د هغوی وزنونه اندازه کولی او تشریح کولی شو .

* زده کوونکي وایي : موږ سپک شیان په ګرام اندازه کوو او درانه شیان په کیلوګرام اندازه کوو .

۳. د کیلوګرام او ګرام ترمنځ اړیکې ، د شیانو د وزن معلومول :

ـ د ۱ کیلوګرام او ۱۰ ګرام ترمنځ د ښلابښلو وزنونو تیارول

* زده کوونکي یو کیلوګرام کانۍ تلې او په پلاستیکي کڅوړه کې یې اچوي بیا د یو کیلوګرام نخښه پرې لګوي او وایي : " ۱ کیلوګرام " ، وروسته په همدغه ډول دوه د ۵۰۰ ګرامونو وزنونه جوړوي او دواړه د "۵۰۰ ګرام" په علامه نخښه کوي .

* په همدې ډول په پلاستیکي کڅوړو کې د ګرام د وزنونو تیارول ، لکه :
۲۵۰ ګرام ، ۲۵۰ ګرام ، ۱۲۵ ګرام ، ۱۲۵ ګرام ، ۱۰۰ ګرام ، ۱۰۰ ګرام ، ۵۰ ګرام ، ۵۰ ګرام ، ۱۰ ګرام ، ۱۰ ګرام ، ۱۰ ګرام

* هرځل ښوونکی د کڅوړو وزن (کیلوګرام یا ګرام) په یوه توپه کاغذ لیکي او هغه یا په کڅوړه کې دننه ږدي او یا یې وریږۍ سره ښوي .

ـ ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د ښلابښلو وزنونو (د کانۍ د کڅوړو) څخه ۱ کیلوګرام وزن جوړ کړي .

* زده کوونکي د کڅوړو وزنونه لولي ، په توره تخته یې لیکي جمع کوي او پیدا کوي چې یو کیلوګرام د ۱۰۰۰ ګرامو سره مساوي دی .

- د ببلابیلو شیانو لکه کتاب، بوټ، تخته او نورو تلل
- د ۵۸ مخ په ① مشق کار کول

* د موضوع مطالعه کول، د تلې د دوارو خواو مقایسه کول، د وزنونو د ګرامونو د تعداد ویل لکه په تصویر کې چې ښودل شوی دی او د تشو خانو ډکول
* یو زده‌کوونکی په لوړ آواز جملې ولولي.
* خُوابونه په لوړ آواز لوستل او مقایسه کول

- په درېیو رسم شویو تلو کې یوه شي د وزن معلومولو د ملګري سره د خالي خانو ډکول (ښوونکی څارنه کوي)
* خُوابونه په لوړ آواز لوستل او مقایسه کول
- د ملګري سره د ۵۸ مخ په ② مشق کار کول (لومړنۍ درې تلې)
* خُوابونه په لوړ آواز لوستل او مقایسه کول

۴. په تولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار :

د ۵۸ مخ د ② تمرین پاتې تلې

۵۸ مخ - دوهم لوست

عنوان : د مقایسې په واسطه د مختلفو اندازو د وزنونو اټکل، په دقیق تللو سره د هغوی امتحانول

درسي مواد : تله، مختلف وزنونه، شکې، کاغذي کتابونه

۱. ذهني روزنه :

- د ۲۲ مخ د ② مشق په شان د زنځیري سوالونو سره کار کول

۵۰۰۰ + ۳۰۰ + ۴۰ + ۷ =
۷۰۰۰ - ۴۰۰ - ۶۰۰ - ۱۰۰ =
۶ × ۱۰۰ + ۳۰۰۰ - ۲۰۰۰ =
۵۰ ÷ ۱۰ × ۸ ÷ ۵ =
۳۰ ÷ ۵ × ۲ ÷ ۳ =
۲۰ × ۵ × ۱۰ - ۱۰۰۰ =

او داسې نور.

۲. تکرار :

د کورني کار کتنه او مقایسه کول

۳. د مقایسې په واسطه د مختلفو اندازو د وزنونو اټکل، په دقیق تللو سره د هغوی امتحانول:

- ښوونکی د شګو پنځه ډبرې جوړوي او د کاغذ په پنځو توتو باندې د ۱-۵ پورې عددونه لیکي.
* زده‌کوونکي د ډبرو اندازې سره مقایسه کوي او تر تولو لوی ډبرې پیدا کوي او د ۱ د عدد کاغذ پرې بردي. ورپسې بیا په نورو کې لوی ډبرې کوري او د ۲ د عدد کاغذ پرې بردي. نرغې دې کار ته دوام ورکوي چې ټول ډبرې نمبرې پیدا کړي.
* ښوونکی د ډبرو اندازې بدلوي او زده‌کوونکي په همدې طریقه د هغوی د مقدار مطابق عددونه ورسره بردي.
* په همدې ډول د نورو لاس ته راتلونکو شیانو د ډبرو لکه د کانو، کتابونو او داسې نورو سره کار ته دوام ورکول.
- د ۵۸ مخ په ④ مشق کار کول (کتاب خلاصول)
* زده‌کوونکي موضوع مطالعه کوي، یو زده‌کوونکی جملې په لوړ آواز لولي او توضیح کوي چې موږ باید د مختلفو ډبرو وزنونه د مقایسې له لارې پیدا کړو او په خالي بکسونو کې صحیح وزنونه ولیکو.
* زده‌کوونکي د ملګري سره خالي خُایونه ډکوي.
* په لوړ آواز د خُوابونو لوستل او مقایسه کول
- د ۵۸ مخ په ③ مشق کار کول
* زده‌کوونکي تله مطالعه او توضیح کوي: موږ ګورو چې دوی خواوې ۳ معنې وتلي. دوی لومړی ۲۰۰ ګرامه وزن د تلې په بله خوا کې بردي. بیا ۱۰۰ ګرامه نور بردي. ګوري چې د منو وزن لږ دی. دوی لومړی ۲۰۰ ګرامه او بیا ۵ ګرامه وزن د منو په خوا کې بردي او د تلې دلبې خوا د (۲۰۵ ګرامه) سره مساوات برقراروي.
- زده‌کوونکي درې جملې په لوړ آواز لولي. هرځلې یو زده‌کوونکی مربوطه مساوات په تخته لیکي.
* وروستي مساوات ته د تلې د وضع سره ارتباط ورکول (وزنونه او د شیانو وزنونه تشریح کوي).
- همداسې په عملي ډګر کې د یو شي تلل لکه د درېیم تولګي د ریاضي کتاب

۴. کورنی کار : نه لري.

۵۹

① د لاندې شیانو وزنونه پیدا او خالي خانې ډکې کړئ .



د یوې میز وزن ☐ ګرامه دی. | د دوو ستوو وزن ☐ ګرامه دی. | د اچار وزن ☐ ګرامه دی.

د کتابچې وزن ☐ ګرامه دی. | د وسپنو وزن ☐ ګرامه دی. | د څښې وزن ☐ ګرامه دی.

د سرچې وزن ☐ ګرامه دی. | د چای وزن ☐ ګرامه دی.

② څوګرامه پاڼې دې چې یو ۱۰ کیلوګرام پورته شي . د مثال په شان خالي خانې ډکې کړئ .

۷۰ ګرامه + ۹۳۰ ګرامه = ۱ کیلوګرام

۹۲۰ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام | ۲۳۰ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام

۷۰۲ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام | ۹۹۹ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام

۸۰۰ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام | ۵۰۵ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام

۹۰۱ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام | ۷۹۵ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام

③ د مثالونو په شان خالي خانې ډکې کړئ .

۵ کیلوګرامه = ۵ × ۱۰۰۰ = ۵۰۰۰ ګرامه

۷ کیلوګرامه = ۷ × ۱۰۰۰ = ۷۰۰۰ ګرامه

کیلوګرام	۵	۷	۹	۲	۳	۱۰	۱	۸
ګرام	۵۰۰۰							

۵۹ مخ ـ لومړي لوست

عنوان : دقیق تلل

درسي مواد : تلې ، مختلف وزنونه ، مختلف شیان

۱. ذهني روزنه :

ـ د عددي دایرو سره جمع او تفریق کول ، د لسیزو څخه اوښتل

۶۰۸	۴۰۰۷	۹۴۴۹
+ ۶	۲۱۵۶	۵۶۲۸
۳۱۰۵	۷۹۶۷	

۵۵۵۵	۴۳۶۵	
− ۶	۳۵۱۲	
۸۰۶۱	۱۱۱۱	
۹۹۳۴	۷۰۱۴	

۲. تکرار :

ـ د ۵۸ مخ ⑤ مشق مطالعه کول بیا رایه زړه کول او تشریح کول (د کتابونو خلاصول)

* زده کوونکي جملې په لوړ آواز لولي او هر ځل یو زده کوونکی مربوط صحیح مساوات په تخته لیکي .

۳. دقیق تلل :

ـ د تېر لوست په شان په عملي توګه د مختلفو شیانو تلل

* هر ځل زده کوونکي د تللو قصه وایي او مربوط صحیح مساوات لیکي .

ـ د ۵۹ مخ په ① مشق کار کول (د کتابونو خلاصول)

* یو زده کوونکی د تولګي مخې ته راځي او د لومړۍ تلې وزنې قصه (عددي قصه) وایي : کله چې یوه منه یې تلله ، لومړی د تلې بلې خوا ته یې ۲۰۰ ګرامه اینبی و خو هغه لږ څه دروند و نو د معې سره یې د ۲۰ ګرامو وزن زیات کړ او تله د تعادل په حال کې شوه .

* زده کوونکي د دې قصې دپاره مساوات پیدا کوي او په تخته یې لیکي .

* ښوونکی د سوال دپاره خالي خانې جوړوي :

☐ − ☐ = ☐

* یو زده کوونکی سوال جوړوي او هغه حلوي :

۲۰۰ − ۲۰ = ۱۸۰

* په همدې ترتیب د دوو نورو وزنې قصو سره کار ته دوام ورکول

* زده کوونکي د ملګرو سره د ټولو تلو خالي بکسونه ډکوي .

(۵۹ مخ ① مشق)

۴. کورنی کار :

نه لري .

۵۹ مخ - دوهم لوست

عنوان : تر یوه کیلوګرامه پورې جمع کول

درسي مواد : څو وزنونه ، تله ، کڅوړه

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دایرې په مرسته جمع او تفریق؛ د پوره سلیزو څخه اوښتل



۲. تکرار :

- د ۲۱ مخ د ① مشق (د تقسیم دوه شکلونه) مطالعه او تشریح کول ، د کتابونو خلاصول

۳. تر یوه کیلوګرامه پورې جمع کول :

- بنوونکی ۱ کیلوګرام = ☐ ګرامه په توره تخته لیکي .

* زده کوونکي په یوه کیلوګرام کې د ګرامونو شمېر وایي او خالي خانه ډکوي .

- د یوه کیلوګرام (۱۰۰۰ ګرام) د جوړولو دپاره د پاتې شوو ګرامونو د شمېر د پیدا کولو دپاره عملي کار

* بنوونکی یو څو وزنونه (تر کیلوګرام لږ) په یوه کڅوړه کې اچوي لکه (۹۰۰ ګرامه) .

* زده کوونکي هغه د یوه کیلوګرام سره مقایسه کوي نو باید نور وزني کاڼي په کڅوړه کې واچوي یعنې (۱۰۰ ګرامه) تر څو د تلې تعادل برابر شي . وروسته مساوات یې په توره تخته لیکي یعنې : ۱۰۰ ګرامه + ☐ ګرامه = ۱ کیلوګرام

* زده کوونکي باید د کڅوړو وزن پیدا او خالي خانې ډکې کړي یعنې :

۱۰۰ ګرامه + ☐ ۹۰۰ ګرامه = ۱ کیلوګرام

* زده کوونکي د خپلو خوابونو (د کڅوړې وزن) میزان د کڅوړو د وزنونو په شمېر لوسره کوي .

* د ۸۰۰ ګرامو او ۹۵۰ ګرامو وزن لرونکو کڅوړو سره کار ته دوام ورکول

* په همدې طریقه د مختلفو شیانو تلل

- د ۵۹ مخ د ② مشق د ملګرې سره کار کول

* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

- بنوونکی ۱ کیلوګرام = ☐ ګرامه ، ۲ کیلوګرامه = ☐ ګرامه ، ۳ کیلوګرامه = ☐ ګرامه او داسې نور ښل ښل په توره تخته لیکي .

* زده کوونکي هر خل د ګرامونو شمېر پیدا کوي او په توره تخته خالي خانې ډکوي .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۵۹ مخ ③ مشق

۵

① په لاندې جدول کې د ۱، ۱۰ او ۱۰۰ عددونو رقمونه په خپلو ځایونو کې ولیکئ شوییدې چې د هر رقم قیمت ښایي؛

سلیز	لسیز	یوېز
		۱
	۱	۰
۱	۰	۰

② د عددونو رقمونه په خپلو ځایونو کې ولیکئ او د هر رقم قیمت معلوم کړئ؛

سلیز	لسیز	یوېز	
			۲
	۳	۰	۲۰
			۲۰۰

سلیز	لسیز	یوېز	
			۴۰۰
			۴۰
			۴

سلیز	لسیز	یوېز	
			۸۰
			۸
			۸۰۰

③ وښئ چې یو رقم په مختلفو ځایونو کې مختلف قیمتونه لري.

سلیز	لسیز	یوېز	
			۱۲
			۸۶۰
			۲۳
			۱۴۷
			۲

سلیز	لسیز	یوېز	
			۷۶۸
			۱
			۱۳۲
			۳۴
			۱۰

نتیجه: د ۱ څخه تر ۹ پورې عددونه یورقمي دي او د یوېز په خانه کې لیکل کیږي.
د ۱۰ څخه تر ۹۹ پورې عددونه دوه رقمي دي چې لومړی رقم یې د یوېز په خانه کې او دوهم رقم یې د لسیز په خانه کې لیکل کیږي.
د ۱۰۰ څخه تر ۹۹۹ پورې عددونه درې رقمي دي چې بیا هم لومړی رقم یې د یوېز، دوهم رقم یې د لسیز او دریم رقم یې د سلیز په خانه کې لیکل کیږي.

۵ مخ - لومړی لوست

د یوېزونو او لسیزونو د پاره د مقامي قیمت په جدول کار کول

درسي معاونات: د ۱۰ کانو، ۱۰ کتګورۍ او ۱۰ نور کانې

۱. ذهني روزنه:

- د سلو او لسو په قدمونو مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول

۱۰۰ ، ۲۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰ ۱۰۰ ، ۹۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰

۱۰۰ ، ۱۱۰ ، ..... ، ۲۰۰ ۲۰۰ ، ۱۹۰ ، ..... ، ۱۰۰

۹۰۰ ، ۹۱۰ ، ..... ، ۱۰۰۰ ۱۰۰۰ ، ۹۹۰ ، ..... ، ۹۰۰

- د یوېزونو او لسیزونو جمع او تفریق

۳ + ۳ =	۵ + ۴ =	۸ - ۳ =
۳۰ + ۲۰ =	۵۰ + ۴۰ =	۸۰ - ۳۰ =
۷ + ۳ =	۴ + ۶ =	۹ - ۴ =
۷۰ + ۳۰ =	۶۰ + ۴۰ =	۹۰ - ۴۰ =

۶ - ۳ =	۷ - ۳ =	۸ - ۲ =
۶۰ - ۳۰ =	۷۰ - ۳۰ =	۸۰ - ۲۰ =
۷ - ۳ =	۹ - ۴ =	۹ - ۶ =
۷۰ - ۳۰ =	۹۰ - ۴۰ =	۹۰ - ۶۰ =

۲. تکرار:

- د کورنیو کارونو مقایسه کول
- کوچنۍ څخه لوی ته د عددونو ترتیبول
* ښوونکی د ترتیب څخه پرته عددونه په تخته لیکي.

زده کوونکي بې په صحیح ترتیب سره لیکي، لکه:

۳۶۹ ، ۳۷۲ ، ۳۷۱ ، ۳۶۸ ، ۳۷۰

۵۵۱ ، ۵۴۹ ، ۵۵۰ ، ۵۵۲ ، ۵۴۸

۸۹۱ ، ۸۸۸ ، ۸۸۹ ، ۸۹۰ ، ۸۹۲

۳. په دوه رقمي عددونو کې د مقامي قیمت زدکړه:

- په عملي ډول د کانو په ذریعه ۲۴ او ۴۲ عددونه مقایسه کول

* ښوونکی رقمونه په ۴ کاغذونو باندې لیکي.

۲	۴	۴	۲

* زده کوونکي د رقمونو ځایونه یو تربله سره بدلوي او د ۲۴ او ۴۲ عددونه به حاصلوي.
* زده کوونکی پرې بحث کوي چې کوم عدد کوچنی او کوم لوی دی.
* زده کوونکي د عددونو قیمتونه د کانو په ذریعه پرمېز باندې ښیي او پر تخته بې رسموي تر څو خپل ځوابونه امتحان کړي.

۲۴ ۴۲

۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰ ۱۰

- په همدې ډول د ۳۵ او ۵۳ د عددونو مقایسه کول
- ښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي تر څو معلوم کړي او ووایي چې هر وخت د ښۍ خوا لومړی رقم یوېزونه او دوهم رقم سلیزونه ښیي.

زده کوونکي عددونه د مقامي قیمت په جدول کې لیکي.

یوېز	لسیز
۴	۲
۲	۴
۵	۳
۳	۵


٦٠
وخت :
① په اګزو ساعتونو کې انګریزي عددونه لیکل شوي دي . د وخت د پېژندلو دپاره باید انګلیسي عددونه زده کړو .
۱ = ۱ ۲ = ۲ ۳ = ۳ ۴ = ۴ ۵ = ۵ ۶ = ۶ ۷ = ۷ ۸ = ۸ ۹ = ۹ ۱۰ = ۱۰ ۱۱ = ۱۱ ۱۲ = ۱۲
② لاندې عددونه په انګلیسي ولیکئ .
۴ ۶ ۱۲ ۲ ۸ ۱ ۹ ۷ ۱۰ ۵ ۳ ۱۱
③ د ساعت شکل ته وګورئ :
هغه په یوه دوره کې ۱۲ عددونه لري .
هغه په یوه دوره کې ټوپې نخښې لري .
هغه په یوه دوره کې ټولې نخښې لري .
هغه ـــ لنډه سنته لري چې ساعتونه ښیي .
هغه ـــ اوږده سنته لري چې دقیقې ښیي .
لنډه سنته په اته (۸) او اوږده سنته په دوه لسو (۱۲) ولاړه ده چې دا پدې ۸ بجې راښیي .
④ لاندې ساعتونه ته وګورئ او وخت یې په خالي خانونو کې ولیکئ .
بجې

٦٠ مخ - لومړی لوست

عنوان : د ساعت دلوستلو (پوهېدلو) دپاره د اعدادو د انګلیسي شکلونو معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

– عددي دایرو سره کار کول : جمع او تفریق، د پورو زړېزونو څخه اوښتل

۸۹۹۵ ۵۹۹۷ ۷۹۹۳ + ۹ ۳۹۹۴ ۴۹۹۸ ۱۹۹۹ ۶۹۹۲

۷۰۰۸ ۶۰۰۷ ۵۰۰۳ ۸۰۰۸ ۹۰۰۲ ۶۰۰۴ ۱۰۰۵ ۴۰۰۱ − ۹

۲. تکرار :

– د ۲۰ مخ ① ، ② او ③ مشق مطالعه او تشریح کول

– د کورنۍ کار کنټرل او مقایسه کول

۳. د ساعت د لوستلو (پوهېدلو) دپاره د اعدادو د انګلیسي شکلونو معرفي کول :

– د ۱ څخه ۹ پورې د اعدادو د انګلیسي شکلونو لیکل او مشق کول

* ښوونکی د تورې تختې په ښي خوا کې پښتو عددونه د ۱ څخه تر ۹ پورې یو یو ټبل لیکي او د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې څوک دا عددونه په انګلیسي لیکلی شي ؟

* زده‌کوونکي هر ځل د پښتو د عددونو کېنې خواته د هغو معادل انګلیسي عددونه لیکي (که چېرې د زده‌کوونکو څخه هیڅا انګلیسي عددونه ونه شوای لیکلای بیا یې ښوونکی باید ورته ولیکي)

* ښوونکی د تورې تختې مختلف عددونه وایي مختلف زده‌کوونکي یې څرنګه چې لاندې ښودل شوي دي په صحیح ځایونو کې لیکي .

* په آخر کې ښوونکی باید انګلیسي عددونه یو ځل بیا په صفا توګه ولیکي (په پای کې تورو تخته داسې ښکاري) .

۱	1 111
۲	2 222
۳	3 333
⋮	⋮ . . . . . ⋮
۹	9 999
۰	0 000

– زده‌کوونکي د عددونو انګلیسي شکل په خپلو کتابچو کې خو خو ځله لیکي .

– ښوونکی عددونه په لاندې شکل سره په تورو تخته لیکي .

* زده‌کوونکي مساوي (یو شان) عددونه پیدا او سره نښلوي چې په انګلیسي یا په پښتو لیکل شوي دي .

(دوام لري)



- بنوونکی د تورې تختې تول عددونه پاکوي او خالي چوکاټ په توره تخته رسموي او په چوکاټ کې انګلیسي عددونه د ترتیب څخه پرته لیکي او د هغه لاندې یوه عددي شعاع د څو غیبو عددونو سره رسموي .

* زده‌کوونکي د عددي شعاع غیب عددونه پیدا کوي او هغه د عددي شعاع د نخښه شویو ځایونو لاندې په صحیح توګه لیکي او په چوکاټ کې هغه عدد چلیپا کوي



۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار/کورنۍ کار : د عددونو انګلیسي شکل په کتابچو کې د ۰ ـ ۹ پورې د رڼې خلې صفا لیکل

۶۰ مخ - دوهم لوست

عنوان : د (۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲) د عددونو د انګلیسي شکلونو معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

- عددي لوبه :

* بنوونکی د زده‌کوونکو څخه غواړي چې یو عدد مثلاً (۱۵) د ځان سره (زړه کې) وټاکي . بیا هماغه عدد د ځان سره (په زړه کې) ورسره جمع کړي (۱۵+۱۵) . وروسته بنوونکی یو حمت عدد لکه (۱۰) وایي او ... (دوهم کتار وګورئ!)

زده‌کوونکي یې په زړه کې ورسره جمع کوي (۳۰=۱۰+۲۰) د حاصل جمع عدد پر دوو ویشي (۱۵=۲÷۳۰) د پاتې برخې څخه لومړی تاکل شوی عدد لرې کوي (۱۵ـ ۲۰) لاس ته راغلی ځواب به یې (۵) وي. بنوونکی توله عملیه په توره تخته لیکي: (۱۵ + ۱۵ + ۱۰ ÷ ۲ - ۱۵ = ۵)

* بنوونکی د زده‌کوونکو سره مرسته کوي ترڅو پیدا کړي چې ځواب تل د معلوم عدد نیمایي وي .

* د نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول لکه :

۳۰ + ☐ + ۵۰ ÷ ۲ - ☐ = ۲۵

۷ + ☐ + ۶۰ ÷ ۲ - ☐ = ۳۰

۱۲ + ☐ + ☐ ÷ ۲ - ☐ = ۱۵

۲. تکرار :

- بنوونکی لاندې عددي پټۍ یو په بل پسې په توره تخته رسموي .

* زده‌کوونکي ورک انګلیسي عددونه پیدا کوي او په خپلو خانو کې یې په صحیح توګه لیکي .



۳. د (۱۰ـ ۱۱ـ ۱۲) د انګلیسي عددونو معرفي کول :

- بنوونکی د (۱ـ ۱۲) د عددونو انګلیسي شکلونه په غیر منظم ډول په چوکاټ کې لیکي او ترې لاندې یوه عددي شعاع رسموي چې هر عدد ونه یې غیب وي .



* زده کوونکي په بکس کې هغه عددونه خط وهي چې د عددي شعاع لاندې له پخوا لیکل شوي دي .
* زده کوونکي هر ورځ عدد په بکس کې پیدا کوي اودعددي شعاع د نخښه شوې ځای لاندې یې په صحیح ډول لیکي او په پکس کې یې خط وهي .
* د ۶۰ مخ په ① مشق کار کول
- ښوونکی د جمع لاندې سوالونه په پښتو عددونو یو په بل پسې په تور تخته لیکي او د همدغو عددونو لپاره چې په انګلیسي شکلونو ولیکل شي خالي بکسونه رسموي .
* هرځل زده کوونکي سوالونه په پښتو عددونو حلوي وروسته یې په انګلیسي عددونو په مربوطه ټشو بکسونو کې لیکي.

۲ + ۸ = ۱۰	۵ + ۵ = □
2 + 8 = 10	□ + □ = □
۶ + ۵ = □	۶ + ۶ = □
□ + □ =	□ + □ = □
۷ + ۳ = □	۸ + ۲ = □
□ + □ = □	□ + □ = □
۹ + ۱ = □	۲ + ۱۰ = □
□ + □ = □	□ + □ = □
۱ + ۱۰ = □	۱ + ۱۱ = □
□ + □ = □	□ + □ = □

- ښوونکی د لاندې په ډول په تور تخته د کاغذ د مختلف شپږ لرونکي بکسونه رسموي .
* زده کوونکي هر یو شپږي او دهغه عدد انګلیسي شکل دهغه د بکس لاندې ټش بکس کې لیکي .



۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار کورنی کار: ۶۰ مخ ② مشق

۶۰ مخ - د یم لوست
عنوان : د یوه ساعت د شکل معرفي کول - د پورې ساعتونو پېژندل

د رسمي مواد : ساعتونه

۱. ذهني روزنه :
- د عددي دایرو سره کار کول

۲. تکرار :
- د کورني کار کتل
- ښوونکی ۱۲ پورې مختلف عددونه وایي .
* زده کوونکي انګلیسي عددونه په تور تخته لیکي .
۳. د یوه ساعت د شکل معرفي کول - د پورې ساعتونو پېژندل :
- د ساعت شکل (مخ) ته کتل
* ښوونکی د موجود و ساعتونو د تعداد مطابق ګروپونه تشکیلوي (هرګروپ ته یو ساعت)
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په دقت سره د ساعت شکل (مخ) ته وګوري او تشریح یې کړي لکه په هغې ۲ (۳) سنتې دي، یوه یې د بلې څخه اوږده ده . هلته ۱۲ لویې نخښې دي او د اسې نور .
- د ۶۰ مخ په ③ مشق د ملګري سره کار کول
* زده کوونکي د رسم شوي ساعت شکل مطالعه اوتشریح کوي لکه : هلته ۱۲ پورې انګلیسي عددونه دي ، ۱۲ لویې نخښې ، ۶۰ واړه قدمونه (نخښې) ، یوه اوږده سنته او یوه لنډه سنته ، لنډه سنته ۸ ښیي او اوږده سنته ۱۲ ښیي .
* زده کوونکي مربوطه خالي بکسونه ډکوي (ښوونکي مرسته کوي) .
* زده کوونکي جملې ببلې ببلې په لوړ آواز لولي .
* زده کوونکي دوه دوه سترې جمله په لوړ آواز لولي ، پرې بحث کوي او د رسم شوي ساعت سره یې مقایسه کوي .
- د ۶۰ مخ په ④ مشق باندې کار کول
* زده کوونکي موضوع مطالعه کوي او د ساعتونو سترې سره مقایسه کوي او پیدا کوي چې په ټولو ساعتونو کې اوږده دې سترې په ۱۲ باندې ولاړې دي او لنډې سترې یې په مختلفو ځایونو باندې ولاړې دي (مختلف عددونه ښیي) کوم چې پوره ساعتونه ښیي .
* زده کوونکي د ملګرو سره بحث کوي او خالي خانونه ډکوي .
* په لوړ آواز د خوا ښونو لوستل او مقایسه کول
۴. کورنی کار : نه لري .

متر	۵		۶			۱۰	۲		۸	۱
سانتي متر	۵۰۰	۹۰۰		۱۰۰	۴۰۰			۳۰۰			۷۰۰


٦١
١ په ساعتونوکې د اوږدې اولنډې سټې د حرکت ترمنځ رابطه پیدا کړئ .
دا ساعت ... بجې ښيي .
اوږده سټې ۱۰ قدمونه ... دقيقې ... ښيي .
اوس اوږدې سټې ... قدمونه وروسته ... دقيقې ... ښيي .
دا ته اوږدې سټې ... قدمونه وروسته ... دقيقې ... ښيي .
دقيقې = ساعت
٢ د لاندې ساعتونو صحيح وختونه ولیکئ .
٣ د مثالونو په شان خالي خانې ډکې کړئ .
ساعتونه
دقيقې
نوټ : يوه شپه او ورځ ٢٤ ساعته ده .

٦١ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : ساعت : د لنډې او اوږدې سټې د حرکت ترمنځ د رابطې موندل ، پر ساعت باندې په صحیح دول د وخت پېژندل

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۲۲ مخ د دوهم لوست په شان د ځنځيرې سوالونو سره کارکول

۲۷۸۰ + ۲۰ + ۲۰۰ + ۹ =

۱۲۰۰ + ۳۰۰ + ۵۰۰ + ۱۱ =

۶۴۰۰ ـ ۴۰۰ ـ ۲۰۰ ـ ۵۰۰ =

۸۹۰۰ + ۱۰۰ ـ ۳۰۰ ـ ۱۷۰۰ =

۷۰۰۰ + ۳۰۰۰ ـ ۵۰۰۰ = ۸ + او داسې نور .

۲. تکرار :

ـ شونکی لاندې جدول په توره تخته رسموی .

(دوهم کتار وګورئ!)

* زده‌کوونکي د ۵۵ مخ د ③ مشق په شان متر په سانتي متر او سانتي متر په متر اړوي .

۳. ساعت : د لنډې او اوږدې سټې د حرکت ترمنځ د رابطې موندل ، په صحیح دول پر ساعت باندې د وخت پېژندل :

ـ د ٦١ مخ په ① مشق باندې کارکول

* زده‌کوونکي موضوع مطالعه کوي .

* یو زده‌کوونکی په لوړ اواز جملې (هدایت) لولي .

* زده‌کوونکي د هر ساعت د لنډې او اوږدې سټې موقعیتونه (ځایونه) سره مقایسه کوي او بنودل شوی وخت وایي .

* زده‌کوونکي د هر ساعت تشریحات (لاندې جملې) لولي ، پرې بحث کوي او مربوطه ساعت سره یې مقایسه کوي .

* زده‌کوونکي د ملګرې سره خالي بکسونه ډکوي (بشوونکی مرسته کوي) .

* په لوړ آواز د ټول تشریح لوستل او یو د بل سره یې مقایسه کول

* زده‌کوونکي د لومړي ـ دوهم ، دوهم ـ دریم دریم ـ څلورم ، څلورم ـ اول ، ساعتونو د لنډو او اوږدو سټنو موقعیتونه (ځایونه) سره مقایسه او تشریح کوي او پیدا کوي چې : هرکله لنډه سټنه د ۸ څخه ۹ ته ځي (۱ ساعت) اوږده سټنه باید ۶۰ قدمونه واخلي (یوه دوره ـ ۶۰ دقیقې) او وایي چې یو ساعت د ۶۰ دقیقو سره مساوي دی .

ـ د ٦١ مخ په ② مشق باندې د ملګرې سره کارکول

* زده‌کوونکي یو یا دوه ساعتونه تشریح کوي .

۴. د پښې خولې کار / کورنی کار : ٦١ مخ

③ مشق د توضیح دپاره د ۴ لومړنیو سوالونو په تخته حلول

٦٢

① څې ساعتونه تر ټولو اوږده درېمه سټنه هم لري چې ثانيه ښيي.
د دې سټنې پر قدم يوه ثانيه ده.

دا ستن په يوه دوره کې ☐ دقيقه پوره کوي چې ☐ ثانيې کېږي.

☐ ثانيه = ☐ دقيقه

② په لاندې ساعتونوکې تر ټولو اوږده سټن چې د ١٢ څخه شروع کېږي، څو ثانيې ښيي؟

☐ ثانيې ☐ ثانيې ☐ ثانيې ☐ ثانيې ☐ ثانيې

③ لاندې شکل په ترتيب سره د کال د مياشتو نومونه او د هغوی ورځې تعداد راښيي.

شکلونه او نومونه سره مقايسه کړئ او د مياشتو نومونه زده کړئ.

پر کال ☐ مياشتې دي.

پر کال ☐ ورځې دي.



نوټ:
د مياشتو او ورځو د حساب د اسانتيا دپاره په عمومي توګه يوه مياشت ٣٠ ورځې شمېرل کېږي.

٦٢ مخ - لومړی لوست

عنوان : ساعت؛ د ثانيې معرفي کول

درسي مواد : ساعتونه

١. ذهني روزنه :

- ښوونکی څېنې عددونه يو په بل پسې په توره تخته ليکي، لکه : ٢٤٧٣ ، ٦٩٨٤ ، ٨٠٦٩ ، ٤١٦، ١٠٠١ ، ٧٨٥٩ ، ٩٥ او نور.
* ښوونکی هرځل دوه عدد مختلفو رقمونو ته يو په بل پسې اشاره کوي، مثلاً په ٢٤٧٣ کې ٤ ته اشاره کوي.
* هر ځل زده کوونکي د ښودل شوي رقم ارزښت وايي يعنې (٤٠٠).

٢. تکرار :

- ښوونکی د کورنۍ کار څخه يو جدول په توره تخته رسموي (٦١ مخ ③ تمرين).

* زده کوونکي سوالونه حلوي او خالي ځايونه ډکوي.
- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه کول

٣. ساعت؛ د ثانيې معرفي کول :

- ښوونکی د زده کوونکو څخه غواړي چې د ساعت دريمې (اوږدې) سټنې ته وګوري (ښې له دې چې زده کوونکو ته ووايي چې هغه ثانيه ښيي).
* زده کوونکي وايي چې دا سټنه د نورو څخه ټيز حرکت کوي او د دې معنا دا ده چې د اوږدې سټنې هر قدم دېر لږ وخت ښيي چې مونږ ېې د ثانيې په نامه يادوو. (که ضرورت وي ښوونکی رهنمايي کوي).
- د ٦٢ مخ په ③ مشق کار کول
* زده کوونکي په پټه خوله موضوع (وظيفه) مطالعه کوي.
* يو زده کوونکی جملې په لوړ آواز لولي.
* زده کوونکي رسم شوی ساعت تشريح کوي: مونږ ګورو چې د ساعت په دايره کې اوږدې سټنې هم د ١٢ څخه په حرکت پيل کړی او د ساعت ٢٣ قدم ته رسېدلې ده، چېرې چې ٢٣ ليکل شوي دي. د دې معنا دا ده چې دې سټنې هر قدم يوه ثانيه ښيي.
* ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې پيدا کړي: د ساعت د قاب په دايره کې ٦٠ قدمه دي. د دې دايرې تکميلول د اوږدې سټنې په واسطه ٦٠ قدمه غواړي، د دې خبرې معنا دا ده چې يوه دوره ٦٠ ثانيې لري، ٦٠ ثانيې يوه دقيقه جوړوي.
* زده کوونکي د ملګرې سره خالي بکسونه په صحيح عددونو سره لکه څنګه چې په تصوير کې ښوول شوي دي ډکوي.
- د ٦٢ مخ په ② مشق کار کول
* يو زده کوونکی په لوړ آواز جملې لولي.
* زده کوونکي ساعتونه مطالعه کوي او د ساعتونو د اوږدو سټنو وهل شوي قدمونه يو، يو وايي.
* د ملګرې سره د خالي بکسونو ډکول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول

٤. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار : په ثانيو باندې د لاندې دقيقو بدلول :

١ دقيقه ، ٢ دقيقې ، ٣ دقيقې ، ٤ دقيقې ، ٥ دقيقې

٦٢ مخ ـ دوهم لوست
عنوان : د کال د میاشتو معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۱ او ۱۰ په قدمونو شمېر کول

۱۳۴۵، ۱۳۴۶،	۳۴۲۵، ۳۴۳۵، ۳۵۲۵
۲۵۹۶، ۲۵۹۷،	۵۱۴۰، ۵۱۵۰، ۵۲۴۰
۷۹۹۴، ۷۹۹۵،	۸۹۳۰، ۸۹۴۰، ۹۰۳۰

۲. تکرار ـ تقویت :

ـ ښوونکی د حاصل او قرض څخه پرته په ستونې شکل د جمع او تفریق یوځو سوالونه په توره تخته ببل ببل لیکي لکه :

۳۴۶	۸۳۹	۴۳۲۷	۶۷۳۱
+ ۵۳۳	- ۴۰۶	+ ۵۴۷۱	- ۵۱۲۰

* زده‌کوونکي یې یو پر بل پسې په توره تخته حلوي .

ـ د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

۳. د کال د میاشتو معرفي کول :

ـ د ۶۲ مخ په ۳ مشق باندې کار کول

* زده‌کوونکي موضوع مطالعه او جملې په لوړ آواز لولي.
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه پوښتنه کوي چې د کومې میاشتې نوم مو اوربدلی دی ؟
* زده‌کوونکي د مختلفو میاشتو نومونه وایي کله میزان.
* نور زده‌کوونکي هر ځلې هغه په رسم کې پیدا کوي.
* ښوونکی زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې د تصویر او د میاشتې د نوم ترمنځ رابطه پیدا کړي او د هرې میاشتې د ورځو تعداد ولولي .
* ښوونکی زده‌کوونکي رهنمایي کوي چې زمونږ د کال د لومړنیو ۶ میاشتو هره میاشت ۳۱ ورځې ده ، ورپسې پنځه میاشتې هره میاشت ۳۰ ورځې ده خو وروستۍ میاشت ۲۹ ورځې ده .
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ټولو میاشتو د ورځو تعداد په جمع کولو سره د یوه کال د ورځو تعداد پیدا کړي .
* زده‌کوونکي د ملکرې سره خالي بکسونه ډکوي .
ـ ښوونکی لاندې جدول په توره تخته رسموي.
* زده‌کوونکي د تصویر څخه د میاشتو دوارو نومونه او د هرې میاشتې د ورځو تعداد یو په بل پسې لیکي .

۱	حمل	وری	۳۱
۲	ثور	غویی	۳۱
۳	جوزا	غبرګولی	۳۱
⋮	⋮	⋮	⋮
۱۲	حوت	کب	۲۹

* زده‌کوونکي د میاشتو نومونه او د هرې میاشتې د ورځو تعداد په لوړ آواز لولي .

۴. کورنۍ کار : نه لري .

٦٣

① لاندې میاشتې څو ورځې کېږي ؟

۳ میاشتې = ☐ ورځې | ۵ میاشتې = ☐ ورځې | ۸ میاشتې = ☐ ورځې

۲ میاشتې = ☐ ورځې | ۴ میاشتې = ☐ ورځې | ۶ میاشتې = ☐ ورځې

② د چوکاټ څخه د میاشتو نومونه په ترتیب سره خالي خانونکې ولیکئ .

۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰	۱۱	۱۲
حمل											

حمل ، ثور ، جوزا ، سرطان ، اسد ، سنبله ، میزان ، عقرب ، قوس ، جدي ، دلو ، حوت

③ یوه هفته ۷ ورځې ده .

شنبه	یکشنبه	دوشنبه	سه شنبه	چارشنبه	پنجشنبه	جمعه

④ د هفتو د ورځو تعداد پیدا کړئ .

۵ هفتې = ☐ ورځې | ۹ هفتې = ☐ ورځې

۷ هفتې = ☐ ورځې | ۲ هفتې = ☐ ورځې

عبارتي سوالونه

۱. د شریف پلار د خپل کار نرسایه پورې ۶۰۰ متره لار وهي، څو کیلو متره کېږي ؟

۲. د کلي څخه تر ښار تانې پورې ۳ کیلومتره لار ده ، څو متره کېږي ؟

۳. د مریم کشره خور ۲ کلنه ده ، هغه څو میاشتنۍ ده ؟

۴. د محمود د پښتو اوږدوالی ۱۲ سانتي متره دی . د احمد د پښتو اوږدوالی ۱۶ سانتي متره او ۵ ملي متره دی . د احمد پښتو د محمود د پښتو څومره اوږد دی ؟

۵. یوه دوکاندار ۷۸۰۰ کیلوګرامه وربجي اخیستي دي او ۹۸۷ کیلوګرامه یې بېرته خرڅې کړې دي . څو کیلوګرامه وربجي ورسره پاتې دي ؟

٦٣ مخ - لومړی لوست

عنوان : د میاشتو اوهفتو اړول په ورځو ، د هفتې د ورځو او د میاشتو تنظیم

۱. ذهني روزنه :

- د ضرب د مربوطه سوالونو سره کار کول لکه :

۲×۳ =	۵×۴ = ۲×۲ = ۹×۷ =
۲×۳۰ =	۵×۴۰ = ۲×۲۰ = ۹×۷۰ =
۲×۱ =	۲×۵ =
۲×۱۰ =	۲×۵۰ = او داسې نور .

۲. تکرار :

- مختلف زده کوونکي د کال د میاشتو نومونه په صحیح ترتیب سره بېل بېل د تولګي په مخکې وایي .
- ښوونکی د یوې میاشتې نوم اخلي .
* زده کوونکي وایي چې نومورې میاشت څو ورځې لري .

- په تخته باندې د پورته کال د ورځو تعداد محاسبه کول (د ٦٢ مخ د ۲ مشق د رسم په کار ورل)

۳. د میاشتو اوهفتو اړول په ورځو ، د میاشتو او د اونۍ د ورځو ترتیب :

- ښوونکی د څو میاشتو نومونه په تخته لیکي او د زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې کومه میاشت مخکې راځي لکه : ثور ، حمل ، سرطان ، اسد ، جوزا ، دلو ، قوس ، جدي ، حوت ، عقرب ، سنبله ، میزان او نور .

* زده کوونکي د هغوی سم ترتیب پیدا کوي او په پرله پسې ډول یې لیکي . لکه : حمل ، ثور ، جوزا ، سرطان ، اسد او داسې نور .

- ښوونکي د زده کوونکو څخه چې لاندې میاشتې څو ورځې لري :

لومړۍ شپږ میاشتې	ورځې لري .
وروسۍ پنځه میاشتې	ورځې لري .
لومړۍ درې میاشتې	ورځې لري .
سنبله او میزان	ورځې لري .
وروستۍ درې میاشتې	ورځې لري .

* هرځل زده کوونکی د ورځو تعداد محاسبه کوي او په تخته باندې خالي خانې ډکوي . لکه : د کال لومړۍ شپږ میاشتې ۱۸۶ ورځې لري . (د ٦٢ مخ د ② مشق د رسم په کار ورل)

- د ملګري سره د ٦٣ مخ په ② مشق کار کول
* په لوړ آواز د حوابونو لوستل او مقایسه کول
- د ٦٣ مخ د ③ مشق څخه د ورځو د نومونو مطالعه کول او په لوړ آواز یې ویل
* ښوونکی د ورځو نومونه په بې ترتیبه ډول په تخته لیکي .
* زده کوونکي یې په ترتیب سره لیکي .
* زده کوونکي نومونه یو یو کولي .
* ښوونکی په تخته لیکي :

یوه هفته ☐ ورځې لري .

* زده کوونکي د هفتې ورځې شمېرې او تشې خانې ډکوي.
* په توره تخته باندې د خو هفتو د ورځو شمېر د معلومولو لپاره په همدې ډول کار ته دوام ورکړئ لکه :

دوې هفتې [ ] ورځې لري.
خلور هفتې [ ] ورځې لري.
درې هفتې [ ] ورځې لري.

او داسې نور .

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار/کورنی کار :

۶۳ مخ ④ مشق

۶۳ مخ ـ دوهم لوست
عنوان : د عبارتي سوالونو حلول

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۱۰۰ او ۱۰۰۰ په قدمونو شمېر کول

۲۰۵۴ ، ۲۱۵۴ ، ... ، ۲۹۵۴ | ۱۰۰۹ ، ۲۰۰۹ ، ... ، ۹۰۰۹
۸۱۱۲ ، ۸۲۱۲ ، ... ، ۹۰۱۲ | ۱۰۱۷ ، ۲۰۱۷ ، ... ، ۹۰۱۷
۶۰۶۰ ، ۶۱۶۰ ، ... ، ۶۹۶۰ | ۱۸۶ ، ۱۱۸۶ ، ... ، ۹۱۸۶

او داسې نور.

۲. تکرار :

ـ شوونکی په ورځو باندې د هفتو د اړولو ځېنې سوالونه په توره تخته ببل ببل لیکي . لکه :

۵ هفتې [ ] ورځې | ۹ هفتې [ ] ورځې
۸ هفتې [ ] ورځې | ۷ هفتې [ ] ورځې
۳ هفتې [ ] ورځې | ۱۰ هفتې [ ] ورځې

* شوونکی د ورځو مختلف تعداد وایي ، زده کوونکي وایي چې خو مکملې هفتې ورځې جوړېږي . لکه :
۳۳ ورځې = ۴ هفتې او ۵ ورځې
۲۵ ورځې = ۳ هفتې او ۴ ورځې . او داسې نور.
* زده کوونکي د ورځو شمېر پیدا او خالي خانې یو په بل پسې ډکوي .

۳. د عبارتي سوالونو حلول :

ـ شوونکی د ۶۳ مخ لومړی عبارتي سوال په صفا توکه په توره تخته لیکي (لاندې وګورئ!).
* دوه یا درې زده کوونکي ببل ببل د تورې تختې څخه عبارتي سوال لولي .
* شوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې :
۱. هغه عددونه چې په سوال کې استعمال شوي دي پیدا او ترې لاندې خط وکاږي لکه ٦ .
۲. مربوطه پوښتنه پیدا او ترې لاندې خط وکاږي.
۳. هغه عملیه چې د سوال د حلولو دپاره ضرورت دی پیدا کړي لکه ضرب (×) .
۴. صحیح مساوات پیدا او حل یې کړي .
۵. د سوال صحیح ځواب ووایي .
* په پای کې توره تخته داسې ښکاري :

د شریف پلار د کار ترځایه ٦ کیلومتره لاره وهي شو متره کیږي ؟

٦ کیلومتره = [ ] متره
۱ کیلومتر = ۱۰۰۰ متره
٦ کیلومتره = ٦ × ۱۰۰۰ متره = ٦۰۰۰ متره.

ـ په همدې طریقه په توره تخته باندې د دوهم او دریم سوال حلول
ـ زده کوونکي خپلو ملګرو سره په خپلو کتابچو کې حلوي (شوونکی مرسته کوي) .
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار/کورنی کار :

د ۶۳ مخ وروسته (پنځم) عبارتي سوال په خپلو کتابچو کې حلول

د شپږم فصل پېژندنه

عنوان : جمع او تفریق د حاصل او قرض سره

د درسي کتاب مخونه : ٦٦ ــ ٧٢

د پېشنهاد شوي د رسونو تعداد : ١٥

د درسي معاونات : د ١٠ کانو، ١٠ کانو کڅوړې او کاڼي

د موضوعاتو تفصیل او تبصرې :

تر اوسه د جمع او تفریق د سوالونو تمرکز د زده کوونکو د ذهني محاسبې وډې او پیاوړتیا ته وه . کېدای شي د مختلطو لوبو عددونو په شفاهي ډول د حاصل یا قرضولو سره جمع او تفریق غلطي منځ ته راوړي . نو ځکه ضروري ده چې لوی عددونه په لیکلي شکل جمع او تفریق کړو .

په دې فصل کې لاندې موضوعات معرفي شوي دي :

- جمع د حاصل سره
- تفریق د قرض سره
- د تفریق په واسطه د جمع د سوالونو میزان او د جمع په واسطه د تفریق د سوالونو میزان

څرنګه چې پوهېږو د لوبو عددونو د پاره د عملي درسي معاوناتو موندل مشکل دي نو ځکه د درسي خاکو په جوړولو کې اکثره توره تخته استعمال شوې ده .

د دې لپاره چې زده کوونکي په لیکلي شکل بنه وپوهېږي او د عددونو د صحیح لیکنې سره بلد شي د هر مثالونه او په ستونې شکل کې د هر سوالونه ورکړل شوي دي .

د مقامي قیمت جدول چې په ټولو فصلونو کې کارول شوی، زده کوونکي چمتو کوي چې د عددونو یویزونه ، لسیزونه ، سلیزونه او زریزونه په صحیح ستونونو کې یو تر بل لاندې ولیکي .

په جمع کې حاصل او په تفریق کې قرض د مقامي قیمت د جدول په واسطه په مختلفو قدمونو کې په واضح ډول تشریح شوي دي . همدارنګه د جمع او د تفریق د لیکلي شکلونو تر منځ رابطه هم معرفي شوې ده تر څو زده کوونکي د جمع او تفریق د حوابونو د میزانولو مقارنه ځواسه کړي .

64

شپږم فصل

جمع او تفریق د حاصل او قرضلو سره

① عددونه په خپلو خانونو کې ولیکئ او د هر رقم ② د زیرې د رقم څنګه دایرې تاوې کړئ .

	ټولو	لسګو	سلګو	زرګو
۲۴۵۵	۵	۴	۲	۲
۱۰۰۶				
۴۰۷				
۹۰۸۰				
۷۸۴۹				
۱۷				

	ټولو	لسګو	سلګو	زرګو
۴۵۶۷				
۷۶۵۴				
۳۲۶				
۸۹				
۸۷۱۹				
۱۹۷۸				

۶۸۱۳				
۷۰۰۱				
۱۰۰				
۵۲۳۰				
۴۳۲۸				
۷۰۹۰				
۹۹۹۹				
۱۰۰۰۰				
۶۲۴				
۴۷۰۶۹۵				

جمع د حاصل سره

② په لاندې طریقه جمع کړو :

۱. لومړی یونیزونه سره جمع کړو لکه ۴+۸=۱۲ (یونیزونه) یعنې ۱ لسیز او ۲ یونیزونه. چې ۲ یونیزونه مونږ د یونیز خانې لاندې لیکو او یو لسیز په دایره کې ① د لسیز د خانې دپاسه لیکو .

۲. بیا لسیزونه سره جمع کړو لکه ①+۳+۲=۶ (لسیزونه) چې د لسیزونو لاندې یې لیکو .

۳. په همدې ترتیب سلیزونه او زیرزونه جمع کړو .

لاندې سوالونه د مثال په شان حل کړئ .

۳۲۵۴ + ۲۱۲۹	۴۳۶۷ + ۴۱۲۵	۷۳۳۹ + ۱۳۲۲
۶۲۳۶ + ۲۳۳۶		

۸۸۶۱	۹۶۸۳	۵۳۹۳	۸۳۹۲

مثال

زیرزونه	سلیزونه	لسیزونه	یونیزونه
	۲	۳	۴
	۳	۵	۸
+	۴	۲	۳
	۸	۶	۲

۶۴مخ - لومړی لوست

د مقامي قیمت په جدول کې د عددونو مشق

(د ۴ رقمي عددونو دپاره)

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی ۱ متر (۱۰۰ سانتي متره) په تخته لیکي او د ۱۰۰ څخه لږ مختلف اوږدوالی په سانتي مترونو ورکوي لکه ۷۰ سانتي متره، ۸۰ سانتي متره، ۹۲ سانتي متره، ۷۵ سانتي متره، ۱۰ سانتي متره، ۴۲ سانتي متره، ۱۵ سانتي متره او داسې نور.

* زده کوونکي هر ځل چې دپاتې سانتي متر تعداد پیدا کوي او وایي چې ۱۰۰ سانتي متره (۱ متر) پوره شي .

(دوهم کتار وکورئ !)

یعنې :

۷۰ سانتي متره + ___ سانتي متره = ۱۰۰ سانتي متره

۷۰ سانتي متره + ۳۰ سانتي متره = ۱۰۰ سانتي متره

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول
- د ۵۷ مخ د ③ مشق مطالعه کول
* د نورو سپکو شیانو نمونه اخیستل چې په کیلوګرام اندازه کېدای شي .
* د نورو درنو د شیانو نمونه اخیستل چې په کیلوګرام اندازه کېدای شي .

۳. د مقامي قیمت په جدول کې د عددونو مشق

(د ۴ رقمي عددونو دپاره) :

- بنوونکی لاندې شیان او د مقامي قیمت جدول په تخته رسموي .

یونیز	لسیز	سلیز	زرګی

* زده کوونکي د هر کتار څانګې او په کښتورو کې رسم شوي کانې شمېرې او عدد پیدا کوي او د یونیزونو، لسیزونو، سلیزونو او زیرزونو عددونه د مقامي قیمت د جدول په صحیح خانونو کې پر لیکي مثلاً په لومړي کتار کې :

یونیز	لسیز	سلیز	زرګی
۶	۴	۲	۳

- د تبدیل شوپو رقمونو عددونه موندل او د هغوی د کوچنیوالي او لویوالي معلومول

* ښوونکی لاندې عددونه په غیر منظم ډول په توره تخته لیکي :

۸۱ ، ۵۷ ، ۴۳ ، ۶۲ ، ۷۵ ، ۳۴ ، ۲۶ ، ۱۸

* زده‌کوونکي د عددونو جوړې د تبدیل شوپو رقمونو سره پیدا کوي او په دوو ستونونو کې یې ترتیبوي :

کوچنی	لوی
۱۸	۸۱
۵۷	۷۵
⋮	⋮

۴. کورنی کار نه لری .

۵ مخ - دوهم لوست

د پوښتنو، لسیزونو او سلیزونو د مقامي قیمت سره کار کول

درسي معاونات : ۱۲ د ۱۰۰ کانو کڅوړې ، ۱۲ د ۱۰ کانو کڅوړې او ۱۲ نور کانې

۱. **ذهني روزنه :**

- په مختلفو قدمونو کې شمېر کول ، لکه :

۹۵ ، ۹۶ ، . . . . . ، ۱۰۵

۷۵ ، ۸۰ ، ۸۵ ، . . . . . ، ۱۱۵

۱۱۰ ، ۲۱۰ ، ۳۱۰ ، . . . . . ، ۹۱۰

۱۱۲ ، ۲۱۲ ، . . . . . ، ۹۱۲

- د ۱۰ او ۱۰۰ سره جمع او تفریق

۱۰ + ۱۰ = ۳۹۶ + ۱۰ = ۱۲۵ + ۱۰۰ =

۱۰ + ۹۱ = ۷۹۲ + ۱۰ = ۷۲۵ + ۱۰۰ =

۱۰ + ۹۸ = ۷۹۵ + ۱۰ = ۳۲۵ + ۱۰۰ =

۱۰ − ۱۸ = ۱۰۹ − ۱۰۰ = ۳۲۵ − ۱۰۰ =

۱۰ − ۱۰۶ = ۵۰۷ − ۱۰۰ = ۵۱۸ − ۱۰۰ =

۱۰ − ۲۰۳ = ۶۰۲ − ۱۰۰ = ۹۹۹ − ۱۰۰ =

۲. **تکرار :** د اندازو سره سم د لاندې ۴ عددونو ترتیبول او د مقامي قیمت په جدول کې د هغو لیکل ، ۴۱ ، ۳۶ ، ۷۲ ، ۶۸

یویز	لسیز
۶	۳
⋮	⋮

۳. د یویزونو، لسیزونو او سلیزونو د مقامي قیمت جدول سره کار کول :

- د یویزونو، لسیزونو او سلیزونو د مقامي قیمت د جدول سره د اشنا کېدو دپاره د ۵ مخ په ① مشق باندې بحث کول

- د ۱، ۲، ۳ د رقمونو څخه مختلف درې رقمي عددونه جوړول او د هغو د اندازو سره سم د هغو ترتیبول

* ښوونکی ۱، ۲، ۳ په توره تخته لیکي او د زده‌کوونکو څخه غواړي چې د دې رقمونو څخه عددونه جوړ کړي .

* زده‌کوونکي یو یا دوه مثالونه وایي ، لکه : ۲۳۱ ، ۳۲۱

* څومره عددونه چې زده‌کوونکي جوړولی شي په خپلو کتابچو کې یې دې ولیکي .

* زده‌کوونکي عددونه لولي او په توره تخته یې لیکي [شپږ عددونه ۲۳۱، ۳۲۱، ۱۲۳، ۳۱۲، ۱۳۲، ۲۱۳]

* زده‌کوونکي د ټولو عددونو دپاره د کانو ګروپونه پرمېزجوړوي او د هغو د اندازو مطابق یې ترتیبوي .

* زده‌کوونکي د هر ګروپ د سلیزونو، لسیزونو او یویزونو تعداد وایي او په ترتیب سره هر یو د مقامي قیمت په جدول کې پر توره تخته لیکي .

۳	۲	۱
۲	۳	۱
۳	۱	۲
⋮	⋮	⋮

- د ۵ مخ په ② مشق کار کول

۴. **په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:**

د ۵ مخ ③ مشق (باید تشریح شي) .

* د دېرهوارو عددونو د پيدا کولو او د مقامي قيمت د جدول د تکميلولو څخه وروسته بشوونکی مختلفو رقمونو ته اشاره کوي لکه ۴ په لومړي عدد کې، زده کوونکي وايي ۴ سلیزونه. او په رسم کې د هغو اندازه ښيي.

يويز	لسيز	سليز	زريز
۶	۲	۴	۳
۷	۴	۳	۶
۹	۳	۲	۷

* په همدې طريقه د نورو عددونو د کانو د رسمونو سره کار ته دوام ورکول لکه :
۲۵۱۰ ، ۱۰۵۳ ، ۴۱۰۱ . (کېدای شي زده کوونکی رسمونه وکاږي)
- بشوونکی د مقامي قيمت يو جدول په توره تخته رسموي او مختلف عددونه وايي لکه ۸۹۳۷ ، ۱۱۰۱ ، ۹۹۹۹ ، ۶۵۷۳ او داسې نور .
* زده کوونکي د عددونو رقمونه د مقامي قيمت د جدول په نيار شويو خايونو کې ليکي .

يويز	لسيز	سليز	زريز
۷	۳	۹	۸

* بشوونکی مختلفو رقمونو ته اشاره کوي لکه په لومړي عدد کې ۸ ته ، زده کوونکي د هغه قيمت وايي - يعنې " ۸ زريزه " .
- د ۶۴ مخ په ① مشق باندې کار کول (د ملګري کتنه)
په صحيح ډول د عددونو ليکل او د ملګري سره د مختلفو رقمونو د قيمت تشريح کول

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

۶۴ مخ ② مشق

۶۴ مخ - دوهم لوست

ستونې جمع د حاصل سره (د يويز خڅه لسيز ته)

دسي معاونات : د ۱۰ کانو ۷ کڅوړې ، کانې ، څو خالي کڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- بشوونکی ۱ کېلومتر (۱۰۰۰ متره) په توره تخته ليکي او نور مختلف شمېر مترونه وايي (چې د ۱۰۰۰ څخه لږ وي) لکه ۹۰۰ متره ، ۵۰۰ متره ، ۸۰۰ متره ، ۶۰۰ متره ، ۹۹۵ متره ، ۹۹۰ متره ، ۹۶۰ متره او داسې نور .
* هر ځلې زده کوونکي د پاڼې مترونو تعداد پيدا کوي او وايي چې يو کېلومتر (۱۰۰۰ متره) پوره شي . لکه :

۹۰۰ متره + ۱۰۰ متره = ۱۰۰۰ متره = ۱ کېلومتر
۵۰۰ متره + ۵۰۰ متره = ۱۰۰۰ متره = ۱ کېلومتر
۸۰۰ متره + ۲۰۰ متره = ۱۰۰۰ متره = ۱ کېلومتر

۲. تکرار :

- يو زده کوونکی د ۶۳ مخ پنځم عبارتي سوال په لوړ آواز لولي .
* نور زده کوونکي هغه (عبارتي سوال) تجزيه کوي او د ملګري سره يې پېښلو کتابچو کې حلوي .
* يو زده کوونکی هغه په توره تخته حلوي (نور خپل ځوابونه مقايسه کوي) .

۳. په ستونو نو کې جمع د حاصل سره (د يويز خڅه لسيز ته) :

- بشوونکی د مقامي قيمت جدول لکه څنګه چې بنودل شوی په توره تخته رسموي .

+	يويز	لسيز

- ښوونکی د مقامي جدول په ځمکه رسموي اود لاندې سوال د عددونو مطابق کاڼي د مقامي قیمت د جدول په صحیحو ځایونو کې ږدي. (لاندې ګورئ!)

۲۹
+ ۴۳

* زده‌کوونکي د ځمکې کانو اوکښورو ته ګوري او صحیح عددونه پیدا کوي او د تورې تختې د مقامي قیمت جدول په صحیحو ځایونو کې یې لیکي. (لاندې ګورئ!)
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په ستونونو کې کاڼي جمع کړي.
* زده‌کوونکي بحث کوي او پیدا کوي چې: مونږ لومړی د یویزونو ځانګړي کاڼي جمع کوو (۳+۹=۱۲ کاڼي). مونږ کافي (پوره) اندازه کاڼي لرو چې یوه نوې د لسوکانو خالي کښورې ډکه کړو. ځکه مونږ د لسوکانو نوې کښورې ډکوو (تکمیلوو) اود لسیز ستون ته یې اړوو (وړو). په یویزونو کې دوه ځانګړي کاڼي پاتې دي. مونږ د لسو کانو نوې کښورې د لسوکانو د نورو کښورو سره جمع کوو (۱ + ۲ + ۴ = ۷ د لسوکانو کښورې)
* په همدې وخت کې زده‌کوونکي د تورې تختې مربوط د جمع سوال د عملي کار (جمع) په مرسته حلوي.

توره تخته او د ځمکې سطحه داسې ښکاري:

ځمکه



توره تخته

	یویز	لسیز
	۹	۳
+	۳	۴
	۲	۷

* زده‌کوونکي عددي قصه وایي او د حل شوي سوال سره رابطه ورکوي.

- په همدې طریقه د بل سوال حلول

۳۸
+ ۴۶

- د ۶۴ مخ په ۳ مشق باندې کار کول

* ښوونکی (د حل څخه پرته) مثال لیکي.
* یو زده‌کوونکی لومړی تشریح په ډګر آواز لولي او په مثال کې مربوط عملیه (په یویزونو) اجرا کوي.
* بل زده‌کوونکی دوهمه تشریح لولي او د هغه مربوط عملیه په لسیزونو باندې اجرا کوي.
* دریم زده‌کوونکی دریم قدم لولي او د هغه مربوط عملیه په سلیزونو او زریزونو اړوي.
* په همدې طریقه په توره تخته د لومړي سوال حلول
* د ملګري سره د پاتې درې سوالونو حلول (ښوونکی ګوري)

۴. د پښتې خولې کار / کورنی کار:

ښوونکی لاندې سوالونه په توره تخته لیکي او زده‌کوونکي یې په خپلو کتابچو کې حلوي:

۵۴۶۵	۵۰۳۱
+ ۳۲۰۶	+ ۱۰۵۹

۶۵

① مثال :

پورې	لسیز	سلیز	زرینه
	①	①	
۷	۵	۸	۵
۶	۸	۷	۲
۳	۴	۶	۸

د لومړي پوړنې سره جمع کوو لکه ۱۳+۰۶+۰۷ (پوړنې) یعنې ۱ لسیز او ۳ پوړنې، چې ۳ پوړنې د پوړ د ځانې لاندې لیکو او پر لسیز په دایره کې ① د لسیز د ځانې دپاسه لیکو.

۲. بیا په همدې ترتیب لسیزنې سره جمع کوو لکه ① + ۵ + ۸ = ۱۴ (لسیزنې) یعنې ۱ سلیز او ۴ لسیزنې، چې ۴ د لسیزنې لاندې لیکو او پر سلیز په دایره کې ① د سلیز د ځانې دپاسه لیکو.

۳. اوس سلیزنې سره جمع کوو لکه ① + ۸ + ۷ = ۱۶ (سلیزنې) یعنې ۱ زرینه او ۶ سلیزنې، چې ۶ سلیزنې د سلیز د ځانې لاندې لیکو او پر زرینې په دایره کې ① د زرینې د ځانې دپاسه لیکو.

۴. بیا زرینې سره جمع کوو.

② لاندې سوالونه د پورتنۍ مثال په شان حل کړئ.

۳۵۸۷ + ۱۷۲۳ = ۵۳۱۰	۸۳۲۵ + ۶۷۶ =	۵۴۳۶ + ۳۷۸۵ =	۶۷۹۳ + ۲۸۸۹ =
۳۳۵۶ + ۴۲۷۸ =	۸۸۷۵ + ۸۷۵ =	۶۷۵۴ + ۱۷۸۹ =	۳۷۵۴ + ۱۴۹۸ =
۷۶۰۸ + ۱۵۹۳ =	۳۹۱۴ + ۳۰۹۶ =	۲۳۷۵ + ۷۳۸ =	۵۱۳۹ + ۳۸۸۷ =

۹۶۸۲ ۹۳۳۴ ۸۵۴۳ ۹۷۵۰ ۸۰۱۰ ۳۱۲۳ ۵۲۵۳

۶۵ مخ - لومړی لوست

جمع د حاصل سره په ستونونو کې (د یویز څخه لسیز، د لسیز څخه سلیز او د سلیز څخه زرینز ته)

درسي معاونات : د ۱۰۰ کانو ۱۱ کڅوړې، د ۱۰ ۱۱ کڅوړې، ۱۵ کانې او یو څو (۳) خالي کڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی په تخته ۱۰۰۰ کرامه (۱کیلوګرام) لیکي او مختلف تعداد (د ۱۰-۱۰۰ څخه کم) ګرامونه وایي لکه ۹۹۹ ګرامه، ۹۵۰ ګرامه، ۵۰۰ ګرامه، ۸۰۰ ګرامه، ۷۰۰ ګرامه، ۱۰ ګرامه، ۱۰۰ ګرامه او داسې نور.

* هرځلې زده کوونکي د ۱۰۰۰ ګرامونو د پوړه کولو د پاره د پاتې ګرامونو تعداد وایي یعنې ۹۹۹ ګرامه + ۱ ګرام = ۱۰۰۰ ګرامه = ۱ کیلوګرام او نور.

* زده کوونکي یې هرځلې په توره تخته په ستونونو کې په صحیح توګه لیکي او حلوي یې، بحث کوي چې څنګه یې حلوي.

- د کورنۍ کار کنټرله او مقایسه

۳. جمع د حاصل سره په ستونونو کې (د یویز څخه لسیز، د لسیز څخه سلیز او د سلیز څخه زرینز ته)

- بنوونکی لاندې د مقامي قیمت جدول په ځمکه رسموي او د کانو دوه ډبرې ږدي. (په لومړي ډبرې کې د ۱۰۰ کانو ۷ کڅوړې، د لسو کانو ۸ کڅوړې او ۶ نور کانې دي، په دوهمه ډبرې کې د ۱۰۰ کانو ۴ کڅوړې، د ۱۰ کانو ۴ کڅوړې او ۹ نور کانې دي).

* څو زده کوونکي یو په بل پسې د هرې ډبرې کڅوړې او کانې د مقامي قیمت د جدول په قطارونو کې په ځمکه په صحیح توګه ږدي.

* بنوونکی د جمع د مشابه سوالونو د پاره د مقامي قیمت بل جدول په توره تخته رسموي.

* زده کوونکي د لومړي او دوهم قطار (ډبرو) د کانو صحیح تعداد پیدا کوي او د توري تختې د جدول په صحیح ځایونو کې یې لیکي.

* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کانې په ستونونو کې جمع کړي.

* زده کوونکي بحث کوي او پیدا کوي چې : لومړی یې د یویزو د ستون کانې جمع کړي دي (۶+۹=۱۵ کانې) اوس پورې کانې لري چې د ۱۰ کانو نوې کڅوړه عملاً دکه شي نوځکه د ۱۰ کانو نوې خالي کڅوړه ډکوي او کڅوړه په هغه ډبرې یې ږدي چې هرډبره یې ۱۰ کانې ولري. ۵ کانې پاتې کېږي. دا داسې معنی هم لري چې د ۱۰ کانو نوې کڅوړه مونږ لاسته کړه. بیا نوې کڅوړه د ۱۰ کانو هغو کڅوړو سره جمع کوو :

بیا: ① (نوې کڅوړه) + ۸ + ۴ = ۱۳ د ۱۰ کانو کڅوړې لرو. (بل مخ ګورئ!)

اوس د ۱۰ کانو پورې کښورې لرو چې نوې د ۱۰ کانو کښورې (= د ۱۰ کانو ۱۰ کښورې) جوړې کړي. نو ځکه د ۱۰۰ کانو کښورې په واقعي ډول د کړي او د ۱۰۰ کانو د کښورو دپاسه يې ږدو ، ۳ د ۱۰ کانو کښورې پاتې دي .

بيا لرو چې :

① (نوې کښورې) + ۷ + ۴ = ۱۲ د ۱۰۰ کانو کښورې په همدې طريقه د ۱۰۰۰ کانو نوې کښورې

(= ۱۰ × ۱۰۰ کانې او د ۱۰۰ کانو ۲ کښورې پاتې کېږي) .

* د کانو د عملي کارونو سره جوخت زده کوونکي د جمع سوال په توره تخته په رسمونو کې حلوي. ځمکه او توره تخته داسې ښکاري :

ځمکه:



توره تخته :

	يونيز	لسيز	سليز	زرينز
	①	①	①	
	۶	۸	۷	
+	۹	۴	۴	
	۱۵	۱۴	۱۴۰	
	۵	۳	۲	۱

* په آخر کې زده کوونکي عددي قصه جوړوي او د کانو او په توره تخته د حل شوي سوال سره رابطه ورکوي.

د ۶۵ مخ په ① مشق کار کول

ښوونکی مثال (د حل څخه پرته لیکي)

* يو زده کوونکی لومړنۍ تشريح په لوړ آواز لولي او د مثال په يونيزونو کې يې ښيي .
* بل زده کوونکی دوهمه تشريح لولي او په لسيزونو کې يې ښيي .
* په همدې طريقه د نورو قدمونو سره دوام ورکول
- د ۶۵ مخ په ② مشق باندې کار کول
* يو زده کوونکی مثال د کتاب څخه لولي او تشريح کوي.
* په توره تخته د لومړنيو شلورو سوالونو حلول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول (ښوونکی اصلاح کوي)

۴. د پښې خولې کار / کورنی کار : د ۶۵ مخ پاتې ۴ سوالونه حلول

۳. په ستوني شکل د دوو څخه د زیاتو عددونو جمع کول :

- بنوونکی د جمع د ۴ رقمي سوال د یو ستونونه په توره تخته رسموي او د ډې مختلف عددونه ورکوي لکه ۳۷۸۶ ، ۵۶۷ ، ۱۹۲۸
* زده کوونکي یې په صحیح توګه په ستونونو کې یو په بل پسې لیکي .
* بنوونکی د هر عدد د یویزونو مطابق کانې په توره تخته رسموي . (لاندې ګورئ!)
* زده کوونکي کانې شمېرې او د هغو تعداد د یویزونو د خانې لاندې لیکي یعنې ۲۱ . بیا د پورې ۱۰ کانو څخه حلقې تاووي (د پورې لسیزو د تعداد د پیدا کولو دپاره) ، پیدا کوي چې د ۱۰ کانو دوه ګڈوړې لاس ته راځي او یو کانی پاتې کېږي. نو باید د ۱۰ کانو ۲ ګڈوړې د لسیزونو ستون ته واړوو نو (چلیپا کوو او تر لاندې ۱ لیکو. ۲ په حلقه کې د لسیزونو د خانې دپاسه لیکو. تخته به داسې ښکاري :

یویز	لسیز	زریز
	۲	
۶	۸	۳
۷	۶	۵
۸	۲	۹	+
		۱

* په همدې ټوګه د لسیزونو، سلیزونو او زریزونو جمع کول
* بنوونکی هرځل د ورکړل شویو عددونو له مخې د ۱۰ ، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ کانو ګڈوړې په توره تخته رسموي یعنې: لسیزونه: ۲ + ۸ + ۶ + ۲ = ۱۸ د ۱۰ کانو ګڈوړې سلیزونه: ۱ + ۷ + ۵ + ۹ = ۲۲ د ۱۰۰ کانو ګڈوړې او زریزونه: ۲ + ۳ + ۱ = ۶ د ۱۰۰۰ کانو ګڈوړې
- د ۶۶ مخ په ۱ مشق کار کول
* بنوونکی مثال (د حلولو څخه پرته په توره تخته لیکي : دا شومانو کتابونه باید ترلې وي .

جمع کول :


۶۶
۱ مثال :
یویز | لسیز | زریز
۵ ۹ ۶
۸ ۹ ۵
۷ ۸ ۱
۳ ۹ ۳
۶ ۴ ۳
په دې مثال کې د یویزونو مجموعه ۲۳ کېږي چې ۳ یویزونه د یویزونو لاندې لیکو او ۲ لسیزونه د لسیز د خانې دپاسه په دایره کې ۲ لیکو . بیا په همدې ترتیب لسیزونه ، سلیزونه او زریزونه جمع کوو .
لاندې سوالونه د پورتني مثال په شان حل کړئ .
۷ ۸ ۹ ۶ + ۱
۸ ۳ ۷ ۱ ۹ ۴
۶ ۷ ۹ ۸ ۱
۵ ۴ ۷ ۸ ۱
۳ ۰ ۲ ۶ ۹ +
۲ ۸ ۹ ۴ ۱
۴ ۰ ۹ ۸ ۱ ۶
۳ ۸ ۹ ۷ ۱ +
۳ ۹ ۸ ۶ ۱
۵ ۷ ۸ ۹ ۱
۵ ۰ ۱ ۲ ۷ ۵ +
۳ ۸ ۹ ۶ ۱
۵ ۷ ۸ ۹ ۱
۳ ۰ ۲ ۴ ۷ ۵ +
۱ ۰ ۱ ۲ ۷ ۵
۳ ۸ ۹ ۶ ۱
۵ ۷ ۸ ۹ ۱
۲ ۰ ۳

* یو زده کوونکی سوال حلوی (نور زده کوونکي مرسته کوي)
* بل زده کوونکی د سوال حل تشریح کوي یعنې

ټول ۲۳ یونیزونه کېږي چې ۳ یونیزونه پې دیونیزونو د ستون لاندې ولیکل او ۲ (چې د ۲ لسیزو مخالري) په دایره کې د لسیزونو د خانې دپاسه ولیکل . په همدې ټوکه د نورو ستونو (خانو) تشریح کول

* د مثال جملې په لوړ آواز لوستل او د رسم شوې ستونونو سره یې مقایسه کول
* ۴ لومړي سوالونه د ملګري سره حلول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل ، او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ٦٦ مخ ① مشق دوه وروستي سوالونه حلول

---

٦٦ مخ - دوهم لوست
د عددونو د ورکړل شوې جورې شخې د جمع د سوالونو تشکیلول (د جمع مشق)

درسي معاونات : درې کاغذونه چې په هر یوه باندې دوه مختلف عددونه لیکل شوي وي
لکه :

۳۶۸۷	۱۶۳۴	۳۲۱۶
۲۴۳۵	۲۵۱۸	۱۳۹۷

۱. ذهني روزنه :

— د ۲۲ مخ دوهم لوست په شان ځنځیري سوالونو سره کار کول

۵ × ٦ + ۸۰ - ۱۰ = ۹ × ۴ ÷ ٦ - ٦ =
۸ × ۱۰ + ۱ ÷ ۹ = ۱۰۰ ÷ ۱۰ + ۹ - ۰ =
۵ × ۸ - ۲۰ ÷ ۴ = ۱۰۰۰ - ۹۵۰ + ۱۰ ÷ ٦ =

او داسې نور .

۲. تکرار :

— د کورنۍ کار کتنه او مقایسه
— ښوونکی د جمع د مشق د پاره ځینې عددونه وایي لکه
۵۴۷٦ + ۱٦۹۴ + ۳۸۷

* زده کوونکي یې په ستونې شکل په توره تخته لیکي او سره جمع کوي یې یعنې :

۵۴۷٦
۱٦۹۴
+ ۳۸۷

او داسې نور څو ټیزونه -

۳. د عددونو د ورکړل شوې جورې شخې د جمع د سوالونو تشکیلول :

— ښوونکی د زده کوونکي د ټولګي مخې ته غواړي او هر یوه ته هغه پاڼه ورکوي چې دوه عددونه پرې لیکل شوي دي. هغوی دا پاڼې داسې ګڼي چې ټول زده کوونکي یې ولیدلای شي .
* ښوونکی د زده کوونکو شخه غوښتنه کوي چې د هرې پاڼې څخه د یوه عدد په اخیستلو سره د جمع مختلف سوالونه جوړ او په توره تخته یې ولیکي لکه :

۳٦۷۸
۲۵۱۸
+ ۱۳۹۷

او داسې نور د عددونو مختلف ممکن ترکیبونه ولیکل شي .

* زده کوونکي هرځل سوالونه حلوي (ښوونکی مرسته او اصلاح کوي) .
— د ٦٦ مخ په ② مشق کار کول
* یو زده کوونکی په لوړ آواز هدایت لولي او مثال تشریح کوي چې هر عدد له ببل چوکاټ څخه اخیستل شوی دی .
* زده کوونکي د مثال په شان د جمع د درې مختلف سوالونه د ملګري سره جوړوي او په خپلو کتابچو کې یې حلوي . (ښوونکی یې اصلاح کوي)

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ٦٦ مخ ② مشق د جمع ۴ نور سوالونه جوړول او حلول (د یکسو نو عددونه استعمالول)

٦٧

تفریق په قرضولو سره

تفریق داسې کېږي :

① مثال :



۱. وښې چې ۸ یویزونه د ۳ یویزونو څخه نه تفریقېږي .

۲. نو یو لسیز د لسیز د خانې څخه اخلو او په ۱۰ یویزونو یې بدلوو چې دا ۱۰ یویزونه د ۲ یویزونو سره جمع کېږي (۱۲ = ۲ + ۱۰) (۱۲ یویزونه) په دایره کې د یویز د خانې څخه لیکو او په څ باندې خط کاږو . بیا په څ باندې هم خط کاږو او دپاسه یې په دایره کې لیکو .

۳. د ۱۰ یویزونو د قرضولو څخه وروسته کولی شو په معموله طریقه تفریق وکړو .

② لاندې سرلوڼه د پورتنۍ مثال په شان په خپلو کتابچو کې حل کړئ .





٦٧ مخ - لومړی لوست

قرضولو سره تفریق (یوازې د لسیز خڼه یویز ته)

درسي معاونات : د ضرب او تقسیم چارت

۱. **ذهني روزنه :**

- د ضرب او تقسیم چارت سره کار کول
* ښوونکی د ضرب او تقسیم مختلف سوالونه وایي لکه ۷ x ۶ ، ۴۸ ÷ ۶ ، ۸ x ۵ ، ۴ x ۲ ، ۶ x ۱۰ ، ۲۴ ÷ ۴ او داسې نور .
* زده کوونکی هر محل سوال او د هغه ځواب په چارټ کې پیدا او ښیي .

۲. **تکرار :**

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه
- د ۵۸ مخ ④ مشق لوستل او بحث پرې کول په لوړ آواز د جملو لوستل او د رسم شوې ترازو سره یې مقایسه کول

۳. **قرضولو سره تفریق (د لسیز څخه یویز ته) :**

- د ٦٧ مخ په ① مشق کار کول
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې متن مطالعه او بحث پرې وکړي .
* زده کوونکی هره جمله لولي ، تشریح کوي یې او په مثال کې مربوط ځای ته اشاره کوي .
- ښوونکی لاندې د تفریق سوال په تخته لیکي .

یویز	لسیز	سلیز	زرګونه
٦	٤	٩	٧
٧	٣	٨	٥

—

* زده کوونکي پیدا کوي او وایي چې مونږ نه شو کولای ۷ یویزونه له ٦ یویزونو څخه تفریق کړو نو باید د ۴ لسیزونو څخه یو لسیز د یویزخانې ته واړوو او په یویزونو یې بدل کړو مونږ به ۱۶ یویزونه تر لاسه کړو . اوس تول عددونه تفریقولای شو . زده کوونکی سوال حلوي (۱۶ یویزونه - ۷ یویزونه = ۹ یویزونه) .
- ښوونکی لاندې د تفریق سوال په تخته لیکي .

یویز	لسیز	سلیز	زرګونه
۴	۳	٦	۴
۲	۹	۴	۱

—

* زده کوونکي پیدا کوي او وایي چې مونږ نه شو کولای ۹ لسیزه له ۳ لسیزو څخه تفریق کړو نو باید د ٦ سلیزو څخه ۱ سلیز (= ۱۰ لسیزونه) د لسیزخانې ته واړوو او په لسیزونو یې بدل کړو چې ۱۳ لسیزونه به تر لاسه شي (۵ سلیزونه پاتې کېږي) . اوس ۹ لسیزونه تفریقولای شو . زده کوونکي سوال په تخته پوره تخته حلوي .

- په همدې طریقه لاندې سوال حلول

	ټوبیز	لسیز	سلیز	زرزیز
		۸	۳	۶
—		۶	۴	۴

- د ۶۷ مخ په ⑦ مشق کار کول

* یوزده کوونکی مثال تشریح کوي (د تورې تختې د استعمال څخه پرته)
* د مثال په شان د ملګري سره د ۴ لومړنیو سوالونو حلول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په تولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار :

۶۷ مخ پاتې ۳ سوالونه

۶۸

① مثال :



۱. په پورتنۍ مثال کې وینو چې د سټونزیز مدد ونه د قرضلو څخه پرته نه تفریقیږي لکه ۸ ټوپیز ته د ۱ ټوپیز څخه نه شي تفریقېدلی.

۲. نو ۱ لسیز ورته قرضوو او په ۱۰ ټوپیزونو یې بدلوو چې ⑪ ټوپیزونه لاس ته راځي. اوس یې تفریقولی شو.

(۱۱ - ۸ = ۳ (ټوپیزونه

۳. په لسیزکې ⑦ پاتې کیږي چې ۴ د ۲ څخه نه تفریقیږي. نو څکه ۱ سلیز ورته قرض اخلو او په ۱۰ لسیزونو یې بدلوو چې ۱۲ لسیزونه لاس ته راځي، د لسیزونو دپاسه په دایرۍ کې ⑫ لیکو او په ⑦ باندې خط کاږو. اوس یې تفریقولی شو.

(۱۲ - ۴ = ۸ (لسیزونه

۴. په همدې ترتیب د سلیزونو او زرزیزونو تفریق ته دوام ورکوو.

② لاندې سوالونه د پورتنۍ مثال په شان په خپلو کتابچو کې حل کړئ.

۴۳۵۲	۷۸۶۳	۲۳۵۴	۵۳۴۱
−۲۱۶۳	−۵۶۹۴	−۱۴۶۷	−۴۱۶۲
۱۷۶۴	۴۲۸۷	۳۹۵۶	۹۵۶۶
− ۴۶۵	−۱۱۹۹	−۱۲۹۸	−۲۴۶۷

۲۱۶۹	۱۱۷۹	۱۸۸۷	۲۱۸۹
۳۰۸۸	۱۲۹۹	۷۰۹۹	۲۶۵۸

۶۸ مخ - لومړی لوست

قرصولو سره تفریق (د لسیزونو، سلیزونو او زرزیزونو څخه قرضول)

۱. ذهني روزنه :

- ټوونکی د ضرب او تقسیم د چارټ یوه عدد ته اشاره کوي لکه ۲۸

* زده کوونکي باید دې عدد د پاڼه د ضرب او تقسیم سوالونه جوړ کړي او په چارټ باندې عملیه وښیي. یعنې: ۲×۴=۲۸ ، ۴×۷=۲۸ ، ۲۸÷۴=۷ ، ۲۸÷۷=۴
* په همدې طریقه د نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول لکه ۱۴، ۳۵، ۳۶، ۸۱ او نور.

۲. تکرار :

- د ۶۷ مخ د وروستیو درې سوالونو (کورنی کار) بیا، بیا په تورې تختې حلول او پرې بحث کول چې څنګه حلیږي.
- د کورنی کار کتنه او مقایسه

۳. قرضولو سره تفریق (د لسیزونو، سلیزونو او زیزونو څخه اوښتل):

– د ۶۸ مخ په ① مشق باندې کار کول

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې موضوع مطالعه او بحث پرې وکړي.

* زده کوونکي هره جمله لوړي، تشریح کوي او فعالیتونه په مثال کې ښیي.

– ښوونکی لاندې د تفریق سوال په تخته لیکي:

یویز	لسیز	سلیز	زیز
۱۱	⑫		
⑳	⑦	⑦	
۶	۳	۸	۲
۸	۴	۳	۱
۳	۸	۴	۱

* زده کوونکي پیدا کوي او وایي چې مونږ ۸ یویزونه د ۱ یویز څخه نه شو تفریقولای نو د ۳ لسیزونو څخه ۱ لسیز په یویزونو بدلوو چې ۱۱ یویزونه حاصلیږي او ۸ یویزونه تري تفریق پیدا کیږي. د لسیز په خانه کې ۲ لسیزونه پاتې کیږي چې ۴ لسیزونه ورڅخه نه تفریقیږي نو ځکه د ۸ سلیزو څخه ۱ سلیز په لسیزونو بدلوو چې ۱۲ لسیزه حاصلیږي. اوس ۴ لسیزونه تفریقولای شو.

* ښوونکی لاندې د تفریق سوال په تخته لیکي:

یویز	لسیز	سلیز	زیز
⑫	⑫		
۴	⑤	⑦	①
۷	۶	۴	۱
۷	۸	۸	۰

* زده کوونکي پیدا کوي او وایي: ۷ یویزونه د ۴ یویزونو څخه، ۶ لسیزونه د ۵ لسیزونو څخه، ۴ سلیزونه د ۳ سلیزونو څخه نه تفریقیږي ځکه باید د لسیز څخه یویز بیا د سلیز څخه لسیز او وروسته د زیز څخه سلیز ته قرض واخلو.

– د ۶۸ مخ په ⑯ مشق باندې کار کول

* دوه لومړني سوالونه په توره تخته حلول

* نور ۴ سوالونه د ملګري سره حلول

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. د پښې خولې کار/ګوربنی کار:

د ۶۸ مخ د ⑦ مشق پاتې دوه سوالونه

۶۹

① مثال :



لاندني سوالونه د پورتني مثال په شان په خپلو کتابچوکې حل کړئ .

۴۵۶۳	۷۳۴۲	۸۶۲۱	۲۲۱۳
−۲۸۷۵	−۴۴۶۳	−۶۶۴۲	−۱۲۱۵
۱۹۸۹	۲۸۷۹	۱۹۹۹	۱۶۸۸

② مثال :



۱. د ۱ پوړ څخه ۲ پوړونه نه تفریقېږي او د لسیز د خانې څخه هم قرض نه شو اخیستلی نګه یې هلته صفر (۰) ډې. نو یو سلیز د سلیز د خانې څخه قرض اخلو او په لسیزونو یې ⑩ بدلوو .

۲. اوس یو لسیز د لسیز د خانې څخه قرض اخلو او په ۱۰ پوړونو یې بدلوو چې ⑩ پوړونه په لاس راځي .

۳. اوس ټول عددونه یو د بل څخه تفریقولی شو .

۶۹ مخ - لومړی لوست

د څو رقمونو څخه قرضولو سره د تفریق تمرین

۱. ذهني روزنه :

- په مختلفو قدمونو کې شمېر کول

۹۹۰ ، ۹۹۲ ، ۹۹۴ ، ..... ، ۱۰۱۰

۵۹۵ ، ۵۹۶ ، ۵۹۷ ، ..... ، ۶۱۰

۹۹۱ ، ۹۹۳ ، ۹۹۵ ، ..... ، ۱۰۱۱

۲۴۶۰ ، ۲۴۷۰ ، ۲۴۸۰ ، ..... ، ۲۵۶۰

۸۹۰۰ ، ۹۰۰۰ ، ۹۱۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰۰ اوداسې نور

۲. تکرار :

- د ۶۶ مخ په ② مشق باندې کار کول
- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د مختلفو رقمونو څخه قرضولو سره د تفریق تمرین :

- د ۶۹ مخ په ① مشق باندې کار کول
* زده کوونکي مثال مطالعه کوي ، بحث پرې کوي او تشریح کوي یې .

په لومړنۍ چوکاټ کې کورو چې ۸ یوېزونه د ۱ یوېزونه څخه نه تفریقېږي . په دوهم چوکاټ کې د ۳ لسیزونو څخه ۱ لسیز په یوېزونو اړول شوی او ۱۱ یوېزونه حاصل شوي دي . په لسیزونو کې ۲ پاتې دي . په دریم چوکاټ کې ویښو چې د ۲ لسیزونو څخه ۴ لسیزونه نه تفریقېږي نو ځکه د سلیزونو څخه ۱ سلیز په لسیزونو اړول شوی او په لسیز کې ۱۲ لسیزونه حاصل شوي دي چې په سلیز کې ۱ سلیز پاتې دی . په څلورم چوکاټ کې ویښو چې د ۱ سلیز څخه ۳ سلیزونه نه تفریقېږي ، ځکه یې ۱ زرېز په سلیزونو اړول شوی دی او ۱۱ سلیزونه یې حاصل کړي دي . په زرېزونو کې ۲ زرېزونه پاتې دي . د ټولو قرضولو څخه وروسته یې یوېزونه ، لسیزونه او سلیزونه تفریق کړي دي .

* لومړني ۲ سوالونه د تشریح سره په تخته حلول
* دوه نور سوالونه د ملګري سره حلول
* د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
- د ۶۹ مخ د ② مشق مطالعه او پرې بحث کول
* په لوړ آواز د ببلو ببلو جملو لوستل او هرځل یې د رسم شوي چوکاټ سره مقایسه کول
- لاندني سوالونه په تخته ببل ببل حلول :

۴۶۰۲	۸۵۰۴
− ۱۴۲۳	− ۷۴۲۶

۴. د پښې خولې کار / کورنی کار :

نه لري .

۶

① الف :

د لسیزد رقم څخه دایره تاو کړئ.		
۷۷۷	۶۳	۲۴۳
۵۵۴	۲۲۱	
	۷۸۸	
	۳۰	
۵۱		۹
	۶۰۰	
	۷	۹۳
۶۶۶	۴۵	۱۰
۶	۴	۹ ۱ ۵ ۳

ب :

د سلیز د رقم څخه دایره تاو کړئ.		
۴۳	۴۵۴	۶۶۶
۱۱۱		۲۱
	۲۲۸	
۳۰۰		۷۲۶
۷۲	۹۹۹	۸۲۸
۲	۹ ۷	۸

② د دواړو خواو لوبټره وښمېرئ . د هر ډبرې لاندې د مقدر صحیح عدد دایکټون او بیا دواړه عددونه سره جمع کړئ:



وګورئ: هرکله چې د ځواښونو یکسه ورکړې شوې وي نو زده کوونکي باید صحیح ځواب د ځوابونو په یکسه کې پیدا او په ټیټه کړي.

۶ مخ - لومړی لوست

د درې ارقامي عددونو ډډاره د مقامي قیمت په جدول مشق : یونیزونه ، لسیزونه ، سلیزونه

درسي معاونات : د ۱۰۰ او ۱۰ کانو لس لس کټورې او د نورو کانې

۱. ذهني روزنه :

- جمع او تفریق ، د لسیزونو انتقال

۹ + ۵ = ۵۶ + ۵ = ۱۵ - ۶ = ۱۱۲ - ۴ =

۲۸ + ۵ = ۴۷ + ۴ = ۲۳ - ۵ = ۱۳۳ - ۸ =

۳۹ + ۳ = ۹۹ + ۸ = ۳۶ - ۷ = ۱۰۵ - ۶ =

- په نوره څېړنه عددونه د اشارې په واسطه د ۲ سره ضرب (دوهم لوست وګورئ!)



۲. تکرار :

- د کورني کار کتل

* شوونکی د ۵ مخ د ۳ مشق (کورني کار) عددونه یو یو لولي ، ښه ښه زده کوونکي به یې د مقامي قیمت په جدول کې په نوره تخته لیکي . نور زده کوونکي خپل کورنی کار ورسره مقایسه او اصلاح کوي .

یونیز	لسیز	سلیز

۳. په عملي ډول د یونیزونو ، لسیزونو او سلیزونو سره کار کول:

- شوونکی په نوره تخته جدولونه رسم او تشریح کوي . زده کوونکي باید د مقامي قیمت په جدول کې د لیکل شوې عدد په اندازه کانې پر میز باندې کېږدي . او بیا د ښي خوا په یکسه کې د لیکل شوې عدد په تعداد کانې د هغو څخه لرې کړي .

سلیز.	۴	
لسیز.		
یونیز.		

(—)

سلیز.	لسیز.	یونیز.
۹	۸	۷

* شوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې د نورې تختې د عددونو حقیقي معنی ووایي. (۹ د ۹ سلیزونو معنی لري ، ۸ د ۸ لسیزونو معنی ورکوي او داسې نور .)

* زده کوونکي د ۹۸۷ په تعداد د کانو کټورې او کانې پر میز وړي .

- یو زده کوونکی ۴ د سلو سلو کانو کټورې د هغو څخه لرې کوي . هغوی د پاتې کانو شمېر پیدا کوي او وایي چې : ۵ د سلو سلو کانو کټورې ، ۸ د لسو لسو کانو کټورې او ۷ کانې پاتې دي .

* زده کوونکی به عددونه د مقامي قیمت د جدول په مربوطه ستونزونو کې د نورو عددونو لاندې لیکي.

۷۰

① لاندې سوالونه د پورتنۍ مثال په شان په خپلو کتابچوکې حل کړئ .

۴۶۰۲	۸۵۰۴	۷۴۰۸	۷۳۰۷
− ۱۴۴۳	− ۷۴۲۶	− ۶۳۶۹	− ۱۲۸
۳۱۷۹	۷۲۳۹	۴۳۲۸	۱۰۳۹

۹۷۰۶	۱۰۷۸
− ۵۳۷۸	

② کله چې ونه شوکولی د یو رقم څخه بل رقم تفریق کړو نو باید د وړیې رقم څخه چې صفر (۰) نه وي یو (۱) قرض واخلو .

مثال :

۳۰۰۱	۳۰۰۱	۳۰۰۱	۳۰۰۱
− ۱۳۴۸	− ۱۳۴۸	− ۱۳۴۸	− ۱۳۴۸
۱۶۵۳			

لاندې سوالونه د پورتنۍ مثال په شان په خپلو کتابچوکې حل کړئ .

۷۰۰۵	۸۰۰۶	۵۰۰۰	۳۰۰۰
− ۵۴۴۶	− ۴۲۳۹	− ۲۴۳۸	− ۱۲۲۴
۷۶۶	۳۵۶۲	۹۹۹	۱۵۷۹

۱۰۰۵	۳۷۶۷
− ۶	

③ لاندې د جمع سوالونه په ستوني شکل په خپلو کتابچوکې ولیکئ او بیا یې حل کړئ .

مثال : ۳۲۲۵ + ۴۶۸ + ۲۸۵۶ + ۳۰ = ۷۳۷۹

۳۲۲۵
۴۶۸
۲۸۵۶
+ ۳۰

۲۰۱۵ + ۹۹ + ۴۸۰۰ =
۷۶۰۰ + ۵ + ۸۵ + ۲۱۳۱ =
۶۳۴۱ + ۱۳۸۷ + ۱۰۰۲ =
۷۳۲۴ + ۱ + ۱۰۱ + ۱۰۰۱ =
۲۲۳۵ + ۶۳۷ + ۴۱۰۰ + ۲۰۰۶ =

۸۴۲۷	۶۹۱۴	۸۷۳۰	۶۵۷۹
۹۹۷۸	۹۸۲۱		

۷۰ مخ - لومړی لوست

د تفریق دپاره په تکراري ډول قرض اخیستل

۱. ذهني روزنه :

- د ۱، ۱۰، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ په قدمونو شمېر کول

۲۴۹۱ ، ۲۴۹۲ ، ..... ، ۲۵۱۰

۸۶۲۵ ، ۸۶۳۵ ، ..... ، ۸۷۲۵

۸۵۰۰ ، ۸۶۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰۰

۱۴۱۲ ، ۲۴۱۲ ، ..... ، ۹۴۱۲ اوداسې نور .

۲. تکرار :

- د ۷۰ مخ د ① مشق سوالونه د ملکري سره حلول (ښوونکی یې اصلاح کوي)

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۳. د تفریق دپاره په تکراري ډول قرض اخیستل :

- ښوونکی لاندې سوال په توره تخته لیکي .

ټوپیز	لسیز	سلیز	زریز
۵	۰	۰	۴
۹	۶	۱	۲

* زده کوونکي بحث، پیدا او تشریح کوي چې سوال څنګه حل کړو ؟ د ۵ ټوپیزونو څخه ۹ ټوپیزونه نه شو تفریقولای نو باید د لسیز څخه قرض واخلو خو په لسیزکې لسیزونه نشته نو باید د سلیز څخه قرض واخلو خو هلته هم سلیزونه نشته نو باید لومړی د زریز څخه سلیز ته قرض واخلو (۱ زریز په ۱۰ سلیزونو واړو) . بیا باید د همدې ۱۰ سلیزو څخه ۱ سلیز په ۱۰ لسیزونو واړوو . وروسته له دې کولای شو د ۱۰ لسیزونو څخه ۱ لسیز په ۱۰ ټوپیزونو اړوو چې په دې ترتیب سره په هره خانه کې په پوره تعداد سره ټوپیزونه، لسیزونه او سلیزونه د تفریق دپاره موجود وي .

* له تشریح څخه وروسته زده کوونکي سوال حلوي چې تخته داسې ښکاري :

ټوپیز	لسیز	سلیز	زریز
۱۵	۹	۹	۱۰
۵	۵	۵	۳
۹	۶	۱	۲
۶	۳	۸	۱

- په همدې طریقه لاندې سوال حلول

۹۰۰۰
− ۴۶۲۸

- د ۷۰ مخ د ② مشق مثال مطالعه او د ملکري سره بحث پرې کول (ښوونکی مرسته کوي)

* د ۷۰ مخ د ② مشق د لومړنیو ۳ سوالونو حلول (ملکري یې اصلاح کوي)

۴. په توګې کې دېپتې خوږې کار کورنی کار :

۷۰ مخ ② مشق وروستي دوه سوالونه

۷۰ مخ ـ دوهم لوست
د ستوني جمع تمرين

۱. ذهني روزنه :

ـ د يو کيلو د لاس ته راوړلو (پوره کېدو) دپاره د پاتې ګرامونو موندل

* بنوونکی په نوره تخته ليکي :

۱۰۰۰ ګرامه = ۱ کيلوګرام

او مختلف تعداد ګرامونه ورکوي لکه ۹۰۰ ګرامه ، ۵۰۰ ګرامه ، ۱۰۰ ګرامه ، ۹۴۰ ګرامه ، ۱۲ ګرامه ، ۹۹۹ ګرامه او داسې نور .

* زده کوونکي هر ځل د پاتې ګرامونو تعداد پيدا او وايي چې يو کيلوګرام پوره شي. يعني ۱۰۰ ګرامه ، ۵۰۰ ګرامه ، ۹۰۰ ګرامه ، ۶۰ ګرامه ، ۹۸۸ ګرامه ، ۱ ګرام او داسې نور .

۲. تکرار :

ـ د ۵۷ مخ په ③ مشق بحث او کار کول

ـ د کورنۍ کار کتنه او مقايسه کول

۳. د ستوني جمع تمرين :

ـ بنوونکی د جمع ځينې سوالونه په افقي ډول په توره تخته ليکي او د هغو دپاره ستونزه رسموي لکه ۲۴۱۵ + ۱۲ + ۱۳۲ + ۱۰۱۲ =

	يو ويز	لسيز	سلیز	زرزيز
+				

* يو زده کوونکی يې په ستونزو کې په صحيح ترڅه ليکي او حلوي يې. يعنې :

	يو ويز	لسيز ①	سلیز	زرزيز
	۵	۱	۴	۳
	۶	۱		
	۲	۳	۱	
+	۲	۱	۰	۱
	۵	۷	۵	۴

ـ په همدې طريقه د نورو سوالونو سره په توره تخته کار کول

ـ د ۷۰ مخ ③ مشق د ملګري سره حلول

* د ۷۰ مخ د ③ مشق لومړني ۳ سوالونه په خپلو کتابچو کې ځانله ځانله حلول (ملګري يې اصلاح کوي .)

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار :

۷۰ مخ ③ مشق وروستي دوه سوالونه

۷۱

① کولی شو جمع د تفريق او تفريق د جمع په واسطه ميزان کړو. چې د لاندې نمبر سوالونو په حلولو سره به تاسو ته معلومه شي .

لومړی مثال :

۶۳۱۳ − ۲۷۶۵ = ۳۵۴۸ + ۲۷۶۵ = ۶۳۱۳ − ۲۷۶۵ = ۰

دوهم مثال :

۱۴۳۵۰ − ۱۳۳۵ = ۱۲۰۱۵ ، ۱۲۰۱۵ − ۲۳۵۰ = ۹۶۵۰ ، ۹۶۵۰ + ۱۴۳۵ = ۱۱۰۸۵ ، ۱۱۰۸۵ − ۳۷۸۵ = ۷۳۰۰ ، ۷۳۰۰ + ۲۳۵۰ = ۹۶۵۰

② لاندې د جمع سوالونه حل ، د تفريق په واسطه يې ميزان او عددونه يې سره مقايسه کړئ .

۵۲۱۰ − ۳۱۱۰ = ۲۱۰۰ ، ۲۱۰۰ + ۳۱۱۰ = ۵۲۱۰

۳۲۱۵ + ۲۱۰۴ = ۵۳۱۹ ، ۵۳۱۹ − ۲۱۰۴ = ۳۲۱۵

۳۲۱۲ + ۷۲۳۱ = ۱۰۴۳۱ ، ۱۰۴۳۱ − ۷۲۳۱ = ۳۲۱۲

۱۲۰۳ + ۵۱۱۱ = ۱۷۱۴ ، ۱۷۱۴ − ۵۱۱۱ = ۱۲۰۳

③ لاندې د تفريق سوالونه حل ، د جمع په واسطه يې ميزان او عددونه يې سره مقايسه کړئ .

۶۹۷۳ − ۲۱۴۳ = ۴۸۳۰ ، ۴۸۳۰ + ۲۱۴۳ = ۶۹۷۳

۷۹۴۳ − ۱۸۶۲ = ۶۰۸۱ ، ۶۰۸۱ + ۱۸۶۲ = ۷۹۴۳

۴۳۱۲ − ۱۲۰۳ = ۳۱۰۹ ، ۳۱۰۹ + ۱۲۰۳ = ۴۳۱۲

۵۶۳۷ − ۳۴۱۸ = ۲۲۱۹ ، ۲۲۱۹ + ۳۴۱۸ = ۵۶۳۷

۶۱۲۴ − ۴۲۱۳ = ۱۹۱۱ ، ۱۹۱۱ + ۴۲۱۳ = ۶۱۲۴

۷۹۳۶ − ۲۸۷۸ = ۵۰۵۸ ، ۵۰۵۸ + ۲۸۷۸ = ۷۹۳۶

۷۱ مخ ـ لومړي لوست
د تفريق په واسطه د جمع د ځوابونو ميزان

درسي معاونات : د ۱۰۰ او ۱۰ کانو کټوړې او نور کاني

۱. ذهني روزنه :

ـ د عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

ـ د ۳۳ مخ د ② مشق مطالعه ، پرې بحث کول او ځوابونه سره مقايسه کول

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه .

۳. د تفریق په واسطه د جمع د ځوابونو میزان :

- ښوونکی د کانو دوه ډبرې پر مېز ږدي لکه: په لومړۍ ډبرې کې : د ۱۰ کانو ۴ کڅوړې ، د ۱ کانو یوه کڅوړه او ۶ نور کانې
په دوهم ډبرې کې: د ۱۰ کانو ۳ کڅوړې ، د ۱ کانو ۵ کڅوړې او ۲ نور کانې

* زده کوونکي په هر ډبرې کې د کانو صحیح شمېر پیدا او په تخته یې د ستونې جمع په شان لیکي .
(لاندې ګورئ !)

* یو زده کوونکی د کانو دوارو ډبرې سره یوځای کوي او د ټولو کانو په شمېر لو سره د جمع سوال په تخته حلوي .

- ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي هغه کانې چې په دوهم ډبرې کې وو د ټولو کانو څخه لرې (بېل) کړي .

* زده کوونکي عددي قصه وایي - د تفریق مربوط سوال په تخته تخته لیکي او د پاتې کانو په شمېر لو سره یې حلوي .
په پای کې تخته داسې ښکاري :

۴۱۶	۷۶۸
+ ۳۵۲	− ۳۵۲
۷۶۸	۴۱۶

* زده کوونکي د یوشان عددونو موقعیتونه په دوارو سوالونو کې سره مقایسه او پیدا کوي چې :
کوالی شو د جمع د حاصل څخه د سوال د لومړۍ یا دوهم عدد په تفریق لو سره د جمع د سوال ځواب میزان کړو.

- ښوونکی لاندې د کانو ډبرې په تخته رسموي او د جمع او تفریق مربوط سوالونه لکه څنګه چې ښودل شوي دي لیکي .

* زده کوونکي لومړی د جمع سوال حلوي او بیا مربوط د تفریق سوال د کڅوړو د چلیپا کولو په واسطه حلوي .
تخته داسې ښکاري :

۲۳۵۰ + ۱۴۳۰ = ۳۷۸۰



۳۷۸۰ − ۱۴۳۰ = ۲۳۵۰

* زده کوونکي په دوارو سوالونو کې د کانو او عددونو ځایونه مقایسه کوي او پیدا کوي : په دوارو سوالونو کې عین (یوشان) عددونه دي خو ځایونه یې بدل شوي دي . دا په دې معنا ده چې کوالی شو د جمع سوال د تفریق او د تفریق سوال د جمع په واسطه میزان (امتحان) کړو او معلوم شول چې دوارو سوالونه صحیح حل شوي دي.

- د ۷۱ مخ په ① مشق باندې کار کول

* په لوړ آواز د جملو لوستل ، د مثالونو حلول ، په صحیح توګه د ټولو خالي خانو ډکول
(ملګري اصلاح کوي)

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل

* زده کوونکي په مربوطه سوالونو کې د عددونو ځایونه مقایسه کوي ، پرې بحث کوي او پیدا کوي چې : د جمع د سوال ځواب مو په تفریق سره میزان کړو او وپوهېږو چې صحیح دی .

- د ۷۱ مخ د ۲ مشق د لومړنیو دوو سوالونو په تورو تخته حلول

۴. د پښې خولې کار / کورنی کار :

۷۱ مخ ⑦ مشق پاتې دوه سوالونه

۷۱ مخ - دوهم لوست
د جمع په واسطه د تفریق د ځوابونو میزان

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی په توره تخته لیکي :

۱ هفته = ۷ ورځې

او د هغو مختلف تعداد وایي لکه ۲ هفتې ۶ هفتې ، ۴ هفتې، ۷هفتې او داسې نور.

* زده کوونکي هرځل د هفه د معادلو ورځو تعداد پیدا کوي او وایي یعني ۱۴ ورځې ، ۴۲ ورځې ،۲۸ ورځې ۴۹ ورځې او داسې نور.

۲. تکرار :

- د ۷۱ مخ د ④ مشق وروستي دوه سوالونه په توره تخته حلول
- د کورني کار کنټل او مقایسه کول

۳. د جمع په واسطه د تفریق د ځوابونو میزان:

- د ۷۱ مخ په ③ مشق کار کول
* په هره جوړه کې لومړی د تفریق سوال حلول بیا د هغه مربوط د جمع سوال د ملګري په مرسته تکمیلول او حلول
* په مربوطه سوالونو کې (په هره جوړه کې) عددونه او د هغوځوابونه کنټل او مقایسه کول
* کله چې زده کوونکي سوالونه حلوي بنوونکی به مرسته او اصلاح کوي
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
* زده کوونکي بحث کوي او وایي چې : کولای شو د تفریق د سوال ځواب د مربوط د جمع د سوال د ځواب په واسطه میزان کړو.

- بنوونکی د منفي ځینې سوالونه د صحیح یا غلط ځواب سره په توره تخته لیکي لکه :

۶۲۱۴	۹۳۶۴
− ۲۱۰۲	− ۶۱۲۳
۷۱۳۱	۳۲۴۱

* زده کوونکي هرځل د منفي د سوالونو ځواب د مربوط د جمع د سوال په واسطه په توره تخته میزان کوي . یعنې :

۶۲۱۴	۷۱۳۱	۶۲۱۴	۴۱۱۲
− ۲۱۰۲	+ ۲۱۰۲	− ۲۱۰۲	+ ۲۱۰۲
۷۱۳۱	۹۲۳۳	۴۱۱۲	۶۲۱۴

ځواب غلط دی . ځواب صحیح دی .

۹۳۶۴	۳۲۴۱
− ۶۱۲۳	+ ۶۱۲۳
۳۲۴۱	۹۳۶۴

ځواب صحیح دی .

* زده کوونکي د منفي د اصلي سوال غلطه برخه د جمع په واسطه کوري او صحیح کوي .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

بنوونکی لاندې سوالونه په توره تخته لیکي او زده کوونکي یې په خپلو کتابچوکې میزان کوي .

۴۳۲۱	۹۴۵۳	۸۴۰۶
− ۲۱۰۱	− ۷۵۱۲	− ۳۵۰۱
۲۲۲۰	۱۹۴۱	۵۱۲۳

زده کوونکي د برعکس (مخالف) عملیې په واسطه ځوابونه میزانوي . که چېرې ځوابونه غلط وي زده کوونکي ټوله عملیه د مخالف (برعکس) عملیې په واسطه میزانوي او اصلاح کوي .

۷۲

عبارتي سوالونه

۱. حميدالله د قرآن کريم د ۶۶۶۶ آيتونو څخه ۳۷۲۸ آيتونه تلاوت کړي دي خو آيتونه پاتې دي چې ختم شي ؟

۲. د هجري شمسي ۱۳۷۰ کال د عيسوي د ۱۹۹۱ کال سره برابر دی . د دوارو ترمنځ فرق پيدا کړئ .

۳. په يوه باغ کې ۲۸۷ د مڼو ، ۱۰۹ د ناکو ، ۱۲۳ د زردالو او ۳۴ د انارو ونې دي . د ټولو شمير پيدا کړئ .

۴. د يوې ونې څخه ۲۸۰۶ دانې ، د بلې ونې څخه ۳۵۰۰ دانې او د دريمې ونې څخه ۱۷۲۳ دانې چارمغز لاس ته راغلي دي . د چارمغزو شمير معلوم کړئ .

۵. شهرمالم په يوه دوکان کې د ۷۲۹ روپيو سودا واخسته او د ۱۰۰۰ روپيو لوټ يې دوکاندار ته ورکړ . ولې لاست چې دوکاندار به خو روپۍ بېرته هغه ته ورکړي ؟

۶. په يوه شورنځي کې سږ کال ۱۲۰۵ زده‌کوونکي درس وايي چې د پرون‌سږ کال څخه ۲۲۶ تنه زيات شوي . د زده‌کوونکو پرون‌سږنۍ تعداد معلوم کړئ .

۷. د يوه بايسکل قيمت ۲۳۴۶ ، د يوې راډيو قيمت ۱۸۰۰ او د يوه ساعت قيمت ۱۳۰۰ روپيې دی . د ټولو شيانو قيمت معلوم کړئ .

۸. د چوکۍ سره د يوه ميز قيمت ۲۷۶۰ روپيې دی . که د ميز قيمت ۱۷۰۸ وي د چوکۍ قيمت معلوم کړئ .

۹. د يوه پالپوس قيمت ۲۴۵ او د يوې خولۍ قيمت ۹۶ روپيې دی . د دوارو قيمت خو کېږي ؟

۱۰. يوه د ميز ونه چې درې خانګې لري . په لومړۍ خانګه کې يې ۸۵ ، په دوهمه کې يې ۱۶۲ او په دريمه کې يې ۳۸۳ ميخونه دي . د ټولو ميخو شمير به خو وي ؟

۵۳۱			
۲۷۱	۲۹۳۸	۳۴۱	۱۰۵۲
۵۵۳	۹۷۹	۶۲۱	۷۰۲۹

۷۲ مخ - لومړی لوست

د عبارتي سوالونو حلول (حسابي عملياتو سره عملي سوالونه)

۱. ذهني روزنه

- ښوونکی په تخته ليکي :

۳۶۵ ورځې = ۱ کال

او د ورځو مختلف تعداد وايي لکه ۳۶۰ ورځې ، ۳۰۰ ورځې ، ۱۰۰ ورځې ، ۲۰۰ ورځې ، ۱ ورځ ، ۳۶۴ ورځې او داسې نور .

* زده‌کوونکي هر ځل د کال د ورځو د پوره کېدو د پاره د پاتې ورځو تعداد پيدا کوي او وايي يعنې ۵ ورځې ، ۶۵ ورځې ، ۲۶۵ ورځې ، ۱۶۵ ورځې ، ۳۶۴ ورځې ، ۱ ورځ او داسې نور .

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه
- ښوونکی دجمع يا د تفريق يو څو سوالونه ښل ښل په نوره تخته ليکي لکه :

۲۳۱۴	۷۹۱۳	۳۴۵۶	
۱۲۹۸ +	۷۴۰۰ −	۱۲۳۷ +	او داسې نور .
۳۶۱۲	۱۵۱۴	۸۵۹۳	

* زده‌کوونکي د جمع سوال په تفريق او د تفريق سوال د جمع په واسطه ميزان کوي .

۳. د عبارتي سوالونو حلول (حسابي عملياتو سره عملي سوالونه) :

- ښوونکی د ۷۲ مخ لومړی سوال په نوره تخته په صفا ډول ليکي .
(لاندې ګډوډۍ !)

* دوه يا درې زده‌کوونکي د نورې تختې څخه سوال ښل ښل لولي .

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې :

۱. هغه عددونه پيدا او تر لاندې يې خط وکاږئ چې په سوال کې استعمال شوي دي لکه ۶۶۶۶ او ۳۷۲۸

۲. مربوط سوال پيدا او تر لاندې يې خط وکاږئ .

۳. هغه عمليه پيدا کړئ چې د سوال د حلولو د پاره ضرورت دی لکه منفي (−)

۴. صحيح مساوات جوړ او هغه حل کړي .

۵ سوال ته صحيح ځواب ورکړئ .

* په پای کې به تخته داسې بنکاري :

حميدالله د قرآن کريم د ۶۶۶۶ آيتونو څخه ۳۷۲۸ آيتونه تلاوت کړي ، څو آيتونه پاتې دي چې قرآن کريم ختم شي ؟

۶۶۶۶ آيتونه منفي ۳۷۲۸ آيتونه څو آيتونه کېږي ؟

۶۶۶۶
− ۳۷۲۸

۲۹۳۸ آيتونه پاتې دي .

ځواب : حميدالله بايد ۲۹۳۸ نور آيتونه ولولي ترڅو قرآن کريم ختم شي .

- په همدې طریقه د ۲ او ۳ سوال حلولو ته دوام ورکړئ. یعنې د مکمل پوښتنې سره د حسابي سوال تشکیلول، د عملي اجراکول او مکمل ځواب (مکمله جمله) پیدا کول
- ځلورم سوال د ملګرې سره حلول
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز وایي او مقایسه کوي.

۴. تولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

۷۲ مخ - پنځم سوال

۷۲ مخ - دوهم لوست

عبارتي زیات سوالونه (عملي سوالونه) د حسابي عملیاتو په مرسته حلول

۱. ذهني روزنه:

- د ضرب او تقسیم د لوی چارتې استعمالول
* د ۶۸ مخ د لومړۍ لوست د ذهني روزنې په شان کارکول یعنې یوه ځواب ته اشاره کول او د هغه ځواب د پاره د ضرب او تقسیم د عملیو مساواتونه تشکیلول

۲. تکرار:

- د کورني کار کتنه او مقایسه کول

۳. عبارتي زیات سوالونه (عملي سوالونه) د حسابي عملیاتو په مرسته حلول:

- بنوونکی د ۷۲ مخ ۶ سوال په تورې تخته په صفا دول لیکي.
(لاندې وګورئ!)
* دوه یا درې زده کوونکي د تورې تختې څخه سوال ببل ببل لولي.
* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې:
۱. هغه عددونه پیدا او تر لاندې یې خط وکاږي چې په سوال کې استعمال شوي دي لکه ۱۳۰۵ او ۲۲۶
۲. مربوط سوال پیدا او تر لاندې یې خط وکاږي.
۳. هغه عملیه پیدا کړي چې د سوال د حلولو د پاره ضرورت دی لکه منفي (-)
۴. صحیح مساوات تشکیل او هغه حل کړي.
۵. سوال ته صحیح ځواب ورکړي.

* په پای کې به تخته داسې ښکاري:

په یوه ښوونځي کې سږ کال ۱۳۰۵ زده کوونکي درس وایي چې د تېر کال څخه ۲۲۶ تنه زیات شوي دي. د زده کوونکو پروسږنۍ تعداد معلوم کړئ.

۱۱ ۹
۱۵ ۳۵ ۱
۱۳۰۵
— ۲۲۶
۹۷۹

تېر کال د زده کوونکو تعداد ۹۷۹ تنه و.

- په همدې طریقه د ۷ او ۸ سوال حلولو ته دوام ورکړئ
- ۹ او ۱۰ سوال د ملګرې سره حلول
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز وایي او مقایسه کوي.

۴. تولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

زده کوونکي دجمع یا تفریق یو عبارتي سوال جوړ کړي او هغه حل کړي.

د اووم فصل پېژندنه

موضوعات : جسمونه او سطحې (هندسه)

د درسي کتاب مخونه : ۷۳-۷۷

د پېشنهاد شوي د درسونو شمېر : ۱۰

درسي معاونات : مختلف هندسي جسمونه خټه ، مختلف ډبي ، خط کش ، تار ، قیچي مېخونه ، لبنټي ، کاغذونه

د موضوعاتو تفصیل او تبصرې :

زده کوونکي تقریبًا هر وخت او هرځای د خپل ورځني ژوند په چاپېریال کې له مختلفو جسمونو او سطحو سره مخامخ کېږي . د دې لپاره چې خپل چاپېریال ښه وپېژني په دې فصل کې ځینې ساده هندسي جسمونه او سطحې معرفي شوي دي .

- جسمونه : مکعب ، مکعب نما ، کره ، استوانه او مخروط
- سطحې : مربع ، مستطیل ، مثلث او دایره

د لته هندسي شکلونه او سطحې د واقعي شیانو رسمونو او لوبو په مرسته معرفي شوي دي ، لکه :

- د کور او چاپېریال څخه د مشابه شکله شیانو نوم اخیستل
- مختلف هندسي شکلونه او سطحې جوړول (لکه د خټو او کاغذ څخه)
- د مختلفو هندسي شکلونو او سطحو د نومونې زده کول (د خیالي شکلونو او معمول عملي شیانو نومونه)
- د دقیقو مثالي هندسي شکلونو او سطحو پېژندل
- زده کوونکي د سطحو د اندازو کولو فکر پیدا کړي .
- د مربع کانو څخه د مختلفو سطحو جوړول ، د ضرب د مساوات معرفي کول یعنې توضیح کول چې ضرب تکراري جمع ده .

د دې عنوانونو د تدریس څخه وروسته به زده کوونکي د مختلفو هندسي جسمونو او سطحو د پېژندلو د پاره وهڅول شي او کولای شي په ورځني ژوند او په رسمونو کې مختلف هندسي شکلونه وپېژني .

۷۳

اووم فصل

جسمونه او سطحي

لاندې رسمونه د هغو د ورته شکلونو سره چې په چوکاټونو کې ټینول شوي دي وصل کړئ .



۷۳ مخ - لومړۍ لوست

د څینو هندسي جسمونو سره اشنا کېدل

درسي معاونات :

خټه ، اوبه ، مختلفې فلزي قطۍ ، استوانه يې شکله قطۍ ، مکعب شکله قطۍ ، د مخروط په شان د کاغذ ټاوول ، د اورلګيت تش ډبلی

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی يو عدد څرګندوي او وايي چې سره جمع شي .

کله ۴ + ۴ + ۴ ، ۸ + ۸ + ۸ + ۸

۳ + ۳ + ۳ + ۳ ، ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰ + ۱۰

۲۰ + ۲۰ + ۲۰ + ۲۰ ، ۵۰ + ۵۰

۱۰۰ + ۱۰۰ + ۱۰۰ + ۱۰۰ ، ۵۰۰ + ۵۰۰ + ۵۰۰ + ۵۰۰

۱۰۰۰ + ۱۰۰۰ او داسې نور .

* زده کوونکي هر ځلې عدد د تعداد مطابق خپل ځان سره جمع کوي او ځواب وايي .

۲. تکرار :

- څو زده کوونکي خپل عبارتي سوالونه (کورنی کار) چې جوړ کړي يې دي په لوړ آواز بېل بېل د ټولګي منځکي وايي .
- د کورنۍ کار کتته او اصلاح کوي .

۳. د څينو هندسي جسمونو سره آشنا کېدل :

- بنوونکی زده کوونکي لېږي چې خټه راوتوله (پيدا) کړي او د هغې سره کار وکړي .
* بنوونکی زده کوونکي رهنمايي کوي چې د خټو څخه د مختلفو اشکالو د جوړولو د پاره په مختلفو تيارو شويو قطيو (شيانو) کې استوانه يې شکله قطۍ ، مکعب شکله قطۍ ، د اورلګيت ډبلی ، مخروطي شکله کاغذ او داسې نورو کې خټې واچوي .
* بنوونکی د زده کوونکو څخه غواړي چې د خټو څخه لوبې او وارې کړوي شکله توپونه او مخروطي شکله جسمونه په لاس سره جوړ کړي .
- بنوونکی مختلفو شکلونو ته اشاره کوي لکه استوانه او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د هغو شيانو نومونه واخلي چې سره ورته شکل لري لکه پنسل ، لرګی ، د وينې تنه ، د اوبو پايپ (نل) ، بوتل او داسې نور .
- په ۷۳ مخ باندې کار کول .
* په لوړ آواز د جملو لوستل او لکه څنګه چې په دوو مثالونو کې ښوول شوي دي د رسمونو نښلول (بنوونکی مرسته او اصلاح کوي)

۴. د پټې خولې کار / کورنی کار :

د خټو څخه د بېلابېلو شکلونو جوړول يا د مشابه څيزونو لکه نارنج ، توپ ، کتابونه ، قطۍ او داسې نور او د ځان سره يې ټولګي ته راوړل .

۷۴

① لاندې شیان د مغرد هندسي شکلونو سره مقایسه کړئ او د هندسي شکلونو نومونه وژه کړئ .



نوټ : په هندسي شکلونو کې هغه خواوې چې نه لیدل کیږي د نظر په خواوینو سره ښودل کیږي .

② لاندې هندسي شکلونه د مغرد نومونو او د بنې خوا د ریسم شویو ورځې شیانو سره وصل کړئ .



③ د مختلفو هندسي شکلونو تعداد پیدا او خالي خانې ډکې کړئ .

۷۴ مخ ـ لومړی لوست

د مختلفو جسمونو د هندسي شکلونو معرفي کول

د درسي معلوماتو لپاره : مکعب شکله ، استوانه یې شکله ، مکعب نما شکله ، مخروطي شکله جسمونه ، قطي ، توپ ، مخروطي شکله تلوشوي کاغذونه

۱. ذهني روزنه :

– ښوونکی یو عدد لکه (۱۰۰۰) په تخته لیکي او د تفریق دپاره مختلف عددونه ببل ببل وایي لکه ۱۰

* ژده کوونکي هرځل ویل شوی عدد یعنې ۱۰ د لیکل شوي عدد (۱۰۰۰) څخه پنځه ځلې تفریقوي .

۱۰۰۰ – ۱۰ – ۱۰ – ۱۰ – ۱۰ – ۱۰ = ۹۵۰

* د تفریق دپاره نور پیشنهاد شوي عددونه ۲۰ ، ۴۰ ، ۵۰ ، ۱۰۰ ، ۲۰۰

۲. تکرار :

– د ۴۰ مخ د ① او ② مشق د اصلاح کولو دپاره ملکري سره د کار د کتابونو بدلول

۳. د مختلفو جسمونو د هندسي شکلونو معرفي کول

– ښوونکی یو هندسي جسم (لکه مکعب شکله قطي) ټولګي ته ښیي او د ژده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د هغه مشابه شیان چې د کور څخه یې راوړي دي وښیي .

* ښوونکی وایي : ددې شکل نوم "مکعب" دی او د مکعب شکل په نوره تخته رسموي او خواګانې یې نوم لیکي (رسم باید واضح او صحیح وي) .

* ژده کوونکي جسم د شکل سره مقایسه کوي او وایي چې په دې وخت کې د جسم ټول اړخونه نه شولیدلای ځکه دا اړخونه په دې کې د نظر د خلونو په واسطه ښودل شوي دي لکه د مکعب شکله قطي . (ښوونکی مرسته کوي)

(د ۷۴ مخ ① مشق ته وګورئ !)

* په همدې طریقه د نورو هندسي شیانو لکه استوانې، کرې، مکعب او مکعب نما سره کار کول، ټول شکلونه په نوره تخته رسمول

– ژده کوونکي د تختې ټول شکلونه په خپلو کتابچو کې رسموي (ښوونکی اصلاح کوي) . د ژده کوونکو هغه ټول چې د متوري تختې شکلونه رسم کړي او په ټوټکي کې لاس ته راتلونکو واقعي (طبیعي) شیانو سره یې مقایسه کړي .

– د ۷۴ مخ په ① مشق باندې کار کول

* د موضوع مطالعه کول . په لوړ آواز د جملو لوستل . د رسم شوي شکلونو سره د هندسي جسمونو مقایسه کول

۴. د پیټې خولې کار / کورنی کار :

د ۷۴ مخ د ① مشق د هندسي اشکالو د نومونو زده کول او د رسمونو او هندسي شکلونو رنګه کول

نوټ :

دبل درس دپاره ټولګي ته د راوړلو شیانو ساتل

۷۴ مخ - دوهم لوست

هندسي جسمونه ، د هغوی د نومونو او مشابه شیانو سره ښښلول (د هندسي شکلونو مشق)

درسي کومکي مواد :
مختلف هندسي شکله شیان، په پنځو کاغذونو باندې د مکعب ، استوانې ، مکعب نما ، کرې او مخروط بېل بېل رسمونه

۱. ذهني روزنه :

- د ۶۸ مخ د لومړۍ لوست په شان د ضرب او تقسیم د لوی چارت استعمالول

۲. تکرار :

- ښوونکی لاندې سوالونه په توره تخته لیکي (په دوو سوونوکې)

توره تخته	
۸ × ۷ = ۵۶	۴۰ ÷ ۸ = □
۶ × □ = ۴۲	۴۲ ÷ □ = ۶
□ × ۸ = ۴۰	۲۸ ÷ □ = ۴
۴ × □ = ۲۸	۵۶ ÷ ۷ = ۸
۳ × □ = ۲۴	۲۴ ÷ □ = ۳

* زده کوونکي خالي خانې ډکوي او د ضرب اود تقسیم مربوط د سوالونو جوړې سره ښښلوي.

۳. هندسي جسمونه د هغوی د نومونو او مشابه شیانو سره ښښلول (د هندسي شکلونو مشق) :

- ښوونکی لاس ته راتلونکي مختلف هندسي جسمونه لکه پنسل، کتاب، تباشیر، نارنج، توپ، اورګلیت، مخروطي شکله کاغذ په څپکه ږدي . په همدې وخت کې د استوانې مکعب، مخروط، مکعب نما او کرې رسمونه پنځو مختلفو ټیلونو کې په څپکه بېل، بېل ږدي .

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې حقیقي شیان پیدا او مربوطه رسمونو سره یې کېږدي .

* ښوونکی هغه کاغذونه چې د هندسي شکلونو نومونه پرې لیکل شوي دي زده کوونکو ته بېل بېل ورکوي لکه :

مکعب	استوانه	مکعب نما	مخروط	کره

* زده کوونکي هرځلې د هر نوم د پاره مربوط شی او رسم شوی هندسي شکل پیدا کوي .

- د ۷۴ مخ د ۳۷ مشق مطالعه کول

* په لوړ آواز د جملې لوستل او د هغه مطابق کار کول
(ښوونکی اصلاح کوي .)

- ښوونکی مختلف هندسي شکلونه ښیي لکه استوانه او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د محیط څخه د نورو شیانو نومونه واخلي چې عین شکل ولري (خواندازه ، رګلونه او داسې نور یې مختلف وي) .
- ښوونکی ټول شیان یو په بل پسې په یو کتار کې ږدي او په توره تخته یې لیکي .

	استوانې
	مکعبونه
	مخروطونه او داسې نور

او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې هم شکله شیان وشمېري لکه استوانې .

* زده کوونکي شمېر کوي او په توره تخته خالي خانې ډکوي .

۴. د پټې خولې کار / کورنی کار :

- د ۷۴ مخ په ۳۷ مشق باندې کار کول
- د ۷۴ مخ د ۳۷ مشق د رسمونو رنګول

* بښوونکی د بکسې څخه ۴ پاکوي او ۲ لسیزه او (۱) یویز په مربوطه ځای کې لیکي .
* زده کوونکي معلوموي او وایي چې اوس باید په دې تعداد کاپي لرې شي او ځواب (۵۶۶) به په جدول کې د ۵۸۷ لاندې لیکل کېږي .
* بښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې هرځلې په همدې ترتیب د لیکل شوي عدد مطابق کاپي لري او ځوابونه بې د مقامي قیمت په جدول کې لیکي ترڅو چې (...) ته ورسېږي [په نورو درې قدمونو کې به لرې کوي، اول ۲ سلیزه ، ۳ لسیزه ، ۲ یویزه . بیا ۱ سلیز، ۳ لسیزه او بیا ۲ سلیزه ، ۴ یویزه .]
- بښوونکی د مقامي قیمت د جدول مختلفو رقمونو ته په غیر منظم ډول اشاره کوي . زده کوونکي په دې ځای کې د عدد معنی (قیمت) وایي . د مثال په ډول ۹ د سلیز په خانه کې د ۹۰۰ معنی ورکوي ، ۶ د لسیز په خانه کې د ۶۰ معنی لري

سلیز	لسیز	یویز
۹	۸	۷
۵	۸	۷
۵	۶	۶
۳	۳	۴
۲	۰	۴
۰	۰	۰

* د ۶ مخ په ① الف مشق باندې کار کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۶ مخ ① ب مشق

---

۶ مخ - دوهم لوست
تر ۱۰۰۰ پورې په ستونونو کې د دوو عددونو جمع پرته د حاصل څخه

۱. ذهني روزنه :

- د ۱۰ یا د ۱۰۰ په قدمونو کې شمېر کول

* بښوونکی هرځلې دوه لومړني او یو وروستنی عدد په نوره تخته لیکي .

۹۵ ، ۱۰۵ ، ۲۰۵
۲۱۲ ، ۲۲۲ ، ۳۱۲
۱۳ ، ۱۰۹ ، ۹۱۳

- جمع او تفریق ، د سلو څخه اوښتل

۹۸ + ۱۰ =	۹۶ + ۱۰۰ =	۱۰۵ - ۱۰ =	۲۲۰ - ۱۰۰ =
۱۹۷ + ۵ =	۲۷۲ + ۱۰۰ =	۲۱۰ - ۲۰ =	۱۱۸ - ۱۰۰ =
۱۹۰ + ۳۰ =	۱۹۹ + ۲۰۰ =	۳۲۰ - ۴۰ =	۴۵۰ - ۲۰۰ =

۲. تکرار :

- په درې رقمي عددونو کې د یویزونو ، لسیزونو او لسیزونو تعداد بښودل

* بښوونکی یو درې رقمي عدد وایي لکه ۲۵۴، یو زده کوونکی به یې په نوره تخته لیکي ، بل زده کوونکي به د هغه عدد د یویزونو ، لسیزونو او سلیزونو تعداد وایي .
* په همدې ډول په نورو عددونو د پورتني عمل جاري ساتل لکه ۳۸۰ ، ۷۳۱ ، ۹۰۷ او داسې نور .

۳. په سلونونو کې جمع د حاصل څخه پرته :

- د پیسو د دوو مقدارونو جمع : بښوونکی به دوه مقداره د پیسو (لوبتونه) په تخته رسموي .



* زده کوونکي لومړی د دوارو خواوو لوبتونه شمېري .
* بیا بښوونکی هغوی رهنمایي کوي چې عددونه د مقامي قیمت په جوړ شوي جدول کې ولیکي او د یویزونو لسیزونو او سلیزونو په اساس یې جمع کړي .
* د ۶ مخ ② مشق مطالعه کول : په لومړي مثال باندې په کډه کار کول
* زده کوونکي به خانله یا تې سوالونه حلوي .
* د ځوابونو مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۷ مخ ① مشق
یادونه : یو سوال دې د مثال په توګه په تخته حل شي .

۷۵

① د خپل خط‌کش په وسیله لاندې خطونه اندازه کړئ .

☐ سانتي متر

☐ سانتي متر

☐ سانتي متر ☐ سانتي متر

☐ سانتي متر ☐ سانتي متر

☐ سانتي متر

☐ سانتي متر ☐ سانتي متر

② پیدا کړئ چې د هر شکل څنده څو خطونه پاڼیږي وې . شکلونه سره مقایسه او د هغو نومونه زده کړئ .

مربع	مستطیل	مثلث	دایره
☐ خطونه لري	☐ خطونه لري	☐ خطونه لري	☐ خطونه لري

③ د ۱، ۳ مخ د لومړۍ (۱) برخې مختلف شکلونو ته وګورئ .

الف : د شکلونو تعداد پیدا کړئ :

☐ مربع ګانې ، ☐ مستطیلونه ، ☐ مثلثونه ، ☐ دایرې

ب : شکلونه پرتې او نښلې نمونې ترې جوړې کړئ .

④ په لاندې رسمونو کې د مختلفو شکلونو تعداد پیدا او خالي خانې ډکې کړئ .



۷۵ مخ ـ لومړی لوست
د ځینو هندسي سطحو معرفي کول

درسي کومکي مواد : خط‌کش او تار

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی د ۰ ـ ۱۰۰۰۰ پورې یوه عددي شعاع په تخته رسموي او په یوه وخت کې دوو مختلفو عددونو ته اشاره کوي لکه ۲۰۰۰ او ۷۰۰۰
- * زده کوونکي د هغو ترمنځ د قدمونو شمېر پیدا کوي او عدد یې وایي لکه ۵۰۰۰ قدمونه چې ۲۰۰۰ + ۵۰۰۰ = ۷۰۰۰ کېږي .



- * په همدې طریقه د عددونو نورو جوړو سره کار ته دوام ورکول

۲. تکرار :

- د کورني کار کتنه او مقایسه کول

۳. د ځینو هندسي سطحو معرفي کول :

- بنوونکی زده کوونکو ته لاربښوونه کوي چې د عملي کار دپاره بهر لاړ شي .
- د بنوونځي په انګړ کې د مربع ګانو رسمول ، د منظمو پتړو او ساحو معرفي کول
- مختلف مربع شکله پتي جوړول
- * بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې پر ځمکه داسې پتی جوړ (رسم) کړي چې خلور واړه ضلعې یې سره مساوي وي او کنجونه یې د کتاب د کنجونو په شان سم وي .
- * زده کوونکي په صحیح توګه پتي جوړوي او د اندازه کولو په واسطه یې د تولو څنډو مساویوالی ګوري او امتحانوي .
- * په لوړ آواز د اندازو ویل ، مثلاً هره څنده ۲۰ سانتي متره اوږدوالی لري .
- * زده کوونکي وایي : چې دا د "مربع" شکل دی که ضرورت وي بنوونکی مرسته کوي . لفظ "مربع" باید په صحیح ډول استعمال او په واضح توګه وډوهول شي .
- مختلف مستطیل شکله پتي جوړول
- * بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې پر ځمکه باندې داسې پتي جوړ کړي چې مقابلې څنډې یې دوه په دوه سره مساوي وي او د کتاب د کنجونو په شان سم کنجونه ولري .
- * زده کوونکي په صحیح توګه پتي جوړوي او د مقابلو څنډو مساویوالی اندازه کوي .
- * په لوړ آواز د څوابونو ویل ، د دوو اوږدو مساوي څنډو اوږدوالی (مثلاً ۴۰ سانتي متره) او د دوو لنډو مساوي څنډو اوږدوالی (مثلاً ۱۵ سانتي متره دی) .
- بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د پتی د خپل پخوانۍ پتي سره مقایسه کړي .

* زده کوونکي هغه مقايسه ، پيدا او وايي : په لومړۍ پټتي کې تولې څنډې سره مساوي وي خو په دوهم پټتي کې يوازې دوه مخامخ څنډې سره مساوي دي خو کاونده څنډې يې مختلفې دي او دوارو سطحې (پټتي) سره يوشان کنجونه لري .

* زده کوونکي وايي چې دا د "مستطيل" شکل دی . که ضرورت وي بنوونکی مرسته کوي . لفظ (مستطيل) بايد صحيح استعمال او په واضح ډول پرې وپوهول شي .

- بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې داسې پټتي (سطحې) جوړ کړي چې درې څنډې ولري .

* زده کوونکي په صحيح توګه پټتي جوړ وي ، دهغو څنډې اندازه او د هرې څنډې اوږدوالی وايي . (مساوي اوږدوالي يا مختلف اوږدوالي) (خرڅلاو چې يې جوړ کړي وي)

* زده کوونکي وايي چې دا د "مثلث" شکل دی . که ضرورت وي بنوونکی مرسته کوي . د مثلث د کلمې صحيح استعمال او په واضح ډول وړاندې پوهول

- بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې داسې پټتي جوړ کړي چې گرد وي .
(د بنه رسمولو دپاره دې تار يا لرګی استعمال شي)

* زده کوونکي وايي چې دا د "دايرې" شکل دی . که ضرورت وي بنوونکی مرسته کوي . د دايرې د کلمې صحيح استعمال او په واضح ډول پرې پوهول

- ببرته تولګي ته تلل

- بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې تولې سطحې په صحيح توګه پر نوره تخته ښلې ، ښلې رسم کړي او د هغو ساحې ته تباشير باندې پرداس (سپين) ورکړي .

* بنوونکی به هرځل د رسم شوي شکل لاندې د هغه نوم ليکي .

* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې مختلفې مشابه سطحې پيدا ، يې بحث او معرفي يې کړي .
(دوهم کتار ګورئ !)

لکه :

۱. مربع : زمونږ د کور د انګړ سطحه ، د بنوونځي د انګړ سطحه ، د يوه ډبوال د مخ سطحه ، د ځينو کرکيبو سطحې او داسې نور .

۲. د مستطيل سطح : زمونږ د باغ د ځمکې سطحه ، د تولګي د مځکې سطحه ، د کتاب د مخ سطحه او نور .

۳. د مثلث سطح : د پانو د مخ سطحې او داسې نور .

۴. دايره : د لمرد سترګې مخ ، د سپږپمې د سترګې مخ ، فلزي روپۍ او داسې نور .

- د ۷۵ مخ په ① مشق کار کول

* د خطونو د اوږدوالي اندازه کول ، په لوړ اواز د حُوابونو لوستل او مقايسه کول

- د ۷۵ مخ په ② مشق کار کول

* په لوړ آواز د جملو او د سطحو د نومونو لوستل

* د خالي خانو ډکول او په لوړ آواز د حُوابونو لوستل

۴. په تولګي کې د پټتي خولې کار / کورنی کار :

- د ۷۵ مخ د ② مشق د رسم شوېو شکلونو رنګه کول

- د لوستل شوېو سطحو د شکلونو په شان کاغذونه پرې کول

- د ۷۵ مخ د ② مشق د سطحو د نومونو زده کول

۷۵ مخ ـ دوهم لوست

د هم شکله سطحو شمېرل ـ د اساسي هندسي شکلونو (سطحو) په استعمالولو سره د مختلفو سطحو جوړول

درسي کومکي مواد : قیچي (بیاتي)

۱. ذهني روزنه :

ـ د ورکړل شوېو عددونو د رقمونو قیمت پیدا کول یعنې یوېزونه ، لسیزونه ، سلیزونه او زرېزونه

* بنوونکی په توره تخته ځینې عددونه لیکي لکه ۳۵۶۹ او مختلفو رقمونو ته اشاره کوي لکه ۵

* زده کوونکي د بنودل شوي رقم قیمت وایي لکه ۵ سوه .

* په همدې طریقه د نورو عددونو او رقمونو سره کار ته دوام ورکول لکه ۹۶۰۰ ، ۸۵ ، ۶۸۷۰ ، ۲۵۱۹ ، ۴۲۵ او داسې نور .

۲. تکرار :

ـ بنوونکی د سطحو نومونه لکه مربع ، کره مستطیل ، مثلث په توره تخته ببل ببل لیکي .

* بنوونکی هرځلې د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې سطحه په صحیح توګه په توره تخته رسم کړي .
(بنوونکی مرسته کوي .)

۳. دهم شکله سطحو شمېرل ـ د اساسي هندسي شکلونو (سطحو) په استعمالولو سره د مختلفو سطحو جوړول :

ـ د ۷۵ مخ د ۴ مشق په (الف) برخه کارکول (اوهم د ۱۰۳ مخ د ۱ مشق استعمالول)

* زده کوونکي د ۱۰۳ مخ د ۱ مشق هم شکله سطحې شمېرې لکه دایرې او د ۷۵ مخ د ۴ مشق د (الف) برخې مربوطه خالي خانې ډکوي.

* تولو شکلونو سره په همدې ډول کارکول

* په لور آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

ـ په پاک ډول د ۱۰۳ مخ د ۱ مشق د سطحو پرېکړل (ځیرول) او د منګري سره یې په مختلفو طریقو په اینبودلو سره د مختلفو سطحو نمونې جوړول لکه :



او داسې نور.

* زده کوونکي هرځلې مختلف شکلونو سره د برخې تعداد په نمونو کې پیدا کوي (▭ دایرې، ▭ مربع کانې ▭ مثلثونه)
(مختلفې سطحې په نمونو کې شمېرې .)

۴. په تولګي کې د پښتې خولې کار/کورنی کار :

ـ په یوه ورقه باندې د کاغذ د پرې کړل شوېو توتو په اینبودلو سره د مختلفو سطحو جوړول او په کاغذ باندې د تولو توتو څخه د خطونو چاپېرول

ـ د هرې جوړې سطحې رنګول

۷۵ مخ ـ دریم لوست

په مختلطو (مرکبو) رسمونو کې د شکلونو د تعداد پیدا کول

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۹ ، ۱۱ او ۱۰۱ په قدم شمېرکول
۰، ۹ ، ۸ ، ..... ، ۹۹
۰، ۱۰۹ ، ۸۱ ، ..... ، ۱۹۹
۰، ۱۱ ، ۲۲ ، ..... ، ۱۱۰
۱۰۰۰ ، ۱۰۱۱ ، ۱۰۲۲ ، ..... ، ۱۱۱۰
۰، ۱۰۱ ، ۲۰۲ ، ..... ، ۱۰۱۰
۱۰، ۱۱۱ ، ۲۱۲ ، ..... ، ۹۱۹

۲. تکرار :

- زده‌کوونکي د خپلو جوړوکړپو سطحو رسمونه توکي ته ښيي.
(کورنۍ کار)

* په هره نمونه کې د مختلفو شکلونو (سطحو) تعداد د ملګري سره شمېرئ.

۳. په مختلطو (مرکبو) رسمونو کې د شکلونو تعداد پيدا کول :

- عين شکل په مختلفو اندازو يو د بل په شاوخوا کې رسموئ.

* ښوونکی يو شکل (لکه دايره) په توره تخته رسموي. زده‌کوونکي د شکل نوم اخلي. بيا ښوونکی په چتکۍ سره نورې لويې او ترې لويې دايرې رسموي.
(لاندې رسمونه وګورئ!)

* زده‌کوونکي شمېر کوي او د رسم شويو دايرو تعداد وايي (۴ دايرې).

- ښوونکی د مختلفو شکلونو سره خپلې سطحې خوا په خوا د لاندې په شان په توره تخته رسموي او د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په هر رسم کې د مختلفو سطحو تعداد او ډول پيدا کړي. لکه :



او داسې نور.

* زده‌کوونکي هر ځل شکلونه شمېرئ او تعداد يې وايي - يعنې په لومړي شکل کې ۱ مربع ۲ دايرې او ۱ مثلث دی او داسې نور.

- د ۷۵ مخ په ④ مشق باندې کار کول

* په لوړ آواز د جملې لوستل

* زده‌کوونکي د مختلفو سطحو/شکلونو تعداد پيدا کوي. او په انفرادي ډول خالي خانې ډکوي. (ملګري اصلاح کوي.)

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. کورنۍ کار : نه لرئ.

خپل خيالي تصويرونه (نقشې) پيدا کول د مربع کانو او مثلثونو استعمالول

۲. تکرار :

- د ۷۲ مخ لسم عبارتي سوال په تفصیل سره په توره تخته حلول

۳. د سطحو د رسمولو تمرین :

- ښوونکی زده کوونکو ته لازښوونه کوي چې د عملي کار دپاره بهر لاړ شي .
- * ښوونکی د مربع ، مستطیل او مثلث د جوړولو دپاره په مناسبو ځایونو کې کانې ښیل، ښیل پر خمکه وړي . یعنې د هندسي سطحو د کنجونو په نخښه کول .
- زده کوونکي هرځل د رسم شویو شکلونو د څنډو اوږدوالي اود هغوی موقعیتونه یو دبل سره تجزیه کوي او د هرشکل دپاره صحیح نوم پیدا کوي .
- * زده کوونکي د دایروکش (تار یا لښتې) په استعمالولو سره په خمکه دایرې رسموي .
- ښوونکی د زده کوونکو ګروپونه تشکیلوي او هرګروپ ته څو لښتې ورکوي (چې یو شان او مختلف اوږدوالی ولري) .
- * ښوونکی زده کوونکو ته لازښوونه کوي چې د سطحو د څنډو د جوړولو دپاره لښتې استعمال او مختلف شکلونه (مربع ، مستطیل ، مثلث) پرخمکه جوړ کړي .
- ښوونکی زده کوونکو ته لازښوونه کوي چې د لښتو په اپښودلو سره د مربع کانو ، مستطیلونو او مثلثونو څو شکلونه د لښتو په اپښودلو سره یوځای جوړ کړي .

لکه :



او داسې نور.

۷۶

۱ دوې برخې ترلې تقلې پوه د یلې سره وصل کړئ او د حاصل شویو مختلفو شکلونو تعداد پیدا کړئ .

☐ مربع کانې	☐ مربع کانې	☐ مربع کانې
☐ مستطیلونه	☐ مستطیلونه	☐ مستطیلونه
☐ مثلثونه	☐ مثلثونه	☐ مثلثونه

۲ دا ګلانو پر پښتې دوه هره مربع د پوه ګل دپاره ټاکل شوې ده .
د ۱،۳ مخ د دوهمې (۲) برخې مربع کانې د ګل سره پرتې او په تیارو شویو ځایونو کې یې ګیرودې . پوکتار په بل پسې وګل کړئ .
څو مربع کانې مود ګلانو سره ځای په ځای کړې دي ؟
په پوکتار کې ☐ مربع کانې
د ګلانو سره ډکې .
د ګلانو په پښتې کې ☐ کتارونه دي .
داسې بې شمېره : ۳ کتارونه د ☐ ګلانو
۳۰ ☐ ګلان = ☐ ګلان

۳ د ۱۲ ګلانو خخه د ګلانو مختلف پښتې جوړې او مساواتونه یې پیدا کړئ .

۴ د لاندې ګلانو شخه مختلف پښتې جوړ کړئ :
الف : ۲۶ ګلان
ب : ۱۸ ګلان
ج : ۲۴ ګلان
د ګلانو د هر پښتې دپاره صحیح مساوات پیدا کړئ .

---

۷۶ مخ - لومړی لوست
د سطحو د رسمولو تمرین

درسي کومکي مواد :
دوړې لښتې چې ځینې یې یوشان او نورې یې مختلف اوږدوالي ولري . تار ، تباشیر ، ګلفي د دایرې د رسمولو دپاره یو لرګی چې په دواړو خواوو کې یې میخونه ټک وهل شوي دي



۱. ذهني روزنه :

- د ۲۲ مخ دوهم لوست په شان ځنګیړي سوالونو سره کارکول (د تولو عملیو استعمالول)

لکه :

= ۹۰۰ + ۶۰۰	− ۱۰۰۰	− ۲۶۰۰
= ۳۰۰ + ۲۰۰	+ ۴۰۰۰	+ ۲۰۰۰
= ۱۰۰	− ۹۰۰	− ۵۰۰۰
= ۳۰۰	+ ۹۰۰	+ ۱۰ × ۱۰
= ۵۰	+ ۵ × ۶	÷ ۶۰
= ۶۰	+ ۸	+ ۸ × ۴

او داسې نور.

* زده کوونکي هرځل د سطحو نومونه اودهغو تعداد وايي . (بهرته تولګي ته راتلل)

– بنوونکی په تخته یوځو نقطې بردي.

. . . .
. .
. . . .

اوداسې نور.

* زده کوونکي د خطونو په واسطه نقطې (ټکي) سره وصلوي او د هرې سطحې نوم او د هغو تعداد وايي .

* بنوونکی د تار او تباشیر په واسطه یوه دایره رسموي او زده کوونکي يې نوم اخلي .

– د ۷۶ مخ په ① مشق کارکول

* په لوړ آواز د جملو لوستل ، د خالي ځایونو ډکول (ملګري يې اصلاح کوي)

۴. په تولګي کې د پښتې خولې کار/کورنی کار :

– د لښتو د نښلولو په واسطه مربع ، مستطیل او مثلث جوړول

– د مشرانو په مرسته د ۱۰۳ مخ د ② مشق مربعګانې د ګلانو سره په صحیح توګه پرې کول او تولګي ته يې راوړل

(بنوونکی د لارښوونې او بحث دپاره د یوه کتاب څخه د ګلانو سره مربعګانې د تولګي په مخ کې پرې کوي .)

۷۶ مخ - دوهم لوست
د ګلانو مختلف پښتي جوړول اودهغه مربوط د ضرب سوال موندل

درسي معاونات : کتابونه او قیچي (بیاتي)

۱. ذهني روزنه :

– د ۷۲ مخ ۲ لوست په شان څټځیزي سوالونو سره کارکول (د تولو عملیو استعمالول)

(د هغې مخ دوهم کتور ګورئ)

۲. تکرار :

– د ۷۳ مخ هر رسم سره د هغه مربوط هندسي نوم لیکل (ملګري يې ګوري او اصلاح کوي)

۳. د ګلانو مختلف پښتي جوړول اود هغه مربوط د ضرب سوال (عملیه) موندل :

– د کتابونو مختلف کتارونه پر میز/څمکه جوړول لکه :



اوداسې نور .

* بنوونکی هرځل زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې مربوط د ضرب سوالونه ښبل، ښبل پیدا کړي . یعنې :
۳ × ۴ کتابونه، ۴ × ۴ کتابونه ، ۲ × ۴ کتابونه اوداسې نور.

* په همدې طریقه د کتابونو د نور تعداد په بل ترتیب (کتار) سره کار ته دوام ورکول

– د ۷۶ مخ په ③ مشق کار ته دوام ورکول

* د مشق مطالعه اوپه لوړ آواز د جملو لوستل

* بنوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د ۱۰۳ مخ پرې کړل شوې د ګلانو سره مربع کانې په خالي بکسونو کې ځای په ځای کړي.

* د ضرب د مربوط سوال موندل او خالي خانې ډکول

* په لوړ آواز د عملیو اود هغو د محاوبونو لوستل

– د ۱۲، ۱۶، ۱۸ او ۲۴ د ګلانو سره مربع کانو څخه مختلف پښتي جوړول اوهرځل د ګلانو د هر پښتي مربوط د ضرب سوال موندل (د ملګري سره)

– د ۷۶ مخ په ④ مشق کارکول

– د ۷۶ مخ په ⑤ مشق کارکول

۴. په تولګي کې د پښتې خولې کار/کورنی کار :

– د ۷۶ مخ د ② مشق په خالي بکسونو کې د ګل لرونکو مربع کانو سره پښتول او بیا يې رنګه کول

۱۰۰ + ۱۰۰ + ۳۰۰ + ۳۰۰ = ۳۰۰۰
۵ × ۱۰۰ – ۵۰۰ + ۱ = ۰
۱۰۰۰۰ – ۸۰۰۰ – ۱۹۰۰ – ۵۰ = ۰
۲ × ۱۰۰۰ + ۵۰۰ – ۱۵۰۰ = ۰
۸۱ ÷ ۹ + ۱ × ۱۰ = ۱۰ اوداسې نور.

- بنسونکی د جمع او تفریق حُینې سوالونه په توره تخته یو په بل پسې لیکي، لکه :

۶۳۴۲	۱۹۸۰	۸۲۱۱	۵۴۸۶
− ۲۵۶۴	+ ۵۳۴۲	− ۳۹۱۶	+ ۲۸۹۵

* زده‌کوونکي هرمحل سوال په توره تخته حلوي.

۳. د ضرب د مربوطه سوالونو د حُوابونو د مقایسه کولو په واسطه د لوی شکل پیدا کول

- بنسونکی لاندې رسمونه په توره تخته ببل ببل رسموي.
* بنسونکی هرځل زده‌کوونکو ته لاربنسونه کوي چې د ضرب د مربوطه سوال په جوړولو او حلولو په واسطه د کوچنیو مربع کانو تعداد پیدا او خالي خانونه ډکې کړي.



* په کتاروونکې د مربع کانو په شمېرلو د حُوابونو میزان کول
- بنسونکی لاندې شکلونه جوړه جوړه په توره تخته ببل ببل رسموي او د زده‌کوونکو شخه غوښتنه کوي چې په هره جوړه کې کوم شکل پې لوی دی.
* زده‌کوونکي د دواړو شکلونو د ضرب د مربوطو سوالونو د پیدا کولو او حلولو په واسطه او یا د هر شکل د تولو مربع کانو په شمېرلو سره لوی شکل پیدا کوي.





۷۷

① د شکلونو د تولو کوچنیو مربع کانو په شمېرلو او یا د ضرب د صحیح سوال په موندلو او حلولو سره هره جوړه کې لوی مستقیل پیدا کړئ.



د [۶] شکل د [ ] څخه لوی دی. د [ ] شکل د [ ] څخه لوی دی.



د [ ] شکل د [ ] څخه لوی دی. د [ ] شکل د [ ] څخه لوی دی.

② په هر رسم کې د تولو مربع کانو په شمېرلو او یا د ضرب او جمع د صحیح سوال په موندلو او حلولو سره د مربع کانو تعداد پیدا کړئ.



۱. مکعب څو مخونه لري؟ ۲. درانګل چې مربع څو کرنجونه لري؟
۳. مثلث څو کرنجونه لري؟ ۴. مربع او مستقیل څه فرق لري؟

۷۷ مخ - لومړی لوست

د ضرب د مربوطه سوالونو د حُوابونو د مقایسه کولو په واسطه د لوی شکل پیدا کول

۱. ذهني روزنه :

- بنسونکی د سانتي مترونو مختلف تعداد وایي لکه : ۲ سانتي متره، ۳ سانتي متره، ۱۰ سانتي متره، ۵ سانتي متره، ۷ سانتي متره، ۹ سانتي متره، ۶ سانتي متره او داسې نور.
* زده‌کوونکي سانتي مترونه په ملي مترونو اړوي او وایي : ۲×۲=۲۰ ملي متره، ۳۰ ملي متره، ۱۰۰ ملي متره، ۵۰ ملي متره، ۷۰ ملي متره او داسې نور.

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه

* د تولو مربع کانو په شمېرلو سره د ځوابونو میزان کول
- د ۷۷ مخ په ① مشق کار کول
* په لوړ آواز د جملو لوستل او تجزیه کول
* په هرشکل کې د مربع کانو سره د کتارونو تعداد پیدا کول او خالي خانې ډکول
(ملګري یې ګوري او اصلاح کوي.)
* په هرشکل کې د تولو مربع کانو په شمېرلو سره د ځوابونو میزان کول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل

۴. کورنی کار :

پیدا کول (رسمول) چې په څو طریقو سره ۲۴ مربع کانې رسموالی شو (ځواب په ټوکه ۲۴ د ضرب څو سوالونه لري)

---

۷۷ مخ - دوهم لوست

د ضرب اوجمع د مرکب سوال په موندلو او په حلولو سره په رسمونو کې د مربع کانو د شمېر پیدا کول

۱. ذهني روزنه :

- بنوونکی د پوره سلیزونو مختلف ۴ رقمي عددونه وایي لکه: ۱۲۰۰ ، ۳۱۰۰ ، ۲۶۰۰ ، ۸۵۰۰ ، ۶۹۰۰ ، ۴۴۰۰ ، ۱۰۰۰ ، ۳۰۰۰ او نور .
* زده کوونکي هرځل د سلیزونو تعداد پیدا او وایي : ۱۲ سوه ، ۳۱ سوه ، ۲۶ سوه ، ۸۵ سوه ، ۶۹ سوه او نور .

۲. تکرار :

- بنوونکی د ۷۵ مخ د ④ مشق په شان رسمونه په تورې تخته رسموي .
* زده کوونکي د مختلف سطحو نمونو لو تعداد پیدا کوي او وایي.
- د کور ني کار کتنه او مقایسه

۳. د ضرب اوجمع د مرکب سوال په جوړولو او حلولو سره په رسمونو کې د مربع کانو د شمېر پیدا کول:

- بنوونکی د کوچنیو مربع کانو مستطیل رسموي زده کوونکي مربوطه د ضرب سوال حلوي .

* بنوونکی خو نورې وړې مربع کانې د رسم شوي مستطیل سره وراضافه کوي لکه ۲ مربع کانې او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د شکل د مربع کانو ټول تعداد څنګه پیدا کولای شي ؟
* زده کوونکي بحث کوي او پیدا کوي چې د اضافي مربع کانو تعداد (۲) باید د ضرب د سوال (ځواب) سره جمع کړو.



۳ × ۵ + ۲ = ۱۷

* د تولو مربع کانو په شمېرلو سره د ځواب میزانول
* په همدې طریقه د لاندې شکلونو سره کار کول



□ × □ + □ = □ □ × □ + □ = □

- بنوونکی لاندې شکلونه په تورې تخته رسموي اوزده کوونکي رهنمایي کوي چې پوره مستطیل پیدا کړي او لاندې یې مربوطه د ضرب سوال ولیکي او بیا د اضافي مربع کانو تعداد ورسره جمع کړي .



۶ × ۴ + ۳ = □ ۶ × ۷ + ۲ = □

* د مربع کانو په شمېرلو سره د ځوابونو میزانول
- د ۷۷ مخ په ② مشق د ملګري سره کار کول
(بوارې رسم شوي سوالونه)
* په لوړ آواز د جملو لوستل او د خالي خانو ډکول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار/کورنی کار :

۷۷ مخ د ② مشق وروستي عبارتي سوالونه

د اتم فصل پیژندنه

عنوان : د ضرب او تقسیم لیکلی شکل

د درسي کتاب مخونه : ۷۸ـ۸۶

د پیشنهاد شوي د رسونو شمیر : ۱۸

درسي معاونات : څوکتابونه ، د ۱۰ او ۱۰۰ کانو کڅوړې او نور کامني

د موضوعاتو تفصیل او تبصرې :

اوس زده کوونکي د لوبو اندازو (عدد ونو) سره کار لري نو ځکه ضرورت پیښیږي چې د ضرب او تقسیم سوالونه په ستوني شکل ولیکل شي او بیا حل شي .

په دې فصل کې لاندې موضوعات شامل دي :

- د ضرب لیکلی شکل
- د لیکلي ضرب لنډ شکل
- د تقسیم لیکلی شکل
- تقسیم چې باقي ولري
- د پوره لسیزونو، پوره سلیزونو او پوره زرزونو تقسیم

د معنی دارې زده کړې په خاطر د ضرب او تقسیم لیکلی شکل مو په چوکاټونو کې په تفصیلي دول معرفي کړی او قدمونه توضیح شوي دي .

لکه څنګه چې د تقسیم په لیکلي شکل کې همزمان د ضرب ، تقسیم او منفي عملي اجرا کیږي نو ځکه په چوکاټونو کې مو د ضرب او تفریق علامې او مربوط عددونه په وضاحت سره ښودلي دي .

سره له دې چې عددونه لوی دي خو بیا هم بعضې درسونه په عملي دول جوړ شوي دي .

د باقي لرونکي تقسیم مفهوم په عملي شکل د لوبو په ذریعه معرفي شوی دی .

مثالونه مو په پیلو پیلو قدمونو کې په وضاحت سره توضیح کړي دي .

په دې فصل کې د عملي سوالونو د حلولو د پاره په کافي اندازه سوالونه ورکړل شوي دي .

اتم فصل

د ضرب او تقسیم لیکلی شکل

د ضرب لیکلی شکل

① تاسي په اساني سره ۲×۳=□ لیکلای او حاصلونه ځای کړای شئ .
د ضرب شکل سوالونه لکه ۲×۳=□ په بله څېره داسې لیکلو او حلوئ .



۱. لومړی ۲ د پوره لسیزونو سره ضرب کړو
۲. بیا ۲ د ۱ لسیز سره ضرب کړو
۳. ورو سته ځوابونه سره جمع کړو

② لاندې سوالونه د مثال په شان حل کړئ .



لاندې سوالونه د مثالونو په شان پخپلو کتابچو کې حل کړئ .

۲ ۴ × ۲	۱ ۳ × ۳	۴ ۱ × ۲	۱ ۲ × ۴	۳ ۱ × ۳
۴۸	۸۲	۹۳	۳۹	۴۸

۷۸ مخ ـ لومړی لوست

د ضرب لیکلی شکل د حاصل څخه پرته

درسي معاونات : د ۱۰ کانو کڅوړې، نور کافي

۱. ذهني روزنه :

- ښوونکی د پوره لسیزونو مختلف عددونه وایي لکه ۷۰ ، ۵۰ ، ۱۲۰ ، ۱۴۰ ، ۴۰۰ ، ۴۳۰ ، ۲۵۰ ، ۵۰۰ ، ۹۰۰ او داسې نور .
- زده کوونکي هرځلې د لسیزونو تعداد پیدا او وایي : ۷ لسیزونه ، ۵ لسیزونه ، ۱۲ لسیزونه ۲۶ لسیزونه ، ۴۰ لسیزونه ، ۴۳ لسیزونه ، ۲۵ لسیزونه ۵۰ لسیزونه ، ۹۰ لسیزونه او داسې نور .

۲. تکرار/ تقویه :

- زده کوونکي د ۷۷ مخ د ⑦ مشق عبارتي سوالونه ببل ببل په لوړ آواز لولي .
* نور زده کوونکي د مربوطو شکلونو او يا د رسم شويو سطحو په مرسته پوښتنې ننشريح او څرګندوي .
- په همدې طريقه نورو عبارتي سوالونو سره کار ته دوام ورکړل لکه :
الف . د مثلث او مربع تر منځ څه فرق دی ؟
ب . مربع څو ضلعي لري ؟
ج . مکعب څو مخونه لري ؟ (د مکعب شکله شيانو استعمال) اوداسې نور .

۳. د ضرب لیکلی شکل د حاصل څخه پرته :

- بنوونکی د ضرب يو سوال په توره تخته ليکي لکه ۴ × ۱۲ = □ او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ليکل شوي سوال مطابق کاڼي پر مېز کړي .
* زده کوونکي بحث کوي او د ۱۰ کاڼو يوه کڅوړه او ۲ نور کاڼي ۴ ځله پر مېز ږدي او تشريح کوي چې هلته ټول ۴ ځله ۲ کاڼي او څلور ځله د لسو کاڼو کڅوړې دي . په دې معنی چې ۴ د ۲ يونيزو او د ۱ لسيز سره ضرب شو .
- د ۷۸ مخ په ① مشق باندې کار کول
* زده کوونکي موضوع (کار) مطالعه کوي ، هره جمله تجزيه کوي او د ضرب سوال په شکل کې د مربوطه قدم سره ارتباط ورکوي .
* بنوونکی د سوال شکل لکه څنګه چې لاندې ښوول شوی په توره تخته رسموي .

	لسيز	يونيز
	۱	۲
×		۴
+		

* زده کوونکي په لوړ آواز جملې/عملیې ببلې، ببلې لولي .
* زده کوونکي هرځل مربوط عدد وينه (د سوال د حلولو قدمونه) د شکل په صحيح ځايونو کې په توره تخته ليکي .
(بنوونکی مرسته او لارښوونه کوي .)

* شکل په توره تخته داسې بنکاري :

	لسيز	يونيز
	۱	۲
×		۴
← ۴ × ۲		۸
← ۴ × ۱۰	۴	۰
+		
← ۸ + ۴۰	۴	۸

* خوزده کوونکي وايي او تشريح کوي چې ضرب څرنګه وشو .
* په همدې طريقه په توره تخته د لاندې نيو سوالونو حلول

۳۱	۲۳
× ۳	× ۲

* د ۷۸ مخ په ② مشق کار کول
* د ملګري سره په مثال بحث کول او تشريح کول
* د مخکې په شان د ضرب دوه نور سوالونه (د مخکيني شکل استعمال) په انفرادي ډول حلول (ملګري اصلاح کوي)

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/ کورنی کار :

د ۷۸ مخ د ⑦ مشق د ۳ ورو ستيو سوالونو حلول

۷

① لاندې سوالونه حل کړئ:

۳۲۴ + ۶۵	۴۵۷ + ۳۲۱	۶۳۸ + ۲۰۱	۷۳۹ + ۲۶۰	۶۵۱ + ۸	۴۳۲ + ۵۱۴
۳۸۹					
۹۴۶	۶۵۹	۹۹۹	۷۷۸	۳۸۹	۸۳۹

② پېښ وشمېرئ او مجموعه يې لاندې وليکئ. د کيښې خوا د روپيو مطابق لوټونه چلېپا کړئ او بيا د مجموعې څخه د کيښې خوا عدد تفريق کړئ:



③ لاندې سوالونه حل کړئ:

۶۷۳ - ۴۷۲	۴۹۸ - ۲۲۸	۳۲۲ - ۱۴	۴۸۹ - ۲۶۷	۷۸۶ - ۳۲۴	۶۸۸ - ۶۷۷
۲۰۱	۲۲۲	۳۰۸	۲۲۲	۴۶۲	۱۱

۷مخ - لومړی لوست

تر ۱۰۰۰ پورې په ستونونو کې تفريق، پرته د قرضولو څخه

۱. ذهني روزنه: خومره بايد نور ورسره جمع کړو چې ۱۰۰ ته ورسېږو ؟

* ښوونکی به ۱۰۰ په توره تخته ليکي او کار به تشريح کوي، د مثال په ډول هغه به د سلو څخه وړوکی عدد لکه ۶۰ وايي، او زده‌کوونکي به معلوموي خومره بايد ۶۰ سره جمع شي چې ۱۰۰ حاصل شي او وايي به ۴۰

* د نورو عددونو لکه ۷۰، ۸۰، ۸۵، ۱۰۰، ۹۰ او داسې نورو ويل

- خومره بايد کم کړو چې ۱۰۰ حاصل شي ؟

* ښوونکی د ۱۰۰ څخه لوی يو عدد لکه ۱۲۰ وايي زده‌کوونکي پې پيدا کوي او وايي ۲۰ .

* د نورو عددونو لکه ۲۰۰، ۱۵۰، ۱۰۱، ۱۷۵، ۱۰۰۰، ۵۰۰ او داسې نورو ويل

۲. تکرار: په ستونونو کې جمع د انتقال څخه پرته:

- د کورنۍ وظيفې کنته او مقايسه (۷مخ ① مشق)

- ښوونکی به دوه عددونه لکه ۷۲۳+۷۴ وايي يو زده‌کوونکی به عددونه په ترتيب (واحدونه د واحدونو لاندې ... او نور ...) په توره تخته ليکي او يو د بل سره يې جمع کوي.

- په همدې ډول د دوو نورو سوالونو حلول لکه: ۶۳۵+۳۶۴= ۴۷۵+۳۱۴=

۳. تر ۱۰۰۰ پورې ستونونو کې تفريق، د قرض څخه پرته:

- ښوونکی به يوه عددي قصه وايي: "سلطان ۵۶۴ روپۍ په جېب کې درلودې. هغه په ۳۲۱ روپيو کالي واخيستل"

* زده‌کوونکی به د عددي قصې څخه پوښتنه پيدا کوي: "څو روپۍ د سلطان سره پاتې دي ؟"

* ښوونکی به زده‌کوونکي رهنمايي کوي چې سوال په توره تخته په قدمونو کې حل کړي [لاندې وګورئ!]

اول بايد هغوی معلوم کړي چې د ۵۶۴ څخه ۳۲۱ تفريقېږي، يعنې: ۵۶۴ - ۳۲۱ =

بيا به د ۵۶۴ ديارلس نوټونه په توره تخته رسموي او وروسته د هغو څخه د ۳۲۱ روپيو مطابق نوټونه چلېپا کوي اومعلوموي چې څومره پاتې شول.

په اخر کې به هغوی د ستونې تفريق ديارلس عددونه ليکي او واحدونه د واحدونو څخه، لسيزونه د لسيزونو څخه او سليزونه د سليزونو څخه تفريقوي.

په اخر کې توره تخته داسې ښکاري:

۵۶۴ - ۳۲۱ = ☐



سليز.	لسيز.	ټوپ.
۵	۶	۴
۳	۲	۱
۲	۴	۳

-

۲. تکرار :

- د ۷۸ مخ ⑦ مشق (کورنۍ کار) دې وروستي سوالونه په ستونونو کې په توره تخته حلول

- د کورنۍ کار کتنه

۳. د یویزونو، پوره لسیزونو او پوره سلیزونو سره ضرب لکه ۷، ۷۰، ۷۰۰ د هغو د حُوابونو ترمنځ ارتباط پیدا کول :

- ښوونکی او زده کوونکي د ۲ د خانې ضرب، د ۲۰ د خانې ضرب او د ۲۰۰ د خانې ضرب سره مقایسه کوي.

* ښوونکی د ضرب مربوطې خانې په توره تخته ښکاره کوي.

۱) ۲ × ۲ = ۴	۱) ۲۰ × ۲ = ۴۰	۱) ۲۰۰ × ۲ = ۴۰۰
۲ × ۲ = ۴	۲۰ × ۲ = ۴۰	۲۰۰ × ۲ = ۴۰۰
۳ × ۲ = ☐	۳ × ۲۰ = ☐	۳ × ۲۰۰ = ☐

اوداسې ښکاري. اوداسې ښکاري. اوداسې ښکاري.

* زده کوونکي حُوابونه پیدا او سره مقایسه کوي. او وایي چې عددونه سره یو شان دي خو د ۲۰ د ضرب په خانه کې یو صفر (۰) زیات دی او د ۲۰۰ د ضرب په خانه کې دوه صفرونه (۰۰) زیات دي.

* په همدې ترتیب سره تر ۱۰ × ۲ ، ۱۰ × ۲۰ او ۱۰ × ۲۰۰ پورې کار ته دوام ورکول

هر حُل مقایسه او پیدا کول چې د ۲۰ د ضرب په خانه کې هر حُل یو صفر (۰) او د ۲۰۰ د ضرب په خانه کې هر حُل دوه صفرونه (۰۰) زیات شوي دي. یو صفر (۰) زیات لیکل د ۱۰ حُلې هغه عدد او دوه صفرونه (۰۰) زیات لیکل د ۱۰۰ حُلې هغه عدد معنی لري.

* ښوونکی د ۲۰ او ۲۰۰ د خانو د ضرب حُوابونه پاکوي.

* ښوونکی زده کوونکو ته لاندې ښوونه کوي چې د ۲۰ او ۲۰۰ د ضرب د خانو سوالونه د ۲ د ضرب د خانې د حُوابونو په مرسته حل کړي لکه : (په بل مخ کې یې وګورئ!)

۷۹

① لاندې سوالونه حل او د درېیو ورځو سوالونو تر منځ ارتباط پیدا کړئ

۲ × ۸ = ۱۶	۴ × ۹ = ☐	۶ × ☐ = ۴۰
۲ × ۸۰ = ۱۶۰	۴ × ۹۰ = ☐	۶ × ☐ = ۴۰۰
۲ × ۸۰۰ = ۱۶۰۰	۴ × ۹۰۰ = ☐	۶ × ☐ = ۴۰۰۰
۷ × ۳ = ☐	۶ × ۵ = ☐	☐ × ۵ = ۱۰
۷ × ۲۰ = ☐	۶ × ۶۰ = ☐	☐ × ۵ = ۱۰۰
۷ × ۳۰۰ = ☐	۶ × ۶۰۰ = ☐	☐ × ۵ = ۱۰۰۰

② مثال :

۱. لومړی ۲ × ۳ یویزونه = ۶ یویزونه سره ضرب
چې ۲ یویزونه د یویزونو لاندې او ۱ لسیز د لسیزونو لاندې لیکئ ۲ × ۳

۲. بیا ۴ × ۶۰ = ۲۴۰ سره ضرب چې صفر (۰) د یویزونو لاندې، ۴۰ لسیزونه د لسیزونو لاندې او ۲ سلیزونه د سلیزونو لاندې لیکئ

۳. ورسره ځوابونه سره جمع کوو ۱۲۰ + ۲۴۰

③ لاندې سوالونه د مثال په شان حل کړئ :

۶ × ۸ = ۴۸ ، ۶ × ۵۰ = ۳۰۰

④ لاندې سوالونه د مثال په شان په خپلو کتابچو کې حل کړئ :

۴۶ × ۲	۴۰ × ۶	۹۴ × ۵	۳۵ × ۶	۲۷ × ۴
۸۳ × ۸	۴۸ × ۹	۱۷ × ۵	۹۰ × ۷	۶۶ × ۷

۴۶۲ ۲۱۰ ۲۷۰ ۸۵ ۹۴ ۶۳۰ ۶۶۴ ۲۴۰ ۴۳۲ ۱۰۸

۷۹ مخ - لومړی لوست

د یویزونو، پوره لسیزونو او پوره سلیزونو سره ضرب لکه ۷، ۷۰، ۷۰۰ د هغو د حُوابونو ترمنځ ارتباط پیدا کول

۱. ذهني روزنه :

- ښوونکی دوه عددونه یو په بل پسې وایي لکه :
۱۰۰ ـ ۲۰۰ ، ۱۰۰۰ ـ ۲۰۰۰ ، ۵۰ ـ ۱۰۰ ، ۱۵ ـ ۲۵
۴۰ ـ ۸۰ ، ۲۵۰۰ ـ ۳۵۰۰ ، ۹۹ ـ ۱۰۰
۷۵۰ ـ ۱۲۵۰ ، ۷۰۰ ـ ۸۰۰ ، ۸۰۰۰ ـ ۹۰۰۰

* زده کوونکي هر حُل د دوو ورکړل شویو عددونو منځنی عدد (د دواړو د حاصل جمع نیمایي) پیدا کوي او وایي. یعنې :
۱۵۰، ۱۵۰۰، ۷۵، ۲۰، ۶۰ ، ۳۰۰۰ اوداسې نور.

که ۹×۲=۱۸شي بيا ۹×۲۰ = ۱۸۰ کېږي (يو صفر(۰) زيات شوی دی او د ۱۰ × ۱۸ معنی ورکوي) وروسته ۹ × ۲۰۰ = ۱۸۰۰ (دوه صفرونه (۰۰) زيات شوي دي او د ۱۰۰ × ۱۸ معنی لري).

* بنوونکی د ضرب نورو خانو څخه همداسي نور سوالونه په تخته ببل ببل ليکي، زده کوونکي يې په همدې توګه د يوه صفر(۰) يا دوو صفرونو (۰۰) په زياتولو سره حلوي.
* دا ليکلو په وخت کې بايد مقامي قيمت ته توجه وشي.

☐ = ۲×۲	☐ = ۶×۴	☐ = ۸×۷	
☐ = ۴۰×۲	☐ = ۶۰×۴	☐ = ۸۰×۷	
☐ = ۳۰۰×۲	☐ = ۶۰۰×۴	☐ = ۸۰۰×۷	

- د ۷۹ مخ په ① مشق د ملکري سره کار کول (لومړنۍ درې برخې)
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

۷۹ مخ ① مشق، وروستنۍ درې برخې

---

۷۹ مخ - دوهم لوست
د ضرب ليکلی شکل د حاصل سره

۱. ذهني روزنه:

- د دوو عددونو منځنی عدد پيدا کول
* بنوونکی دوه عددونه وايي.
لکه ۵-۷، ۶-۱۰، ۹-۱۳، ۱۶-۲۰
۱۰۰-۱۴۰، ۵۰-۱۵۰، ۱۰۰۰-۳۰۰۰، ۸۰۰۰-۱۰۰۰۰
* زده کوونکي هرځل د هغو منځنی عدد وايي لکه ۶، ۸، ۱۱، ۱۸، ۱۱۰، ۱۰۰، ۲۰۰۰ او داسي نور.

۲. تکرار:

- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه

۳. د ضرب ليکلی شکل د حاصل سره:

د ۷۹ مخ په ② مشق باندې کار کول

* زده کوونکي موضوع (کار) مطالعه کوي د ملکري سره هره جمله د ضرب د سوال په شکل کې د مربوط قدم سره ارتباط ورکوي.
* بنوونکی د سوال شکل لکه څنګه چې لاندې بوډل شوی دی په توره تخته رسموي

	نيويز	سليز	لسيز
	۳		۶
×	۴		
+			

* زده کوونکي په لوړ آواز جملې ببلې ببلې لولي.
* زده کوونکي هرځل مربوط عدد ونه (د حل برخې) د شکل په صحيح ځايونو کې په توره تخته ليکي (بنوونکی مرسته او لارښوونه کوي). بنکل په توره تخته داسې بنکاري:

	نيويز	لسيز	سليز
	۳	۶	
×	۴		
۳×۴ ←	۲	۱	
۶۰×۴ ← +	۰	۴	۲
۲۴۰+۱۲	۲	۵	۲

- په همدې طريقه لاندې سوال په توره تخته حلول

	نيويز	لسيز	سليز
	۵	۳	
×	۶		
+			

- د ۷۹ مخ په ③ مشق باندې په انفرادي ډول کار کول (ټولګی اصلاح کول)
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول
- د ۷۹ مخ د ③ مشق لومړنۍ ۶ سوالونه به شکل کې په توره تخته حلول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

د ۷۹ مخ د ③ مشق پاتې ۴ سوالونه

۸۰

د لیکلي ضرب لنډ شکل :



د ضرب په لنډ شکل کې داسې عمل کوو

۱. لومړی ۷ × ۶ ویښزونه = ۴۲ ویښزونه ، ضربیور چې ۲ ویښزونه د ویښزونو لاندې او ② په دایره کې د لسیزونو د پاسه لیکو .

۲. بیا ۷ × ۳ لسیزونه = ۲۱ لسیزونه ، ضربیور او ② لسیزونه + ۲۱ لسیزونه = ۲۵ لسیزونه ، جمع کوو چې ۵ د لسیزونو لاندې او ② په دایره کې د سلیزونو د پاسه لیکو .

۳. ورپسې ۷ × ۴ سلیزونه = ۲۸ سلیزونه ، ضربیور او ② سلیزونه + ۲۸ سلیزونه = ۳۰ سلیزونه ، جمع کوو بیا صفر (۰) د سلیزونو لاندې او ۳ د زریز په خانه کې لیکو .

② لاندې سوالونه د مثال په شان حل کړئ .

③ لاندې سوالونه د مثال په شان په لنډه طریقه حل کړئ

مثال : ۹ × ۸ = ۷۲

۷۰۳ × ۵ = ۳۵۱۵

۲۱۳ × ۶ = ۱۲۷۸

۲۱۵ × ۹ = ۱۹۳۵

۱۷۶ × ۴ = ۷۰۴

۳۲۸ × ۳ = ۱۰۴۴

۹۳۱ × ۷ = ۶۵۱۷

۲۱۵ × ۹ = ۱۹۳۵

۱۷۵۸ × ۴ = ۷۰۳۲

۸۰ مخ ـ لومړی لوست

د لیکلي ضرب د لنډ شکل معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

ـ ضرب د جمع سره او ضرب د تفریق سره ، لکه :

۳ × ۶ + ۲ =	۴ × ۵ − ۱۰ =
۲ × ۴ + ۷ =	۹ × ۷ − ۳ =
۹ × ۵ + ۱۰ =	۷ × ۴ − ۸ =
۷ × ۱۰ + ۱۲ =	۸ × ۶ − ۶ =
۸ × ۷ + ۴ =	۳ × ۹ − ۱۷ =
۱۰ × ۸ + ۲ =	۵ × ۳ − ۱۰ =

او داسې نور .

۲. تکرار :

ـ د کورنۍ کارکتنه او مقایسه

۳. د لیکلي ضرب د لنډ شکل معرفي :

ـ د ۸۰ مخ په ① مشق کارکول

* زده کوونکي موضوع مطالعه کوي ، د لیکلي ضرب اوږد او لنډ شکل سره مقایسه کوي او هره جمله د لیکلي ضرب لنډ شکل مربوط قدم سره مقایسه کوي .
* ښوونکی په همدې وخت کې د ضرب د سوالونو دوارو شکلونه په تور تختله لیکي (د کتاب څخه دې پې نقل کړي) .
* زده کوونکي د اوږده شکل په مرسته لنډ شکل تشریح کوي (ښوونکی مرسته کوي)
* زده کوونکي هره جمله ببله ببله لولي ، د هغه مربوط قدم د تورې تختې په لنډ شکل کې پیدا او ښیي .

ـ په همدې توګه لاندې سوالونه په تور تختله حلول لکه :



ـ د ۸۰ مخ په ② مشق د ملکرې سره کارکول

* لنډ شکل د اوږده شکل په مرسته تشریح کول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنۍ کار :

ـ لاندې سوالونه پرازې په لنډ شکل کې کتابچو کې حلول :

۴۵۱ × ۶ = ۲۷۰۶

۷۹۳ × ۵ = ۳۹۶۵

۴۸۰ × ۹ = ۴۳۲۰

۸۰ مخ - دوهم لوست
د لیکلي ضرب د لنډ شکل تمرین

۱. ذهني روزنه :

- د دوو عددونو ترمنځ د منځني عدد پیدا کول

* ښوونکی د عددونو لاندنی جوړې ببلي، ببلي وایي :

۱۰ــ۲۰ ، ۲۰۰ــ۳۰۰ ، ۶۰ــ۴۰ ، ۵۰۰ــ۱۵۰۰
۲۵ــ ۲۵ ، ۰ــ۱۰۰۰ ، ۱۰۰۰ــ۹۰۰۰ ، ۲۰۰۰ــ۵۰۰۰
۱ــ۳ ، ۱۶ــ۱۴

* زده کوونکي د دواړو عددونو د جمع کولو او مجموعه یې په ۲ باندې په تقسیمولو سره د دواړو عددونو ترمنځ منځنی عدد پیدا کوي.

یعنې: ۱۵ ، ۲۵۰ ، ۵۰ ، ۱۰۰۰ ، ۲۵ ، ۵۰۰ ، ۵۰۰۰ ، ۳۵۰۰ ، ۲ ، ۱۵ او داسې نور .

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د لیکلي ضرب د لنډ شکل تمرین :

- ښوونکی د ضرب ځینې سوالونه په تور تخته لیکي. نوی سوال باید د منځنیو سوال د حلولو څخه وروسته وښیل شي لکه :

ویښ	لسیز	سلیز	زرګونه
۶	۳	۷	
۴			×

ویښ	لسیز	سلیز	زرګونه
۳	۲	۸	
۶			×

ویښ	لسیز	سلیز	زرګونه
۹	۵	۳	
۸			×

ویښ	لسیز	سلیز	زرګونه
۴	۰	۵	
۹			×

او داسې نور.

* زده کوونکي یې یو په بل پسې په تور تخته حلوي .
* نور زده کوونکي سوالونه په خپلو کتابچو کې لیکي .
- د ۸۰ مخ د ③ مشق د ضرب سوالونه د مثال په شان ملګري سره حلول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار :

لاندنې سوالونه په خپلو کتابچو کې حلول

۹۸۷	۲۸	۲۰۰
× ۴	× ۵	× ۹

۲. تکرار :

– لاندې سوالونه په توره تخته ببل، ببل حلول

۳۵۴	۲۰۶	۹۶۴
× ۸	× ۵	× ۳

– د کورنۍ کارکتنه او مقایسه کول

۳. د تقسیم د لیکلي شکل معرفي کول :

– د ۸۱ مخ په ① مشق باندې کارکول

* بنوونکی یوځل موضوع (کار) تشریح کوي.
* زده کوونکي موضوع (کار) په کتاب کې مطالعه اود ملګري سره یې بحث کوي.
* د مثال د مربوطه شکل سره د جملو ارتباط ورکول، او پیدا کول چې جملې د هرشکل په څنګ خط لیکل شوي عددونو سره ارتباط لري، لومړی ۴ سلیزونه په ۲ تقسیم شوي او ۲ سلیزونه حاصل شوي، بیا ۲ لسیزونه په ۲ تقسیم شوي او ۱ لسیز حاصل شوی، وروسته ۶ یویزونه په ۲ تقسیم شوي او ۳ یویزونه تر لاسه شوي دي. خوابونه هرځل د تقسیم د علامې دپاسه په مربوط ستون کې لیکل شوي دي.


۸۱
د تقسیم لیکلی شکل
① تاسې په اسانۍ سره ۲ × ۳ = □ لیکلای او حلولای شئ.
د تقسیم مشکل سوالونه په بله طریقه لیکو او حلوو.
دا علامه (⟌) هم د + په شان د تقسیم علامه ده.
لکه ۲ ⟌ ۴۲۶ داسې ۲ ⟌ ۴۲۶ لیکلای شو.
مثال: ۲ ⟌ ۴۲۶ په دریو قدمونو کې تقسیم کیدای شي.
② لاندې سوالونه په دریو قدمونو کې د مثال په شان حل کړئ.
③ لاندې سوالونه د مثال په شان په بیوه شکل کې حل کړئ.
مثال:

۸۱ مخ - لومړی لوست
د تقسیم د لیکلي شکل معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

– د دوو عددونو د حاصل ضرب نیمایي پیدا کول

* بنوونکی د عددونو لاندنۍ جوړې ببلي، ببلي وایي : ۴–۵، ۵–۱۰، ۱۰–۸، ۵–۶، ۳–۱، ۲–۹، ۴–۳
* زده کوونکي دهرې جوړې عددونه سره ضربوي او بیا یې په ۲ تقسیموي. یعنې :

۴ × ۵ ÷ ۲ = ۱۰
۵ × ۱۰ ÷ ۲ = ۲۵
۱۰ × ۱۰ ÷ ۲ = ۵۰

او داسې نور.

* زده کوونکي د مثال قدمونه ببل، ببل تشریح او په توره تخته یې حلوي.
* په همدې طریقه د نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول لکه :



(په بل مخ کې یې وګورئ !)

۳. د تقسیم د لیکلي شکل تمرین (د اړولو څخه پرته) :

- د تقسیم د لیکلي شکل عملي بڼودنه

* بڼوونکی د تقسیم د یوه سوال شکل په توره تخته رسموي او د هغه په اندازه کاڼي (۴ د لسو کاڼو کڅوړې او ۶ نور کاڼي) پر میز ږدي او دوه تنه زده‌کوونکي د تولګي مخې ته راغواړي .

* بڼوونکی یوه بل زده‌کوونکي ته لارښوونه کوي چې لومړی د ۱۰ کاڼو کڅوړې او بیا نور ۶ کاڼي پر ۲ زده‌کوونکو ووېشي .

* یو زده‌کوونکی عددي قصه وایي او سوال په توره تخته حلوي .

توره تخته :



د میز مخ :



* په همدې طریقه د نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول









- د ۸۱ مخ د ۲ مشق په لومړي سوال کار کول

۴. په تولګي کې د پېښې خولې کار/کورنی کار :

د ۸۱ مخ د ۲ مشق د دوهم سوال حلول

۸۱ مخ - دوهم لوست

د تقسیم د لیکلي شکل تمرین (د اړولو څخه پرته)

درسي معاونات : د ۱۰ کاڼو ۱۰ کڅوړې ، د ۱۰ کاڼو ۱۰ کڅوړې او ۱۰ نور کاڼي .

۱. ذهني روزنه :

- د دوو عددونو منځنی عدد پیدا کول

* بڼوونکی د عددونو لاندې جوړې ېلې ېلې وایي

۱۵ــ۱۵ ، ۱۰۰ــ۳۰۰ ، ۹۰ــ۱۰ ، ۵۰۰ــ۳۵۰۰
۱۰۰ــ۱۰۰ ، ۲۰۰۰ــ۰ ، ۱۰۰۰ــ۹۰۰۰
۲۵۰۰ــ۱۵۰۰ ، ۱ــ۵ ، ۱۷ــ۱۳

* زده کوونکي د هرې جوړې د حاصل جمع نیمایي لومړی د عددونو په جمع کولو او بیا یې په ۲ باندې د تقسیمولو په واسطه پیدا کوي یعنې : ۱۵، ۲۰، ۵۰، ۲۰۰، ۱۰۰، ۱۰۰۰، ۵۰۰۰، ۲۰۰۰، ۳، ۱۵

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح کول
- د ۷۴ مخ ۱ ۲ او ۳ مشق مطالعه پرې بحث کول او خپلې هندسي شکلونه په توره تخته رسمول (بڼوونکی مرسته کوي)

- بنوونکی لاندنی د تقسیم د سوال شکل په توره تخته لیکي او د عددونو مطابق کانې پر میز بردي (۴ د ۱۰۰ کانو کڅوړې ، ۲ د ۱۰ کانو کڅوړې او ۶ کانې) او دوه زده کوونکي ځنې ته راغواړي .

* بنوونکی دوو زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې لومړی ۴ د ۱۰۰ کانو کڅوړې ، بیا ۲ د ۱۰ کانو کڅوړې او وروسته ۶ کانې وویشي . نوځکه ځوابوونکي به یوه اندازه کانې ولري .

* یو زده کوونکی عددي قصه وایي او سوال په توره تخته حلوي .

میز:



توره تخته :

	سلیز	لسیز	لویز
	۲	۱	۳
۲	۴	۲	۶

	سلیز	لسیز	لویز
۲	۴	۲	۶

* په همدې طریقه د نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول



	سلیز	لسیز	لویز
۳	۳	۶	۹



	سلیز	لسیز	لویز
۴	۴	۸	۸

- د ۸۱ مخ په ③ مشق کار کول
* ۴ لومړني سوالونه د ملګري سره حلول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
* په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۸۱ مخ ③ مشق ، پاڼې ۴ سوالونه

۸۲

د تقسیم د هغو سوالونو حلول چې هر رقم یې بېل بېل ته تقسیمیږي :

① مثال: ۴ | ۱۲۸

۱. اسلیز په ۴ نه تقسیمیږي نو باید لومړی هغه په لسیزونو بدل کړو راځي . اوس ۳ لسیزونه + ۲ = ۵ لسیزونه

۲. له بدلولو څخه وروسته ۱۰ لسیزونه + ۲ لسیزونه = ۱۲ لسیزونه لاس ته راځي . اوس ۱۲ لسیزونه ÷ ۴ = ۳ لسیزونه

۳. ۸ ÷ ۴ = ۲ یونیزونه

۲ یونیزونه

② لاندې سوالونه حل کړئ :

۴ | ۴۸۶ = ۱۲۱	۶ | ۱۸۶ = ۳۱	۸ | ۳۲۰ = ۴۰	۳ | ۷۷۶ = ۲۵۹
۵ | ۳۵۵ = ۷۱	۷ | ۴۹۷ = ۷۱	۵ | ۳۵۰ = ۷۰	۴ | ۱۶۸ = ۴۲

۶۱ ۷۱ ۴ ۴۲۱ ۷۴۳ ۷۱ ۳۱ ۹۲

③ مثال: ۶ | ۲۴۱۸

۱۸ یونیزونه ÷ ۶ = ۳ یونیزونه

۲۴ سلیزونه ÷ ۶ = ۴ سلیزونه

۲ لسیزونه ÷ ۶ = ۰ لسیزونه

نو ځکه ۴۰۳ ځله ۶ ته تقسیمیږي

لاندې سوالونه د مثال په شان په خپل شکل کې حل کړئ :

۴ | ۸۰۲ = ۲۰۱	۵ | ۵۰۵ = ۱۰۱	۸ | ۳۲۳۲ = ۴۰۴	۲ | ۲۱۴ = ۱۰۷
۷ | ۴۹۲۱ = ۷۰۳	۲ | ۲۱۶ = ۱۰۸	۴ | ۱۲۳۶ = ۳۰۹	۶ | ۴۸۱۲ = ۸۰۲

۲۰۵ ۳۰۴ ۱۰۳ ۶۰۷

۸۰۲ ۳۰۹ ۷۰۳ ۱۰۸

۸۲ مخ ـ لومړی لوست

د هغو عددونو تقسیم چې یو رقم یې په یوازې دول د باقي څخه پرته نه شي تقسیمېدلای (لکه ۱۲۸ ÷ ۴)

درسي معاونات :

په یوه لوبه کڅوړه کې د ۱۰ کانو ۱۰ کڅوړې د ۱۰ کانو ۲ کڅوړې ، نور کانې

۱. ذهني روزنه :

- د ۲۲ مخ د دوهم لوست په شان د ځنځیرې سوالونو سره کار کول

۵۰۰۰ − ۲۰۰۰ − ۱۰۰۰ + ۴۰۰۰ =

۹۰۰ + ۱۰۰ − ۵۰۰ − ۵۰۰ =

۸۰ + ۲۰ − ۶۰ − ۴۰ =

۶ × ۸ − ۸ + ۶۰ =

۹۰ ÷ ۹ + ۱۰ + ۲۰ = اوداسې نور.

۲. تکرار :

- د ۸۱ مخ د ③ مشق د وروستیو څلورو سوالونو په توره تخته حلول
- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د هغو عددونو تقسیم چې یو رقم یې په یوازې ډول د باقي څخه پرته نه سي تقسیمېدلای (لکه ۱۲۸÷۴) :

- ښوونکی د ۱۰ کانو یوه کڅوړه او ۲ نور کانې پر میز باندې بردي ، دې ټنه زده کوونکي مخې ته راغواړي او د تقسیم د سوال شکل په توره تخته لیکي :

میز : توره دره: یوینټ | لسیز
۱۰ | ۳ | ۱ | ۲

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کانې په درېواړو زده کوونکو باندې په مساوي ډول ووېشي .
* زده کوونکي بحث کوي او وایي چې مونږ د ۱۰ کانو یوه کڅوړه په ۳ نفرو نه شو وېشلی نو ځکه باید د ۱۰ کانو کڅوړه خلاصه او د نورو کانو سره یې یوځای کړو . اوس مونږ په ۳ باندې د تقسیمولو د پاره پوره کانې لرو .
* زده کوونکي کانې د ۳ زده کوونکو په منځ کې په مساوي ډول وېشي . هر زده کوونکی به ۴ کانې (= یوینټونه) ولري .
* ښوونکی زده کوونکو ته لاربښونه کوي چې ځواب (۴) د یوینټونو په ستون کې ولیکي ځکه چې ببل، ببل کانې مو وېشلي دي .

یوینټ | لسیز
۶ | ۲ | ۴

- ښوونکی د ۱۰۰ کانو یوه کڅوړه (چې د ۱۰ کانو ۱۰ کڅوړې لري) ، د ۱۰ کانو ۲ کڅوړې او ۸ کانې پر میز باندې وړدي . څلور زده کوونکي مخې ته راغواړي اود تقسیم د سوال شکل په توره تخته رسموي .



* زده کوونکي بحث کوي او وایي چې د ۱۰۰ کانو یوه کڅوړه په ۴ زده کوونکو نه شو وېشلای نو ځکه د ۱۰۰ کانو کڅوړه (د ۱۰ کانو ۱۰ کڅوړې) باید خلاصه کړو اوس د ۱۰ کانو ټولې ۱۲ کڅوړې لرو او ۱۲ د ۱۰ کانو کڅوړې په ۴ زده کوونکو وېشو . هر یو به ۳ کڅوړې ترلاسه کړي او ځواب (۳) د لسیز د ستون د پاسه لیکو ځکه چې د ۱۰ کانو کڅوړې مو وېشلې دي . نور ۸ کانې پاتې دي چې په ۴ زده کوونکو یې وېشلای شو . ځواب به ۲ وي او د یوینټونو د ستون د پاسه یې لیکو .
* زده کوونکي وایي د څلورو واړو زده کوونکو څخه هر یوه ۳۲ کانې ترلاسه کړي دي .
- د ۸۲ مخ په ① مشق باندې کار کول
* زده کوونکی موضوع مطالعه کوي .
* په لوړ آواز د جملې لوستل او د رسم شوې شکل د مربوط عدد په ښکېنه کول (ښودل)
- د ۸۲ مخ په ② مشق باندې کار کول
* دوه لومړني سوالونه ببل، ببل په توره تخته حلول
* نور ۳ سوالونه د ملګري سره حلول (ښوونکی یې کوري)
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۸۲ مخ د ④ مشق پاتې ۳ سوالونه

۸۲ مخ - دوهم لوست

د تقسیم د هغو سوالونو حلول چې څو رقمونه یې د باقي څخه پرته نه تقسیمېږي

۱. **ذهني روزنه :**

- د ۸۰ مخ د لومړي لوست په شان عددي لوبه

۲. **تکرار :**

- د ۸۲ مخ د ④ مشق وروستي ۳ سوالونه (کورنی کار) په توره تخته حلول
- د کورني کار کتنه او اصلاح

۳. **د تقسیم د هغو سوالونو حلول چې څو رقمونه یې د باقي څخه پرته نه تقسیمېږي :**

- د ۸۲ مخ د ③ مشق مثال حلول
* زده کوونکي مثال مطالعه کوي .
* ښوونکی د مثال رسم شوي شکلونه قدم په قدم په توره تخته رسموي .
* زده کوونکي د مثال د هر شکل فعالیتونه لکه څنګه چې رسم شوي دي د لیکل شوي مرېوطي جملې په مرسته تشریح کوي .



* زده کوونکي وړیسې مثال مطالعه کوي - یو زده کوونکی تشریح کوي چې : ۱ زرېز په ۲ نه تقسیمېږي نو هغه په ۱۰ سلګونو بدل شوی دی چې ټول ۱۲ سلګونه کېږي ، په ۲ تقسیمېدای شي او ۶ سلګونه ترلاسه کېږي چې د سلیزو د خانې دپاسه لیکل شوي دي . همدارنګه ۱ لسیز هم په ۲ نه تقسیمېږي ، ځکه یې ځواب "۰" حاصل کړ او د لسیزونو د خانې دپاسه یې لیکلی دی ، نو باید ۱ لسیز په یویزونو بدل کړي ، ترهغه وروسته ترلاسه شوي ۱۴ یویزونه په ۲ تقسیم شوي او ۷ یویزونه حاصل شوي چې د یویز د خانې دپاسه لیکل شوي دي .
* زده کوونکي وایي کله چې ۱۲۴ په ۲ تقسیم شي نو هر یوه نه ۶۰۷ رسېږي .

- د ۸۲ مخ د ③ مشق وروستي ۳ سوالونه په همدې طریقه په توره تخته باندې حلول
* د مشق ۲ نور سوالونه د ملګري سره حلول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه ګول

۴. **په ټولګي کې دېښې خولې کار / کورنی کار :**

د ۸۲ مخ د ② مشق پاتې دوه سوالونه

* زده کوونکي هرځل دغه عـدد د ۵۰۰ سره جمع کوي او حُواب وايي. يعني ۸۰۰

۲. تکرار :

- د کورني کار کتنه او اصلاح

۳. د هغو عددونو تقسيم چې پوره د تقسيمېدو ورنه دي :

(تقسيم چې باقي ولري) :

- د باقي سره تقسيم په عملي توګه ښودل

* ښوونکی ۷ کتابونه پر مېز ږدي او ۲ زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او د تقسيم لانديني مساوات په تخته داسې ليکي :

۷ ÷ ۲ = ☐ او ☐ باقي

* ښوونکی د يوه بل زده کوونکي څخه غوښتنه کوي چې د کتابونه د دوو زده کوونکو په منځ کې په مساوي توګه وويشي .

* زده کوونکي کتابونه وېشي او پيدا کوي چې هر زده کوونکي ۳ کتابونه ترلاسه کړل خو يو کتاب پاتې شو چې په دوو زده کوونکو يې نه شو وېشلی. حُوابونه په خالي خانو کې ليکل يعني :

۷ ÷ ۲ = ☐۳☐ او ☐۱☐ باقي

* په همدې طريقه ۸ کتابونه په ۳ زده کوونکو وېشل او مربوط مساوات په تخته ليکل يعني :

۸ ÷ ۲ = ☐ او ☐ باقي

- ښوونکی کروپونه جوړوي او هر کروپ ته ۱۰۰ کاڼي (د ۱۰۰ کاڼو يوه کڅوړه) ورکوي .

* ښوونکی د باقي لرونکي تقسيم مختلف سوالونه په تخته تخته يو په بل پسې ليکي (عدد ونه بايد تر ۱۰۰ کوچني وي) .

لکه : ۲۱ ÷ ۴ = ☐ او ☐ باقي

۲۵ ÷ ۶ = ☐ او ☐ باقي

۱۷ ÷ ۵ = ☐ او ☐ باقي

۵۵ ÷ ۷ = ☐ او ☐ باقي

۷۹ ÷ ۹ = ☐ او ☐ باقي - اوداسې نور.

۸۳

تقسيم چې باقي ولري

① ځيني عددونه پيره نه تقسيمېږي لکه

لومړی مثال : دوهم مثال :

۹ ÷ ۲ = ۴ او ۱ باقي

۱۱ ÷ ۳ = ☐ او ☐ باقي

د تقسيم په پيرو سوالونو کې باقي پاتې کېږي يعني تر اوسه يې تقسيمولای نه شو.

لاندې سوالونه حل او خالي خانې ډک کړئ :

۲۳ ÷ ۵ = ☐ او ☐	باقي	۹ ÷ ۷ = ☐ او ☐	باقي
۲۶ ÷ ۴ = ☐ او ☐	باقي	۱۵ ÷ ۴ = ☐ او ☐	باقي
۳۷ ÷ ۸ = ☐ او ☐	باقي	۷ ÷ ۳ = ☐ او ☐	باقي
۵۱ ÷ ۶ = ☐ او ☐	باقي	۲۹ ÷ ۶ = ☐ او ☐	باقي

② د تقسيم په ليکلو شکل کې په لاندې طريقه عمل کوو :

۱. ۵ سليز ÷ ۲ = ۲ سليز او ۱ باقي

۲. ۲ سليز × ۲ = ۴ سليز ونه

۳ = ۵ سليز ونې لاندې ليکو

۵ - ۳ سليز ونه - ۲ سليز ونه

۱ سليز باقي

③ لاندې سوالونه د مثال په شان په ډبو شکل کې حل کړئ :

۸۳ مخ - لومړی لوست

د هغو عددونو تقسيم چې پوره د تقسيمېدو ورنه دي (تقسيم چې باقي ولري)

درسي معاونات : کتابونه ، د ۱۰۰ کاڼو ځوکڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دايرې سره کار کول

* ښوونکی څېنې عددونه (ځمونږ ګله چې ښودل شوي دي) په تخته تخته ليکي او هرځل د دايرې د منځ مختلف عددونو ته اشاره کوي لکه ۳۰۰

☐ = ۵۰۰ +



- د ۷ مخ په ⑦ مشق کار کول
* په لومړني سوال باندې يوځای کار کول
* زده کوونکي به پاتې سوالونه خپله خپله حل کړي .
* کتنه او مقايسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۷ مخ ⑧ مشق

۷ مخ - دوهم لوست

په ستونونو کې د جمع او تفريق مشق

ذهني روزنه :

- د ۱۰۰ په شاوخوا په پوره لسيزونو کې حساب کول
* ښوونکی لاندې عددونه صفا په تخته ليکي .
۱۴۰، ۱۳۰، ۱۲۰، ۱۱۰، (۱۰۰)، ۹۰، ۸۰، ۷۰، ۶۰، ۵۰
* ښوونکی کار تشريح کوي چې هغه هرځل دوه عددونه ته يو پر بل پسې اشاره کوي . زده کوونکي بايد حلوي کړي چې د لومړي عدد سره څومره بايد جمع او يا وتړنه تفريق شي تر څو دوهم عدد ته ورسېږو .
* ۱۰۰ ته رسېدل :
ښوونکی اول ۸۰ او بيا ۱۰۰ ته اشاره کوي، زده کوونکي مربوطه عدد پيدا کوي (+ ۲۰) او داسې نور .
ښوونکی اول ۱۳۰ او بيا ۱۰۰ ته اشاره کوي زده کوونکي (- ۳۰) مومي او داسې نور .
* د ۱۰۰ څخه اوښتل :
ښوونکی د ساري په توګه اول ۹۰ بيا ۱۱۰ ته اشاره کوي ، زده کوونکي وايي (+ ۲۰) او داسې نور .
ښوونکی د مثال په توګه او ۱۲۰ او بيا ۹۰ ته اشاره کوي ، زده کوونکی (- ۳۰) پيدا کوي او داسې نور .

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه

۳. د عبارتي سوال حلول د جمع او تفريق په واسطه :

- ښوونکی دوه عددونه لکه ۱۴۳ او ۳۵۶ په توره تخته ليکي او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د دې عددونو د پاره عددي قصې جوړې کړي . يو يو زده کوونکی خپله عددي قصه وايي ، نور زده کوونکي غوږ ونيسي او بحث پرې کوي .
* ښوونکی په توره تخته خپله عددي قصه ليکي : "په ... (د کلي نوم به ښوونکی خوښوي) کلي کې دوه ښوونځي دي، يو يې ۱۴۳ او بل يې ۳۵۶ زده کوونکي لري ."
* زده کوونکي به پوښتنې جوړوي لکه :
الف : هلته ټول څو تنه زده کوونکي دي ؟
ب : په کوچنۍ ښوونځي کې څو تنه زده کوونکي د هغه بل څخه لږ دي ؟
* ښوونکی زده کوونکي رهنمايي کوي چې دواړه عملې پيدا ، سوالونه يې حل او ځوابونه يې تشريح کړي :

الف : ۱۴۳ + ۳۵۶

ب : ۳۵۶ - ۱۴۳

- د جمع او تفريق مشق
* ښوونکی لاندې عددونه په توره تخته داسې ليکي :

ځوابونه
۷۸۶
۳۳۱
۶۸۸
۲۴۱
۱۴۴
۵۹۹

۴۶۵

۳۲۱ ± ۱۳۴ ± ۲۲۳

* په توره تخته د دوو سوالونو حلول :

۴۶۵ + ۳۲۱

۴۶۵ - ۳۲۱

* زده کوونکي په پټه خوله سوالونه حلوي او خپل ځوابونه د ځوابونو په بکسه کې پيدا کوي .

۴ په ټولګي کې په پټه خوله کار کول / کورنی کار :

نه لري .

* د رڼه کوونکو ګروپونه هرځل د کانو مربوط تعداد په ورکړل شوي تعداد رڼه کوونکو په عملي ډول وېشي خوابونه پیدا کوي او خالي خانې په تورو تخته ډکوي - یعنې :

الف: عملي کړنې کار



ب: تورو تخته ۲۱ ÷ ۴ = □ او □

او داسې نور.

* زده کوونکي هره عددي قصه جوړوي او تولې عملیه لولي.

- د ۸۳ مخ په ① مشق کار کول
* د لومړۍ مثال مطالعه کول او د ملګري سره پرېک بحث کول
* په دوهم مثال په انفرادي توګه کار کول (ملګري کوري او اصلاح کوي)
* د ۸۳ مخ ① مشق لومړني ۴ سوالونه حلول
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په تولګي کې د پېښې خولې کار/کورنی کار :

۸۳ مخ ، ① مشق (پاتې ۴ سوالونه)

۸۳ مخ - دوهم لوست

د لیکلي تقسیم د تفصیلي شکل معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

- عددي دایرو سره کار کول
* ښوونکی ځینې عددونه په تورو تختې همداسې لیکي او د دایرې مختلفو عددونو ته ببله، ببله اشاره کوي، لکه ۹۰۰

۵۰۰۰ —

* رڼه کوونکي هرځل اشاره شوی عدد د ۵۰۰۰ څخه تفریقوي او ځواب وایي (یعنې ۴۱۰۰)

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح
- د ۴ مخ د ① مشق مطالعه او پرې بحث کول

۳. د لیکلي تقسیم د تفصیلي شکل معرفي کول :

- د یو رقمي عدد د تقسیم دپاره د تفصیلي شکل استعمال
* ښوونکی د لیکلي تقسیم د سوال د قدمونو شکلونه په تورو تختو ببل، ببل رسموي.
* ښوونکی هرځل د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې مربوط نوې عملیه (چې نوې لیکل شوې ده) پیدا او ووایي.

تورو تختو داسې ښکاري :

ښوونکی:



زده کوونکي: ۸ تقسیم ۲=۴ ، ۴ ځلې ۲=۸ ، ۸ منفي ۸=۰ .

بیاوزل چې ۸ تقسیم په ۲ میاشتو کې دي ۴ سره او باقي نه لري.

* په همدې طریقه د لاندنیو سوالونو سره کار کول



- د دوه رقمي عدد د تقسیم دپاره د تفصیلي شکل استعمال
* ښوونکی د لیکلي تقسیم د سوال د قدمونو شکلونه قدم په قدم په تورو تختو لیکي.
* زده کوونکي هرځل مربوط نوې عملیه (چې نوې لیکل شوې ده) پیدا او وایي.

(په بل مخ کې پرې وکورئ!)

ښوونکی :



زده‌کوونکي : ۲ تقسیم ۲ = ۱ ، ځلي ۲ = ۲ ، ۲ منفي ۲ = ۰



زده‌کوونکي : ۸ تقسیم ۲ = ۴ ، ۴ ځلي ۲ = ۸ ، ۸ منفي ۸ = ۰

بیانول‌چې ۲۸ تقسیم په ۲ مساوي کېږي د ۴ سره او باقي نه لري.

* په همدې طریقه د لاندې ښیو سوالونو سره کارته دوام ورکول



۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنی کار :

ښوونکی لاندې سوالونه په تخته لیکي.



* زده‌کوونکي یې په کتابچو کې لیکي او حلوي یې.

۸۳ مخ - دریم لوست

د درې او څلور رقمي عددونو د لیکلي تفصیلي تقسیم معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دایرو سره کار کول

* ښوونکی لاندې عددونه په دایره کې داسې په تخته درج لیکي او بهرنۍ عددونو ته ببل ببل اشاره کوي کله: ۹ یا ۴ او داسې نور.



* زده‌کوونکي هرځل اشاره شوی عدد د دوو نورو مربوطه عددونو سره ضربوي اوځواب وایي. یعنې :

۹ × ۱ × ۲ = ۱۸

۴ × ۲ × ۲ = ۱۶ او داسې نور.

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار سوالونه ببل، ببل په تخته حلول
- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح

۳. د درې او څلور رقمي عددونو د لیکلي تفصیلي تقسیم معرفي کول :

- د ۸۳ مخ په ۱ مشق باندې کار کول
* زده‌کوونکي مشق مطالعه کوي او د ملګري سره پرې بحث کوي.
* کله چې زده‌کوونکي مطالعه کوي، ښوونکی د مشق درېوارو شکلونه دکتاب په شان په تخته درې رسموي.
* مختلف زده‌کوونکي د ۲ مشق مربوطې جملې په مرسته هرشکل داسې تشریح کوي.

یوزده‌کوونکی د مشق مربوطه جملې په لوړ آواز لولي.

بل زده‌کوونکی د هغې جملې مربوطه عملیه په مربوط شکل کې په تخته تخته ښیي.

- د ۸۳ مخ په ۲ مشق کار کول
* د مثال مطالعه او د ملګري سره پرې بحث کول
* ښوونکی د مثال سوال په تخته تخت لیکي، زده‌کوونکي یې قدم په قدم حلوي.
* په همدې طریقه دوهم سوال په تخته تخته حلول
* دریم سوال د ملګرې سره حلول

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنی کار :

۸۳ مخ ، ۳ مشق ، وروستی سوال

حُواب (۱) وايي :

۱۶ ÷ ۸ ÷ ۲ = ۱ او داسې نور.



۲. تکرار :

- د ۶۰ مخ د ۳ او ۴ مشق مطالعه کول

۳. د تقسیم تمرین :

- د ۸۴ مخ د ۱ مشق د سوالونو حلول
* د مثال مطالعه کول اود ملکرې سره يې تشريح کول
* يو زده کوونکی مثال په تخته حلوي او تشريح کوي .
* زده کوونکي لومړني ۳ سوالونه ببل ، ببل په تخته حلوي .
* پاتې ۳ سوالونه په کتابچو کې حلول (ښوونکی گوري او اصلاح کوي)
* په لوړ آواز د حُوابونو لوستل او مقايسه کول
- د ۸۴ مخ په ۲ مشق کار کول
* زده کوونکي مثال مطالعه کوي ، تشريح کوي او حُواب په لوړ آواز لولي .
* يو زده کوونکی مثال په تخته حلوي او تشريح کوي يې (ښوونکی مرسته کوي) .
* لومړی سوال په شکل کې په تخته حلول
* لومړني ۲ سوالونه په کتابچو کې د ملکرې سره حلول (ښوونکی مرسته کوي)
* په لوړ آواز د حُوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

۸۴ مخ ، ۲ مشق ، دوه ورورستي سوالونه



۸۴ مخ - لومړی لوست

د تقسيم تمرين او د باقي لرونکو سوالونو لپاره د تقسيم د مفصل شکل استعمال

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دايرو سره کار کول
* ښوونکی لاندني عددونه (که خپلګه چې ښودل شوي دي) په دايرو کې پر تخته ليکي او د خارجي دايرې څخه يوه عدد ته اشاره کوي . لکه : ۱۶
* زده کوونکي هر حُل ښودل شوی عدد په مربوطه کاونډي عدد (۸) باندې تقسيموي او بيا حُواب (۲) يعنې حاصل تقسيم په منځنۍ عدد (۲) باندې تقسيموي او (دهدې مخ دوهم کتار وګورئ !)

۸۴ مخ ـ دوهم لوست

د باقي لرونکو عددونو د تقسیم تمرین او د پوره سلیزونو تقسیمول

۱. ذهني روزنه :

ـ په یوه عدد کې د یویزونو، لسیزونو، سلیزونو او زرزونو د تعداد پیدا کول

ښوونکی په توره تخته لیکي لکه : ۷۳۵۴

* زده کوونکي پیدا کوي او وایي چې په دې عدد کې ۴ ، ۵۰ ، ۳۰۰ او ۷۰۰۰ دي .
* د تجزیې لپاره نور عددونه ۳۹۰۲ ، ۴۹۶ ، ۱۰۱۳ ، ۹۹۹۹ او داسې نور .

۲. تکرار :

ـ د ۸۴ مخ د ۲ مشق وروستی سوال (کورنی کار) په شکل کې په توره تخته حلول
ـ د کورني کار کتنه او مقایسه

۳. د باقي لرونکو عددونو د تقسیم تمرین او د پوره سلیزونو تقسیمول :

ـ د ۸۴ مخ د ۳ مشق د سوالونو حلول
* د مثال مطالعه کول او د ملګري سره یې تشریح کول
* لومړني ۴ سوالونه پر توره تخته بېل، بېل حلول
ـ د ۸۴ مخ په ۴ مشق باندې کار کول
* زده کوونکي موضوع مطالعه کوي او د ملګري سره پرې بحث کوي، په همدې وخت کې ښوونکی د ۴ مشق د ربړوړه شکلونه په توره تخته رسموي .
* څو زده کوونکي د مربوطو لیکل شویو جملو په مرسته هر شکل (د حل قدمونه) تشریح کوي .
* یو زده کوونکی د شکل پورې جملې په لوړ آواز لولي او نور زده کوونکي په شکل کې مربوطه عملیه ښیي .
* یو زده کوونکی د توري تختې په درېم شکل کې قدم عملیات ښیي او تشریح کوي .

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار / کورنی کار : د ۸۴ مخ ۳ مشق ، وروستي ۳ سوالونه

۸۵

۱ لاندې سوالونه د مثالونو په شان حل کړئ

۲ لاندې سوالونه د مثالونو په شان په غیږه کتابچو کې حل کړئ

۴ ر ۴۰۰۰	۶ ر ۸۰۰	۵ ر ۱۰۰۰	۴ ر ۲۰۰
۸ ر ۱۰۰۰	۸ ر ۷۳۰۰	۹ ر ۴۵۰۰	۴ ر ۹۰۰۰

۵۰۰ ۱۳۳ او ۲ باقي ۲۲۵۰ ۵۰۰ ۱۳۵۰ ۹۱۲ او ۴ باقي ۲۰۰

۳ لاندې سوالونه په غیږه کتابچو کې حل کړئ

۶ ر ۷۰۰۰	۴ ر ۹۴۰۰	۸ ر ۳۲۴۵	۲ ر ۶۵۰
۴ ر ۶۳۰۰	۵ ر ۹۷۴۲	۴ ر ۸۰۰۰	۸ ر ۵۹۶۳
۳ ر ۲۱۲۴	۷ ر ۲۹۶	۸ ر ۱۰۰۰۰	۲ ر ۲۷۱
۹ ر ۴۷۳۹	۹ ر ۲۹۴۲	۷ ر ۲۲۴	۵ ر ۵۷۳۰

۱۱۴۶ ۲۳۵۰ ۳۲۵ ۱۹۴۸ او ۲ باقي
۱۱۶۶ او ۴ باقي ۷۰۸۰ ۷۴۵ او ۳ باقي ۲۰۰۰
۱۳۵۰ ۵۲۶ او ۵ باقي ۳۲ ۲۹۲ او ۳ باقي
۴۰۵ او ۵ باقي ۱۸۵ او ۱ باقي ۳۲۶ او ۸ باقي ۱۵۷۵

۸۵ مخ ـ لومړی لوست

زده کوونکي د خپلو کتابونو ۸ مخ پرانېږي ، همدغه شان مشق پيدا کوي اود ۴ مشق په دوهمه برخه (بکسه) باندې په پټه خوله کار کوي او بيا حُوابونه سره مقايسه کوي .

۴. په تولګي کې په پټه خوله کار کول / کورنۍ کار :

۸ مخ ۴ مشق ، دريمه بکسه

تشریحي تبصري

د ښوونکو دا لارښود چې د افغاني مهاجرینو د ابتدايي تعليماتو د پروژې له خوا ليکل شوی دی په دريم ټولګي کې د رياضی هغو ښوونکو ته چې د کمښتۍ په کتاب کارکوي اضافي اشارې (معلومات) ورکوي . دا به د هغه د تدريس په زيات موثرولو کښې مرسته وکړي.
د لومړي او دوهم ټولګي د موادو په شان د دريم ټولګي په درسي کتاب او د ښوونکي په لارښود کې د تدريس او زده کړې خوا (جهت) د ماشوم په واسطه تاکل شوی دی . سره د دې د درسي کتاب او د لارښود په شکل کې يوځای توپير شته . په درسي کتاب کې بيلې مشق پاڼې نه شته خو ، هر مخ مشقونه شمارې لري . د دې نوي لارښود جوړښت په لاندې ډول تشريح شوی دی .

د لارښود جوړښت :

د ښوونکي لارښود د زده کوونکو د درسي کتاب (۱۰) فصلونه د هر نڅې تعقيبوي . هر فصل دهغه د موضوعاتو ، اهدافو او متودونو د لنډې پېژندنې سره شروع کېږي .
دا پېژندنه د تدريسي اشارو په ذريعه چې په درسي خاکو کې ترتيب شوې دي د ورځنۍ تدريس دپاره تعقيبېږي .
دا درسي خاکې همېشه د درسي کتاب د مخونو سره ارتباط لري او د کتاب سلسله تعقيبوي .
په حقيقت کې دلته (۱۷۸) درسونو دپاره خاکې دي چې د يوه تعليمي کال د رياضي ټول درسونه احتوا کوي .
د ښوونکي د لارښود مخونه لکه څنګه چې په لاندنيو کرافونو کې ښودل شوي ترتيب شوي دي .

I. د نوي فصل شروع :

کله چې نوی فصل شروع کېږي نو اکثر د لارښود خلاص (دوارې) مخونه داسې ښکاري .


د نوي فصل پېژندنه
د درسي کتاب د مخ کڼڅې شوی چاپ
د کتاب د مخونو لیکنه
د درسونو تعداد
د موضوعاتو، هدفونو او طریقو (متودونو) تشریح
د لومړي لوست عنوان
ضروري درسي معاونات
لومړی د درسي خاکه
(د ښي مخوا مخ)

د لومړنۍ درسي خاکې ادامه
د دوهمې درسي خاکې ادامه
د ښوونکو د یادداشتونو دپاره ځای
د دوهم لوست عنوان
درسي معاونات
دوهمه درسي خاکه
(د کیڼې خوا مخ)

۹۹

عبارتي سوالونه

۱. نورګل یو موټر په ۸۵۰۰۰ روپۍ اخیستی و او په ۹۶۲۰۰ روپۍ یې خرڅ کړ. څو روپۍ یې ګټلې دي؟

۲. په یوه لوی فارم کې ۹۷۹۵۰ د نارنجانو ونې وې، ۷۶۳۴۷ ونې یې د چمک له امله وچې شوې دي. څو ونې به جوړې پاتې وې؟

۳. د افغانستان د یوه بنار نفوس ۵۸۶۰۰ نفره وو، ۴۲۸۰۹ نفرو یې هجرت کړی دی. په بنار کې به څومره خلک پاتې وي؟

۴. د احمد د پلار معاش ۵۴۰۰ روپۍ، د احمد معاش ۲۹۸۰ روپۍ او د هغه د ورور معاش ۳۱۲۵ روپۍ دی. د ټولو معاش څومره کېږي؟

۵. د یوه جریب ځمکې قیمت ۱۸۶۰۰ روپۍ و. فاروق ۳ جریبه ځمکه اخیستې وه، څو روپۍ به یې ورکړې وي؟

۶. د فرید ساعت صحیح وخت لس بجې او دوه دقیقې ښیي. د احمد ساعت وخت نه بجې او پنځوس دقیقې ښیي. معلوم کړئ چې د احمد ساعت څومره وروسته دی؟

۷. صابر او کمال خپل وزنونه سره مقایسه کوي. د صابر وزن ۳۷ کیلوګرامه او د کمال وزن ۲۲ کیلوګرامه دی. صابر د کمال څخه څو کیلوګرامه درومند دی؟

۲۱۶۳	۱۲	۵۵۸۰۰	۱۱۲۰۰	۱۱۵۰۵
	۱۵	۱۵۷۹۱		

۹۹ مخ - لومړی لوست
د عبارتي سوالونو حلول

۱. ذهني روزنه:

- د ۱۰۰ ، ۱۰۰۰ او ۱۰۰۰۰ په قدمونو شمېرکول

۲۱۰۰۰ ، ۲۱۱۰۰ ، ... ، ۲۲۱۰۰
۱۴۵۰۰ ، ۱۴۶۰۰ ، ... ، ۱۵۵۰۰
۵۵۷۰۰ ، ۵۵۸۰۰ ، ... ، ۵۶۷۰۰

۲۵۰۰۰ ، ۲۶۰۰۰ ، ... ، ۳۵۰۰۰
۹۰۰۰۰ ، ۹۱۰۰۰ ، ... ، ۱۰۰۰۰۰
۶۴۷۰۰ ، ۶۵۷۰۰ ، ... ، ۷۴۷۰۰

۱۰۰۰۰ ، ۲۰۰۰۰ ، ... ، ۱۰۰۰۰۰
۱۵۰۰۰ ، ۲۵۰۰۰ ، ... ، ۹۵۰۰۰
۱۸۶۰۰ ، ۲۸۶۰۰ ، ... ، ۹۸۶۰۰

۲. تکرار:

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د عبارتي سوالونو حلول:

- بنوونکی د ۹۹ مخ لومړی سوال په توره تخته په صفا ډول لیکي. (لاندې ګورئ!)

* دوه یا درې زده کوونکي د توري تختې څخه سوال ببل، ببل لولي.

* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې:

۱. هغه عددونه پیدا او تر لاندې خط وکاږي چې په سوال کې استعمال شوي دي لکه: ۸۵۰۰۰ ۹۶۲۰۰

۲. مربوط سوال پیدا او تر لاندې خط وکاږي.

۳. هغه عملیه پیدا کړي چې د سوال د حلولو لپاره ضرورت دی. تفریق (-)

۴. صحیح مساوات جوړ او هغه حل کړي.

۵. سوال ته صحیح ځواب ورکړي.

* په پای کې به تخته داسې ښکاري:

نورګل یو موټر په ۸۵۰۰۰ روپیو اخیستی و او په ۹۶۲۰۰ روپیو یې خرڅ کړ. څو روپۍ یې ګټلې دي؟

۹۶۲۰۰
- ۸۵۰۰۰
۱۱۲۰۰

هغه ۱۱۲۰۰ روپۍ ګټلې دي.

- په همدې طریقه د ۲ او ۳ سوال حلولو ته دوام ورکول

- ځلورم او پنځم سوال د ملګري سره حلول

* زده کوونکي خوابونه په لوړ آواز وایي او مقایسه کوي.

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار:

د ۹۹ مخ ورووستي ۲ سوالونه



- ښوونکی دا تصویر تولګي ته ښـيي او ☐ مربع کاني، ☐ مثلثونه ، ☐ مسـتطیلونه او ☐ دایرې یو په بل پسې په تخته لیکي . د زده‌کوونکو شغه غوښتنه کوي چې مختلف هندسي شکلونه وشمېري .

* زده‌کوونکي د تصویر مختلف هندسي شکلونه شـمېري او خالي خانې په تور تخته ډکوي لکه ☐ ۳ ☐ مربع کاني .

۹

① هر سوال چې د ضرب او چې د جمع یا د تفریق عملیې لري . د مثال په ډول ښودنې کې حل کړئ . لومړی یې ضرب او بیا یې جمع یا تفریق وکړئ :

مثال : ۶ × ۵ + ۹ = ۳۰ + ۹ = ۳۹
۷ × ۵ - ۷ = ۳۵ - ۷ = ۲۸

۸ × ۲ + ۹ = ☐	۸ × ۱۰ - ۵ = ☐
۵ × ۵ + ۷ = ☐	۹ × ۵ - ۴ = ☐
۴ × ۵ + ۳ = ☐	۷ × ۲ - ۷ = ☐
۹ × ۱۰ + ۵ = ☐	۳ × ۱۰ - ۸ = ☐
۷ × ۲ + ۹ = ☐	۸ × ۵ - ۶ = ☐
۶ × ۱۰ + ۸ = ☐	۶ × ۲ - ۳ = ☐

تقسیم ته یوه کتنه

② الف : دلته ۸ کاڼي دي :

هغه د دوو په ګروپونو وویشئ

تاسې به ☐ د دوو ګروپونه حاصل کړئ

نو لیکو : ۸ ÷ ۲ = ☐

ب : ۸ کاڼي د څلورو په ګروپونو وویشئ :

تاسې به ☐ د څلورو ګروپونه حاصل کړئ

نو لیکو : ۸ ÷ ۴ = ☐

۹ مخ - لومړی لوست

په یوه سوال کې د جمع او د ضرب د عملیو یوځای کول

۱. ذهني روزنه :

- د ۵ په قدم مخ په وراندې او مخ په شا شمېر کول ، لکه :

۰ ، ۵ ، ۱۰ ، ..... ، ۵۵ ، ۵۰ ، ..... ، ۰

۰ ، ۱۰۰ ، ۱۰۵ ، ..... ، ۱۵۰ ، ۱۴۵ ، ..... ، ۰

- د ۱۰۰ په شاوخوا کې د یوه په قدم حساب کول (۸ مخ - لومړی لوست وکورئ !)

۹۵ ، ۹۶ ، ۹۷ ، ۹۸ ، ۹۹ ، (۱۰۰) ، ۱۰۱ ، ۱۰۲ ، ۱۰۳ ، ۱۰۴ ، ۱۰۵

۲. تکرار : د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۸ مخ ، ④ مشق دریمه بکسه

۳. په یوه سوال کې د جمع او ضرب یوځای کول :

- ښوونکی ۷ زده کوونکي مخې ته راغواړي چې جوړه جوړه ودرېږي .
- زده کوونکي عددي قصه پیدا کوي : "هلته درې جوړې او یو زده کوونکی زیات دی."
- ښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې د عددي قصې دپاره مساوات په تور تخته ولیکي .

۲ + ۲ + ۱ =
۳ × ۱ =

- ښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې په دوهم مساوات کې اول د ضرب سوال ۳ × ۲ حل کړي او بیا د هغه د ضرب د حاصل سره یو (۱) جمع کړي چې داسې ښکاري :

۳ × ۲ + ۱ = ☐ + ۱ = ۷

- د رسم شوي حلقو دپاره په تور تخته د مشابه سوالونو حلول :
- ښوونکی په تور تخته دایرې رسموي (لاندې وګورئ !) او بحث رهنمایي کوي چې سوال څنګه حل کړي .



یادونه : زده کوونکي باید وموميي چې د ټولو دایرو د شمېرلو څخه د کتارونو شمېرل او ضربول آسانه دي .

- زده کوونکي د شکل له مخې صحیح حل پیدا کوي او لیکي یې :

۶ × ۵ + ۷ = ☐ + ۷ = ☐

- د ورکړل شوي مساوات څخه د رسم پیدا کول :
- ښوونکی په تور تخته ۳ × ۱۰ + ۵ = ☐ لیکي .
- زده کوونکي مربوطه حلقې په تور تخته رسم او سوال حلوي .



۳ × ۱۰ + ۵ = ۳۰ + ۵ = ۳۵

- زده‌کوونکي لاندې سوالونه ځانله حلوي او وروسته ځوابونه سره مقایسه کوي .

لکه : ۴ × ۲ + ۳ =

۱۰ × ۱۰ + ۵ =

۹ × ۵ + ۹ =

۴. په ټولګي کې په پټه خوله کارکول/کورنۍ کار:

۹ مخ ① مشق - ښې خوا

۹ مخ - دوهم لوست

ضرب او تفریق په یوه سوال کې

۱. ذهني روزنه :

- د دوه رقمي عددونو تفریقول : عددي حلقو سره په معموله طریقه کارکول

۲۷ ۶۵ ۲۲
۷۸ ۵۹
۱۱۸ (۱۵) ۲۳
۲۴ ۱۶

- د یو یو په قدم د ۳۰۰ په شاوخوا کې حساب کول

۲۹۵، ۲۹۶، ۲۹۷، ۲۹۸، ۲۹۹، (۳۰۰)، ۳۰۱، ۳۰۲، ۳۰۳، ۳۰۴، ۳۰۵

۲. تکرار :

- د کورنۍ کارکتنه او مقایسه کول (۹ مخ ① مشق - ښې خوا)
- د لاندې سوالونو په شان یو یا دوه سوالونه په توره تخته حلول ، لکه :

۸ × ۲ + ۶ = ☐ ۴ × ۵ + ۸ = ☐

۳. ضرب او تفریق په یوه سوال کې

- ښوونکی د ضرب او تفریق یو مرکب سوال په توره تخته رسمي، لکه :

* ښوونکی زده‌کوونکي رهنمایي کوي چې عددي قصه ووایي .

(هلته د پنځه پنځه مالتو شپږ کتارونه دي او د هغو څخه ۶ مالتې لرې شوې دي) او بیا به مساوات پیدا کوي او لیکي به یې لکه : ۶ × ۵ - ۶ = ☐

* زده‌کوونکي مساوات د ضرب او د جمع د سوالونو په طریقه حلوي چې لومړی د ضرب سوال ۶ × ۵ = ۳۰ حل او ورسته ۶ وړځخه تفریقوي .

په توره تخته ۶ × ۵ - ۶ = ۳۰ - ۶ = ۲۴

- په همدې طریقه په بل سوال کارکول :



(☐ = ۸ - ۵ × ۷)

- د ضرب او تفریق نور سوالونه حلول :

* ښوونکی یوځو نور سوالونه په توره تخته لیکي. زده‌کوونکي هغه په پټه خوله حلوي . په اخر کې ځوابونه سره مقایسه کوي .

۹ × ۲ - ۵ =

۴ × ۱۰ - ۸ =

۷ × ۲ - ۶ =

۸ × ۱۰ - ۲ =

۴. په ټولګي کې په پټه خوله کارکول/کورنۍ کار:

۹ مخ د ① مشق د کیښې خوا برخه

۱۰

① لاندې شکلونو ته وګورئ، د هر شکل مساوات پیدا او په دایرو کې یې صحیح نمبر ولیکئ:



② لاندې سوالونه حل کړئ:

۵۰ = ۱۰ + ۵	۲۰ + ۲ =	۱۰ + ۱۰ =	۲۰ + ۲ =
۷۰ = ۱۰ + ۱۰	۳۰ + ۱۰ =	۳۵ + ۵ =	۳۰ + ۱۰ =
۸ = ۲ + ۲	۳۰ + ۵ =	۱۴ + ۲ =	۳۰ + ۲ =
۱۶ = ۲ + ۲	۳۰ + ۱۰ =	۴ + ۲ =	۳۰ + ۱۰ =
۲۵ = ۵ + ۵	۵۰ + ۵ =	۱۵ + ۵ =	۵۰ + ۵ =
۴۵ = ۵ + ۵	۴۰ + ۵ =	۶۰ + ۱۰ =	۴۰ + ۵ =
۱۸ = ۲ + ۲	۴۰ + ۱۰ =	۲۰ + ۵ =	۴۰ + ۱۰ =

۱۰ مخ - لومړۍ لوست
په عملي قدمونو کې په ۲، ۵ او ۱۰ باندې تقسیم ته یوه کتنه

درسي معاونات: ۶۰ کاڼي

۱. ذهني روزنه:

- د درې رقمي عدد سره د دوو عددونو جمع:

۱۲۰ + ۵۰ + ۹ = ۳۶۰ + ۴۰ + ۷ =
۱۷۰ + ۶۰ + ۵ = ۲۴۰ + ۶۰ + ۱۲ =
۱۸۰ + ۳۰ + ۷ = ۴۸۰ + ۲۰ + ۱۸ =
۲۵۰ + ۷۰ + ۲ = ۵۹۰ + ۶۰ + ۶۰ =

- د درې رقمي عدد څخه د دوو عددونو تفریق:

۱۵۰ - ۳۰ - ۷ = ۴۲۰ - ۳۰ - ۵ =
۲۰۰ - ۲۰ - ۳ = ۲۳۰ - ۴۰ - ۱ =
۲۵۰ - ۵۰ - ۹ = ۴۸۰ - ۷۰ - ۲ =
۳۸۰ - ۴۰ - ۶ = ۳۵۰ - ۶۰ - ۸ =

۲. تکرار:

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه (۹ مخ د ① مشق د کیدنې خوا برخه)

۳. په عملي قدمونو کې تقسیم ته یوه کتنه:

- د کانو د یوه دېرې وېشل د ۵ او ۱۰ په ګروپونو کې:
* دوه زده کوونکي منځ ته راځي چې د ۳۰ کاڼو دوه دېرې پر میز باندې په ګروپونو وویشي. لومړی زده کوونکی د ۵ په ګروپونو او دوهم زده کوونکی د ۱۰ په ګروپونو کاڼي وېشي.
* کله چې دواړو زده کوونکي شمېر کوي او خپل د کاڼو دېرې وېشي نو شیوونکی به دوه ځلې ۳۰ کاڼي په توره تخته رسموي. (لاندې ګورئ!)
* دواړو زده کوونکي خپل عملونه او د هغو نتیجې تولګي ته تشریح کوي.
* شیوونکي زده کوونکي رهنمایي کوي چې د ۵ او ۱۰ په ګروپونو د تقسیم عمل په توره تخته د رسم شوو کاڼو په کومک سره تشریح کړي. (لاندې ګورئ!)
* زده کوونکي خپلې عددي قصې وایي: "هلته ۳۰ کاڼي دي ما هغه د ۵ یا ۱۰ په ګروپونو ووېشل. ځواب یې ۶ یا ۳ ګروپه دی".
* شیوونکي زده کوونکي رهنمایي کوي چې مساواتونه پیدا (وپاڼلیکي) او هغه تشریح کړي. "هلته ۳۰ کاڼي وي ما هغه د ۵ یا ۱۰ په ګروپونو ووېشل چې ځواب ۶ یا ۳ ګروپه دی." په اخر کې تخته داسې ښکاري:

۳۰ ÷ ۱۰ = ☐

۳۰ ÷ ۵ = ☐

- د ۹ مخ په ② مشق کار کول:
د ② مشق د (الف) برخې لوستل او حلول زده کوونکي د ② مشق د (ب) برخه په پته خوله حلوي. ځوابونه سره مقایسه کوي.

۴. په تولګي کې په پته خوله کار کول/کورنۍ کار:

۱۰ مخ ① مشق (۲ لومړنۍ مثالونه یوځای حلول)

۱۰ مخ ـ دوهم لوست
په ۲ ، ۵ او ۱۰ باندې د تقسیم مشق

۱. ذهني روزنه :

ـ ضرب او جمع په یوه سوال کې ، لکه :

۵ × ۲ + ۴ =	۷ × ۵ + ۲ =
۳ × ۵ + ۳ =	۹ × ۱۰ + ۹ =
۴ × ۱۰ + ۱۰ =	۴ × ۲ + ۶ =
۷ × ۲ + ۷ =	۱۰ × ۲ + ۱۲ =

ـ ضرب او تفریق په یوه سوال کې ، لکه :

۵ × ۲ − ۴ =	۳ × ۵ − ۶ =
۴ × ۵ − ۳ =	۶ × ۲ − ۵ =
۶ × ۱۰ − ۸ =	۵ × ۵ − ۴ =
۸ × ۱۰ − ۷ =	۹ × ۵ − ۳ =

۲. تکرار :

ـ د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

ـ زده کوونکي به د تقسیم سوالونه په توره تخته د رسم شوې حلقو په مرسته بېل بېل حلوي .



□ ÷ ۲ = □ □ ÷ ۵ = □ □ ÷ ۱۰ = □

۳. په ۲، ۵ او ۱۰ باندې د تقسیم مشق :

ـ د تقسیم مثالونه حلول بیا د ځواب د ثابتولو (میزان) دپاره په توره تخته حلقې رسمول او د مساوات مطابق یې په ګروپونو وېشل

* په توره تخته لکه د ۱۴ ÷ ۲ = □ حلول او ترې لاندې د ۱۴ حلقو رسمول، د دوو ګروپونو جوړول او پیدا کول چې هلته ۷ ګروپونه دیا چې د مساوات د ځواب سره مساوي (یو شان) دي .

* په هدې طریقه (۱۵ ÷ ۵ = □) سره کار کول

ـ په توره تخته بېل بېل ۲، ۵ او ۱۰ باندې د تقسیم د جدولونو جوړول ؛

* شوونکي زده کوونکي رهنمایي کوي چې په قدمونو کې د تقسیم جدولونه جوړ کړي. او شوونکي یې پېښله په صفا توګه په توره تخته لیکي .

۲ ÷ ۲ = ۱	۵ ÷ ۵ = ۱	۱۰ ÷ ۱۰ = ۱
۴ ÷ ۲ = ۲	۱۰ ÷ ۵ = ۲	۲۰ ÷ ۱۰ = ۲
۶ ÷ ۲ = ۳	۱۵ ÷ ۵ = ۳	۳۰ ÷ ۱۰ = ۳
⋮	⋮	⋮
۲۰ ÷ ۲ = ۱۰	۵۰ ÷ ۵ = ۱۰	۱۰۰ ÷ ۱۰ = ۱۰

ـ د ۱۰ مخ د ⑦ مشق لومړي ګروپ سوالونو باندې کار کول

۴. په ټولګي کې په پټه خوله کار کول/کورنۍ کار:

۱۰ مخ ⑦ مشق دوهم او دریم ګروپ سوالونه

د دوهم فصل پېژندنه

عنوان : عددي شعاع

د کار دکتاب صفحې : د ۱۱ څخه ۱۵ پورې

د پېښنهاد شوېو درسونو شمېر : ٦

موضوعات او مقاصد :

عددي شعاع د عددونو د ترتیب د ښودلو او مجسمولو دپاره بهترین امکانات راوړاندې کوي . کېدی شي ځنې ښوونکي لا تر اوسه ورسره بلد نه وي . هغوی باید د دې نوې موضوع څخه ونه وېرېږي . په درس کې د عددي شعاع د بامفهومه ښودنې دپاره پوره اشارې ورکړل شوې دي . کله چې ښوونکی د دې فصل سره کار کوي نو هغوی به په ډوه شي چې عددي شعاع د مخ په وراندې او مخ په شا د شمېر کولو او د دوو بنیادي عملیو (جمع او تفریق دپاره هم استعمالېدی شي .

په بل فصل کې به ضرب او تقسیم هم پر عددي شعاع مجسم (د لېدنې وړ) شي . دا به هم واضح شي چې عددي شعاع کوچنیو اولوېو عددونو دپاره په ښه توګه استعمالېدی شي .

عددي شعاع عملي قدمونو کې ښودل شوې ده : کله چې په هره فاصله قدم وهو نو قدمونه په څنېنه اوشمېرل کېږي . دا د عددي شعاع دپاره یوه ښه نمونه ده چې که قدمونه وارو وي اوکه غټ د عددونو ترتیب یوشان دی . دیوه مورک د قدمونو ښودنه دا ضرورت رامنځ ته کوي چې یواځې دهغه سلم قدم په نخښه کړو، ځکه چې قدمونه یې ډېر وارو دي او هر قدم یې نه شو په نخښه کولی . نو ځکه مود لوېو عددونو دپاره هم دعددي شعاع د استعمالولو امکانات وښودل .

زده کوونکي دا هم باید زده کړي چې د عددي شعاع یوه برخه هم استعمالولی شو چې هغه د هر ځای څخه شروع کېدی شي . مثلاً د ۱۳ مخ (۳) مشق، اوخصوصًا د لوېو عددونو دپاره مهم دی .

د دې فصل په پنځو صفحو کې ډېر مشقونه شامل دي چې باید په ډېر دقت سره اجرا شي .

مخکې د دې نه چې د جمع او یا د تفریق سره صحیح کار وشي، زده کوونکي باید قادر وي چې :

الف - څنېنه شوېو ځایونو باندې په ورکړل شوی ترتیب صحیح عددونه ولیکي .

ب - پر عددي شعاع باندې عددونه پیدا کړئ .

دکتاب د مشقونو څخه علاوه باید عددي شعاع کاڼي په نوره تخته رسمي او وربانديې کار وشي . باید عددي شعاع او قدمونه په ډېر احتیاط سره رسم شي (مستقیموالی او د قدمونو مساویتوب) عددي شعاع به د دې پېژندنې څخه وروسته دکتاب په ډېرو مختلفو مشقونو کې استعمال شي .

دوهم فصل

عددي شعاع

① يو سړی ، يو لوی هلک ، يو کوچنی ماشوم او يو موټر په يوه خط باندې قدم وهي . د هغوی قدمونه په ټبله او عددونه ترې لاندې ليکل شوي دي . د هغوی د قدمونو ترمنځ فرق او واټن والی پيدا کړئ !



کتنه : موټر په يوه خط باندې د قدمونو ټبله شوې ځايونه په عددونو سره وښيي . دغه خط ته عددي شعاع ويل کيږي ، او دا همېشه د کښې خوا څخه پښې خوا ته ځي . د تيرې (ـ) ټبلې رانيولې چې عددي شعاع په يوه لاره او يوې خوا ته ځي .

په عددي شعاع باندې د پورته کوچنيو قدمونو د ټبلې کولو او د ټبلې لاندې د ټولو عددونو د ليکلو دپاره ځای نه وي ، نو ځکه يوازې يو ځو ټاکلي عددونه ټبلې او فکر کوو چې نورې ټبلې او عددونه يې په مغز کې ځای لري .

۱۱ مخ - لومړی لوست

په عملي ډول د عددي شعاع معرفي کول

۱. ذهني روزنه :

- د ۲ ، ۵ او ۱۰ په قدمونو شمېرکول : ښوونکی هرځلې دوه لومړني او يو وروستنی عدد په تخته ليکي ، لکه :

۱۰ ، ۱۲ ، . . . . . ، ۳۲ ، ۱۰۰ ، ۱۰۵ ، . . . . . ، ۱۵۰

۳۰ ، ۳۲ ، . . . . . ، ۵۰ ، ۶۰ ، ۷۰ ، . . . . . ، ۱۶۰

۲۰ ، ۲۵ ، . . . . . ، ۷۰ ، ۷۷ ، ۷۸۰ ، . . . . . ، ۸۷۰

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه / مقايسه (د ۱۰ مخ د ② مشق ، دوهم او دريم ګروپ سوالونه)

۳. د عددي شعاع معرفي :

- عملي قدمونو سره په انګړ کې کار کول
* ښوونکی زده کوونکي رهنمايي کوي چې بهر ووځي .
* ښوونکی دېوې غښتنه شوې ځنډ ترپلي د ربړ مستقيم خطونه رسموي . (لانديۍ وګورئ !)
* يوکوچنی زده کوونکی او خپله ښوونکی په ښبل ښبل خط قدم وهي او د هغوی قدمونه به د کاغذ او يا د لرګي د توتو په واسطه نغښته کېږي او بيا شمېرل کېږي . (لانديۍ وګورئ !)
* يو زده کوونکی د دوو کوتو په ذريعه د يوه خط په اوږدو قدمونه اخلي ؛ نور زده کوونکی معلومويي چې د هرکوچنی قدم نغښته کول د کاغذ او يا د لرګيو د توتو په واسطه مشکله ده نو ځکه د هرو لسو قدمونو ځنډ وروسته نغښته ږدي .



- د درېواړو کرښو مقايسه او پرې بحث کول

ښوونکی زده کوونکي رهنمايي کوي چې پيدا کړي : په يوه کرښه کې د قدمونو اوږدوالی مساوي خو د نورو کرښو ځنډ توپير لري . لکه څنګه چې شمېرکوو داسې د هرې کرښې قدمونو ته شمېره ورکولی شو . (هېڅ يو عدد نه پاتې کېږي) کله چې قدمونه پېرکوچنی وي نه شوکولی هرقدم په نغښته کړو نو ځکه د يوه ټاکلي شمېر قدمونو ځنډ وروسته نغښته ږدو .

* بېرته ټولګي ته تلل
- د کتاب په ۱۱ مخ کار کول
* زده کوونکي په پټه خوله رسمونه مطالعه کوي .
* زده کوونکي رسمونه تشريح او په انګړکې يې د خپلو عملي کارونو سره مقايسه کوي .
* د عددي شعاع په هکله د رسمونو لانديۍ متن لوستل پرې بحث کول او تشريح کول يې

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۱۱ مخ د رسمونو تکميلول

۱۲

① د عددي شعاع د نښو لاندې غيب عددونه د لاندې چوکاټ څخه وليکئ ،

۱۱	۳	۸		
۹		۱		
	۱۳	۵	۱۲	۷



② د دوو نښو تر منځ د قدمونو تعداد پيدا او د نښو لاندې غيب عددونه وليکئ ،



عددي شعاع کولای شي مختلف عددونه او فاصلې وښيي . خو عددونه هميشه په ترتيب سره بيا بيل پې راځي .

۱۲ مخ - لومړی لوست

په مختلفو عددي شعاعونو کې د قدمونو او عددونو پيدا کول

۱. ذهني روزنه : په ۲ او ۵ باندې تقسيم
(د عددي دايرې استعمال)

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه

په توره تخته يوې عددي شعاع ته انکشاف ورکړل

* بښوونکی په توره تخته يو مستقيم افقي خط رسموي او زده‌کوونکي رهنمايي کوي چې ورځنې عددي شعاع جوړه کړي . مثلاً : د داسې قدمونو جوړول چې اوږدوالی يې مساوي وي ، شپږو ورکول ، په اخر کې د تير (غښې) څنبه جوړول چې د دوام معنا ولري .



۳. په مختلفو عددي شعاعونو کې د قدمونو او عددونو پيدا کول

- په يوه عدي شعاع باندې لومړی دجفت عددونو او بيا د طاق عددونو پيدا کول

* بښوونکی په توره تخته يوه عددي شعاع رسموي او زده‌کوونکي نخښه شوې ځايونو ديارې صحيح عددونه پيدا کوي او ليکي .



* بښوونکی په يوه بکسه کې طاق عددونه ورکوي ، زده‌کوونکي په عددي شعاع باندې د هغو ځايونه پيدا ، په نخښه او عددونه ليکي .

۱	۹	۷	۱۱	۵	۳



- د ۵ په قدمونو پر يوه عددي شعاع باندې بحث کول

* بښوونکی پر توره تخته عددي شعاع رسموي او د بحث ديارې د لاندنيو سوالونو پوښتنه بېله بېله کوي .



* آيا تاسې په دې عددي شعاع باندې ټول قدمونه ليدلی شئ ؟

* د دوو نخښه شوې ځايونو ترمنځ څو قدمونه دي؟

* آيا د ټولو قدمونو د نه ليکلو ديارې کوم دليل شته ؟

* بښوونکی د زده‌کوونکو څخه غواړي چې د عددونو د ليکلو څخه پرته ټول قدمونه په نخښه کړي .



* بښوونکی د عددي شعاع بېلابېلو ځايونو ته اشاره کوي ؛ زده‌کوونکي بايد عددونه پيدا او ووايي .

* ښوونکی عددونه وایي ؛ زده کوونکي دهغو نخښه شوي ځایونه پیدا کوي لکه ۳ ، ۶ ، ۱۴ او داسې نور .

- د ۱۲ مخ په ۲ مشق باندې کار کول (لومړنۍ دوه عددي شعاع کانې)

* د دوو نخښه شوېو ځایونو په منځ کې د قدمونو د تعداد پیدا کول
* د غیبو عددونو لیکل

۴. په تولکي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۱۲ مخ ① مشق او د ② مشق پاتې برخه

۱. ذهني روزنه :

- د (۰) څخه ۱۱۰ پورې د ۱۱ په قدم مخ په وراندې او مخ په شا شمېر کول
- په ۱۰ باندې تقسیم

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار مقایسه
- د دوو نخښه شوېو ځایونو ترمنځ د قدمونو د شمېر موندل

* ښوونکی په توره تخته یوه عددي شعاع رسموي او هر ځلې دوو نخښه شوېو ځایونو ته اشاره کوي .

زده کوونکي د دغو ځایونو ترمنځ د قدمونو شمېر وایي .



لکه ۱۰ څخه ۳۰ پورې (زده کوونکي ځواب ورکوي : ۲۰)
لکه ۲۰ څخه ۶۰ پورې (زده کوونکي ځواب ورکوي : ۴۰)

* ښوونکی عددونه په ۱۰۰ ، ۲۰۰ ، ۳۰۰ او داسې نورو بدلوي او په همدې طریقه کار کوي .
* ښوونکی عددونه په ۰٫۵ ، ۱٫۰ ، ۱۵ او داسې نورو بدلوي او په همدې طریقه کار کوي .

۳. په مختلفو عددي شعاعو باندې د عددونو د ځایونو د موندلو تمرین

- د ۱۳ مخ په ① او ② مشقونو باندې کار کول

[خو مره چې ممکنه وي زده کوونکي باید خپله کار وکړي .]

۴. کورنی کار نشته

۱۳

① د لاندې عددي شعاعونو نخښه شوي ځایونه مربوطه عددونه ولیکئ



② د لاندې عددونو ځایونه په عددي شعاع باندې پیدا کړئ او داسې یې (↓) په نښه کړئ : ۸ ، ۳۲ ، ۲۵ ، ۴۳ ، ۱۶



اوس په پورتنۍ عددي شعاع باندې ټول لیکل شوي عددونه ولولئ .

لاندې عددونه په عددي شعاع باندې په نښه کړئ :
۱۵ ، ۴۰ ، ۱۱۰ ، ۹۵ ، ۱۳۵ ، ۸۰



اوس په پورتنۍ عددي شعاع باندې ټول لیکل شوي عددونه ولولئ .

③ د عددي شعاع د نخښه شوېو ځایونو ټول غیب عددونه ولیکئ



که څه هم عددي شعاع هر وخت د صفر څخه شروع کېږي خو موږ ځینې وخت د عددي شعاع یوازې یوه برخه ښیو چې د هر ځای (هر عدد) څخه شروع کېدلی شي .

۱۳ مخ - لومړی لوست
په مختلفو عددي شعاعو باندې د عددونو د ځایونو د موندلو تمرین

۱۳ مخ - دوهم لوست

د عددي شعاع د برخو معرفي کول چې د صفر (۰) څخه شروع شوې نه وي .

۱. ذهني روزنه :

— د یویزو، لسیزو او سلیزو پیدا کول

* بشوونکی په توره تخته یو عدد لیکي، لکه: ۴۰۷
زده‌کوونکي پیدا کوي او وایي چې :
۷ یویزه ، ۰ لسیزه او ۴ سلیزه

* په همدې ترتیب نورو عددونو سره کار کول، لکه : ۴۵۹ ، ۲۱ ، ۷۰۰ ، ۵ ، ۸۰ ، ۹۰۱ او داسې نور .

— د پورو سلیزونو جمع او تفریق
لکه : ۲۰۰ + ۵۰۰ =
۶۰۰ - ۳۰۰ =
او داسې نور .

۲. تکرار :

— په یوه عددي شعاع باندې د عددونو موندل او نخښه کول

* بشوونکی په توره تخته یوه عددي شعاع رسموي لکه :



* بشوونکی عددونه وایي ، زده‌کوونکي د هغو ځایونه پیدا کوي ، په نخښه کوي او لیکې یې .
لکه (۳ رسم ګډوري) . نور عددونه لکه ۹ ، ۷ ، ۲۲ ، ۱۴ ، ۱۱ ، ۲۰ او داسې نور .

۳. د عددي شعاع د برخو معرفي کول چې د صفر (۰) څخه شروع شوی نه وي .

— بشوونکی په توره تخته یوه عددي شعاع رسموي ، لکه :



* بشوونکی لکه څنګه چې لاندې ښودل شوي دي د هغې یوه برخه پاکوي .



* بشوونکی بحث رهنمایي کوي ،
زده‌کوونکي پیدا کوي چې :
* دا هماغه عددي شعاع ده ،
* د عددي شعاع قدمونه هماغه دي ، هماغه خوا راښیي ،
* د شروع نقطه یې هغه نه ده ، یعنې صفر (۰) نه ده بلکې ۲۵ ده .

— بشوونکی د دوو په قدمونو یوه بله عددي شعاع رسموي چې شروع یې د ۸ څخه وي ، لکه داسې :



— زده‌کوونکي پیدا کوي چې :
* **دا عددي شعاع د صفر (۰) څخه شروع نه ده .**
* دا قدمونه په دوه دوه کې دي .
* هغوی په اسانۍ سره کولی شي دا عددي شعاع دوام‌ورکړي او ورته ده کړي .
* عددي شعاع ته په دوه دوه قدمه کې د ۸ څخه تر صفر (۰) پورې او د ۱۸ څخه پورته ادامه ورکول .

— د ۱۳ مخ په ۳ مشق کار کول
* د تمرین لاندې متن لوستل
* په لومړیو عددي شعاع کار کول :
د قدمونو پیدا کول او نخښه شوو ځایونو کې د عددونو لیکل
* بشوونکی دریمه عددي شعاع پر توره تخته رسموي .
زده‌کوونکي قدمونه پیدا کوي او عددونه په توره تخته لیکي .

۴. په ټولګي کې په پته خوله کار کول / کورنی کار :

د ۱۳ مخ د ۴ مشق تکمیلول .

۱۴

① د عددي شعاع د نښه شوبو ځايونو سره د جمع يا د تفريق حاصل وليکئ.



② په عددي شعاع باندې جمع کول:

مثال:



۱۴ مخ - لومړي لوست

عددي شعاع باندې په مساوي قدمونو کې دوامداره جمع او تفريق

۱. ذهني روزنه:

- عددي مربع کانو سره کار کول - عددي لوبه

* ښوونکی يوه عددي مربع (لاندې ګورئ!) په تخته رسموي او کار تشريح کوي چې په کتار کې د درېوو عددونو جمع په افقي، عمودي او قطري ډول بايد همېشه يو ځواب ورکړي کوم چې په دايره ○ کې ښودل شوی دی

(۲۱)

۴	۱۱	
۹	۷	

* زده‌کوونکي غيب عددونه پيدا کوي مساوات وايي او عددونه د مربع په خالي خانو کې ليکي، لکه:

۴ + ۱۱ + ٦ = ۲۱

۴ + ۹ + ۸ = ۲۱

او داسې نور.

نورې عددي مربع کانې دا دي:

(۱۵)

		۷
	۵	۰
۳		

(۱۸)

۹		۴
۸		۳

(۲۴)

۵		
	۸	
۹	۴	

۲. تکرار: د عددي شعاع د برخو سره کار کول

- ښوونکی د يوې عددي شعاع يوه برخه پرتوره تخته رسموي، لکه:



* زده‌کوونکي د نښه شوبو ځايونو غيب عددونه پيدا او ليکي.

* ښوونکی د عددي شعاع ټول عددونه پاکوي او د هغو پر ځای نوي عددونه ليکي، لکه:

الف - ۴۰، ۵۰، . . . ، . . . ، ۱۱۰

ب - ۲۵، ۲٦، . . . ، . . . ، ۳۲

زده‌کوونکي د نښه شوبو ځايونو غيب عددونه پيدا او ليکي.

۳. عددي شعاع باندې په مساوي قدمونو کې دوامداره جمع او تفريق

- ښوونکی لاندې عددي شعاع په توره تخته رسموي:



× عنوان همېشه د درس هدف راښيي .

×× درسي معاونات يوازې هغه وخت ذکر شوي دي چې د درسي کتاب او تورې تختې څخه پرته نورو موادو لکه تيږې ، لرګي او داسې نورو ته ضرورت وي .

××× د درسي کتاب د مختلفو مخونو د ضرورت له مخې کېدی شي ۱ ، ۲ او يا ۳ درسونه يو مخ پورې مربوط وي ، د يوه تور خط څخه تر بله پورې همېشه يوه درسي خاکه وي چې په عمومي ډول بايد په يوه ساعت کې تدريس شي .

II. ورځپسې مخونه :

د نورو اکثرو مخونو د پاڼې د ښوونکي اشارې په غبرګو مخونو کې داسې ترتيب شوې دي :


د درسي کتاب د مخ کوچنی چاپ
د لومړۍ درس دوام
د لومړۍ درس عنوان
لومړنۍ درسي خاکه
د دوهم درس عنوان
درسي معاونات
(د بنی خوا مخ)
د درسي کتاب د مخ کوچنی چاپ
د دوهم درس دوام
×
د لومړۍ درس عنوان
د ښوونکو يادداشتونو دپاڼه ځای
لومړنۍ درسي خاکه
(د کيڼې خوا مخ)

× کېدی شي ۱ ، ۲ او يا ۳ درسونه د زده‌کوونکو د درسي کتاب يوه مخ پورې مربوط وي .

د دې دپاڼه چې ښوونکی د نوې فصل ، د موضوعاتو (عنوانونو) ، سوالونو ، اندازې (حجم) او ضروري موادو سره آشنا شي ، د هغه څخه هيله کېږي چې دا پېژندنه په دقت سره مطالعه کړي او د درسي کتاب د فصل مخونه د هغه د تدريس د شروع کولو څخه مخکې ولولي .

د دې درسي خاکو په تاکنه او ليکنه کې د پورې نظريې او طرحې شاملې دي چې کولی شي د ښوونکي بار د هغه په ورځنۍ پلان جوړونه او تدريسي پاملرنه کې سپک کړي .

توجه شوې ده چې د نصاب او د تعليمي پروګرام تول ضروريات چې اساسي ټکي يې د افغاني او يا د کمشنرۍ د پېښوانې کتاب څخه اخيستل شوي وو په کافي ډول شامل شي . دا په دې معنی چې کله لازښود تعقيب‌پرې نو ښوونکی به مهم قدمونه نه هېروي او په ورځنۍ تيارۍ کې کولی شي په موضوع او د تدريس په پېښنهاد شويو طريقو هغه چې ماشوم فعالوي تمرکز وکړي .

د يو څه مودې څخه وروسته ښوونکی د ژبې ، تکنيکي اصطلاحاتو او درسي خاکو د جوړښت سره

* ښوونکی پوښتنه کوي چې څه باید وکړو ترڅو د یوې نقطې څخه یا نورو ټولو نقطو سره وصل شو. زده کوونکي پیدا کوي او وایي چې باید یو جمع (+ ۱) وکړو.
* ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې عددي شعاع لکه څنګه چې لاندې ښودل شوې ده تکمیل کړي او د هر جمع یو (+۱) حاصل په عددي شعاع باندې پیدا کړي.



* ښوونکی یوځل بیا همدغه عددي شعاع دغه ډول عددي شعاع لاندې رسموي.

* ښوونکی د زده کوونکو څخه پوښتنه کوي چې څنګه عدد ۹ ته رسېدلی شو. زده کوونکي پیدا کوي چې باید یو منفي (۱-) شي.
* ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د یو په منفي (۱-) کولو سره عددي شعاع د ۱۰ څخه تر صفره (۰) پورې تکمیل کړي.



- زده کوونکي په چوپتیا (خپل ملګري سره) په ۱۴ مخ ① مشق (لومړنیو دوو مشقونو) باندې کار کوي. کومک کول/ اصلاحي کتنه

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار/ کورنۍ کار :

۱۴ مخ ① مشق، وروستۍ عددي شعاع

۱۴ مخ - دوهم لوست
عددي شعاع باندې جمع او تفریق

۱. ذهني روزنه :

- د عددي مربع کانو سره کار کول



- د مختلطو عددونو سره د پورې سلیزو جمع او تفریق، لکه :

۱۳۷ + ۵۰۰ =	۸۳۶ - ۱۰۰ =
۲۴۴ + ۳۰۰ =	۹۸۴ - ۹۰۰ =
۶۲۵ + ۲۰۰ =	۷۵۶ - ۴۰۰ =
۸۹۹ + ۱۰۰ =	۳۵۳ - ۲۰۰ =

او داسې نور. او داسې نور.

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه (۱۴ مخ ① مشق وروستۍ عددي شعاع)

۳. عددي شعاع باندې جمع او تفریق

- عددي شعاع باندې جمع :

ښوونکی د جمع یو سوال (۱۴ مخ ⑦ مشق وکورئ!) په تخته ل
یې یوه عددي شعاع رسموي



* ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د جمع سوال لکه څنګه چې په درسي کتاب کې ښودل شوی دی په عددي شعاع باندې وښیي او حل کړي.
* زده کوونکي د ② مشق پاتې سوالونه د خپل ملګري سره حلوي او ځوابونه سره مقایسه کوي.

- عددي شعاع باندې تفریق :

په هډوکه د ۱۵ مخ په ① مشق کار کول: لومړی ۱۱-۳-۲ = □ د مثال په ټوګه په تخته او پاتې د ملګرو سره حلوي.

۴. د پښتې خولې کار / کورنۍ کار :

۱۵ مخ ⑦ مشق

د دریم فصل پیژندنه :

عنوان : ضرب او تقسیم

د کار د کتاب مخونه : د ۱۶ څخه ۳۴ پورې

د پیشنهاد شوې درسونو شمیر : د ۳۶ شاوخوا کې

موضوعات او مقاصد :

په دې فصل کې د ضرب او تقسیم پاتې خانې [د ۳ ، ۴ ، ۸ ، ۶ ، ۹ او ۷] معرفي شوي دي .

په ټولو خانو پوره پوهېدل د ضرب او تقسیم د لیکلي شکل دپاره یو لازمي شرط دی .

له دې کبله د خانو سره د هر مشق کول ، د درسي کتاب د ورکړل شوې مشقونو سربېره د ذهني روزنې غوښتنه هم ده .

د یو (۱) او صفر (۰) سره ضرب او تقسیم هم باید په یوځو مشقونو کې زده شي .

له دې کبله چې د ضرب او تقسیم خانې له پوهېدو څخه پرته په میخانیکي ډول زده شي نو ټولې خانې د فعالیتونو او عملي قدمونو په واسطه لکه د کاڼو ، پاڼو ، لښتو ، ګوتو زده کړونکو ، عددي شعاعو او داسې نورو په استعمالولو سره معرفي شوي دي . په دې طریقه به زده کړونکي په رښتیا سره د ضرب او تقسیم په معنی پوه شي .

په دې فصل کې د تقسیم انجام شوې دوه مختلفې طریقې په عملي توګه معرفي شوې دي . (مثلاً د ۲۰ مخ ۱ او ۲ درسونه وګورئ)

په ترتیب سره ښودل شوي چې د تقسیم یو شان مساواتونه کولی شي دوه مختلفې عملیې ولري .


۱۶
دریم فصل
ضرب او تقسیم
۱ مساواتونه د نغرې د مربوطه ګروپونو سره وصل او د نغرې د پښو په شمېر لرو سره یې حل کړئ .
۱ ۳ × ۲ =
۲ ۳ × ۲ =
۳ ۳ × ۲ =
۴ ۳ × ۲ =
۵ ۳ × ۲ =
۶ ۳ × ۲ =
۷ ۳ × ۲ =
۸ ۳ × ۲ =
۹ ۳ × ۲ =
۱۰ ۳ × ۲ =
۲ د مساواتونو مطابق په مربوطه تعداد بکسونو کې دایرې حلقې رسمې او مساواتونه حل کړئ .
۶ ۳ × ۲ = ۱۸
۷ ۳ × ۲ =
۲ ۳ × ۲ =
۴ ۳ × ۲ =
۹ ۳ × ۲ =
۵ ۳ × ۲ =
۳ ۳ × ۲ =
۸ ۳ × ۲ =
۱ ۳ × ۲ =
۱۰ ۳ × ۲ =

۱۶ مخ - لومړی لوست

د ۳ د ضرب خانې سره کار کول

درسي معاونات : د پنسل په اندازه ۳۰ لښتې

۱. ذهني روزنه :

- ښوونکی ۳ یو رقمي عددونه په توره تخته لیکي لکه ۲ ، ۶ ، ۷

* زده کړونکي د رقمونو د ځایونو په بدلولو سره ۳ رقمي عددونه وایي او په توره تخته یې لیکي لکه ۲۷۶ ، ۲۶۷ ، ۶۲۷ ، ۶۷۲ ، ۷۲۶ ، ۷۶۲

* زده کړونکي عددونه د کوچني څخه لوی ته ترتیبوي

- د ۳ په قدم مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول

۳ ، ۶ ، . . . . . ، ۳۰

۲۷ ، ۳۰ ، . . . . . ، ۰

۲. تکرار :

د کورنۍ کار (۱۵ مخ ۲ مشق) کتنه او مقایسه

۳. د ۳ د ضرب خانې سره کار کول

- ښوونکی د صنف مخکې ۳۰ لښتې په ۱۰ زده کوونکو په مساوي ډول وېشي .
* ښوونکی مساوانتونه په تورو تخته لیکي لکه ۴ × ۳ =

۴ زده کوونکي خپلې لښتې ښیي او نورې شمېرې لکه ۳ + ۳ + ۳ + ۳ =

بیا ځوابونه پیدا او لیکي .
* نورو مساوانتونو سره کار ته دوام ورکول
- ښوونکی د ۳ کانو ګروپونه په تخته رسمي زده کوونکي صحیح مساوانتونه لیکي او ځوابونه یې معلوموي لکه :

او داسې نور

- د ۱۶ مخ په ① مشق کار کول
* په شریکه په کار بحث کول
* زده کوونکو د رسمونو او تصویر شویو مساوانتونو مطابق د ۳ د ضرب خانې تکمیلوي .
* د ځوابونو کتنه ، مقایسه او اصلاح
* څو ځلې د ۳ د ضرب د خانې لوستل
* د ۳ د ضرب د خانې زیاتې مشق

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۱۶ مخ ② مشق


۱۷
① لاندې مساواتونه د عددي شعاع په مرسته تکميل کړئ .
۳×۱
۱ × ۳ = ۳
۷ × ۳ = □
۴ × ۳ = □
۹ × ۳ = □
۱۰ × ۳ = □
□ × ۳ = ۳۰
□ × ۳ = ۲۱
□ × ۳ = ۶
□ × ۳ = ۲۴
□ × ۳ = ۱۸
۸ × ۳ = □
□ × ۳ = ۹
□ × ۳ = ۱۲
۷ × ۳ = □
□ × ۳ = ۱۵
② هرکارکې د الوالو ګروپونو په شمېرلو سره مساواتونه پيدا او حل کړئ .
مساواتونه د مفقود صحيح خوابونو سره وصل کړئ .
۳×۶
۳×۴
۳×۱
۳×۷
۳×۹
۳×۸
۱۸
۱۲
۳
۹
۲۱
۲۷
۲۴
□ × ۳ = □
③ مساواتونه په عددي شعاع باندې د مثال په شان وښيئ ، خوابونه يې په بکسونو کې وليکئ او سره مقايسه يې کړئ .
مثال :
۵×۳ = ۱۵
۵×۳ = ۱۵
۸×۳ = □
۸×۳ = □
۷×۳ = □
۷×۳ = □

۱۷ مخ - لومړی لوست
د ۳ سره ضرب ، د عددي شعاع استعمال

۱. ذهني روزنه :

- ضرب سره جمع يا تفريق

* ښوونکی په تور تخته ليکي لکه :

۵×۳ = □ + ۶ = ۱۰

۵ ۳ ۷ ۶ ۹ ۲ ۸ ۴

ښوونکی د ترتيب څخه پرته يوه عدد ته اشاره کوي لکه ۷

* زده کوونکي په پټه خوله محاسبه کوي او ځواب وايي لکه

۵×۷ + ۶ = □ ۴۱

* د يوه نوي عدد په جمع کولو سره دوام ورکول لکه: + ۸

* د يوه عدد په تفريقولو سره دوام ورکول لکه: - ۵ يا - ۱۰

۲. تکرار :

- ښوونکي د ۳ د ضرب خانې څخه يو سوال په تور تخته ليکي لکه ۵ × ۳

* زده کوونکي مربوط تعداد د ۳ کانو ګروپونه رسموي لکه ۵ × ۳ = □

* زده کوونکي د ۳ په ګروپونو کې د کانو تعداد شمېرې او خالي خانه ډکوي .

* د نورو مساواتونو سره کار ته دوام ورکول لکه

۳ × ۳ = □ ۹ × ۳ = □

۳ × ۷ = □ او داسې نور

۳. د ۳ سره ضرب ، د عددي شعاع استعمال

- ښوونکی يوه عددي شعاع په تور تخته داسې رسموي

۰ ۵ ۱۰ ۱۵ ۲۰ ۲۵ ۳۰

* په عددي شعاع بحث کول ، زده کوونکي پيدا کوي چې د نقطو خلونه د ۳ قدمونه راښيي .

* ښوونکی يوه تاکلې ځای ته اشاره کوي لکه ۱۸، زده کوونکي د ۳ د قدمونو تعداد او ځواب پيدا کوي چې هغه ۶ د ۳ قدمونه = ۱۸ دی .

* په همدې طريقه کار ته دوام ورکول چې زده کوونکي عددونه پر عددي شعاع باندې اشاره وکړي (۳ يا ۴ سوالونه)

* ښوونکی مساواتونه په تور تخته ليکي لکه

۳ × ۷ = □

زده کوونکي د قدمونو په شمېرلو سره هغه پر عددي شعاع باندې ښيي ځواب يې وايي او خالي خانې ډکوي .

* د ۳ يا ۴ نورو مساواتونو سره کار ته دوام ورکول

- د ۱۷ مخ په ① مشق کار کول
(لومړۍ برخه)
* پر عددي شعاع د ۳ د قدمونو دپاره عددونه لیکل
* په انفرادي توګه د لومړۍ برخې حلول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۱۷ مخ د ① مشق دوهمه او دریمه برخه

۱۷ مخ - دوهم لوست

د ۳ د ضرب خانې سره مختلف مشقونه

۱. ذهني روزنه :

* ښوونکی داسې یو عدد چې د ضرب د یوه یا زیاتو سوالونو ځواب وي په چوکاټ کې په تخته لیکي، لکه : ٦

زده کوونکي د ضرب مربوط سوالونه پیدا کوي او وایي، لکه : ۳ × ۲ = ٦
۲ × ۳ = ٦

* په چوکاټ کې یو پربل پسې د نورو عددونو لیکل، لکه : ۱۰، ۲۵، ۱۴، ۱۸، ۸، ۴۰، ۳۰، ۱۲، ۱۶، ۵۰، ۲۰
زده کوونکي د ضرب مربوط سوالونه وایي.

۲. تکرار او تقویت :

- ښوونکی لاندې عددي شعاع د تختې په منځنۍ برخه کې رسموي :



* ښوونکی د عددي شعاع لاندې لیکي :
□ × ۳ = □
او پر عددي شعاع باندې یوه عدد ته لکه ۱۲ اشاره کوي
* زده کوونکي د صفر څخه تر ۳۰ پورې د ۳ د قدمونو تعداد شمېرې، مسلوات داسې وایي ۴ × ۳ = ۱۲ او خالي خانې ډکوي

* ښوونکی ۴ او ۱۲ د چوکاټونو څخه پاکوي او په همدې طریقه د نورو عددونو سره کار ته دوام ورکوي، لکه : (۲۱، ۱۵، ۲۴، ۹، ۱۸، ۲۷)
- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. د ۳ د ضرب خانې سره مختلف مشقونه

- د ۱۷ مخ په ② مشق کار کول
* زده کوونکي مشق مطالعه او هغه تشریح کوي
* زده کوونکي په آرامۍ سره (انفرادي) کار کوي او سوالونه حلوي.
* مقایسه او اصلاح کول
- په همدې طریقه د ۱۷ مخ په ③ مشق کار کول

۴. کورنی کار : د ۳ د ضرب د خانې یادول

۱۷ مخ - دریم لوست

د ضرب سوالونه چې ځوابونه یې سره مساوي وي پر عددي شعاع باندې ښودل
(د ضرب تبادلوي خاصیت)

۱. ذهني روزنه :

- د جمع مشقونه
* ښوونکی پر تخته لیکي :



زده کوونکي عددونه چې عشي یې تعقیبوي یو پربل پسې په شفاهي ډول ترهغه باید جمع کړي ترڅو منځنۍ عدد ته ورسېږي، لکه : ۵ + ۱ = ٦
٦ + ۳ = ۹
۹ + ۴ = □
او داسې نور = □

شوونکی ټول عددونه پاکوي او په هدې شکل سره نوي عددونه لیکي ، لکه :



۲. تکرار : - دکوربني کارکتنه او مقایسه

- د صفر (۰) څخه تر ۳۰ پورې د ۳ په قدم مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول
- شوونکی د ۳ د ضرب خانې څخه ځینې سوالونه په ټوره تخته لیکي ، زده کوونکي یې په انفرادي توګه حلوي ، لکه :

۵ × ۳ = □	۹ × ۳ = □	□ × ۳ = ۱۲
□ × ۳ = ۲۱	۳ × □ = ۲۴	۳ × □ = ۷۳
□ × □ = ۹	۳ × □ = ۱۸	□ × ۳ = ۳۰

۳. د ضرب سوالونه چې حوابونه یې سره مساوي وي پر عددي شعاع باندې بنودل

شوونکی لاندې عددي شعاع د تختې په منځنۍ برخه کې رسموي (د زده کوونکو کتابونه ترلې وي) او د مساواتونو دپاره یکسونه لکه څنګه چې بنودل شوي دي رسموي .

□ × □ = □



□ × □ = □

* زده کوونکي په عددي شعاع د قدمونو په مختلفو اندازو بحث کوي او پیدا کوي چې د پیل او پای نقطه یې یوه ده ، خو د قدمونو اندازې او تعداد یې سره فرق لري. (۵ د ۳ قدمونه او ۳ د ۵ قدمونه)
* زده کوونکي د هر قدم دپاره پر عددي شعاع عددونه لیکي .
* زده کوونکي د عددي شعاع د پاسنیو او لاندنیو مختلفو قدمونو دپاره مساواتونه پیدا کوي :

۵ × ۳ = ۱۵

۳ × ۵ = ۱۵

* زده کوونکي دواړه مساواتونه سره مقایسه کوي او پیدا کوي چې څه فرق او څه ورته والی سره لري .
* شوونکی زده کوونکو ته لاربښونه کوي چې وړاندې :

کله چې د ضرب په یوه سوال کې د عددونو ځایونو ته تغیر ورکړو ځواب یې یو دول دی.

- په هدې طریقه په لاندې عددي شعاع کار کول

□ × □ = □



□ × □ = □

- د ۱۷ مخ په ④ مشق کار کول
* زده کوونکي مثال مطالعه او هغه تشریح کوي .
* زده کوونکي د خپل اندیوال سره کار کوي، د مساواتونو په اساس قدمونه رسموي او مساواتونه حلوي .
* تشریح ، مقایسه او د ځوابونو اصلاح کول

۴. کوربنی کار :

د ۳ د ضرب خانې زده کړې ته دوام ورکول

۱۸

① د غوڼانو پښې وشمېرئ او مساوات ته حل کړئ .

۱ × ۴ = ۴

۲ × ۴ = □

۳ × ۴ = □

۴ × ۴ = □

۵ × ۴ = □

۶ × ۴ = □

۷ × ۴ = □

۸ × ۴ = □

۹ × ۴ = □

۱۰ × ۴ = □

② د عددي شعاع په مرسته مساوات ته تکميل کړئ .



۱۰ × ۴ = □ × ۴ = ۴۰

۶ × ۴ = □ × ۴ = ۲۸

۳ × ۴ = □ × ۴ = ۱۲

۳ × ۴ = □ × ۴ = ۱۳

۲ × ۴ = □ × ۴ = ۲۰

۲ × ۴ = □ × ۴ = ۱۴

۱ × ۴ = □ × ۴ = ۴

۵ × ۴ = □ × ۴ = ۲۸

۴ × ۴ = □ × ۴ = ۲۸

۴ × ۴ = □ × ۴ = ۳۶

۴ × ۴ = □ × ۴ = ۱۶

③ لاندنيو څرابونو دپاره د ضرب سوالونه جوړ او خپلو کتابچو کې يې وليکئ . لکه : □ × ۴ = ۱۶

۴	۲۸	۲۴	۳۲	۸	۴

۱۸ مخ ـ لومړی لوست

د ۴ د ضرب د خانې تکميلول

۱. ذهني روزنه :

جمع او تفريق ، د سلو څخه انتقال (اوښتل) لکه :

۵۹۵ = ۷ +	۱۹۷ + ۴ =
۹۸ = ۵ +	۳۹۵ + ۸ =
۹۹ = ۸ +	۴۹۶ + ۷ =
۲۹۶ = ۹ +	۳۹۳ + ۸ =
۱۰۵ − ۶ =	۲۰۳ − ۴ =
۱۰۲ − ۴ =	۵۰۴ − ۶ =
۱۰۷ − ۹ =	۶۰۵ − ۷ =
۱۰۳ − ۸ =	۹۰۳ − ۵ =

۲. تکرار :

د کوربې کار تکرار او مقايسه

۳. د ۴ د ضرب د خانې تکميلول :

ـ د ۱۸ مخ په ① مشق کار کول

* په تصويرونو بحث کول او د نورو حيواناتو نومونه اخيستل چې ۴ پښې ولري

* همېشه د ۴ په جمع کولو سره په هرکتارکې د پښو د تعداد د ليکلو د کار معلومول

* د خالي خانو د ډکولو دپاره ملګرې سره کار کول (د ممکنو اصلاحاتو د کېدو دپاره د پنسل استعمال)

* په توره تخته باندې په قدمونو کې د ۴ د ضرب خانې په ليکلو سره د ځوابونو مقايسه کول (يو زده‌کوونکی او يو مساوات)

۱ × ۴ = ۴

۲ × ۴ = ۸

۳ × ۴ = ۱۲ او داسې نور

* شووېنکی د ۴ د ضرب خانې څخه په غير منظم ډول د سوالونو پوښتنه کوي . بېل بېل زده‌کوونکی ځواب وايي .

ـ د ۱۸ مخ په ② مشق کار کول

* زده‌کوونکي عددي شعاع مطالعه کوي او د ۴ شپږدل شويو قدمونو ته شمېره ورکوي .

* شووېنکی د ۴ د ضرب د خانې يو عدد وايي مثلاً ۲۰ ، زده‌کوونکي د ۴ د قدمونو تعداد شمېرې [هغه ۵ قدمه دی] او مساوات وايي ، لکه :

۴ × ۵ = ۲۰

* نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار :

د ۱۸ مخ د ② او ③ مشق ټول مساواتونه حلول

۱۹

① سوالونه په عددي شعاع باندې د مثال په شان ونښيئ ، ځوابونه په بکسونو کې ولیکئ او سره مقایسه یې کړئ .

۴ × ۱۰ = ۱۰ × ۴

۴ × ۹ = ۹ × ۴

۴ × ۶ = ۶ × ۴

۴ × ۷ = ۷ × ۴

② لاندې سوالونه د مثالونو په شان حل کړئ .

۳ × ۴ = ۴ × ۳ = ۱۲

۴ × ۵ = ۵ × ۴ = ۲۰

۴ × ۷ = ۷ × ۴ = ۲۸

۴ × ۲ = ۲ × ۴ = ۸

۴ × ۸ = ۸ × ۴ = ۳۲

۴ × ۴ = ۴ × ۴ = ۱۶

۴ × ۹ = ۹ × ۴ = ۳۶

۴ × ۱ = ۱ × ۴ = ۴

۴ × ۷ = ۷ × ۴ = ۲۸

۴ × ۶ = ۶ × ۴ = ۲۴

۴ × ۲ = ۲ × ۴ = ۸

③ د ضرب سوالونه پیدا او ځوابونه یې په مربوطه بکسونو کې ولیکئ .

مثالونه :

۵ × ۳ = ۱۵

۵ × ۱ = ۵

۵ × ۴ = ۲۰

×	۲	۴	۱	۳
۵	۱۰	۲۰	۵	۱۵
۳				
۷				
۴				
۱				
۹				
۶				

۱۹ مخ - لومړی لومړی لوست

د ضرب سوالونو دپاره چې ځواب یې سره یوشان وي د عددي شعاع استعمال

۱. ذهني روزنه :

- ښوونکی لاندې عددونه لکه څنګه چې ښودل شوي دي په توره تخته لیکي .

۵ × ☐ = ۳۵ ۲۰ ۷ ۴ ۶ ۸

ښوونکی د دایرې شاوخوا عددونو ته اشاره کوي لکه ۳ زده کوونکي مساواتونه او ځوابونه وایي لکه :

۵ = (۲ + ۳)

۲۵ = ۵ × ۵

نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول

- په همدې طریقه لاندنیو عددونو سره کار کول

۱۰ × ☐ = ۱۱ ۱۳ ۹ ۱۵ ۴۰ ۱۲ ۱۸

۲. تکرار :

- د صفر (۰) څخه ۴۰ پورې د ۴ په قدم مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول
- د ۱۸ مخ ② او ③ مشقونو سره کار کول

* ښوونکی د ۴ د ضرب خانې څخه یو عدد په توره تخته لیکي لکه ۲۸ ، زده کوونکي په عددي شعاع د ۴ قدمونه شمېرې او مساوات وایي لکه .

۷ قدمونه د ۴ = ۲۸ او یا ۷ × ۴ = ۲۸

* د ۴ د ضرب خانې نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول

- کورني کارونه مقایسه کول : ۱۸ مخ ② او ③ مشقونه

۳. د ضرب سوالونو دپاره چې ځواب یې یوشان وي د عددي شعاع استعمال

- ښوونکی لاندنۍ عددي شعاع د تورې تختې په وسط (منځنۍ برخه) کې رسموي او مساواتونه لکه څنګه چې لاندې ښودل شوي دي لیکي .

☐ = ۴ × ۵

۰ ۵ ۱۰ ۱۵ ۲۰

☐ = ۵ × ۴

* زده کوونکي مساواتونو دپاره د عددي شعاع په مربوطه ارخونو کې قدمونه رسموي .
* زده کوونکي مساواتونه ، پر عددي شعاع قدمونه او ځوابونه سره مقایسه کوي .

ښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې پیدا کړي :

کله چې په ضرب کې عددونه بدل کړو نو ځواب یې همغه (یوشان) دی .

- د ۱۹ مخ په ① مشق کار کول
* د مثال قدمونه مقایسه او بحث پرې کول
* د ملګرې سره مشق حلول
* ځوابونه مقایسه کول

۴. کورنی کار :

خپله چې امکان لري د ۴ د ضرب خانې په یاد ول یادول

۱۹ مخ - دوهم لوست

د ۴ د خانې څخه د ضرب د سوالونو جمع او یا تفریقول

درسي معاونات : ۱۰ لښتې چې هره یوه ۴ پاڼې ولرې

۱. ذهني روزنه :

- د تفریق مشقونه

ښوونکی لاندې عددونه په تورې تخته لیکي او تشریح کوي چې زده کوونکي باید د منځني عدد څخه ترهغه تفریق وکړي چې صفر(۰) ته ورسیږي .

هغوی باید غشی تعقیب کړي .



[کېدی شي د هرې نقطې څخه تفریق شروع شي دا په دې معنی چې هر مشق دپاڼه د تفریق مختلف کتارونه ممکن دي، لکه :

۲۶ - ۵ = ۲۱ ۲۶ - ۳ = ۲۳ ۲۶ - ۴ = ۲۲ ۲۶ - ۱ = ۲۵
۲۱ - ۴ = ۱۷ ۲۳ - ۱ = ۲۲ ۲۲ - ۳ = ۱۹ ۲۵ - ۵ = ۲۰
اوداسې نور = ۰ اوداسې نور = ۰ اوداسې نور = ۰ اوداسې نور = ۰]

۲. تکرار : ښوونکی د دوو سوالونو د پاڼه چې ځواب یې یو شان وي یکسونه جوړوي لکه :

۸ = □ × □
۸ = □ × □

* زده کوونکي ورکړل شوي ځواب ته دوه (مربوط) سوالونه جوړوي او خالي خانې ډکوي، لکه :

۸ = ۲ × ۴
۸ = ۴ × ۲

- لاندنیو عددونو د پاڼه همدې عملیې ته دوام ورکول ۱۲ ، ۲۰ ، ۳۲ ، ۲۴ ، ۴۰

۳. د ۴ د خانې څخه د ضرب د سوالونو جمع او یا تفریقول

- ښوونکی ۱۰ وړې لښتې چې په هره یوه کې ۴ پاڼې وي راوړي

* ښوونکی ۳ لښتې چې په هره یوه کې ۴ پاڼې وي یوه زده کوونکي ته ورکوي او د سوال غوښتنه کوي زده کوونکي پیدا کوي او لیکي : ۳×۴
* ښوونکی دوه نورې لښتې چې هره یوه کې ۴ پاڼې وي همغه زده کوونکي ته ورکوي او د عددي قصې غوښتنه کوي .

زده کوونکي معلوموي او وایي چې "هلته ۳×۴ پاڼې او ۲×۴ پاڼې سره جمع شوې وې اوس هلته ۵×۴ پاڼې دي ".

* ښوونکی د مساوات غوښتنه کوي !

زده کوونکي معلوموي او په تورې تخته لیکي

۳×۴ + ۲×۴ = ۵ × ۴ = ۲۰

نوټ : زده کوونکي باید پوهېدلی وي چې دا طریقه د لومړنۍ محاسبې ۳ × ۴ = ۱۲
۲ × ۴ = ۸ ، ۱۲ + ۸ = ۲۰ څخه اسانه ده.

* د دوو نورو مثالونو سره په همدې طریقه کار ته دوام ورکول لکه : ۵ لښتې + ۳ لښتې ، ۲ لښتې + ۲ لښتې

- په همدې طریقه د منفي (-) سره کار کول مثلاً یو زده کوونکی ۶ لښتې اخلي (حاصلوي) او بیا د هغو څخه ۴ لرې کوي.

زده کوونکي عددي قصه او صحیح مساوات پیدا کوي لکه ۶×۴ - ۴×۴ = ۲ × ۴ = ۸

- د ۱۹ مخ په ② مشق کار کول
* د جمع او تفریق دوه سوالونه حلول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

د ۱۹ مخ د ② مشق پاڼې سوالونه

۱۹ مخ ـ دریم لوست

د مختلفو خانو څخه د ضرب د سوالونو مشق

درسي معاونات : تشته

۱. ذهني روزنه :

عددي دایرې سره تقسیم :

لومړی ۲ سره بیا ۱۰ او وروسته ۵ سره

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه
- بشوونکی لاندې سوالونه په تورې تختې لیکي لکه :

۳ × ۴ + ۶ × ۴ = ۳ × ۴ − ۲ × ۴

۷ × ۴ + ۱ × ۴ = ۸ × ۴ − ۵ × ۴

* زده کوونکي هغه ښې ښې حلوي .
* د ځوابونو کتنه او مقایسه

۳. د مختلفو خانو څخه د ضرب د سوالونو مشق

- د ۱۹ مخ د ۳ مشق سره کار کول
* بشوونکی د کتاب څخه جدول په تورې تختې رسموي .
* زده کوونکي بحث کوي چې په دغه جدول به څنګه کار کوي.
* زده کوونکي د لومړۍ کتار وروستنی سوال حلوي او د ځواب په بکسه کې په ځواب باندې خط کاږي لکه :

۵ × ۲ = ۱۰

* په کډه سره پر تورې تختې د دوهم کتار د سوالونو حلول
* زده کوونکي ښې ښې د نورو درې کتارونو سره کار کوي .
* د ملګرې سره اصلاحي کتنه

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۱۹ مخ د ۴ مشق پاتې سوالونه

زیات اشنا کېږي نو ځکه لوستنه ، تیاري او تدریس به اسانه شي . وروسته هغه کولی شي د ماشوم په ضرورتونو باندې لا زیات تمرکز وکړي .

د درسي خاکو جوړښت :

درسونه د یوې ساده نمونې څخه چې ۴ برخې لري پیروي کوي .

۱. ذهني روزنه :

ټول درسونه د ګرمونې په مرحلې سره چې د ذهني روزنې په نامه یادېږي شروع شوي دي .
معمولاً توقع کېږي چې په دې برخه کې تقریبًا پنځه (۵) دقیقې مصرف شي .یعنې په عمومي ډول د ۳ ـ ۴ دقیقو څخه کمې او یا د ۶ ـ ۷ دقیقو څخه زیاتې نه شي . تقریبًا ټول مشقونه کاملاً شفاهي دي .
د درس دا مرحله دوه اساسي مقصدونه لري .
الف :
د ریاضي په واسطه ماشومان معاملوته چمتو کوي چې په بنیادي ډول د عددونو په واسطه کېږي.او مرسته کوي چې ضروري تمرکز او تحرک ته انکشاف ورکړي .
ب :
دا د ماشومانو استعدادونه اصلاح او تقویه کوي چې د عددونو په قیمت او ترتیب وپوهېږي او ساده سوالونه په ذهني ډول حل کړي . دا توانایي (استعداد) د ورځني ژوند په ډېرو حالاتو (واقعیتونو) لکه په اخیستلو او خرڅولو ، د قیمتونو په تخمینولو او داسې نورو کې ډېر ارزښت لري او مرسته کوي .
د ذهني روزنې د لارښوونې دپاره په (۲) مخ کې ځینې بنیادي قوانین تشریح شوي دي. معمولاً یو خو ټاکلي سوالونه د ذهني مشق د مثالونو په توګه ښوونکي ته ورکړل شوي دي.البته کولی شي خپله هم سوالونه پیدا کړي . نور به ښوونکی تجربه حاصلوي او نور به هم ورته په زړه پورې شي چې د ذهني روزنې دپاره خپله کار او سوالونه پیدا کړي .

۲. تکرار او تقویه :

دوهمه برخه هم باید دومره وخت ونه نیسي بلکې ضروري ده چې دا درس د مخکینې تدریس او زده شوي درس سره ارتباط پیدا کړي . اکثر د کورنۍ کار کتنه او مقایسه پېشنهاد شوې ده. کېدی شي د کورنۍ کار کتنه په لاندې طریقه په لنډ وخت کې په موثر ډول اجرا شي .
ـ ببل ببل زده کوونکی ځوابونه لولي ، نورې مقایسه او که ضرورت وي تصحیح کوي .
ـ په همدې وخت کې ښوونکی شاوخوا ګرځي او د یو خو زده کوونکو چک کوي .
زده کوونکي باید داسې روزل شوي وي چې دا کار په صداقت سره وکړي . که په صنف کې د ښوونکي له خوا تقویه او ځارنه نه وي زده کوونکي به هېڅکله هم په رښتیا خپل کورنی کار اجرا نه کړي . ښوونکي باید ګوري چې زده کوونکو خپل کورنی کار په صحیح ډول اجرا کړي دی. نو ځکه ځوابونه باید مقایسه او تشریح شي ، د ضرورت په وخت کې باید تصحیح یا اضافي تشریح ته چانس ورکړل شي . ښوونکی کولی شي چې د اضافي مشق دپاره د یوځو

۲۰

په (۳) او (۴) تقسیم

① ۱۳ دانې کیلې لرو غواړو په دوو مختلفو طریقو یې په ۳ تقسیم کړو.

الف : ۱۳ دانې کیلې د ۳ په ګروپونو تقسیموو .



مساوات یې ۱۳ ÷ ۳ = □ دی .

نتیجه: د ۳ کیلو □ ګروپونه لاس ته راځي .

ب : ۱۳ دانې کیلې په مساوي ډول په ۳ ماشومانو تقسیموو .



مساوات یې ۱۳ ÷ ۳ = □ دی .

نتیجه: هر ماشوم □ کیلې لاس ته راوړي .

② لاندې کاڼي د ۳ په ګروپونو تقسیم کړئ .



۲۱ ÷ ۳ = □



۲۷ ÷ ۳ = □

③ لاندې کاڼي د مساوي ډول په ۳ کښو ویشل تقسیم کړئ .



۲۱ ÷ ۳ = □



۲۷ ÷ ۳ = □

۲۰ مخ - لومړی لوست

په دوو مختلفو طریقو سره پر ۳ تقسیم

درسي معاونات : ۳۰ کتابونه

۱. ذهني روزنه : تقسیم د جمع یا تفریق سره

– ښوونکی لاندې عددونه لکه څنګه چې ښودل شوي دي پر تخته لیکي .



* ښوونکی د دایرې شاوخوا ته عددونه د ترتیب څخه پرته اشاره کوي لکه ۴۰، زده کوونکي په پته خوله محاسبه کوي او وایي لکه ۴۰ ÷ ۵ + ۳ = □ + ۳ = ۱۱

* لاندنیو عددونو سره په هدې طریقه کار کول



۲. تکرار :

د کورني کار مقایسه اوکتنه

۳. په دوو مختلفو طریقو سره پر ۳ تقسیم

(د زده کوونکو کتابونه باید تړلي وي.)

– ښوونکی د ۶ زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د صنف مخې ته راشي او د ۳ زده کوونکو ګروپونه تشکیل کړي .

* نور زده کوونکي عددي قصه پیدا او وایي: "کله چې ۶ زده کوونکي د ۳ په ګروپونو ووېشو نو دوه ګروپونه حاصلوو." او مساوات په تخته لیکي لکه ۶ ÷ ۳ = ۲

– ښوونکی ۶ نور زده کوونکي مخې ته غواړي چې ۳ مساوي ګروپونه تشکیل کړي .

* ښوونکی ۳ غټې (پراخې) دایرې د زمکې پر مخ رسموي ، ۶ زده کوونکي ۳ دایرو کې یو یو داخلیږي .

* زده کوونکي عددي قصه وایي : " ۶ زده کوونکي په ۳ مساوي ګروپونو وېشو ، په هرګروپ کې ۲ زده کوونکي لرو."

* نور زده کوونکي مساوات پیدا او لیکي لکه ۶÷۳= ۲

* د تقسیم د دوو مختلفو ډولونو او د هغوی د مساواتونو مقایسه او پرې بحث کول ، زده کوونکي پیدا کوي : په لومړي تقسیم کې موږ د ګروپونو تعداد حاصل کړ (د ۳ زده کوونکو ۲ ګروپه) په دوهم تقسیم کې موږ هرګروپ کې د زده کوونکو تعداد حاصل کړ (د ۳ ګروپونو هرګروپ کې ۲ زده کوونکي) د تقسیم د دواړو ډولونو د پاره مساوات یو شان دی : ۶ ÷ ۳ = ۲

- یو زده کوونکی ۱۵ کتابونه راټولوي او ۱۵ په توره تخته لیکي .
* ښوونکی غوښتنه کوي چې کتابونه د ۳ په ګروپونو تقسیم کړي او لیکي لکه :

۱۵ ÷ ۳ = □

* زده کوونکي هر ځلې د کتابونو د ډېرې څخه ۳ کتابونه ښلوي .
* نور زده کوونکي شمېر کوي او معلوموي چې هغوی د ۳ کتابونو ۵ ګروپونه حاصل کړي دي او مساوات حلوي لکه :

۱۵ ÷ ۳ = [۵]

- ښوونکی نور ۱۵ کتابونه راټولوي او ۳ زده کوونکي مخې ته راغواړي .
* ښوونکی وایي : " غواړو چې دا کتابونه د ۳ زده کوونکو په منځ کې په مساوي ډول ووېشو او په توره تخته لیکي : ۱۵ ÷ ۳ = □
* د صنف یو زده کوونکی ټول کتابونه د ۳ زده کوونکو په منځ کې یو یو وېشي .
* زده کوونکي عددي قصه پیدا او وایي : " موږ ۱۵ کتابونه د ۳ زده کوونکو په منځ کې وېشلي چې هر یوه ۵ کتابونه لاس ته راوړي دي ."
* زده کوونکي مساوات حلوي : ۱۵ ÷ ۳ = [۵]
* زده کوونکي لکه څنګه چې یې مخکښې مثال کې کړي دي د ۱۵ کتابونو د تقسیم دواړه طریقې سره مقایسه کوي .

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار / کورنی کار : نشته

۲۰ مخ - دوهم لوست

دوو مختلفو طریقو سره پر ۳ تقسیم

۱. ذهني روزنه :

ښوونکی په توره تخته لیکي :

۱۰۰۰ - - = □

او تشریح کوي چې : هغه عدد وایي او زده کوونکي باید دوه ځلې همدا عدد په ذهن کې د لیکل شوي عدد څخه تفریق کړي ، مثلاً ښوونکی وایي ۳۰۰ زده کوونکي حساب کوي :

۱۰۰۰ - ۳۰۰ = ۳۰۰ - ۴۰۰

تفریق کېدونکي عددونه ۲۰۰ ، ۱۰۰ ، ۵۰ ، ۱۰ ، ۴۰۰ ، ۵۰۰ ، ۱ ، ۶

- په یوه سوال کې د ضرب دوه سوالونه :

ښوونکی مثال په توره تخته لیکي لکه :

۳ × ۲ × ۱۰ = □

ښوونکی وایي ۳ × ۲ او د پېښې خولې محاسبې ته وخت ورکوي او بیا وایي ۱۰ × وروسته زده کوونکي ځواب وایي .

سوالونه :

۴ × ۲ × ۱۰ = ۲ × ۲ × ۱۰ =

۵ × ۲ × ۱۰ = ۱ × ۱۰ × ۵ =

۱ × ۲ × ۱۰ = ۲ × ۵ × ۱۰ =

۲. تکرار :

- زده کوونکي د تقسیم عملي مثالونه چې په مخکښو درسونو کې اجرا کړي او هغه څه چې یې ترې حاصل کړي دي را په یاد وي .

۳. دوو مختلفو طریقو سره پر ۳ تقسیم

- په ۲۰ مخ کار کول
* زده کوونکي تصویرونه مطالعه او د تقسیم دوه مختلفې ښودل شوې طریقې بیانوي .

د الف تصویر :

۱۲ کېلې د ۳ په ګروپونو تقسیم شوې دي .

د ب تصویر :

۱۲ کېلې په ۳ هلکانو په مساوي ډول تقسیم شوې دي .

* زده کوونکي د ملګري سره مساواتونه حل او خالي خانې ډکوي .
* زده کوونکي د (الف) او (ب) برخې سره مقایسه کوي .

* یو زده کوونکی ټول مشق صنف ته لولي او نور یې په پټه خوله تعقیبوي .

- په یوه مثال باندې په توره تخته کارکول
* ښوونکی لاندې کار په توره تخته رسموي :

الف :

ب :

۱۲ ÷ ☐ = ☐ ۱۲ ÷ ☐ = ☐

* زده کوونکي د تقسیم دواړه مختلف سوالونه تشریح کوي
* زده کوونکي یې داسې تکمیلوي :

الف : د درې گروپونو څخه دایرې تاوول

ب : کڅوړه ته د کانړو یو یو اړول

* زده کوونکي مساوانۍ پیدا او حلوي الف او ب سره مقایسه کوي .

۴. د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۲۰ مخ ② او ③ مشقونه

۲۱

① ۲۰ دانې کیلې لرو خواړو په دوو مختلفو طریقو یې په ۴ تقسیم کړو .

الف) ۲۰ دانې د ۴ په گروپونو تقسیمړو .



مساوات یې ۲۰ ÷ ☐ = ۴ دی .

نتیجه : د ۴ کیلو ☐ گروپونه لاس ته راغلي .

ب) ۲۰ دانې کیلې په مساوي ډولونو په ۴ ماشومانو تقسیمړو .



مساوات یې ۲۰ ÷ ۴ = ☐ دی .

نتیجه : هر ماشوم ☐ کیلې لاس ته راوړي .

د عددونو د تقسیمولو دواړه دوه مختلفې طریقې لرو . په دواړو طریقو کې د مساواتونو لیکنه او څرګندونه یو شان دي .

② کاڼي په مساوي ډولونو په بکسونو تقسیم او مساواتونه یې حل کړئ .



۲۱ مخ - لومړی لوست

په دوو مختلفو طریقو سره په ۴ تقسیم

درسي معاونات : د ۱۰۰ کاڼو څوکڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- د ۴ په قدمونو مخ په ورانۍ او مخ په شا شمېر کول
- ښوونکی په توره تخته لیکي :

☐	=		+	۱۰۰ +

* د ټبرې ورځې د منفي په شان د جمع مشقونه مثلاً ښوونکی وایي ۲۰۰ + زده کوونکي په ذهني توګه حساب کوي .

۱۰۰ + ۲۰۰ + ☐ = ۵۰۰

جمع کېدونکي عددونه :

+ ۱۰۰ ، ۵۰ ، ۳۰۰ ، ۴۰۰ ، ۳۰ ، ۶۰ ، ۷ ، ۸۰

۲. تکرار :

د کورني کارکتنه او مقایسه

۳. په دوو مختلفو طریقو سره په ۴ تقسیم

د ۲۱ مخ په ① مشق کارکول

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ۲۱ مخ ① مشق په انفرادي توګه مطالعه کړي ، د ملګري سره په موضوع بحث وکړي او خالي خانې ډکې کړي .
* په ۴ باندې د تقسیم د دوو مختلفو طریقو مقایسه کول او په دواړو مساواتونو بحث کول
* د چوکاټ د متن لوستل
- د کانو په مرسته پر ۴ د تقسیم د دوو طریقو مشق
* ښوونکی ټولګی په ګروپونو وېشي (د ۴ ګروپونه تر ټولو ښه دي ، حتمًا په مزدمو ټولګیو کې هم باید ګروپونه د ۸ زده کوونکو څخه زیات نه شي . هر ګروپ د ۱۰۰ کانو یوه کڅوړه ترلاسه کوي).
* ښوونکی په تخته کار تشریح کوي: هغه د ۲۸ کانو دوه ډبرې رسموي .



د ۴ کانو څو ګروپونه دي ؟

په هره کڅوړه کې څوکانې دي؟

* هر ګروپ د ۲۸ کانو دوه ډبرې جوړوي .
* ګروپونه په عملي ډول په دوو ښودل شویو طریقو سره کانې تقسیموي (۴ کاغذونه یا ۴ دایرې د کڅوړو په څای تعیندی شي)
* د څوابونو مقایسه کول
* په تخته د مربوطه مساوات لیکل
* په همدې طریقه د کانو مختلفو ډبرو سره ګروپونه خپله کار کوي لکه : ۳۶ ، ۲۴ ، ۱۶

(کله چې زده کوونکي کار کوي ښوونکی مربوط مساوات په تخته لیکي :)

لکه : ۳۶ ÷ ۴ = ☐

۲۴ ÷ ۴ = ☐

۱۶ ÷ ۴ = ☐

* په څوابونو بحث کول او د مساواتونو خالي خانې ډکول
* د سانتي دپاره کڅوړوکې د کانو بېرته اچول

۴. کورنی کار / په ټولګي کې د بېټي خولې کار:

۲۱ مخ ② مشق

۲۲

① لاندې سوالونه د مثال په شان پر عددي شعاع وښيئ او سوالونه حل کړئ.



② لومړۍ د ضرب سوالونه تکميل او بيا په صحيح تعداد حلقې رسم کړئ. ورسره حلقې د سوالونو مطابق په ګروپونو تقسيم کړئ او د تقسيم سوالونه تکميل کړئ.

۶ × ۳ = ۱۸		۱۸ ÷ ۳ = □
۷ × ۴ = □		□ ÷ ۴ = □
۸ × ۴ = □		□ ÷ ۴ = □
۹ × ۳ = □		□ ÷ ۳ = □
۵ × ۲ = □		□ ÷ ۲ = □

* بنوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې هغه حلقې د ۳ په ګروپونو ووېشي ، مساوات پيدا او حل کړي :

□ = ۳ ÷ ۲۴

* زده‌کوونکي د توري تختې سوال د کورنۍ کار د مربوطه سوال سره مقايسه کوي .
* د کورنۍ کار د ۲ يا ۳ نورو سوالونو سره په همدې طريقه د کار جاري ساتل

۳. د عددي شعاع په مرسته په ۳ او ۴ تقسيم

– بنوونکی لکه څنګه چې لاندې بنودل شوي دي حلقې او عددي شعاع په توره تخته رسموي او سوالونه ليکي :



* زده‌کوونکي حلقې د ۳ په ګروپونو وېشي او سوال حلوي .
* بنوونکی زده‌کوونکي رهنمايي کوي چې همدا سوال په عددي شعاع حل کړي :



* زده‌کوونکي بحث کوي او معلوموي چې کولی شي د ۳ د قدمونو په ښلولو سره تقسيم وکړي د ۱۲ څخه شروع او ترهغه قدمونه ښلوي تر څو صفر ته ورسېږي .
* زده‌کوونکي عددي شعاع د حلقو د کتار سره مقايسه کوي او معلوموي چې دا هم د ۳ په ګروپونو د وېشلو په شان دی .

– د ۲۲ مخ ① مشق سره کار کول

* بنوونکو د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې لومړنۍ عددي شعاع مطالعه کړي .
* زده‌کوونکي بحث کوي او معلوموي چې عددي شعاع د تقسيم دوه سوالونه ښيي .

د عددي شعاع د پاسه : ۲۷ ÷ ۳ = ۹

۲۲ مخ ـ لومړی لوست .

د عددي شعاع په مرسته پر ۳ او ۴ تقسيم

۱. ذهني روزنه :

– د ۳ او ۴ په قدمونو مخ په وراندې او مخ په شا شمېر کول

۰ ، ۳ ، ۶ ، ... ، ۳۰ ، ۲۷ ، ... .

۰ ، ۴ ، ۸ ، ... ، ۴۰ ، ۳۶ ، ... .

۲. تکرار :

– د کورنۍ کار کتنه او مقايسه : ۲۱ مخ ② مشق
د ۳ يا ۴ درکل شويو کڅوړو ترمنځ تقسيم کول
– د ۳ يا ۴ په ګروپونو کې د تقسيم مشق
* بنوونکی د کورنۍ کار څخه يو تعداد حلقې په توره تخته رسموي مثلاً ۲۴ .

* د ۲۷ څخه شروع کول، تر صفر پورې د ۳ قدمونو ببلول. ۹ د ۳ قدمونه دي.
د عددي شعاع لاندې: ۳۶ ÷ ۴ = ☐ ۹
د ۳۶ څخه شروع کېږي، تر صفر پورې د ۳ قدمونو ببلول. ۹ د ۴ قدمونه دي.
* زده‌کوونکي دوهمه عددي شعاع مطالعه کوي معلوموي او وايي چې په دې وخت کې هغوی بايد مناسب تعداد د ۳ او ۴ قدمونه رسم کړي. د ورکړې شوې نقطې څخه شروع کېږي او مساواتونه حلوي.
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول
* زده‌کوونکي په پټه خوله د ملګري سره کار کوي او د نورو دوو عددي شعاع کانو سوالونه حلوي.
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. کورنی کار: ۲۲ مخ، ① مشق، وروستنۍ دوه عددي شعاع کانې

۲۲ مخ - دوهم لوست
د ضرب او تقسيم ترمنځ د رابطې ښودل

۱. ذهني روزنه:

ځنځيرې سوالونه د ذهني روزنې دپاره ښه دي چې د فکر کولو قدرت ته وده ورکړي لکه ۷ + ۳ + ۵۰ + ۴۰ + ۱۰ = ☐

د ځنځيرې سوالونو سره د کار کولو قوانين:
۱. هر ځانګړی سوال بايد اسانه وي چې زده‌کوونکو ته محاسبې د ادامې دپاره ښه موقع وي.
۲. ښوونکي بايد داسې سوال پيدا کړي چې ځواب يې په اسانۍ سره د بل اسانه سوال دپاره استعمال شي.
۳. ښوونکي بايد د بل سوال د ويلو څخه مخکې د محاسبې دپاره وخت ورکړي.
۴. زده‌کوونکي بايد کاملاً آرام او متوجه وي. د ځنځيرې سوال د شروع کيدو څخه وروسته بايد په لوړ آواز هيڅ سوال ونه شي.
۵. که چېرې زده‌کوونکو ځنځيرې سوالونه نه وي استعمال کړي نو ښوونکي کولی شي سوالونه ببل ببل او ورو ورو په توره تخته وليکي. (پورته وګورئ!) په دې طريقه کيدی شي حتی سوال د وروستي ځواب د ميزان دپاره تکرار شي.
۶. په پيل کې ښوونکي بايد د اشتباهاتو د مخنيوي دپاره سوالونه ځان سره وليکي.
مثال:

۱۰۰۰ − ۹۰۰ − ۲ × ۹۰	=	☐ ۳۰
۵ × ۵ + ۱۵ + ۶۰	=	☐
۵۰ − ۱۰ − ۲۰ ÷ ۱۰	=	☐
۱ + ۱۰ + ۹ − ۱۹	=	☐
۳ × ۳ + ۶ ÷ ۵	=	☐
۱۶۰ + ۴۰ + ۳۰۰ − ۱۱۰	=	☐ اوږدې ښوونې.

۲. تکرار: د کورنی کار کتنه او مقايسه

ښوونکی عددي شعاع په توره تخته رسموي.

☐ = ☐ ÷ ۴



☐ ÷ ☐ ۳

* زده‌کوونکي رسم شوې عددي شعاع ته صحيح مساوات پيدا او خالي خانې ډکوي.

۳. د ضرب او تقسيم ترمنځ د رابطې ښودل

- ښوونکی د ۳ يا ۴ د خانې څخه د ضرب يو سوال د تورې تختې په ښه خوا کې ليکي لکه:
۷ × ۳ = ☐ (لاندې وګورئ!)

* زده‌کوونکي ځواب پيدا او ليکي .
* ښوونکی د سوال په خواکې يو لوی بکس رسموي (لاندې ګورئ!) او د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د سوال مطابق کاڼي رسم کړي .
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کاڼي د ۳ په کروپونو وويشي . (لاندې ګورئ!)
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د تقسيم مربوط سوال پيدا او وليکي .

په پای کې تره تخته داسې ښکاري :

- دوو نورو مساواتونو سره په همدې طريقه کار کړئ

□ = ۴ × ۵

□ = ۳ × ۸

- د ۲۲ مخ په ① مشق کار کړئ

* زده‌کوونکي کار (عمل) مطالعه ، تشريح او لومړی سوال حلوي .
* زده‌کوونکي په پټه خوله په دوهم سوال کار کوي ځواب په لوړ آواز لولي او مقايسه کوي .

۴. کورنی کار : د ۲۲ مخ د ② مشق ۳ سوالونه

۲۳

① لاندې سوالونه د مثال په شان تکمیل او د دواړو خواوو عددونه سره مقایسه کړئ.

۲۷ ÷ ۳ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۲۷ ، ۲۷ ÷ ۹ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۲۷

۲۲ ÷ ۲ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۲۲ ، ۲۲ ÷ ☐ = ۱۱ ځکه ☐ × ۱۱ = ۲۲

۱۸ ÷ ۲ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۱۸ ، ۱۸ ÷ ☐ = ۹ ځکه ☐ × ۹ = ۱۸

۱۲ ÷ ۲ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۱۲ ، ۱۲ ÷ ☐ = ۴ ځکه ☐ × ۴ = ۱۲

۱۲ ÷ ۴ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۱۲ ، ۱۲ ÷ ☐ = ۳ ځکه ☐ × ۳ = ۱۲

۲۴ ÷ ۲ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۲۴ ، ۲۴ ÷ ☐ = ۶ ځکه ☐ × ۶ = ۲۴

۱۲ ÷ ۳ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۱۲ ، ۱۲ ÷ ☐ = ۴ ځکه ☐ × ۴ = ۱۲

۴۰ ÷ ۲ = ☐ ځکه ☐ × ☐ = ۴۰ ، ۴۰ ÷ ☐ = ۵ ځکه ☐ × ۵ = ۴۰

② لاندې سوالونه حل کړئ.

☐ = ۲ − ۱۸ ، ☐ = ۲ − ۲۶۰ ، ☐ = ۲ − ۲۰ ، ☐ = ۲ − ۹ ، ☐ = ۲ − ۲۱

☐ = ۴ − ۲۲ ، ☐ = ۳ − ۱۸ ، ☐ = ۴ − ۱۲ ، ☐ = ۳ − ۱۲ ، ☐ = ۳ − ۱۲

③ سوالونه تکمیل او مربوطه سوالونه یو بل سره د ښي لورې مثال په شان وصل کړئ.

۷ × ۴ = ☐ ، ۲۷ = ☐ × ۹ ، ۲۰ × ۲ = ☐ ، ۳۰ × ۵ = ☐ ، ۸ = ☐ × ۲۰ ، ۱۰ × ☐ = ۲۰ ، ۴ × ۱ = ☐

☐ = ۴ × ۲۲ ، ☐ = ۲ × ۸ ، ☐ = ۲ × ۱ ، ☐ = ۴ × ۲۸ ، ☐ = ۳ × ۵ ، ☐ = ۳ × ۱۷ ، ☐ = ۳ × ۱۰

④ په ګلونو کې شوول شوي د ضرب سوالونه تکمیل کړئ.



۲۳ مخ - لومړی لوست

د تقسیم د سوالونو حلول او د هغوی مربوط د ضرب د سوالونو موندل

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دایرې سره لکه څنګه چې لاندې شوې ده کار کول



۵۰۰ −

☐ = ۲۰۰ + ۵۰۰ ، ☐ = ۲۰۰ − ۵۰۰

- څنګې د سوالونه : د لاندې سوالونو سره د تېرې ورځې په شان کار کول لکه :

☐ = ۴ × ۱۰۰ − ۶۰ + ۵۰

☐ = ۳۰ − ۹ + ۴ × ۸

☐ = ۱۰ ÷ ۲۰ − ۵۰ − ۱۰۰

☐ = ۱ + ۱۰۰ − ۴۰۰ − ۵۰۰

☐ = ۵ ÷ ۵ − ۵ × ۱۰

اوداسي نور

۲. تکرار :

- ښوونکی د ضرب یو سوال په توره تخته لیکي لکه : ☐ = ۴ × ۹

* یو زده‌کوونکی صحیح تعداد کانۍ په توره تخته رسموي او سوال حلوي. (لاندې ورکوي!)
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کانۍ د ۴ په ګروپونو وویشي.
* زده‌کوونکي د تقسیم مربوطه سوال پیدا او په توره تخته یې لیکي.
* په پای کښې توره تخته ځواب بشکاري :



☐ = ۴ × ۹ ، ☐ ☐ ☐ = ۴ ÷ ☐

- د کورنۍ کار مقایسه

۳. د تقسیم د سوالونه حلول او د هغوی مربوط د ضرب سوالونه موندل

- ښوونکی ۱۵ کانۍ او ۳ کڅوړې په توره تخته رسموي او سوال ☐ = ۳ ÷ ۱۵ لیکي. (لاندې ورکوي!)

* زده‌کوونکي کانۍ د رسم شوو کڅوړو ترمنځ په مساوي ډول ویشي او خالي خانې ډکوي.



* ښوونکی د توري تختې څخه د ۱۵ کانۍ د پرې پاکوي او زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د کانۍ کڅوړو ته د ضرب سوال پیدا کړي.

* زده کوونکي معلوموي او ليکي :

[۳] × [۵] = [۱۵]

* په همدې طريقه د نورو مثالونو سره د کار جاري ساتئ

۲۸ ÷ ۴ = [۷] ؛ ۲۱ ÷ ۳ = [۷] ؛ ۱۶ ÷ ۴ = [۴]

[۷] × [۴] = [۲۸] ؛ [۷] × [۳] = [۲۱] ؛ [۴] × [۴] = [۱۶]

د ۲۳ مخ د ① مشق سره کار کول

* په مثال بحث کول
* په پته خوله کار کول
* د خوابونو مقايسه

۴. کورنی کار / د پټې خولې کار :

۲۲ مخ ② مشق

۲۳ مخ - دوهم لوست

د تقسيم اوضرب مربوط سوالونه پيدا کول

۱. ذهني روزنه :

- شوونکی يوه عددي شعاع په توره تخته رسموي او په يوه وخت کې دوو مختلفو عددونو ته اشاره کوي لکه ۵ او ۶۰

* زده کوونکي د هغو په مخ کې د قدمونو تعداد پيدا کوي چې دلته ۵۵ قدمونه کېږي .

۰ ۵ ۱۰ ۲۰ ۳۰ ۴۰ ۵۰ ۶۰ ۷۰ ۸۰ ۹۰ ۱۰۰

* نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول لکه (۱۰ـ ۳۵ ، ... ـ ... ـ ۱۰۰ ، ۶۰ ـ ... ـ ۱۰۰ ، ۲۵ ـ ... ـ ۸۰ ، ۲۵ ـ ۳۰) او داسې نور .

۲. تکرار :

- د کورني کار کتنه او مقايسه کول

۲. د تقسيم اوضرب مربوط سوالونه پيدا کول

- شوونکی لاندې سوالونه او د هغود خوابونو بکسې لکه څنګه چې ښودل شوي دې په توره تخته ليکي .



۸ × ۴ = [ ]	۴۰ ÷ [ ] = ۱۰
۶ × [ ] = ۱۸	۳۲ ÷ [ ] = ۴
[ ] × ۴ = ۱۲	[ ] ÷ ۴ = ۸
۱۰ × ۴ = [ ]	۲۱ ÷ [ ] = ۷
[ ] × ۳ = ۲۱	[ ] ÷ ۴ = ۶
۳ × [ ] = ۱۲	۱۸ ÷ ۳ = [ ]

* زده کوونکي لومړی سوال حلوي (۸ × ۴ = [ ]) خالي خانه ډکوي او د خوابونو بکسه کې خواب چلېپا کوي لکه ۳۲
* زده کوونکي د هغه د تقسيم مربوط سوال پيدا کوي لکه ۳۲ ÷ ۴ = [ ] ، هغه حلوي خالي خانه يې ډکوي او خواب يې د خوابونو په بکسه کې چلېپا کوي .
* زده کوونکي دوه مربوطه سوالونه سره وصلوي .
* په هدې طريقه نورو سوالونو سره يو په بل پسې کار ته دوام ورکول

- د ۲۳ مخ په ③ مشق باندې جوړه جوړه کار کول (د ضرورت په وخت کې شوونکی مرسته کوي) ؛ کتل او مقايسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۲۳ مخ ④ مشق


۲۴
د صفر سره ضرب :
① د لاندې شکلونو مساواتونه تکمیل کړئ .
۳ × □ = □
۳ × □ = □
۳ × □ = □
② لاندې سوالونه حل کړئ .
۶ × ۰ = □
۵ × ۰ = □
۴ × ۰ = □
۳ × ۰ = □
۲ × ۰ = □
۱ × ۰ = □
۷ × ۰ = □
۸ × ۰ = □
۹ × ۰ = □
۱۰ × ۰ = □
نتیجه : هر عدد چې د صفر سره ضرب شي د ضرب حاصل به صفر دی .
③ لاندې کاڼي د یو په کښورو وویشئ .
۴ ÷ ۱ = □
۶ ÷ ۱ = □
۹ ÷ ۱ = □
د یو کاڼي □ کښورې
د یو کاڼي □ کښورې
د یو کاڼي □ کښورې
نتیجه : هر عدد چې په یو تقسیم شي حاصل به پخپله ساڼه عدد دی .
④ لاندې سوالونه حل کړئ .
۵ ÷ ۱ = □
۹ ÷ ۱ = □
۸ ÷ ۱ = □
۱ ÷ ۱ = □
۲ ÷ ۱ = □
۳ ÷ ۱ = □
۶ ÷ ۱ = □
۷ ÷ ۱ = □
۱۰ ÷ ۱ = □

۲۴ مخ - لومړی لوست

د صفر (۰) سره ضرب

درسي معاونات : ۶ لښتې او ۱۶ کاڼي

۱. ذهني روزنه :

- د ۳ او ۴ سره ضرب ، د عددي دایرې استعمال

۲. تکرار :

- د کورنۍ کارکتنه او مقایسه کول

۳. د صفر (۰) سره ضرب :

- شوونکی د ټولګي مخې ته د دوو زده کوونکو درې ګروپونه تشکیلوي .

* د لومړي ګروپ هر زده کوونکی دوه لښتې لري
د دوهم ګروپ هر زده کوونکی یوه لښته لري
او د دریم ګروپ هر زده کوونکی هیڅ لښتې نه لري.

* نور زده کوونکي د لومړي ، دوهم او دریم ګروپ دپاره د ضرب مناسب مساواتونه پیدا کوي او هرځل یې په تور تخته لیکي چې داسې دی :

□ = ۲ × ۲
□ = ۱ × ۲
□ = ۰ × ۲

* زده کوونکي د زده کوونکو تعداد او په ټولو ګروپونو کې د هغوی لښتې ، مساواتونه او د هغوی ځوابونه سره مقایسه کوي او د بحث لاندې نیسي .

* زده کوونکي د هر ګروپ دپاره عددي قصه جوړوي . په لومړي ګروپ کې هر زده کوونکي ۲ لښتې درلودې . په دې معنا چې ۲ ځله ۲ مساوي ۴ کېږي .

په دوهم ګروپ کې هر زده کوونکی یوه لښته لري . په دې معنا چې ۲ ځله ۱ مساوي ۲ کېږي .

په دریم ګروپ کې هر زده کوونکی هیڅ لښتې نه لري ، چې ۲ ځله هیڅ لښتې مساوي صفر (۰) کېږي . (۲ × ۰ = ۰)

- په همدې شان بل مثال سره کار کول

* شوونکي د مثال په توګه ځلور زده کوونکي د ټولګي مخې ته راغواړي او هر یو خپلو دوارو لاسونو کې په مساوي تعداد کاڼي نیسي ؛
لومړی زده کوونکی په هر لاس کې ۴ کاڼي
دوهم " " " " ۳ " "
دریم " " " " ۱ " "
څلورم " " " " ۰ " "

* زده کوونکي عددي قصې پیدا کوي او هرځل مساوات په تور تخته لیکي .

نورو ورته سوالونو د ورکولو تصمیم ونیسي . او یا کولی شي د اضافي تشریح دپاره یو زده کوونکی تورې تختې ته وغواړي حتی که په درسي خاکه دهغه ذکر هم نه وي شوی . هر درس د موجود و شرایطو مطابق د ښوونکي تصمیم ته ضرورت لري .

په دې رو درسونو کې د تېر درس عنوان تکرار شوی دی او یا د څو ورته سوالونو په ذریعه تقویه شوی دی ، ماشومانو هغه څه چې زده کړې باید مشق کړي که نه نو پوره مهارت به حاصل نه کړي . په ټولګي کې ځینې ماشومان وروزده کړه کوي ، کله چې هغوی ته دوهمه تشریح او یا دوهم ځلي د مشق کولو چانس ورکړل شي اکثر په یوه موضوع ښه پوهیږي . د تکرار او یا د تقویې دغه قدم چې معمولاً نوي عنوان ته رهنمایي کوي په عمومي توګه د ۱۰ څخه تر ۱۲ دقیقو پورې وخت حساب شوی دی . د زده کوونکو د کار کتاب او د ښوونکي لارښود د پیدا کولو تر ټولو مهمو توانینو څخه د یوه پیروي کوي : تدریس او زده کړه باید په کوچنیو قدمونو کې ترتیب شي او نوې قدمونه باید د پخوانیو پر بنیاد ولاړ وي .

۳. د لوست عنوان :

د درس په عنوان باندې کار کول د درس اساسي برخه تشکیلوي چې هغه د درس د عنوان د ارتیاوو او د لاس ته راتلونکو درسي معاوناتو مطابق په مختلفو قدمونو او مرحلو فرعي قدمونو کې معرفي شوې دي . د خط (-) نخښه همېشه قدم ښیي او د ستورې (*) نخښه د هغه مربوط کوچنۍ فرعي قدم ښیي . د درس عنوان همېشه د زده کوونکو د درسي کتاب د هغه مخ سره ارتبا لري چې په ورکوپټي شکل سره د لارښود په صفحه بیا چاپ شوی دی ، سره د دې چې په یوځو درسونو کې د زده کوونکو کتاب څخه استفاده نه کېږي .

د دې برخې دپاره اکثر باید د ۱۵ څخه تر ۲۵ دقیقو پورې وخت حساب شوی دی . د درېم ټولګي د ماشومانو دپاره دا نسبتًا دېر وخت دی او د هغوی په فعالیتونو کې باید یوځه تغیرات وي ، نو ځکه به زده کوونکي فکري تمرکز له لاسه ورنه کړي یا ستومانه نه شي . دا دېره مهمه ده چې هغوی نه یوازې اوري او په چوپتیا سره معلم تعقیبوي بلکې دوی په فعال ډول درس کې شامل وي .

په یاد ولرئ هغه تدریس او زده کړه چې خوا پې ماشوم تاکي د زده کړې موثره طریقه ده . څومره چې امکان ولري زده کوونکي دې پخپله یا ملګري سره کار وکړي تر څو هغه څه پې چې په دې مرحله کې زده کړي دي په صحیح توګه اجرا کړي . معمولاً د دې برخې په پای کې ځینې مشقونه پیشنهاد شوي دي چې کېدی شي د پیشنهاد شوي کورنۍ کار یوه برخه وي .

۴. کورنی کار یا په ټولګي کې د پېټي خولې کار :

د اکثرو درسي خاکو په پای کې "کورنی کار یا په ټولګي کې د پېټي خولې کار" پیشنهاد شوی دی چې ماشومانو ته د زده کړل شویو موضوعاتو د اجرا او مشق کولو دپاره اضافي چانسونه ورکوي . د ماشوم دپاره کورنی کار باید هېڅکله یو درونډ بار نه وي . ضمنًا د زده کړې د کامیابۍ معلومول او د دې درس او د راتلونکي ورځې د درس ارتباط دی . ښوونکی باید متیقن وي چې زده کوونکي په دې ښه پوهېدلي دي چې باید څه وکړي . کله کله یو یا دوه سوالونه

- د ۲۴ مخ په ① مشق کار کړل
* د ملګري سره په سوالونو بحث کول او حلول
* ځوابونه تولګي ته تشریح کول
- د ۲۴ مخ په ② مشق په پته خپله کار کول

۴. کورنی کار : نه لري .

۲۴ مخ - دوهم لوست
په یوه (۱) تقسیم

۱. ذهني روزنه :

- په ۳ او ۴ تقسیم، د عددي دایرې استعمال



۲. تکرار :

- د نهې ورځې د صفر (۰) سره د ضرب د عملي کار په یاد راوړل
- شووینکی د صفر (۰) سره د ضرب یوشو سوالونه په تخته ټوله لیکي ، لکه

۳ × ۰ = ☐	۱۰ × ۰ = ☐
۷ × ۰ = ☐	۲ × ۰ = ☐

او داسې نور .

* زده‌کوونکي پې یو یو حلوي او د هغوی مربوطه عددي قصې وایي ، لکه :
هلته ۱۰ ټنه زده‌کوونکي دي او هریځ (۰) روپۍ نه لري ، په دې معنا چې ۱۰ × ۰ = ۰

۳. په یوه (۱) تقسیم

- شووینکی د ۶ کانړو ۳ ډېرۍ په تخته رسموي او د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې لومړی ډېرۍ د ۳ په ګروپونو تقسیم کړي ، دوهم ډېرۍ د ۲ په ګروپونو تقسیم کړي او بیا ورو‌سته ډېرۍ د ۱ په ګروپونو تقسیم کړي.
* زده‌کوونکي هر حل مساوات پیدا او لیکي په پای کې ټوله تخته داسې ښکاري :



۶ ÷ ۳ = ☐۲☐ ۶ ÷ ۲ = ☐۳☐ ۶ ÷ ۱ = ☐۶☐

* یو زده‌کوونکی عددي قصه وایي :
هلته د ۶ کانړو ۳ ډېرۍ وو ، لومړی ډېرۍ مو د ۳ کانړو په ګروپونو تقسیم کړ او ۲ ګروپونه لاس ته راغلل ، دوهم ډېرۍ مو د ۲ کانړو په ګروپونو تقسیم کړ او ۳ ګروپونه لاس ته راغلل ، بیا مو دریم ډېرۍ د ۱ کانړې په ګروپونو تقسیم کړ او ۶ ګروپونه لاس ته راغلل .
- شووینکی مختلف تعداد کانړې په تخته رسموي ، لکه : ۷ ، ۸ ، ۹ ، ۳ ، ۱
* زده‌کوونکي پې د یوه کانړې په ګروپونو تقسیمي مساوات لیکي او عددي قصه وایي لکه :



او داسې نور .

۷ ÷ ۱ = ☐۷☐

- د ۲۴ مخ په ③ مشق کار کول
* زده‌کوونکي د مشق متن (کار) مطالعه کوي ، سوالونه حاوي او خالي خانې ډکوي .
* زده‌کوونکي خپل ځوابونه په لوړ آواز لولي او مقایسه کوي : بیا یې د بحث لاندې نیسي او پیدا کوي :
کله چې یو عدد په ۰ تقسیم کړو ځواب یې مساوي دی د هماغه عدد سره .
* زده‌کوونکي د یکسې جمله څوځله په لوړ آواز لولي .

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار:

۲۴ مخ ④ مشق



۲۵ مخ - لومړۍ لوست

د ۸ د ضرب خانې سره کار کول

۱. ذهني روزنه :

- ضرب د جمع سره او ضرب د تفریق سره

* عددي دایرو سره کار کول



۲. تکرار :

- په یوه (۱) تقسیم

* ښوونکی د کورنۍ کار په یوه (۱) باندې د تقسیم سوالونه یو یو په تخته لیکي، لکه :

۵ ÷ ۱ = ☐ | ۹ ÷ ۱ = ☐
۷ ÷ ۱ = ☐ | ۱ ÷ ۱ = ☐ اوداسې نور.

* زده کوونکي سوالونه حلوي او هغه څه یې چې د یوه (۱) د تقسیم په برخه کې زده کړي وو په یاد راوړي.

۳. د ۸ د ضرب خانې سره کار کول

- د ۲۵ مخ ① مشق باندې کار کول

* زده کوونکي د مشق متن (کار) مطالعه کوي بحث کوي او پیدا کوي چې پر یوه عددي شعاع باندې د ۸ د خانې ضرب دی.

* یو زده کوونکی عددي شعاع تشریح کوي چې هغه د ۸ قدمونه ښیي، ۸ د لومړۍ قدم په پای کې ۱ × ۸ = ۸ معنا لري، ۱۶ د دوهم قدم په پای کې ۲ × ۸ = ۱۶ معنا لري او داسې نور.

* زده کوونکي د ۸ د قدمونو په واسطه ښودل شوي نخښو لاندې غیب عددونه لیکي.

* ملګري سره په شریکه ورکړل شوي سوالونه د عددي شعاع په مرسته حلول (د پنسل استعمالول)

* ځوابونه په لوړ آواز لوستل او مقایسه کول

- ښوونکی ۱۰ بکسونه په تخته رسموي او د بکسونو ښي خوا ته لکه څنګه چې لاندې ښودل شوي سوالونه لیکي :

[۳] × ۸ = ☐ |

* ښوونکی لیکي لکه [۳] × ۸ = ☐

* یو زده کوونکی په صحیح تعداد بکسونو کې ۸ کانې رسموي او سوال حلوي.

* ښوونکی د مساوات لومړی عدد بدلوي لکه [۶] × ۸ = ☐

* یو زده کوونکی د هغه سابقې کانې رسموي او سوال حلوي.

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنۍ کار :

۲۵ مخ ① مشق

۲۵ مخ - دوهم لوست

د ۸ د خانې د ضرب د سوالونو جمع یا تفریق

۱. ذهني روزنه :

- ښوونکی لاندې شکل د عددونو سره په تخته لیکي او کار تشریح کوي چې : هغه به منځنیو عددونو ټببله ببله اشاره کوي، بیا د ښي یا کیڼې خوا برخو (شاخونو) ته اشاره کوي، وروسته زده کوونکي باید د ښي یا کیڼې خوا ښودل شوې عملیې په ذهني توګه سرته ورسوي .



لکه : ښوونکی ۱۰ او د ښي خوا برخې ته اشاره کوي ؛ زده کوونکي محاسبه کوي او وایي :

۱۰ ... ÷۵ ← ۲ ← ×۲ ← ۴

یا ۱۰ ÷ ۵ = ۲ او ۲ × ۲ = ۴

یا ښوونکی ۱۰ او د کیڼې خوا برخې ته اشاره کوي ؛ زده کوونکي محاسبه کوي او وایي :

۱۰ ... ÷۱۰ ← ۱ ← ×۵ ← ۵

یا ۱۰ ÷ ۱۰ = ۱ او ۱ × ۵ = ۵

۲. تکرار / تقویت :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

- د ۸ د ضرب خانې څخه د څینو سوالونو حلول
* ښوونکی په تخته لیکي : "څو پینې دی؟" او مختلف تعداد غټې رسموي . هر ځل زده کوونکي د ضرب مربوط سوال پیدا، لیکي او حلوي .



□ = ۸ × □

۳. د ۸ د خانې د ضرب د سوالونو جمع یا تفریق

- د ضرب د سوالونو جمع کول
* ښوونکی د ټولګي زده کوونکي په مناسب تعداد ګروپونو وېشي او هر ګروپ ته د ۱۰۰ کاڼو یوه کڅوړه ورکوي .
* ښوونکی په تخته لیکي، لکه :

۸ × ۲

* د زده کوونکو هر ګروپ دَ ۸ کاڼو دوه ډبرې جوړوي .
* بیا ښوونکی د ۲ × ۸ سره نږدې ۸×۳ په تخته لیکي .
* زده کوونکي د ۸ کاڼو ۳ نور ډبرې جوړوي .
* ښوونکی د دوو لیکل شویو سوالونو ترمنځ د جمع علامه (+) لیکي او د زده کوونکو څخه پوښتنه کوي :

"هلته ټول څو کاڼې دي ؟"

* زده کوونکي بحث کوي او دوه امکانات پیدا کوي :

الف . هغوی کولی شي د کاڼو تعداد د دوارو خواوو په ډبریو کې ببل ببل وشمېري او بیا یې سره جمع (یوځای) کړي .

ب . هغوی کولی شي د ډبریو تعداد سره جمع کړي او بیا هغه په ۸ ضرب کړي لکه : ۸ × ۲ + ۸ × ۳ = ۸ × ۵ =

* زده‌کوونکي مساواتونه په دوره تخته تکميلوي:

$$۸ \times ۲ + ۸ \times ۳ = ۸ \times \boxed{۵} = \boxed{۴۰}$$

* زده‌کوونکي محاسبه کوي او ځواب وايي.
* په همدې طريقه د بل سوال سره کار ته دوام ورکول، لکه:

$$۸ \times ۴ + ۸ \times ۶$$

- د ضرب د سوالونو تفريقول

* ښوونکي په دوره تخته ۸×۷ ليکي او د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ۸ کاپو صحيح تعداد ګروپونه جوړ کړي.
* بيا ښوونکي په دوره تخته ۸×۵ ليکي. تخته داسې ښکاري:

$$۸ \times ۵ \quad ۸ \times ۷$$

* زده‌کوونکي بايد د ۸ کاپو ۵ ګروپونه د ۷ ګروپونو څخه لرې او ځواب پيدا کړي.

$$۸ \times ۵ - ۸ \times ۷ = ۸ \times \boxed{۲} = ۱۶$$

- د ۲۵ مخ په ۴۳ مشق کار کول (لومړنۍ پنځه (۵) سوالونه)

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنۍ کار:

۲۵ مخ ۴۳ مشق (پاتې سوالونه)


٢٦
① ٥٦ کاڼي لرو هغه د ٨ په ګروپونو تقسیم ګړئ.
② ٥٦ کاڼي لرو په مساوي دولې پې په ٨ ګروپونو تقسیم ګړئ.
٥٦ ـ ٨ = ☐
نتیجه : د ٨ کاڼو ☐ ګروپونه نتیجه په هغه ګروپ کې به ☐ کاڼي وي
③ لاندې د تقسیم سوالونه حل ګړئ.
١٦ ـ ٨ = ☐ ٢٤ ـ ٨ = ☐ ٣٢ ـ ٨ = ☐ ٥٦ ـ ٨ = ☐
٣٨ ـ ٨ = ☐ ٨ ـ ٨ = ☐ ٤٠ ـ ٨ = ☐ ٦٢ ـ ٨ = ☐
٢١ ـ ٨ = ☐ ٨٠ ـ ٨ = ☐
④ په یکسونو کې صحیح عددونه ولیکئ.
☐ ـ ٨ = ٢ ☐ ـ ٨ = ٥ ☐ ـ ٨ = ١ ☐ ـ ٨ = ١٠
☐ ـ ٨ = ٦ ☐ ـ ٨ = ٧ ☐ ـ ٨ = ٢ ☐ ـ ٨ = ٨
☐ ـ ٨ = ٢ ☐ ـ ٨ = ٩
⑤ لاندې عددونه په ٨ باندې د مثالونو په شان په خپلو کتابچو کې تقسیم ګړئ.
مثالونه : ٢٨ ـ ٨ = ٦ ☐ ٢٢ ـ ٨ = ☐
١٦ ١٤ ٥٦ ٨ ١٢ ٨٠ ٦٢
٢٨ ٣٢ ٢٠

٢٦مخ - لومړی لوست

په دوو مختلفو طریقو سره پر ٨ تقسیم

١. ذهني روزنه :

- د ٢٢مخ دوهم لوست په شان لاندې ځنځیرې سوالونو سره کار کول

٨٠٠ ـ ٤٠٠ ـ ٢٠٠ + ١٥٠ = ☐
٦ × ٣ ـ ١٠ + ٩٢ = ☐
٩٩١ + ٩ ـ ٩٩٩ × ٢ = ☐
١٤٠ + ٦٠ + ٩٠ + ٦٠ = ☐
٩٧ + ٥ + ١٠٠ ـ ٣ = ☐ او داسې نور.

- د ٨ د ضرب خانې څخه یو څو سوالونه.

لکه :

☐ = ٨ × ٢
☐ = ٨ × ٥
☐ = ٨ × ١٠ او داسې نور.

٢. تکرار : د کورنۍ کار کتنه او متابسه کول

- ښوونکی ځینې سوالونه یو یو په تخته لیکي، لکه :

☐ = ٨ × ٩ ـ ٨ × ١٠
☐ = ٨ × ٢ ـ ٨ × ٤
☐ = ٨ × ٧ + ٨ × ١
☐ = ٨ × ٣ + ٨ × ٦

* زده کوونکي هر ځل د تېرې وړځې د عملي کار مطابق عددي قسمه وایي او بیا سوال حلوي.

٣. په دوو مختلفو طریقو سره پر ٨ تقسیم

- د ٢٦ مخ په ① او ② مشق کار کول
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې مشق مطالعه کړي او په انفرادي توګه یې حل کړي.
* زده کوونکي خپل خواښونه په لوړ آواز لولي او بحث پرې کوي :

په دواړو مشقونو کې مو ٥٦ کاڼي درلودل په لومړي مشق کې مو د ٨ کاڼو په ګروپونو ووېشل او ٧ ګروپونه لاس ته راغلل. په دوهم مشق کې مو په ٨ کڅوړو باندې په مساوي دول ووېشل چې په پای کې په هره کڅوړه کې ٧ کاڼي لاس ته راغلل.

- مشابه سوالونه په دوره تخته حلول
* ښوونکی د تختې دواړو خواوو ته د مثال په شان ٣٢، ٣٢ کاڼي رسمي او کار داسې ښیي : (بل مخ وګورئ!)



٣٢ ÷ ☐ = ٨ ؛ ٣٢ ÷ ٨ = ☐

* زده کړونکی تقسیم کوي، مساوانوته لیکي او حلوي .
- د ٢٦ مخ په ٣ مشق کار کول
(د ٥ لومړنیو سوالونو حلول)

٤. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

٢٦ مخ ③ مشق (پاتې سوالونه)

---

٢٦ مخ - دوهم لوست

په ٨ باندې د تقسیم د سوالونو جوړول

١. ذهني روزنه :

- ضرب د جمع سره او ضرب د تفریق سره

٢ × ٥ + ٣ =	٥ × ٥ - ٧ =
٣ × ١٠ + ١ =	٦ × ٢ - ٣ =
٨ × ٥ + ٦ =	٨ × ١٠ - ١١ =
٤ × ٢ + ٧ =	١٠ × ١٠ - ١٠٠ =
١٠ × ١٠ + ١٥ =	٩ × ٥ - ١٥ =
٧ × ٥ + ٦ =	٧ × ٢ - ١٣ =
٩ × ٢ + ٣ =	١ × ٥ - ٤ =

٢. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

- ښوونکی لاندنۍ سوالونه ببل ببل په توره تخته لیکي .
* زده کوونکي هغه په توره تخته حلوي .

٢٤ ÷ ٨ = ☐	٣٢ ÷ ٨ = ☐
٤٨ ÷ ٨ = ☐	٨٠ ÷ ٨ = ☐
٨ ÷ ٨ = ☐	٧٢ ÷ ٨ = ☐

٣. په ٨ باندې د تقسیم د سوالونو جوړول

- د کانهو د تعداد موندل (پیدا کول) کوم چې په ٨ تقسیم شوې دي .

☐ ÷ ٨ = ٣

* ښوونکی د ٨ کانهو ٣ ګروپونه په توره تخته رسموي او لاندې یې د تقسیم مساوات داسې لیکي :



☐ ÷ ٨ = ٣

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کار مطالعه او حل پیدا کړي .
* ښوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي ترڅو وپوهیږي چې د مربوطه ضرب سوال په واسطه هغه عدد چې تقسیم شوی وُ پیدا کړي لکه ٨ × ٣ = ☐ ٢٤ په دې معنا چې ٢٤ کانهې د ٨ په ګروپونو وېشل شوی وو .
* زده کوونکي عددي قصه واپس او خالي خانه ډکوي لکه هلته ټول ٢٤ کانهې دي ، هغه د ٨ په ګروپونو وېشل شوي دي او ٣ ګروپونه موحاصل کول
- په هدې طریقه د دوو نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول ؛ ☐ ÷ ٨ = ٥ ؛ ☐ ÷ ٨ = ٧
- د ٢٦ مخ په ④ مشق کار کول
* د کار د توضیح څخه وروسته ، زده کوونکي سوالونه خانله خانله حلوي .
* په لوړ آواز د سوابونو لوستل او مقایسه کول

٤. کورنی کار : ٢٦ مخ ⑤ مشق

ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي ترڅو وپوهیږي چې کولی شي د ضرب د مربوط سوال په واسطه هغه عدد چې تقسیم شوی وُ پیدا کړي لکه ٨ × ٣ = ☐ ٢٤


۲۷
د ۲۷ مخ په ① مشق کار کول
بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې عددي شعاع مطالعه او ملګري سره پرېکړه بحث وکړي.
یو زده کوونکی عددي شعاع تشریح کوي، دا د ۶ قدمونه ښیي، د لومړي قدم په اخر کې ۶ د ۱×۶= ۶ په معنا دی. د دوهم قدم په اخر کې ۱۲ د ۲×۶= ۱۲ په معنا دی او داسې نور.
زده کوونکي د عددي شعاع په هر شوډل شوي قدم د (+ ۶) لیکلو ته دوام ورکوي.
زده کوونکي پر عددي شعاع د ۶ د قدمونو په ډېره شوډل شوي نخښو لاندې غیب عددونه لیکي.
بنوونکی د ۶ د ضرب د خانې یو عدد وایي لکه ۳۰؛ زده کوونکي دغه عدد ته اشاره کوي او تر دې عدد پورې د ۶ د قدمونو تعداد شمېرې او دغه مساوات وایي لکه ۵×۶= ۳۰
د ۶ د خانې څخه نورو عددونو سره په همدې طریقه کار ته دوام ورکول
د عددي شعاع په مرسته د ملګرې سره په ګډه د ورکړل شوي سوال د حل (د پنسل استعمال) کول
په لوړ آواز د ځواب ګوسټل او مقایسه کول
بنوونکی ۱۰ یکسونه په تخته ځړوي او د یکسونو نمې خوا ته لکه څنګه چې شوډل شوي دي سرالونه لیکي.
[۴]=۶×[ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ]
یو زده کوونکی ۶ کاڼي په صحیح تعداد شوډل شوي یکسونو کې رسموي او مساواتونه حلوي.
بنوونکی د مساواتو لوړې عدد بدلوي.
[۷]=۶×[ ] بیا به [۹]=۶×[ ]
زده کوونکي دغو مطابق کاڼي رسموي او مساوات حلوي.
۴. په پټه خوله کارکول / کورنی کار:
د ۶ د ضرب خانه په یاد ول یادول
۳. د ۶ سره ضرب:
د ۲۷ مخ په ① مشق کار کول
بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې عددي شعاع مطالعه او ملګري سره پرېکړه بحث وکړي.
یو زده کوونکی عددي شعاع تشریح کوي، دا د ۶ قدمونه ښیي، د لومړي قدم په اخر کې ۶ د ۱×۶= ۶ په معنا دی. د دوهم قدم په اخر کې ۱۲ د ۲×۶= ۱۲ په معنا دی او داسې نور.
زده کوونکي د عددي شعاع په هر شوډل شوي قدم د (+ ۶) لیکلو ته دوام ورکوي.
زده کوونکي پر عددي شعاع د ۶ د قدمونو په ډېره شوډل شوي نخښو لاندې غیب عددونه لیکي.
بنوونکی د ۶ د ضرب د خانې یو عدد وایي لکه ۳۰؛ زده کوونکي دغه عدد ته اشاره کوي او تر دې عدد پورې د ۶ د قدمونو تعداد شمېرې او دغه مساوات وایي لکه ۵×۶= ۳۰
د ۶ د خانې څخه نورو عددونو سره په همدې طریقه کار ته دوام ورکول
د عددي شعاع په مرسته د ملګرې سره په ګډه د ورکړل شوي سوالونو حلول (د پنسل استعمال)
په لوړ آواز د ځواب ګوسټل او مقایسه کول
بنوونکی ۱۰ یکسونه په تخته ځړوي او د یکسونو نمې خوا ته لکه څنګه چې شوډل شوي دي سرالونه لیکي.
[۴]=۶×[ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ] [ ]
یو زده کوونکی ۶ کاڼي په صحیح تعداد شوډل شوي یکسونو کې رسموي او مساواتونه حلوي.
بنوونکی د مساواتو لوړې عدد بدلوي.
[۷]=۶×[ ] بیا به [۹]=۶×[ ]
زده کوونکي دغو مطابق کاڼي رسموي او مساوات حلوي.
۴. په پټه خوله کارکول / کورنی کار:
د ۶ د ضرب خانه په یاد ول یادول

۲۷ مخ - لومړی لوست

د ۶ د ضرب د خانې معرفي

۱. ذهني روزنه:

ـ عددي دایرو سره کارکول



۲. تکرار: بنوونکی د کورنی کار څخه خو عددونه یو په بل پسې (بیل بیل) په تخته لیکي لکه ۱۶، ۳۲، ۲۴، ۷۲ او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې ورکړل شوي عددونه په ۸ تقسیم کړي.
زده کوونکي په ۸ باندې د تقسیم صحیح سوال لیکي او هغه یو بل پسې په تخته حلوي.

۲۷مخ - دوهم لوست
د ۹ ضرب خانې سره کارکول

۱. ذهني روزنه :

- د مختلفو رقمونو قیمت پیدا کول
* ښوونکی د ترتیب څخه پرته ۲،۱ یا ۳ رقمي وړ عددونه په تور تخته داسې لیکي - لکه :

۳۸	۳۸۴	۴.۳
	۷۵۶	۱...
۸.۴	۷	۵۱۰
	۵۳	۹۶

* ښوونکی د ترتیب څخه پرته عددونو ته اشاره کوي لکه ۷۵۶ ؛ یو زده کوونکی عدد لولي او وایي : ۶ یوېزونه ، ۵ لسیزونه ۷ سلیزونه او داسې نور .
* ښوونکی بېلو بېلو رقمونو ته اشاره کوي لکه ۷۵۶ کې ۵ ته . یو زده کوونکی وایي دا ۵ لسیزونه دي او داسې نور .

۲. تکرار - تقویت :

- د کانو رسم شوېو کروېونو څخه مساوات پیدا کول
* ښوونکی د ۶ کانو یو څو کروېونه په تور تخته رسموي لکه د ۶ کانو ۳ کروېونه .
* زده کوونکي د هغو صحیح مساوات پیدا کوي او لیکي :

۳ × ۶ = □

* په همدې طریقه د ۶ کانو یو شمېر نورو کروېونو سره کار ته دوام ورکول
- ېېل ېېل زده کوونکي د ۶ د ضرب خانه د صنف مخکې وایي .
(نور ورته غوږ نیسي .)

۳. د ۹ ضرب خانې سره کارکول

- د ۲۷ مخ په ② مشق کارکول
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې عددي شعاع تکمیل کړي : په هرقدم د (+ ۹) لیکل او د ۹ د قدمونو د نخښو لاندې د صحیحو عددونو لیکل
* د ۹ د قدمونو دیاره د عددونو مقایسه او تصحیح کول
* د ملګري سره کارکول : د ورکړل شوېو سوالونو حلول
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د سوالونو د حلولو دیاره مو عددي شعاع څنګله استعمال کړې ده . زده کوونکي تشریح کوي چې هغوی هر ځلي په مخکښو ځوابونو باندې د ۹ د قدمونو په اضافه کولو سره سوالونه یو ېل پسې حل کړي دي . د ۱ × ۹ = □ څخه ېې شروع کړي دي .
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
* ښوونکی د ترتیب څخه پرته د ۹ د ضرب خانې څخه عددونه په لوړ آواز وایي - زده کوونکي عددونه پر عددي شعاع پیدا کوي ، د ۹ د قدمونو تعداد شمېرې او مساوات وایي ، لکه : ښوونکی وایي ۴۵ ، زده کوونکي د ۹ پنځه قدمونه پیدا کوي او وایي :
۵ × ۹ = ۴۵ او داسې نور .

۴. کورنی کار :

د ۹ د ضرب د خانې یادول

۲۷ مخ - درېم لوست

د کاڼو د رسم شوې ستې دپاره د ضرب دوه مربوطه سوالونه پیدا کول

درسي معاونات : ۹۰ لښتی

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دایرو سره کار کول



۲. تکرار :

- شوونکی د ۹ د خانې د ضرب ځینې سوالونه د ترتیب څخه پرته یو یو په توره تخته لیکي، لکه :

$$\square = ۳ \times ۳$$

زده‌کوونکي ځوابونه وایي او خالي خانې ډکوي .

- بېل بېل زده‌کوونکي د ۹ د خانې ضرب د صنف مخې ته وایي .

۳. د کاڼو رسم شوې ستې دپاره د ضرب دوه مربوط سوالونه پیدا کول

- عملي کار :

* شوونکی زده‌کوونکو ته لاربښوونه کوي چې د ټولګي څخه بهر لاړ شي او په څلورو ګروپونو وېشي . شوونکی ۲۴ لښتي لومړی ګروپ، ۳۶ لښتي دوهم ګروپ، ۱۸ لښتي دریم ګروپ او ۱۲ لښتي څلورم ګروپ ته ورکوي .

* شوونکی د هر ګروپ دپاره څرنګه چې لاندې ښودل شوی خطونه پر ځمکه رسموي .

* د هر ګروپ زده‌کوونکی خپلې لښتي د خطونو د تقاطع پر نقطو باندې ږدي (نغاړوي) .

ځمکه به داسې ښکاري :



* د هر ګروپ زده‌کوونکي باید خپل باغ ته د دوو خواړو څخه وګوري او هر څل باید مربوط مساوات پیدا کړي، لکه :

لومړی ګروپ	دوهم ګروپ	دریم ګروپ	څلورم ګروپ
۶×۴ = ۲۴	۹×۴ = ۳۶	۲×۹ = ۱۸	۶×۲ = ۱۲
۶×۴ = ۲۴	۹×۴ = ۳۶	۲×۹ = ۱۸	۲×۶ = ۱۲

* د ګروپونو بدلول ترڅو د نورو (باغونو) مربوط مساواتونه بېل بېل پیدا کړي .

- زده‌کوونکي ببرته ټولګي ته ځي .

* د هر ګروپ څخه یو زده‌کوونکی د ټولګي سخې ته راځي ، خپل کار تشریح کوي ، عددي قصه وایي او دوه مربوط مساواتونه په توره تخته لیکي .

* زده‌کوونکي پیدا کوي چې د دوو مربوطو سوالونو ځوابونه سره یوشان دي ، لکه :

$$۳ \times ۸ = ۲۴$$
$$۸ \times ۳ = ۲۴$$

- د ۲۷ مخ د ۳ مخ دوو لومړنیو سوالونو باندې کار کول

۴. ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنی کار : ۲۷ مخ د ۳ مشق پاتې سوالونه

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول
- ښوونکی د ضرب دوه مربوط سوالونه داسې په تخته لیکي :

$$\square = 7 \times 3$$
$$\square = \square \times \square$$

* زده کوونکی لومړی اول سوال حلوي ، بیا د همدې عددونو په استعمالولو سره د هغه مربوط سوال پیدا کوي ، لکه : $\boxed{7} \times \boxed{3} = \boxed{21}$
* په همدې طریقه نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول ، لکه : $7 \times 5 = \boxed{35}$

$$\boxed{7} \times \boxed{5} = \boxed{35}$$

۳. په دوو مختلفو طریقو سره په ۶ او ۹ تقسیم

- د ۲۸ مخ په ① او ② مشقونو کار کول
* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کار مطالعه کړي .
* ښوونکی د ۴ زده کوونکو څخه غواړي چې د ټولګي مخې ته راشي .
* هر زده کوونکی یوازې یو سوال تشریح کړي په دې، وخت کې نور ټول زده کوونکي خپلو کتابونو ته ګوري . مثلاً لومړی زده کوونکی لومړی سوال تشریح کوي: "هلته ۲۴ کاڼي دي غواړو د ۶ په ګروپونو یې وویشو." بل زده کوونکی بل کار تشریح کوي: "هلته ۴۲ کاڼي دي . غواړو په مساوي ډول یې په ۶ کڅوړو تقسیم کړو."
* د ① او ② مشقونو ځانله خانله حلول
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز لولي او مقایسه کوي.
- د ملګري سره د ۲۸ مخ په ③ مشق (لومړی دوه برخې) کار کول (ښوونکی کومک کوي) . په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. د پښتې خولې کار / کورنۍ کار : ۲۸ مخ

③ مشق (دریمه برخه)


۲۸
① لاندې کاڼي په شوډل شوروبه ګروپونو تقسیم او خالي ځایونه ډک کړئ.
۲۴ ÷ ☐ = ☐
د ☐ کاڼو ☐ ګروپونه
لاس ته راځي.
۲۶ ÷ ☐ = ☐
د ☐ کاڼو ☐ ګروپونه
لاس ته راځي.
② لاندې کاڼي په مساوي ډول په ۳ شوروکڅورو تقسیم کړئ
۲۲ ÷ ☐ = ☐
په هره کڅوړه کې ☐ کاڼي دي.
۱۷ ÷ ☐ = ☐
په هره کڅوړه کې ☐ کاڼي دي.
③ لاندې سوالونه حل کړئ.
۱۸ ÷ ۶ = ☐
۲۶ ÷ ۶ = ☐
۲۴ ÷ ۶ = ☐
۴۲ ÷ ۶ = ☐
۳۰ ÷ ۶ = ☐
۵۴ ÷ ۶ = ☐
۴۸ ÷ ۶ = ☐
۶۰ ÷ ۶ = ☐
۶ ÷ ۶ = ☐
۱۲ ÷ ۶ = ☐
۱۸ ÷ ۹ = ☐
۲۵ ÷ ۹ = ☐
۵۴ ÷ ۹ = ☐
۸۱ ÷ ۹ = ☐
۹ ÷ ۹ = ☐
۷۲ ÷ ۹ = ☐
۶۷ ÷ ۹ = ☐
۹۰ ÷ ۹ = ☐
۶۳ ÷ ۹ = ☐
۲۶ ÷ ۹ = ☐
۵۴ ÷ ۶ = ☐
۴۸ ÷ ☐ = ۸
☐ ÷ ۹ = ۳
☐ ÷ ۶ = ۷
۴۲ ÷ ☐ = ۶
۴۸ ÷ ☐ = ۸
۶۳ ÷ ۹ = ☐
۸۱ ÷ ☐ = ۹
۶۷ ÷ ☐ = ۹
۱۲ ÷ ☐ = ۶

۲۸ مخ - دوهم لوست

په دوو مختلفو طریقو سره په ۶ او ۹ تقسیم

۱. ذهني روزنه :

- د ۱، ۲، ۳، ۴، ۵ او ۶ په قدمونو مخ په وړاندې اومخ په شا شمېر کول

۲۹۳، ۲۹۴، ....، ۳۰۳، ۳۰۴

۶۷، ....، ۷۹، ۸۱، ....

۰، ۳۰، ....، ۲۷، ۳۰

۰، ۴۰، ....، ۳۶، ۴۰

۰، ۵۰، ....، ۹۵، ۱۰۰

۰، ۶۰، ....، ۵۴، ۶۰

کېدی شي په ګډه حل شي .
لاندې ګرافونه د درسي خاکې ساختمان (جوړښت) راښيي او همدارنګه د درس په څلورو برخو کې د تقريبي وخت لګښت راښيي .


۱ ذهني روزنه (تقريباً ۴-۷ دقيقې)
۲ تکرار ، تقويت (تقريباً ۱۰-۱۲ دقيقې)
۳ د درس عنوان
(تقريباً ۱۵-۲۵ دقيقې)
۴ په ټولګي کې د پېښې خولې کار
(د وخت او ضرورت مطابق)
کورنی کار

په درسي خاکو کې ژبه (کلمات او عبارات) :

لکه څنګه چې ويل شوي دي د زده کوونکو درسي کتاب هم د ښوونکو د لارښود په شان د هغه تدريس او زده کړې سره چې خو يې ماشوم تاکي مرسته کوي . په دې معنی چې د ماشومانو خپل فعاليتونه او د هغوی د زده کړې شيان بايد د ښوونکي د فعاليتونو اصلي مرکز وي په دې اساس په درسي خاکو کې معمولاً دا واضح شوي دي چې ماشومان بايد څه وکړي او په څه پوه شي .
لومړی مثال :
ښوونکی د درسي کتاب د (۶) مخ (۲) مشق اولي .
دلته ښوونکی د ځان دپاره بايد پيدا کړي چې بايد څه وکړي اوڅه ووايي تر څو زده کوونکي لوڅونه وشمېرې او عدد ونه يې لاندې وليکي بيا يې سنتونو کې وليکي او سره جمع يې کړي .
په هر حال دا په دې معنی چې کله درسي خاکې تعقيب ېرې ښوونکی بايد پخپله په فعال ډول د درس په "پلانولو" او "تنظيمولو" کې شامل وي . د لوستلو په وخت کې ښوونکی بايد عملاً فکر وکړي چې څه بايد وکړي .
دوهم مثال :
اکثر د (۴) مخ د (۱) لوست په شان جوړښت استعمال شوی دی :
ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي تر څو د سلېزونو او لسيزونو په جوړښت او معنی ونوهېږي . بيا هم د ښوونکي خيالي او تدريسي مهارتونه لازم ګڼل کېږي . هغه بايد يوه لاره پيدا کړي لکه د سوالونو او ځوابونو په واسطه تر څو په يوه طريقه زده کوونکي شامل کړي چې هغوی غوښتل شوې نتيجه يا هدايت پخله پيدا کړي .
ښوونکی بايد پوه شوی وي :


٢٩
① مساوات تکمیل او مربوطه سوالونه
② د تقسیم سوالونه پیدا او خوابونه
③ لاندې سوالونه حل کړئ .
④ لاندې سوالونه حل کړئ .
⑤ لاندې عددونه په ٦ او ٩ باندې په خپلو کتابچو کې تقسیم کړئ .

٢٩مخ - لومړی لوست

د ضرب او تقسیم د مربوطو سوالونو موندل

١. ذهني روزنه :

- لاندې خوابونو دپاره د ضرب د سوالونو پیدا کول

٦ ، ٢٤ ، ١٢ ، ٨ ، ٣٠ او داسې نور .

* ښوونکی یو خواب په تخته لیکي لکه ٦ زده کوونکي د دې خواب دپاره یو یا څو ضرب سوالونه وایي، لکه :

٢ × ٣

١ × ٦ او داسې نور .

* د نورو عددونو سره عمل ته دوام ورکول

٢. تکرار او تقویت :

- ښوونکی د کورنۍ کار سوالونه یو یو په تور تخته لیکي .

* زده کوونکي هغه تشریح او حلوي ، بیا یې د خپلو خوابونو سره مقایسه کوي .

٣. د ضرب او تقسیم د مربوطو سوالونو موندل

- ښوونکی د ٦ د خانې څخه د ضرب یو سوال د تورې تختې ښې خوا ته لیکي لکه : ٤ × ٦ = □

* زده کوونکي خواب پیدا او لیکي لکه :

٤ × ٦ = ٢٤

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې خواب په ٦ تقسیم او مساوات ولیکي لکه : ٢٤ ÷ ٦ = ٤

تخته داسې ښکاري :

□ = ٦ ÷ □ □ = ٦ × ٤

* په همدې طریقه لاندې سوالونو سره کار ته دوام ورکول

٦ × ٦ = □ ، ٦ × ٧ = □ ، ٦ × ٩ = □

* په همدې طریقه د ٩ د خانې څخه لاندې سوالونو سره کار ته دوام ورکول لکه :

٩ × ٢ = □ ، ٩ × ٣ = □ ، ٩ × ٥ = □ ، ٩ × ٨ = □

- په ځانګړې ډول یا د ملکرې سره د ٢٩مخ ① مشق سره کار کول (ښوونکی مرسته کوي .)

* زده کوونکي خپل خوابونه په لوړ آواز لولي او سره مقایسه کوي یې .

٤. تولګي کې د پښې خولې کار / کورنۍ کار :

٢٩مخ ⑦ مشق (دوه لومړني سوالونه دې تولګي کې حل شي .)

۲۹مخ - دوهم لوست

د ۶ یا ۹ د ضرب په خانونو کې د سوالونو جمع یا تفریق

۱. ذهني روزنه :

- ضرب د جمع سره او ضرب د تفریق سره



۲. تکرار :

- د ۲۹ مخ ④ مشق سره کار کول
* بشوونکی د ④ مشق جدول په تور ته تخته رسموي .
* زده کوونکي کار تشریح کوي .
* زده کوونکي سوالونه یو بل پسې حاوي او په جدول کې خالي خانې په تور ته تخته ډکوي .
- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح کول

۳. د ۶ یا ۹ د ضرب په خانونو کې د سوالونو جمع یا تفریق

- د ۲۹ مخ په ③ مشق کار کول
(په پیل کې کتابونه باید تړلي وي .)
* بشوونکی د ③ مشق حلور لومړني سوالونه بهل بهل په تور ته تخته لیکي، لکه :

$$۴\times۹+۳\times۹=۷\times۹=\boxed{۶۳}$$

* یو زده کوونکی عددي قصه وایي : هلته د ۹ کانو ۴ کروپونه او د ۹ کانو ۳ کروپونه وو ، مونږ ټول کروپونه یو بل ته نږدې کېښودل او ۷ کروپونه لاس ته راغلل دا په دې معنا چې : ۷ × ۹ کانې ، هلته ټول ۶۳ کانې دي .
* په همدې طریقه ۳ نور سوالونو سره کار کول
* زده کوونکي د ۲۹ مخ د ③ مشق ټول سوالونه په انفرادي توګه حلوي .
* په لوړ آواز د ځوابونو ویل او مقایسه کول
- د ۲۹ مخ په ⑤ مشق کار کول
* بشوونکی د عددونو دپاره یکسه په تور ته تخته رسموي او د کتاب په شان عددونه په کې لیکي .
(لاندې ډکوئ :)
* بشوونکی کار تشریح کوي چې ټول عددونه باید په ۶ یا ۹ تقسیم شي او په تور ته تخته یې لیکي .
(لاندې ډکوئ :)
* زده کوونکي صحیح تقسیم پیدا کوي او بهل بهل یې په صحیح ځای کې مساوات لیکي او حلوي یې . په پای کې تور ته تخته داسې بشکاري :

۸۱	۴۸	۵۴	۲۷	۶۳	۳۶
	۴۲		۱۸	۹	۷۲

÷ ۶ ÷ ۹

۴۸ ÷ ۶ = ☐ او داسې نور .

۸۱ ÷ ۹ = ☐ او داسې نور .

نوټ : که چېرې ضرورت وي سوالونه د ۲۹ مخ په مرسته حلېدی شي .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنۍ کار :

د ۲۹ مخ ④ مشق



۳۰ مخ - لومړی لوست

د ۷ د ضرب خانې سره کار کول

۱. ذهني روزنه :

- تقسیم د جمع او تقسیم د تفریق سره



۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

۳. د ۷ د ضرب خانې سره کار کول

- د ۳۰ مخ په ① مشق کار کول

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې عددي شعاع تکمیل کړي : په هر قدم باندې + ۷ لیکل او د ۷ د قدمونو د نخښو لاندې د صحیحو عددونو لیکل

* د ۷ د قدمونو د پاڼې د عددونو مقایسه او تصحیح

* د ملګرې سره کار کول ، د ورکړل شویو سوالونو حلول

* په لوړ آواز د خوابونو لوستل ارمقایسه کول

* ښوونکی د ۷ د ضرب خانې څخه عددونه د ترتیب څخه پرته په لوړ آواز وایي، زده‌کوونکی عدد په عددي شعاع پیدا کړي ، د ۷ د قدمونو تعداد شمېرې او مساوات وایي لکه ښوونکی وایي ۴۲ ، زده‌کوونکی د ۷ شپږ قدمونه پیدا او ۷×۶ = ۴۲ وایي او داسې نور .

- د ۳۰ مخ په ② مشق کار کول

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کار مطالعه کړي .

* یو زده‌کوونکی مثال تشریح کوي :

۳ × ۷ = □

یعنې ۳ څلي ۷ کاڼي ؛ نو ځکه هغوی به ۷ کاڼي په هر رو ۳ یکسونو کې ږدي .

* زده‌کوونکي سوال حاوي او د سوال مطابق په ښودل شوي تعداد یکسونو کې ۷ کاڼي ږدي (د ملګرې سره کار کول) ښوونکی مرسته کوي.

* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. د پېښې خولې کار / کورنۍ کار :

۳۰ مخ ④ مشق ، د ۷ د خانې د ضرب په زده‌کړه شروع کول


۳۱
۱ ۲۲ کاپي لرو مخه د ۷ په ګروپونو ۲ ۲۱ کاپي لرو په ساوري دول ب په ۷ ګڼو ويشل کړئ.
د ۷ ګڼو ګروپونه لاس ته راځي. په هرګروپ کې کاپي وي.
۲ لاندې د تقسيم سوالونه حل کړئ.
۳ په لاندې بکسونو کې صحيح عددونه وليکئ.
۴ د لاندې عددونو ډيارو د ضرب او تقسيم سوالونه د مثالونو په شان جوړ او په خپل کتابچه کې يې حل کړئ
مثال:
۲۱ ÷ ۷ = ۳
۲۱ ÷ ۳ = ۷
۶۳ ۲۱ ۵۶ ۳۵ ۲۸ ۶۳ ۷۰ ۱۴

۳۱ مخ - لومړی لوست

په دوو مختلفو طريقو سره په ۷ تقسيم

۱. ذهني روزنه :

- د ۲۲ مخ دوهم لوست په شان ځنځيرې سوالونه لکه :

۵۰۰ - ۳۰۰ + ۲۰۰ + ۱۰۰۰ =

۴ × ۵ - ۱۷ × ۰ =

۴۰ ÷ ۱۰ + ۲ × ۱ =

۲ × ۲ × ۱۰ =

۴۰ ÷ ۵ ÷ ۴ ÷ ۲ =

۶۰۰ + ۴۰۰ - ۸۰ - ۹۰۰ = او داسې نور.

- د ۶ او ۹ د ضرب د خانې څخه ځينې ساده سوالونه :



۲. تکرار :

- بنوونکی په يوه دايره کې د ۷ د ضرب د خانې ځوابي عددونه د تختې په منځنۍ برخه کې ليکي ؛ بيا د ۷ د ضرب د خانې څخه سوالونه د ترتيب څخه پرته ليکي.

* زده‌کوونکي د دايرې څخه صحيح ځوابونه پيدا کړي ، خالي خانې ډکوي او ځوابونه د دايرې د صحيح عددونو سره وصلوي. په پاى کې به تخته داسې ښکاري.



او داسې نور.

- بيل بيل زده‌کوونکي د ۷ ضرب د صنف مخکې وايي.
- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح کول

۳. په دوو مختلفو طريقو سره په ۷ تقسيم

- د ۳۱ مخ په ① او ② مشق کار کول

* بنوونکي د زده‌کوونکو څخه غواړي چې مشقونه حل او خالي خانې ډکې کړي.

* زده‌کړونکي عددي قصې وايي : په دواړو سوالونو کې ۴۲، ۴۲ کاڼي دي ، په لومړي سوال کې مو د ۷ کاڼو په ګروپونو ووېشل او ۶ ګروپونه تر لاسه شول ، په دوهم سوال کې مو د ۴۲ کاڼو ډېرۍ په ۷ کڅوړو باندې په مساوي ډول ووېشل او په هره کڅوړه کې ۶ کاڼي تر لاسه شول .
* زده‌کوونکي خوابونه په لوړ آواز وايي او سره مقايسه کوي يې .
- د ملګرې سره د ۳۱ مخ په ㉓ مشق کار کول (که چېرې ضرورت پېښ شو د ۳۰ مخ عددي شعاع ډې وکاروله شي)
* په لوړ اواز د خوابونو ويل او مقايسه کول

۴. تولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار :

د ۷ د ضرب خانې زده‌کړه ته دوام ورکول

۳۱ مخ - دوهم لوست
په ۷ د تقسيم سوالونه جوړول

۱. ذهني روزنه :

- د ۱۰، ۲۰، ۳۰، ۴۰ او ۵۰ په قدم شمېر کول
  ۲۶۰ ، ۲۷۰ ، . . . ، ۳۵۰
  ۴۵۰ ، ۴۷۰ ، . . . ، ۶۳۰
  ۳۰۰ ، ۳۳۰ ، . . . ، ۵۴۰
  ۶۰ ، ۱۰۰ ، . . . ، ۳۰۰
  ۵۰۰ ، ۵۵۰ ، . . . ، ۱۰۰۰

۲. تکرار :

- شوونکی د ۷ د خانې څخه د تقسيم سوالونه يو يو په تخته ليکي ، لکه :
  ۴۲ ÷ ۷ = □
* زده‌کوونکي هغه ښه ښه حلوي .
- ښه ښه زده‌کوونکي د ۷ د خانې ضرب وايي .

۳. په ۷ د تقسيم سوالونه جوړول

- د کاڼو د تعداد پيدا کول کوم چې په ۷ باندې تقسيم شوي دي ، لکه :
  □ ÷ ۷ = ۴
* شوونکي مثلاً د ۷ کاڼو ۴ ګروپونه په تخته رسموي او ترڅو باندې د تقسيم مساوات داسې ليکي :

  □ ÷ ۷ = □
* شوونکي د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې کار مطالعه او حل پيدا کړي .
* شوونکي زده‌کوونکي رهنمايي کوي تر څو په شي چې کولی شي تقسيم سوال د ضرب د مربوط سوال په بدلولو سره هغه عدد پيدا کړي کوم چې تقسيم شوی و لکه ۴ × ۷ = ۲۸ ، دا په دې معنا چې ۲۸ کاڼي د ۷ په ګروپونو تقسيم شوي وو .
* زده‌کوونکي عددي قصه وايي او خالي خانې ډکوي ، لکه هلته ټول ۲۸ کاڼي وو، هغه مو د ۷ په ګروپونو تقسيم کړي وو ، ۴ ګروپونه مو حاصل کړل .
- په همدې طريقه ۲ نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول ، لکه :
  □ ÷ ۷ = ۶
  □ ÷ ۷ = ۳
- د ۳۱ مخ په ㉔ مشق کار کول
* د کار د واضح کولو څخه وروسته زده‌کوونکي په انفرادي توګه د ۳۰ مخ د عددي شعاع په مرسته سوالونه حلوي .
* په لوړ آواز د خوابونو لوستل او مقايسه کول

۴. تولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار :

۳۱ مخ ㉕ مشق


٣٢
د ضرب او تقسیم تکرار :
① په یکسونو کې د ضرب صحیح سوالونه ولیکئ .
② شنې خایونو کې ولیکئ .
③ د تقسیم د سوالونو لاندې جدولونه تکمیل کړئ .

٣٢ مخ ـ لومړی لوست

پریوه عددي شعاع باندې د دوو خانو څخه د ضرب د سوالونو پیدا کول

١. ذهني روزنه :

- عددي دایرو سره کار کول



٢. تکرار :

- ښوونکی د ٧ د ضرب د خانې (کورنۍ کار) څخه ځینې عددونه په تخته بېل بېل لیکي ، لکه : ٣٥

* زده کوونکي د هغه دپاڼه د ٧ د خانې د ضرب او تقسیم مربوط سوالونه جوړوي او په تخته یې داسې لیکي :

$$٧ \times ٥ = \boxed{٣٥}$$

$$\boxed{٥} = ٧ \div ٣٥$$

* د نورو عددونو سره د کار جاري ساتل، لکه: ٢٨ ، ٤٢ ، ٥٦ ، ٢١

٣. پریوه عددي شعاع د دوو خانو څخه د ضرب د سوالونو پیدا کول

- ښوونکی د ضرب د سوالونو دپاڼه د خالي بکسونو [×] سره یوه عددي شعاع په تخته رسموي .
(لاندې وګورئ !)

* زده کوونکي بحث کوي او معلوموي چې د عددي شعاع دپاسه د ٢ قدمونه دي او د عددي شعاع لاندې د ٤ قدمونه دي .

* زده کوونکي د ضرب سوالونه پیدا کوي او لیکي .
د عددي شعاع دپاسه قدمونه لکه ١ × ٢
٢ × ٢ او داسې نور .
د عددي شعاع لاندې قدمونه لکه ١ × ٤
٢ × ٤ او داسې نور .

* زده کوونکي هغه څښتنې چې دوه سوالونه لري پیدا کوي او تر بحث لاندې یې نیسي.

$$\boxed{٤} = ٤ \times ١$$

$$\boxed{٤} = ٢ \times ٢$$

په پای کې تخته داسې بشکاري :



- د ۳۲ مخ په ① مشق کار کول
* زده کوونکي کار مطالعه کوي او عددي شعاع کاني د تختې د مخ د شعاع په څېر تشريح کوي.
* زده کوونکي سوالونه پيدا او خالي خانې ډکوي.
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز لولي او سره مقايسه کوي يې.

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار:

د ۷ د ضرب د خانې زده کولو ته دوام ورکول

---

۳۲ مخ - دوهم لوست
د تقسيم د مختلفو سوالونو حلول

۱. ذهني روزنه :

د ۳۲ مخ په ② مشق کار کول
* شوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې په پټه خوله سوالونه حل کړي.
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز لولي او سره مقايسه کوي يې.

۲. تکرار :

- ببل ببل زده کوونکي د ۶، ۷ او ۸ د خانو ضرب د ټولګي مخکې وايي.

۳. د تقسيم د مختلفو سوالونو حلول

- د ۳۲ مخ په ③ مشق کار کول
* شوونکی دوهم جدول په تخته رسموي. (کتابونه دې تړلي وي)
* زده کوونکي په جدول بحث کوي او کار پيدا کوي چې هغه د تقسيم سوالونو پيدا کول او ځوابونه يې په خالي بکسونو کې ليکل دي.
* شوونکی د مثال په توګه لومړی خالي بکسې ته اشاره کوي لکه د ۲ لاندې، زده کوونکي ۶ ÷ ۲ = ۳ پيدا کوي او ۳ په تاکلې بکسه کې ليکي.
* په همدې طريقه د ترتيب څخه پرته نورو بکسونو سره کار ته دوام ورکول

- په لومړۍ بکسه باندې کار کول
* زده کوونکي په پټه خوله سوالونه پيدا کوي او خالي خانې ډکوي.
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز وايي او سره مقايسه کوي يې.
* د تورې تختې پاکول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنۍ کار:

۳۲ مخ ③ مشق دوهم جدول چې په توره تخته رسم شوی دی.

۳۳

① لاندې سوالونه د عددي شعاع په مرسته حل کړئ.



② د ضرب جوړې د سوالونو تر منځ رابطه پیدا او حل یې کړئ.



③ لاندې سوالونه حل کړئ.



۳۳ مخ - لومړی لوست

د عددي شعاع کانو په مرسته د ۲۰، ۵۰ او ۱۰۰ سره ضرب

۱. ذهني روزنه :

– د عددي دایرو په استعمالولو سره جمع او تفریق، د لسیزو او سلیزو څخه اوښتل



۲. تکرار :

– د کورنۍ کار کتنه او اصلاح کول

– زده‌کوونکي د ۳، ۴ او ۹ د خانو ضرب په شفاهي توګه د صنف مخکې ببل ببل وایي.

۳. د عددي شعاع کانو په مرسته د ۲۰، ۵۰ او ۱۰۰ سره ضرب

– ښوونکی لاندې عددي شعاع په تخته رسموي :



* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې عددي شعاع مطالعه او تشریح کړي.
* یو زده‌کوونکی وایي چې په هغه باندې د ۲۰ قدمونه دي، د لومړي قدم په پای کې ۲۰ د ۱×۲۰ معنا لري او د دوهم قدم په پای کې ۴۰ د ۲×۲۰ معنا لري.
* زده‌کوونکي په هر قدم باندې +۲۰ لیکي او نخښه شوې خایونو لاندې غیږ عددونه لیکي.
* زده‌کوونکي د ۲ د خانې عددونه او خوابونه د ۲۰ د خانې د عددونو او خوابونو سره مقایسه کوي.
* ښوونکی د عددي شعاع منتاثو عددونو ته یو په بل پسې اشاره کوي لکه ۶۰
* زده‌کوونکي د ضرب سوال پیدا کوي لکه ۶۰ = ۳ × ۲۰ او د داسې نور.

– د ۳۳ مخ په ① مشق کار کول

* د لومړنیو دوو برخو سوالونه د عددي شعاع په مرسته ملکري سره حلول
* خوابونه په لوړ آواز ویل او مقایسه کول

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار/کورنۍ کار :

د ۳۳مخ د ① مشق درېمه برخه

۳۳ مخ - دوهم لوست

د پورې لسیزو او سلیزو سره ضرب

۱. ذهني روزنه :

– د عددي دایرو سره کار کول
(بل مخ کې یې وګورئ!)



۲. تکرار :

- د کورنۍ کار اصلاح او مقایسه کول
- ښوونکی د ۳۳ مخ د ① مشق د دریمې عدد شعاع (کورنۍ کار) څخه مختلف عددونه وایي لکه ۷۰۰
- زده‌کوونکي هر څل خپلو کتابونو کې پر عددي شعاع عدد پیدا کوي، قدمونه شمیري او مساواتونه وایي لکه ۷×۱۰۰ = ۷۰۰
- د ۵۰ د ضرب د خانې عددونه د ۵ د ضرب د خانې د عددونو سره او د ۱۰۰ د ضرب د خانې عددونه د ۱۰ د ضرب د خانې د عددونو سره مقایسه کول

۳. د پورې لسیزو او سلیزو سره ضرب

- ښوونکی او زده‌کوونکي د ۳ د ضرب خانه د ۳۰ د ضرب د خانې سره مقایسه کوي
- ښوونکی د ضرب خانې په قدمونو کې خانله خانله داسې لیکي :

۳ = ۳ × ۱ ۳۰ = ۳۰ × ۱

□ = ۳ × ۲ □ = ۳۰ × ۲

- زده‌کوونکي ځوابونه پیدا او سره مقایسه کوي او هم معلوموي چې عددونه سره یو شان دي مګر د ۳۰ د ضرب په خانه کې یو صفر (۰) زیات دی.
- په همدې طریقه تر ۳×۱۰ او ۳۰×۱۰ پورې کار ته دوام ورکول، هر څل مقایسه او پیدا کول چې د ۳۰ د ضرب خانه هر ځای یو صفر زیات شوی. د یوه صفر زیاتېدل د ۱۰ ضرب د هغه عدد معنا ورکوي.

- ښوونکی د ۳۰ د ضرب د خانې ځوابونه پاکوي.
- ښوونکی زده‌کوونکو ته لاربښونه کوي چې اوس د ۳ د ضرب د خانې په مرسته د ۳۰ د ضرب د خانې سوالونه حل کړي، لکه : ۳×۷=۲۱ بیا ۳۰×۷ = ۲۱۰ (د ۲۱ په دې معنا چې صفر (۰) زیات شوی دی او په دې معنا چې ۱۰ × هغه عدد).
- ښوونکی د دوړو خانو څېړنې مربوط سوالونه ورکوي، ټبل ټبل زده‌کوونکي یې په همدې طریقه د صفر په زیاتولو سره حلوي :

□ = ۲×۵	□ = ۶×۴	□ = ۷×۶
□ = ۲۰×۵	□ = ۶۰×۴	□ = ۷۰×۶

— د ۳۳ مخ په ⑦ مشق باندې د ملګرې سره کار کول

- په لوړ آواز د ځوابونو ویل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنۍ کار:

د ۳۳ مخ د ④ مشق لومړنۍ دوه برخې

۳۴

عبارتي سوالونه

۱. په یوه ټولګي کې ۶ کتاره ده کوونکي دي چې په هر کتار کې ۶ تنه ناست دي . په ټولګي کې ټول څو زده کوونکي دي ؟

۲. یو سړي پس ۹ پنځه ځیره پوهګی لري . په سړي پس کې څو ځیره پوهګی شته ؟

۳. د یوې کتابچې قیمت ۸ روپۍ دی ، د اتو کتابچو قیمت په څو روپۍ ؟

۴. په یوه جومات کې ۴۸ تنه په ۶ مساوي صفونو کې لمونځ کوي ، په هر صف کې په څو تنه دي ؟

۵. په یوه باغ کې ۸ کتاره د میوو او ۶ کتاره د نارنجانو ونې دي . که په هر کتار کې ۷ ونې وي نو پیدا کوئ چې :
(الف) د میوو ونې څو دي ؟ (ب) د نارنجانو ونې څو دي ؟
(ج) ټولې څو ونې دي ؟

۶. په یوه باغ کې ۲۷ د نارنج ونې په ۹ کتارونو کې په مساوي ډول اېښودل شوي دي . د هر کتار د ونو شمېر معلوم کړئ ؟

۷. یو هلک په هفته کې د قرآن کریم ۳ سپارې تلاوت کوي . په څو هفتو کې به ټول قرآن کریم ختم کړي ؟

۸. د کوکاکولا په یو کریټ کې د خارږ بوتلونو ۶ کټاړه دي ، د کریټ د ټولو بوتلونو شمېر معلوم کړئ .

۹. په یو ټولګي کې ۴۲ زده کوونکي دي ، د ګروپ کار دپاره یو په ۷ مساوي ګروپونو وېشو ، په هر ګروپ کې ډېر شمېر زده کوونکي وي ؟

۱۰. حبیب الله د خپل کور د ۸ ماشومانو دپاره ۵۶ داڼي چارمغز راوړي دي . هر یو یې ته به څو چارمغز ورسېږي ؟

۵۶	۸	۱۴	۷	۸	۶۴		
	۹۸	۴۲	۶	۱۰	۴۵	۳۶	

۳۴ مخ ـ لومړۍ لوست
د عبارتي سوالونو حلول

۱. ذهني روزنه :

ـ عددي دایرو سره کار کول



۲. تکرار :

ـ بنوونکی لاندې ۳ سوالونه په تور تخته داسې لیکي:

۲ × ۴	=	
۲ × ۴۰	=	
۲ × ۴۰۰	=	

* بنوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې سوالونه حل او د هغو ترمنځ رابطه پیدا کړي .

۲ × ۴	=	۸
۲ × ۴۰	=	۸۰
۲ × ۴۰۰	=	۸۰۰

* زده کوونکي د هغو ترمنځ رابطه پیدا او وایي :
په سوالونو کې عددونه یو شانته دي. په دوهم سوال کې مو یو صفر اضافه کړی ځکه چې هلته د ۴ سره یو صفر وو. په دریم سوال کې مو دوه صفرونه (۰۰) زیات کړل ځکه چې هلته د ۴ سره دوه صفرونه (۰۰) وو .

* په همدې طریقه لاندې سوالونو سره کار کول

۳ × ۳	=		۲ × ۴	=	
۳ × ۳۰	=		۲ × ۴۰	=	
۳ × ۳۰۰	=		۲ × ۴۰۰	=	

ـ د ۳۳ مخ د ۴ مشق په دریمه برخه کار کول

* د کورني کار کتنه او مقایسه کول

۳. د عبارتي سوالونو حلول

ـ بنوونکی د ۳۴ مخ دوهم سوال په پاکیزه ډول په توره تخته لیکي او زده کوونکي رهنمایي کوي چې د یوې عبارتي سوال سره کار وکړي .
(لاندې وګورئ !)

* دوه یا درې زده کوونکي په توره تخته لیکل شوی سوال په لوړ آواز بېل بېل لولي.

* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي :
۱. په سوال کې استعمال شوي عددونه پیدا او لاندې یې خط کش کړئ لکه ۹ او ۵

دا لارښود غواړي نظريې درکړي او تاسو سره د بهتر تدريس دپاره مرسته وکړي . په همدې وخت کې هر ښوونکی باید د دلچسپۍ احساس وکړي چې خپلې مفکورې ، تجربې ، درسي معاونات خیالات او داسې نور شیان دې هدف ته د رسېدو دپاره استعمال کړي .

د ذهنې روزنې دپاره ځینې قوانین او قواعد :

۱. ذهنې روزنه د ښوونکي او زده‌کوونکو پوره توجه او فکري تمرکز ته ضرورت لري ، له دې کبله دا باید په پوره چوپتیا سره وشي .
۲. کله چې ښوونکی سوالونه اعلانوي زده‌کوونکي باید پوره پاملرنه ولري .
۳. د ذهنې محاسبې دپاره سوالونه باید پوره اسانه وي .
۴. ښوونکی باید واضح او ورو خبرې وکړي .
۵. زده‌کوونکي باید په پوره دقت سره غوږ ونیسي .
۶. د ذهنې محاسبې په مرحله کې باید زده‌کوونکو ته د سوال کولو اجازه ورنه کړل شي ځکه چې جریان تخریبوي .
۷. ذهنې روزنه باید زړه وهونکی (ستومانوونکی) کاره ونه ګرځي ، له دې کبله باید ورځ په ورځ تغیر ولري .
۸. ضروري ده چې ذهنې روزنه څومره چې امکان لري هره ورځ وشي ترڅو ماشومان په محاسبه کې ګړندي ، مطمئن او متیقن شي .
۹. دا تغیرات باید د ټولو اساسي مهارتونو د روزنې دپاره وي : د عددونو ترتیبول ، د عددونو په مقامي قیمت پوهېدل ، جمع ، تفریق ، ضرب او تقسیم .
۱۰. ذهنې روزنه باید ډېره اوږده نه وي . د ورځې پنځه دقیقې کفایت کوي .
۱۱. په لږ وخت کې باید ډېره محاسبه سرته ورسېږي .
۱۲. په توره تخته باید لږ تر لږه (اصغري) لیکنه وشي ، ځکه چې لیکنه اکثر ډېر وخت نیسي .
۱۳. د تاکلي کار دپاره عددونه په توره تخته لیکل کېږي ترڅو د ذهنې محاسبې دپاره وشودل شي .
۱۴. نوی کار باید په واضح ډول تشریح شي ، ترڅو ټول زده‌کوونکي پوه شي چې څه کوي .
۱۵. زده‌کوونکي کله چې ځواب پیدا کوي باید خپل لاسونه اوچت کړي او په صنف کې اوچت آواز سره ځواب ورنه کړي ، ځکه چې د هغه څخه ځوروسته د ضعیفو زده‌کوونکو دپاره د ځواب د موندلو چانس نه وي .
۱۶. په ذهنې روزنه کې وخت په وخت سره باید د یوه بدلون دپاره رقابت موجود وي .
۱۷. ضروري نه ده چې ذهنې روزنه د درس د عنوان سره ارتباط ولري . په حقیقت کې ذهنې روزنه کېدی شي د هغو مهارتونو د تمرین (مشق) دپاره استعمال شي چې په دې وخت کې نه تدریسېږي . لکه کله چې تدریس د دریم فصل په شان په ضرب او تقسیم متمرکز وي ذهنې روزنه د جمع او تفریق سوالونه وراندې کولی شي ترڅو هغه هېر نه شي .
۱۸. کېدی شي ذهنې روزنه د درس عنوان تکمیل کړي .
۱۹. څومره چې امکان ولري د ځوابونو په ورکولو کې باید ډېر زده‌کوونکي برخه واخلي (ضعیف زده‌کوونکي باید هېر نه شي .)

۲. مربوطه سوال پیدا او لاندې یې خط کش کړئ .
۳. د حلولو دپاره ضروري عملیه پیدا کول ، لکه :
ضرب (×)
۴. صحیح مساوات جوړ او حل یې کړئ .
۵. سوال ته صحیح ځواب ورکړئ .
* په اخرکې توره تخته داسې بشکاري :
یو سروېس ۹ پنځه نرۍ چوکۍ لري .
په سروېس کې څوکسان ځایېږي ؟

۹ × ۵ = ۴۵

۴۵ کسان ځایېدی شي .
– په همدې طریقه دریم سوال سره دکار جاري ساتل

۴. د پښتې خولې کار / کورنی کار :

د ۳۴ مخ لومړۍ عبارتي سوال

۳۴مخ - دوهم لوست
د عبارتي سوالونو حلول

۱. ذهني روزنه :

– د عددي دایرو په مرسته ضرب او تقسیم
* بنوونکی لاندنی شکل د اعدادو سره په توره تخته رسموي او د خارجي دایرې هر عدد ته اشاره کوي ، لکه ۴۲
* زده کوونکي د ضرب او تقسیم دوه مربوط سوالونه پیدا کوي لکه :
۷ × ۶ = ۴۲ او ۴۲ ÷ ☐ = ۷

– د ۹ په قدر سره مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول
۰ ، ۹ ، . . . . . ، ۹۰
۹۰ ، ۸۱ ، . . . . . ، ۰

۲. تکرار :

– د کورني کار کتنه او مقایسه کول
– ببل ببل زده کوونکي د ۳ ، ۴ او ۶ د خانو ضرب د ټولګي مخکې وایي .

۳. د عبارتي سوالونو حلول

– بنوونکی د ۳۴ مخ څلورم سوال په توره تخته په سپما ډول لیکي .
(لاندې وګورئ !)
* دوه یا درې زده کوونکي د توري تختې څخه سوال ببل ببل لولي .
* بنوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې :
۱. هغه عددونه پیدا او ترلاندې یې خط وکاږئ چې په سوال کې استعمال شوي دي ، لکه ۴۸ او ۶
۲. مربوط سوال پیدا او ترلاندې یې خط وکاږئ .
۳. هغه عملیه پیدا کړئ چې د سوال د حلولو دپاره ضرورت دی .
۴. صحیح مساوات جوړ او هغه حل کړئ .
۵. سوال ته صحیح ځواب ورکړئ .
* په پای کې به تخته داسې بشکاري :
په یوه جومات کې ۴۸ تنه په ۶ مساوي صفونو کې لمونځ کوي ، په هر صف کې به څو تنه وي ؟

۴۸ ÷ ۶ = ☐

په هر صف کې به ۸ کسان وي .
– په همدې طریقه د ۵ او ۶ سوال سلولو ته دوام ورکول
– ۷ او ۸ سوال د ملګري سره حلول
* زده کوونکي ځوابونه په لوړ آواز وایي او مقایسه کړي .

۴. ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنی کار :

۳۴ مخ - ۹ او ۱۰ سوال

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه
- د ۱۸ مخ ۳۶ مشق باندې په توره تخته کار کول

۳. د ضرب د چارت استعمال :

- ښوونکی لاندنی چارت په توره تخته رسموي او د ضرب مربوط سوالونه ببل، ببل یو په بل پسې وایي لکه (۱×۱، ۲×۲، ۳×۳، ۴×۴، ۵×۵، ۶×۶ او داسې نور.
* زده کوونکي په چارت کې سوال ښیي، ځواب پیدا کوي او د چارت تولې خالي خانې په صحیح عددونو سره په توره تخته ډکوي.

×	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰
۱	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰
۲	۲	۴	۶	۸	۱۰	۱۲	۱۴	۱۶	۱۸	۲۰
۳	۳	۶	۹	۱۲	۱۵	۱۸	۲۱	۲۴	۲۷	۳۰
۴	۴	۸	۱۲	۱۶	۲۰	۲۴	۲۸	۳۲	۳۶	۴۰
۵	۵	۱۰	۱۵	۲۰	۲۵	۳۰	۳۵	۴۰	۴۵	۵۰
۶	۶	۱۲	۱۸	۲۴	۳۰	۳۶	۴۲	۴۸	۵۴	۶۰
۷	۷	۱۴	۲۱	۲۸	۳۵	۴۲	۴۹	۵۶	۶۳	۷۰
۸	۸	۱۶	۲۴	۳۲	۴۰	۴۸	۵۶	۶۴	۷۲	۸۰
۹	۹	۱۸	۲۷	۳۶	۴۵	۵۴	۶۳	۷۲	۸۱	۹۰
۱۰	۱۰	۲۰	۳۰	۴۰	۵۰	۶۰	۷۰	۸۰	۹۰	۱۰۰

پورتنی جدول د ۱ څخه تر ۱۰ خانو پورې د ضرب او تقسیم د ټولو سوالونو د پاره استعمالیدای شي.

مثالونه:

○ ۱۳ = ۴ × ۳ ، □ ۱۰ = ۲ × ۵ ، △ ۷ = ۳ × ۷
۱۲ = ۳ × ۴ ، □ ۱۰ = ۵ × ۲ ، □ ۷ = ۳ × ۳
۴ = ۳ ÷ ۱۲ ، ۵ = ۲ ÷ ۱۰ ، □ ۳ = ۲۱ ÷
۳ = ۴ ÷ ۱۲ ، ۲ = ۵ ÷ ۱۰ ، □ ۷ = ۲۱ ÷

×	۱	۲	۳	۴	۵	۶	۷	۸	۹	۱۰
۱	۱							۸		
۲				۸		۱۲				
۳					۱۵					
۴								۳۲		
۵										۵۰
۶					۳۰					
۷										
۸										
۹				۲۷					۸۱	
۱۰										

- ښوونکی د ضرب لوی چارت د تختې په یوه خوا کې ځړوي (د تقسیم د علامې پنول (پرښل)).
* زده کوونکي چارت مطالعه کوي، بحث کوي او پیدا کوي چې دا د ضرب د خانو چارت (جدول) دی لکه څنګه چې مونږ په توره تخته ډک (جوړ) کړ.
* یو زده کوونکی چارت تشریح کوي: د جدول پاسنی عددونه تږ آسمانی (نیلی) رنګه لیکل شوي دي او بنې ارخ ته یې عددونه کم رنګه نیلي (آبي) لیکل شوي دي. کله چې د ضرب سوال جوړوو باید یو کم رنګه آسمانی له یوه تږ آسمانی عدد سره ضرب کړو.
- ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې پیدا کړي: هر کم رنګه آسمانی (نیلی) عدد د ټولو تږو آسمانی (آبي) عددونو سره ضرب ولې شو او برعکس هر کله ځواب د عمودي او افقي ستونزو په شریکه بکسه کې پیدا کولی شو.

د ضرب او تقسیم چارت

د ضرب او تقسیم چارت - لومړی لوست
د ضرب د چارت (جدول) استعمال

درسي معاونات :
د ضرب او تقسیم جدول

۱. ذهني روزنه :

- د ځنګوي سوالونو سره کار کول

۴۰۰۰ + ۳۰۰۰ + ۲۰۰۰ = ۱۰۰۰
۵۰۰۰ + ۲۰۰۰ - ۶۰۰۰ + ۹۰۰۰ =
۱۰۰۰۰ - ۳۰۰۰ - ۶۰۰۰ + ۴۰۰۰ =
۴۲۰۰ + ۲۰۰ + ۲۰۰ + ۲۰۰ + ۲۰۰ =
۹۵۰۰ - ۱۵۰۰ - ۷۰۰۰ = ۱۰۰۰

او داسې نور.

* بنوونکی د ضرب یو سوال په تخته لیکي لکه : ۴ × ۵

* زده کوونکي باید سوال اود هغه ځواب په چارټ کې پیدا او وښیي. یعنې که زده کوونکي ۴ په کم رنګه آسمانی ستون کې پیدا کړي هغوی باید ۵ په تیز آسمانی رنګه ستون کې وګوري. هغوی کولای شي د ۴ څخه ښی خواته او د ۵ څخه مستقیمًا ښکته خواته د تقاطع په بکس کې ځواب ۲۰ پیدا کړي.

* په همدې طریقه د ضرب د مختلفو سوالونو سره کار ته دوام ورکړئ لکه ۶ × ۷ ، ۵ × ۷ ، ۳ × ۷ ، ۶ × ۱۰ ، ۸ × ۴ ، ۵ × ۹ او داسې نور.

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

د کتاب د وقایې د داخلي مخ د ضرب او تقسیم د جدول مطالعه کول

د ضرب او تقسیم چارټ - دوهم لوست
د تقسیم د جدول (چارټ) استعمال

درسي معاونات : د ضرب او تقسیم چارټ

۱. ذهني روزنه :

- د عدد ونو دوامداره دوه برابره کول

* بنوونکی یو عدد وایي لکه ۱۰
لومړی زده کوونکی یې دوه برابره کوي او وایي ۲۰ ، دوهم زده کوونکی د هغه ځواب دوه برابره کوي او وایي ۴۰ او داسې نور. (خو ځله)

* د دوه برابره کولو دپاره نور عددونه :
۱۰۰ ، ۵۰۰ ، ۱۵ ، ۲ ، ۲۵
او داسې نور.

۲. تکرار :

زده کوونکي د ۳ ، ۶ او ۷ د خانې ژبنی ضرب د تولګي مخکې وایي.

۳. د تقسیم د جدول (چارټ) استعمال :

- بنوونکی د ضرب او تقسیم لوی چارټ د تورې تختې په یوه څنډه کې ځړوي (په چارټ کې د ضرب علامه پټوي) .

* زده کوونکي چارټ مطالعه کوي ، بحث کوي او پیدا کوي چې دا هماغه د ضرب چارټ دی او د تقسیم دپاره یې هم استعمالولای شو.

- د تقسیم د سوالونو د ځواب د موندلو دپاره د چارټ استعمال

* بنوونکی د تقسیم یو سوال په تخته لیکي لکه ۳۵ ÷ ۷ = □

* زده کوونکي باید ۳۵ د ۷ د خانې په ستون کې پیدا کړي. (که چېرې ۳۵ د تیز نیلي ۷ ستون لاندې پیدا کړي نو باید د ۳۵ څخه ښی خواته ترهغه لارشي چې کم رنګه نیلي ستون کې ځواب (۵) پیدا کړي. که ۳۵ د کم رنګه نیلي ۷ په ستون کې پیدا کړي نو باید د ۳۵ څخه مخ پورته ترهغه لارشي چې تیز نیلي ستون کې ځواب (۵) پیدا کړي) .

* په همدې طریقه د تقسیم نورو سوالونو سره کار کول لکه ۴۸ ÷ ۸ ، ۷۲ ÷ ۹ ، ۱۸ ÷ ۳ ، ۷۰ ÷ ۱۰ ، ۲۰ ÷ ۴ ، ۴۵ ÷ ۹ او داسې نور.

- بنوونکی د تقسیم مختلف سوالونه وایي .

* زده کوونکي هرځل ځواب په چارټ باندې ښیي ، سوال جوړوي او ځواب پیدا کوي .

- د کتاب د وروستۍ وقایې د دننې مخ څخه د ضرب او تقسیم د جدول او د هغو د مربوطو سوالونو مطالعه کول

* یوزده کوونکی د ضرب او تقسیم لومړی کروپ سوالونه (چې په دایره بندول شوي دي) تشریح کوي او تولګي په مخکې یې په لوی چارټ کې ښیي.

* د ضرب او تقسیم د سوالونو د پاتې کروپونو سره کار ته دوام ورکړئ

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

د چارټ (جدول) په مرسته د لاندې عددونو دپاره د ضرب او تقسیم مربوط سوالونه جوړول او په کتابچو کې یې لیکل : ۳۶ ، ۴۰ ، ۱۵

د څلورم فصل پېژندنه :

عنوان : د ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ پورې په عددونو کار کول

د درسي کتاب مخونه : ۳۵ـ۵۰

د پېشنهاد شوېو درسونو شمېر : ۲۴

د موضوعاتو تفصیل :

په دې فصل کې اساسًا تر ۱۰۰۰۰ پورې عددونه معرفي شوي دي چې لاندې اساسي مشقونه لري :

- په مختلفو طریقو سره د ۱۰۰۰ جوړول
- په مختلفو طریقو سره د ۱۰۰۰۰ جوړول
- تر ۱۰۰۰۰ پورې د عددونو ترتیب
- د "مقامي قیمت د جدول جوړول چې یونیزونه لسیزونه ، سلیزونه ، زرزونه او لس زرزونه ولري .
- د حاصل او قرضولو څخه پرته جمع او تفریق (په ستونونو کې)
- په دوو قدمونو کې جمع او تفریق - د پوره زرزونو ، سلیزونو او لسیزونو څخه اوښتل
- د جمع تبادلوي خاصیت

تبصره :

څرنګه چې د لوېو عددونو د معرفي کولو دپاره په ټولګي کې عملي امکانات ډېر لږ دي نو موږ وخت په وخت نیمه عملي شیان لکه لوټونه ، عددي شعاع کانې او داسې نور استعمال کړي دي تر څو د لوېو عددونو اندازې ، جوړښت او ترتیب وښیي .

عددونه قدم په قدم معرفي او بنسټل شوي دي ، لومړی پوره زرزونه ، پوره سلیزونه ، پوره لسیزونه او وروسته مختلط عددونه معرفي شوي دي . د لومړي ځل دپاره په دوو قدمونو کې جمع او تفریق پر عددي شعاع باندې لېښل کېږي .

د جمع د سوالونو د اسانه حلولو دپاره موږ د جمع تبادلوي خاصیت معرفي کړی دی .

دا فصل زده کوونکي چمتو کوي چې د ریاضي خصوصًا د جمع سوالونه په مختلفو طریقو سره حل کړي .



۳۵ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : په مختلفو طریقو ۱۰۰۰ ته رسېدل

۱. ذهني روزنه :

- د ۱۴ مخ لومړي لوست په شان د عددي مربع کانو سره کار کول



۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کښتنه او مقایسه
- ښوونکی د کورنۍ کار دوه سوالونه یو یو په لوړ آواز لولي .

* زده‌کوونکي یې په توره تخته حل او تشریح کوي .

۳. په مختلفو طریقو ۱۰۰۰ ته رسېدل

- ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غواړي لکه یو سړی باید ۱۰۰۰ روپۍ چاته ورکړي، څو په خپل جیب کې یې نه لري ، هغه باید دا ۱۰۰۰ روپۍ د مختلفو جیبونو، څاڅونو او خلکو څخه راتولې کړي . په پای کې هغه د پیسو څو لوټونه راجمع کړل چې ۱۰۰۰ روپۍ کېږي. کوم لوټونه کېدی شي؟
* زده‌کوونکي د ۱۰۰۰ روپیو د حاصلولو مختلف امکانات پیدا کوي او وایي لکه :

الف: ۱۰ د "۱۰۰" لوټونه

ب : ۲ د "۵۰۰" لوټونه

ج : ۹ د "۱۰۰" لوټونه او ۱۰ د "۱۰" لوټونه او داسې نور .

* زده‌کوونکي هر څلي مربوط مساوات په توره تخته لیکي (ښوونکی مرسته کوي لکه :

۱۰ × ۱۰۰ = ۱۰۰۰

۲ × ۵۰۰ = ۱۰۰۰

۹ × ۱۰۰ + ۱۰ × ۱۰ = ۱۰۰۰

او داسې نور .

- د ۳۵ مخ په ① مشق کار کول

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د ① مشق موضوع مطالعه او د لوټونو هر ګروپ یو په بل پسې تشریح کړي لکه :

لومړۍ برخه : هلته د "۱۰۰" روپو ۹ لوټونه د "۱۰" روپو ۹ لوټونه ، د "۱" روپۍ ۹ لوټونه او یو بل د "۱" روپۍ لوټ دی .

ټول سره یوځای یو زر زوپۍ جوړوي .

* زده‌کوونکي د پورتنۍ تشریح شوې کار ټولې خالي خانې ډکوي .

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
* زده‌کوونکي ۳ نورې موضوع کانې په همدې طریقه تشریح او خالي خانې ډکوي .

- د ۳۵ مخ په ② مشق کار کول

* ښوونکی لومړی چوکاټ د ټولو عددونو سره په توره تخته لیکي او موضوع تشریح کوي . هغه یوه عدد ته اشاره کوي زده‌کوونکي باید پیدا کړي چې څومره ورسره جمع کړي ترڅو ۱۰۰۰ ته ورسېږي.
* هر څلي زده‌کوونکي مربوط مساوات پیدا او په توره تخته یې لیکي لکه :

۱۰۰ + ۹۰۰ = ۱۰۰۰

- په همدې طریقه د ۳۵ مخ د ② مشق په دوهم چوکاټ کار کول
* زده‌کوونکي مساواتونه پیدا او په خپلو کتابچو کې یې لیکي .
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. د پښې خولې کار / کورنۍ کار : د ۳۵ مخ د ② مشق دریم چوکاټ

۳۶

① د هر چوکاټ لوټونه وشمېرئ او صحیح عددونه یې په خالي بکسونو کې ولیکئ.



② ښې لخوا په بکسونو کې پرله پسې پوره زرېزونه د ۱۰۰۰ څخه تر ۱۰۰۰۰ پورې ولیکئ. بیا په ټټلې پاندې د زرېزونو په تعداد بکسونه جوړ او ۱۰۰۰ په کې ولیکئ.



۳۶ مخ - لومړۍ لوست

عنوان : تر ۱۰۰۰۰ پورې پوره زرېزونو سره کار کول

۱. ذهني روزنه :

- د پخوا په شان د عددي مربع کانو ډکول



- د ۱۰۰ په قدمونو شمېر کول

۰ ، ۱۰۰ ، ... ، ... ، ۱۰۰۰

۲۱ ، ۱۲۱ ، ... ، ... ، ۹۲۱

۳۵ ، ۱۳۵ ، ... ، ... ، ۹۳۵ او داسې نور. -

۲. تکرار :

- د کورنۍ کارکتنه او مقایسه
- ښوونکی لاندې سوالونه یو یو پوښتنه کوي.

الف : په ۱۰۰۰ کې څو "۱۰۰" ګونې شامل دي؟

ب : په ۱۰۰۰ کې څو "۵۰" ویښ شامل دي ؟

ج : په ۱۰۰۰ کې څو "۱۰" ګونې شامل دي ؟

او داسې نور .

* زده‌کوونکي هر ځل صحیح ځواب پیدا کوي او وایي ، د جمع یا ضرب د مساواتونو په تشکیل سره یې تشریح کوي .

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې پوره زرېزونو سره کار کول

د ۳۶ مخ په ① مشق کار کول

* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې موضوع مطالعه او تشریح کړي .
* زده‌کوونکي پیدا کوي چې په چوکاټونو کې د زرو مختلف تعداد لوټونه دي او د هر چوکاټ د ټولو لوټونو مجموعي قیمت باید په بکسونو کې ولیکل شي .
* ښوونکی غوښتنه کوي چې لومړی چوکاټ (مثال) تشریح کړي .
* زده‌کوونکي وایي، هلته د ۱۰۰۰ روپیو ۳ لوټونه دي او تر هغه لاندې ۳۰۰۰ لیکل شوي دي (یو زده‌کوونکی په تخته ۳۰۰۰ لیکي) .
* ښوونکی مختلفو چوکاټونو ته اشاره کوي لکه دریم چوکاټ . زده‌کوونکي د لوټونو شمېر پیدا کوي ، وایي او صحیح عدد په تخته لیکي ، لکه وایي "۶ ځله زر (۱۰۰۰) ۶۰۰۰ کېږي " او ۶۰۰۰ په تخته لیکي.
* زده‌کوونکي په چوکاټونو کې لوټونه شمېرې او خالي خانې ډکوي .
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او د هغو مقایسه کول

- په پوره زرېزونو کې د ۱۰۰۰ تعدا او د هغو ترتیب پیدا کول

* ښوونکی د تورې تختې د ښې خوا په پاسنۍ برخه کې ۱۰۰۰ لیکي او زده‌کوونکو ته لارښوونه کوي چې وریښې پوره زیږونه یو په بل پسې وایي او ولیکي (لاندې رسم وګورئ!).
* ښوونکی مختلفو پوړه زیږونو ته اشاره کوي لکه ۴۰۰۰، یو زده‌کوونکی د "۱۰۰۰" تعداد وایي او په صحیح تعداد د ۱۰۰۰ بکسونه د ښودل شوي عدد چپې خوا ته رسموي (د لومړي کار او عمل څخه وروسته دوره تخته داسې ښکاري)

۱۰۰۰
۲۰۰۰
۳۰۰۰
۴۰۰۰ [۱۰۰۰] [۱۰۰۰] [۱۰۰۰] [۱۰۰۰]
.
.
.
.
۱۰۰۰۰

- د ۳۶ مخ په ⑦ مشق تر ۷۰۰۰ پورې کار کول (ښوونکی مرسته کوي)

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار:

۳۶ مخ ⑦ مشق (پاتې ۳ بکسونه)

۳۷

① د لاندې ټیبر بکسونې عددونه په صحیح ترتیب سره ولیکئ.

۱۰۰۰	۳۰۰۰	۲۰۰۰	۶۰۰۰	۸۰۰۰	۹۰۰۰	۷۰۰۰	
	۲۰۰۰	۱۰۰۰					
۴۰۰۰	۳۰۰۰	۲۰۰۰	۴۰۰۰	۶۰۰۰	۵۰۰۰	۳۰۰۰	

② په عددي شعاع باندې ټپه شوې ځایونو سره غیب عددونه ولیکئ.

۱۰۰۰ ۲۰۰۰ ۵۰۰۰ ۶۰۰۰ ۷۰۰۰

③ په لاندې جدولونو کې د ۱۰۰۰، ۱۰۰۰۰ او ۱۰۰۰۰۰ د عددونو رقمونه په خپلو ځایونو کې لیکل شوي دي چې د (۱) رقم د قیمت تغیر ښیي.

یویټ	لسیز	سلیز	زریز
۱			
۰	۱		
۰	۰	۱	
۰	۰	۰	۱

یویټ	لسیز	سلیز	زریز	اس زریز
۱				
۰	۱			
۰	۰	۱		
۰	۰	۰	۱	

④ د عددونو رقمونه په خپلو ځایونو کې وایئ او هر رقم قیمت معلوم کړئ.

ملیون	ملیون	ملیون	ټوټه	ټوټه	ټوټه	ټوټه	
							۷
							۷۰۰۰
							۷۰
							۷۰۰

ملیون	ملیون	ملیون	ټوټه	ټوټه	ټوټه	ټوټه	
							۴۰
							۴۰۰
							۴
							۴۰۰۰

ملیون	ملیون	ملیون	ټوټه	ټوټه	ټوټه	ټوټه	
						۲	۲۰۰۰
						۰	۲۰
						۰	۲
						۰	۲۰۰

۳۷ مخ - لومړی لوست

عنوان: تر ۱۰۰۰۰۰ پورې د پوړه زیږونو د ترتیب پیدا کول

۱. ذهني روزنه:

- د عددي دایرو په مرسته د ضرب او تقسیم د مربوطو سوالونو حلول



۶ × ☐۸ = ۴۸ او ۴۸ ÷ ☐۸ = ۶

* د مثال لوستل او تشریح کول
* د یوه بل مثال په وراندې کولو سره مرسته کول او بیا د لاړشوونې څخه پرته دوام ورکول

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او اصلاح
- ښوونکی لاندې کاڼي په تور تخته داسې رسموي



* زده‌کوونکي هر څل د دواړو خواوو څخه ورته ګوري ، د ضرب مربوط سوال پیدا کوي او خالي خاڼې ډکوي .

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې د پوره زرګونو د ترتیب پیدا کول

- د ۳۷ مخ په ① مشق کار کول
* یو زده‌کوونکی د مشق هدایت په لوړ آواز قول ټولګي ته لولي، زده‌کوونکي بحث کوي چې څرنګه پرې کار وکړي .
* زده‌کوونکي په صحیح ترتیب عددونه په خالي بکسونو کې بیا لیکي .
- د ۳۷ مخ په ② مشق کار کول
* زده‌کوونکي د عددي شعاع خالي خاڼونه د جمع په خواڼونو سره ډکوي لکه "که چېرې د ۲۰۰۰ نخښې څخه ۵ د ۱۰۰۰ قدمونه واخلم نو ۷۰۰۰ ته به ورسېږم .
* په عددي شعاع باندې د قدمونو تعقیبول او ۷۰۰۰ په صحیح ځای کې لیکل .
* په همدې توګه د عددي شعاع نور قول خالي خاڼونه ډکول

۴. کورنۍ کار : نه لري .

---

۳۷ مخ - دوهم لوست

عنوان : د مقامي قیمت د جدول په مختلفو خانوکې د یوه رقم د قیمت پیدا کول او مقایسه کول

۱. ذهني روزنه :

- د ۲۲ مخ د دوهم لوست په شان ځنځیرې سوالونو سره کار کول

۳ × ۲۰ + ۴۰ - ۱۰۰ =

۱۰۰ + ۳۰۰ - ۲۰۰ + ۵۰ =

۹۰۰ + ۸۰ + ۱۶ + ۴ =

۲۸ + ۱۲ + ۱۰ + ۵۰ =

۲ × ۱۰۰ + ۳۰۰ + ۵۰۰ =

او داسې نور .

۲. تکرار :

- څېړنې زده‌کوونکي د ۱۰۰۰ په قدم مخ په وراندې او مخ په شا هم‌ډول کوي .

۰ ، ۱۰۰۰ ، ۲۰۰۰ ، ... ، ... ، ۱۰۰۰۰

۱۰۰۰۰ ، ۹۰۰۰ ، ... ، ... ، .

۳. د مقامي قیمت د جدول په مختلفو خانوکې د یوه رقم د قیمت پیدا کول او مقایسه کول

- د ۳۷ مخ په ③ مشق کار کول
* ښوونکی د زده‌کوونکو څخه غوښتنه کوي چې موضوع مطالعه او دواړه جدولونه سره مقایسه کړي

* زده کوونکي موضوع تشريح کوي : هلته د مقامي قيمت دوه جدولونه دي ، دوهم جدول تر لومړي جدول لوی دی ځکه چې په هغه کې د لسو زرو (۱۰۰۰۰) نوی رقم (ستون) لرو .

د يويونو په خانه کې "۱" د "يوه" معنا لري، د لسيزونو په خانه کې "۱" د "۱۰" معنا لري، د سلیزونو په خانه کې "۱" د "۱۰۰" معنا لري ، د زرزونو په خانه کې "۱" د "۱۰۰۰" معنا لري او د لس زرزونو په خانه کې "۱" د "۱۰،۰۰۰" معنا لري . نو دا داسې ښيي چې په هره خانه کې د "۱" رقم بيل بيل قيمتونه پيدا کوي .

- ښوونکی د عددونو څخه پرته دوهم جدول په توره تخته رسموي او د "۱" د مقامي قيمت پوښتنه کوي .

* ښوونکی همدغه خالي جدول د نورو رقمونو په ورکولو سره استعمالوي (لکه ۸ ، ۲ ۵ او داسې نور) ، د هغو د مقامي قيمت پوښتنه کوي او د مقامي قيمت د جدول مختلفو ځايونو (خانو) ته اشاره کوي.

- د ۳۷ مخ په ④ مشق کار کول

* ښوونکی د عددونو سره لومړی جدول په توره تخته رسموي .

* زده کوونکي بحث کوي او د عددونو رقمونه د مقامي قيمت د جدول په صحيح ځايونو کې ليکي .

* زده کوونکي په دوه لومړنيو جدولونو باندې په انفرادي توګه په خپلو کتابونو کې کار کوي.

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل، ښودل او مقايسه کول

۴. په تولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

۳۷مخ ④ مشق (دريم جدول)



۳۸ مخ - لومړی لوست

عنوان : د لوټونو په مرسته د پورې زرزونو جمع او تفريق

۱. ذهني روزنه :

- ۱۰۰۰ ته د رسېدو دپاره د جمع د مختلفو سوالونو جوړول

* ښوونکی په صفا دول ۱۰۰۰ په توره تخته ليکي .

* زده کوونکي د جمع مختلف سوالونه جوړوي لکه :

۵۰۰ + ۵۰۰

۹۰۰ + ۱۰۰

(بل مخ کې يې وګورئ !)

۵۰۰ + ۳۰۰ + ۲۰۰

۵۰ + ۹۵۰

۱ + ۹۹۹

۹۸۰ + ۱۰ + ۱۰

او داسې نور.

۲. تکرار :

- ښوونکی مختلف تعداد کاپۍ (لکه ۱۸ ، ۲۴ ، ۲۱ ، ۳۰ او داسې نور) په توره تخته رسموي او د هغو لاندې د تقسیم سوالونه لیکي :



۱۸ ÷ □ = □ ۲۴ ÷ □ = □

۳. د لوټونو په مرسته د پوره زړیزونو جمع او تفریق :

- د ۳۸ مخ په ① مشق کار کول (د کار د کتابونو خلاصول)
- یو زده‌کوونکی د کتاب جملې (هدایت) په لوړ آواز لولي او ټولګي ته لولي .
- زده‌کوونکي په جملو بحث کوي او د جمع او تفریق لومړی سوالونه تشریح کوي : د جمع په سوال کې باید د دوارو خواوو لوټونه وشمېرو او صحیح عدد یې ترلاندې ولیکو یعنې ۴۰۰۰ او ۵۰۰۰ ، بیا یې سره جمع کړو . د تفریق په سوال کې لومړی باید لوټونه وشمېرو او صحیح عدد یې تر لاندې ولیکو یعنې ۹۰۰۰ ، بیا د تفریق شوي عدد مطابق لوټونه باید چلیپا کړو یعنې د ۹ زګیز (زړیز) لوټونو څخه ۵ لوټونه چلیپا کوو .
- د لومړي مشق په سوالونو د ملګرې سره کار کول
- په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. کورنی کار : نه لري .

---

۳۸ مخ - دوهم لوست

عنوان : د پوره زړیزونو جمع او تفریق

۱. ذهني روزنه :

- جمع او تفریق کول ، د لسیزونو څخه اوښتل

۲۱۶ + ۵ =	۱۱۲ - ۳ =
۶۷۸ + ۴ =	۶۵ - ۹ =
۹۰۴ + ۷ =	۵۲۷ - ۸ =
۴۴ + ۹ =	۳۴۳ - ۵ =
۵۷۲ + ۹ =	۹۹۹ - ۱۰ =
۴۶۷ + ۶ =	۷۶۱ - ۶ =

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه
- ښوونکی یو څو عددونه په توره تخته داسې لیکي :

۶۰۰ ۶ ۶۰۰۰ ۶۰

* زده‌کوونکي یې لومړی په عین ترتیب او بیا یې د قیمتونو له مخې په ستونونو کې په صحیح ترتیب لیکي .

۶۰۰

۶

۶۰۰۰

۶۰

ښوونکی باید زده‌کوونکي تصحیح او ورسره کومک وکړي چې دا عددونه په پاکو ستونونو کې ولیکي داسې چې دیوې خانې رقمونه کاملاً یو دبل لاندې ولیکل شي .

لومړۍ فصل : سریزه

عنوان : د ۱ څخه تر ۱۰۰۰ پورې په عددونو کار کول

د درسي کتاب مخونه : د ۳ څخه ۱۰ پورې

د پیشنهاد شوي لوستونو شمیر : ۱۶

درسي معاونات : د کانو کڅوړې

موضوعات او اهداف :

دا فصل اساسًا د دوهم ټولګي د لوستل شویو درسونو لنډ تکرار دی او په عملي مشقونو کې د ټبرې پوهې د تقویه کولو معنی لري او ضمنًا ضعیفو زده کوونکو ته موقع برابروي ترڅو ټولګي سره ځان ورسوي. چې په کې لاندې مشقونه شامل دي .

- تر ۱۰۰۰ پورې د عددونو ترتیب
- د یویزو، لسیزو او سلیزو مقامي قیمت
- د دوو عددونو جمع د حاصل ځخه پرته
- د قرضولو څخه پرته تفریق
- د ۲، ۵ او ۱۰ سره ضرب
- په ۲، ۵ او ۱۰ تقسیم

د دوهم یا دریم ټولګي د ماشومانو دپاره اسانه نه ده ترڅو په ریښتیا سره ویوهیږي چې د ۱۰۰۰ معنی څه ده . باید په واقعي ډول تر ۱۰۰۰ پورې د عددونو عددي مفهوم تر لاسه (حاصل) کړي له دې کبله د دوی دپاره ډېر مهم دي چې :

الف- د جمعونو او تصویرونو سره کار کول چې هغوی سره د عددونو د قیمت او اندازې په تصور کولو کې مرسته کوي .

(له دې کبله د ریښتینو کانو د سلو او لسو کڅوړې او بېل بېل کانې د عملي کار دپاره غوښتل شوي دي. همدارنګه د جمع او تفریق دپاره د لوټونو تصویرونه په کتاب کې استعمال شوي دي.)

ب- د عددونو په مقامي قیمت پوهېدل (فقط ترڅو واضح شي چې یویزونه ، لسیزونه او سلیزونه څه معنی لري او څنګه ارتباط سره لري لکه ۱۰ یویزونه یو لسیز جوړوي او داسې نور .) دوی به وروسته په دې قادر شي چې حتی د لویو عددونو تصور وکړي که څه هم د هغوی لېدل (مجسم کېدل) ډېر سخت دي .

په کتاب کې ضرب او تقسیم په نیمه واقعي ډول په دایرو باندې ښودل شوی دی . په درسي طرحو (خاکو) کې د تکرار او تقویې دپاره عملي قدمونه پېښنهاد شوي دي البته نه یوازې د ضرب یا تقسیم د خانو د پوهې دپاره بلکې په دې پوهېدل چې ضرب او تقسیم واقعًا څه معنی لري .


۳
لومړۍ فصل
موخه : ۱ څخه تر ۱۰۰۰ پورې په عددونو کار کول
۱ په هر کڅوړه کې ۱۰۰ کانې دي . د هر چرګاټ کانې وشمېرئ .
۲ په ښي قطار کې پرته سلیزونه تر ۱۰۰۰ پورې ولیکئ . وروسته خط په نقطو د سلیزونو په تعداد یکسره جوړ او ۱۰۰ په کې ولیکئ .
۱۰۰
۲۰۰
۳۰۰

۳ مخ - لومړۍ لوست

تر ۱۰۰۰ پورې پوره سلیزونو سره کار کول

درسي معاونات : د سلو سلو کانو لس کڅوړې

۱. ذهني روزنه

- د ورکړل شویو عددونو په منځ کې د ۱، ۲ یا ۳ په قدمونو شمېر کول

* په همدې ډول د نورو عددونو سره کار کول لکه :
۸۰، ۸۰۰، ۸۰۰۰ او ۳، ۳۰، ۳۰۰، ۳۰۰۰

۳. د پورې زیږونو جمع او تفریق

- د ۳۸ مخ په ⑦ مشق کار کول
- د عددي شعاع په مرسته د جمع د سوالونو حلول

* ښوونکی د پورې زیږونو عددي شعاع د ټولو عددونو سره په تخته رسموي او د مشق څخه د جمع لومړی سوال لیکي یعنې ۴۰۰ + ☐ = ۶۰۰ (لاندې وګورئ!)

* ښوونکی د لومړي عدد (۴۰۰) ځای په عددي شعاع باندې ښیي او بیا درېم "مقصود عدد" (ځواب ۶۰۰) ته اشاره کوي.



* زده کوونکي شمېر کوي او د دواړو شوډل شویو نقطو ترمنځ (۴۰۰ څخه تر ۶۰۰) د پورې زیږونو قدمونه پیدا کوي.
هلته د ۱۰۰ دوه قدمونه (۲۰۰) دې او ۶۰۰ پورې د نقطو (تکو) خط په تخته رسموي او مکمل مساوات په تخته لیکي.

* په همدې طریقه د ⑦ مشق څخه د جمع د دوو نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول لکه :

۳۰۰۰ + ☐ = ۱۰۰۰۰ ؛ ۲۰۰۰ + ☐ = ۵۰۰۰

[ښوونکی باید هر ځلې مخکښې سوالونه او د نقطو خطونه د تورې تختې څخه پاک کړي.]

- د همدې عددي شعاع په مرسته د تفریق د سوالونو حلول

* ښوونکی د ⑦ مشق څخه د تفریق یو سوال د عددي شعاع لاندې په تخته لیکي لکه :

۷۰۰۰ - ☐ = ۳۰۰۰

* ښوونکی په پیل کې لومړنی عدد (۷۰۰۰) ته اشاره کوي او بیا ځواب (۳۰۰۰) ته اشاره کوي (چې عددي شعاع داسې ښکاري)



وروسته ښوونکی ښیي چې څلور د ۱۰۰۰ قدمونه به اخلي تر څو د ۷۰۰۰ څخه ۳۰۰۰ ته ورسېږي.

* زده کوونکي شمېر کوي او د دواړو شوډل شویو عددونو ترمنځ د پورې زیږونو قدمونه پیدا کوي یعنې ۴ قدمونه او په تخته باندې خالي خانه ډکوي.

۷۰۰۰ - ☐ = ۳۰۰۰

* په همدې طریقه د ⑦ مشق څخه د جمع د دوو نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول

- ځانله ځانله د ⑦ مشق پاتې سوالونه حلول

* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. د پښتې خولې کار / کورنی کار :

نه لري.

۲. تکرار :

– د پورې زیږونو د جمع او تفریق مشق

* ښوونکی د جمع او تفریق یو شمېر سوالونه وایي لکه :

۵۰۰۰ + ۲۰۰ = ☐

۳۰۰۰ + ☐ = ۹۰۰۰

۷۰۰۰ – ۶۰۰۰ = ☐

۱۰۰۰۰ – ☐ = ۱۰۰۰

او داسې نور .

* هر ځل زده‌کوونکي یو یو سوال په تورې تخته لیکي او حلوي یې .

– د کورنۍ کار کتل او مقایسه کول

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې په پورې سلیزونو باندې کار کول

– ښوونکی لاندې تش بکسونه په تورې تخته رسموي او په دوه لومړنیو (پاسنیو) بکسونو کې ۱۰۰۰ او ۲۰۰۰ لیکي .

– د ۱۰۰ په قدم شمېر کول او په تورې تخته د تشو بکسونو ډکول



– د پورې زیږونو تر منځ د یوې سلسلې انتخاب

* په همدې طریقه د پورې زیږونو تر منځ د نورو قدمونو سره کار کول لکه :

۵۰۰۰ ، ۶۰۰۰ ، ۹۰۰۰ ، ۱۰۰۰۰

او داسې نور .

۳۹

۱ د سلو په قدمونو شمېر وکړئ او عددونه په بکسونو کې ولیکئ .

۱۰۰۰							۲۰۰	۱۰۰	
۲۰۰۰								۱۱۰۰	
۳۰۰۰								۲۱۰۰	
۴۰۰۰								۳۱۰۰	
۵۰۰۰								۴۱۰۰	

۲ د سلو په قدمونو شمېر وکړئ او عددونه په بکسونو کې ولیکئ .

۶۰۰۰							۵۲۰۰	۵۱۰۰	
۷۰۰۰								۶۱۰۰	
۸۰۰۰								۷۱۰۰	
۹۰۰۰								۸۱۰۰	
۱۰۰۰۰								۹۱۰۰	

۳ د عددي شعاعونو د نښه شوېو ټاپوګانو سره غیب عددونه ولیکئ .



۴ په لاندې بکسونو کې ګاونډي پورې سلیزونه ولیکئ .



۳۹ مخ - لومړی لوست

عنوان : تر ۱۰۰۰۰ پورې په پورې سلیزونو باندې کار کول

۱. ذهني روزنه :

– د ۱۰ ، ۲۰ ، ۵۰ ، ۱۰۰ او ۱۰۰۰ په قدمونو مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کول

۱۰۰ ، ۱۱۰ ، ..... ، ۲۰۰ ۲۰۰ ، ۱۹۰ ، ..... ، ۱۰۰

۳۰۰ ، ۳۲۰ ، ..... ، ۵۰۰ ۵۰۰ ، ۴۸۰ ، ..... ، ۳۰۰

۲۰۰ ، ۲۵۰ ، ..... ، ۶۰۰ ۶۰۰ ، ۵۵۰ ، ..... ، ۲۰۰

۱۰۰ ، ۲۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰ ۱۰۰۰ ، ۹۰۰ ، ..... ، ۱۰۰

۱۰۰۰ ، ۲۰۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰۰ ۱۰۰۰۰ ، ۹۰۰۰ ، ..... ، ۱۰۰۰

- د ۳۹ مخ ① شمارہ باندې ځانله ځانله کار کول (بشوونکی مرسته کوي)

* د نتایجو (عددونو) لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

۳۹ مخ ⑦ مشق

۳۹ مخ ـ دوهم لوست

عنوان : تر ۱۰۰۰ پورې د سلیزونو د صحیح ترتیب پیدا کول

۱. ذهني روزنه :

- د ۳۴ مخ د دوهم لوست په څېر د عددي دایرو په مرسته د ضرب او تقسیم د مربوطو سوالونو حلول



لکه :

۴ × ☐ = ۲۸ ، ۲۸ ÷ ☐ = ۴

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتل او مقایسه کول

- تر ۱۰۰۰ پورې د پورته سلیزونو د لیکلو مشق

* بشوونکی دوه پرله پسې پورته رڼیز عددونه لکه ۷۰۰۰ او ۸۰۰۰ په تخته لیکي.

* زده‌کوونکي د ۱۰۰ په قدمونو شمېر کوي او په تخته یې لیکي لکه :

۷۰۰۰ ـ ۷۱۰۰ ـ ۷۲۰۰ ـ ۷۳۰۰ ـ ۷۴۰۰ ـ ۷۵۰۰ ـ ۷۶۰۰ ـ ۷۷۰۰ ـ ۷۸۰۰ ـ ۷۹۰۰ ـ ۸۰۰۰

* په همدې طریقه د نورو ګاونډیو پورې زیږونو سره کار ته دوام ورکول لکه :

۵۰۰۰ او ۶۰۰۰ او ۹۰۰۰ او ۱۰۰۰۰

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې د سلیزونو د صحیح ترتیب پیدا کول

- بشوونکی لاندې عددي شعاع په تخته رسموي :



* زده‌کوونکي عددونه شمېرې او غیب عددونه په خپلو کتابونو کې ښه ښه لیکي.

- بشوونکی لاندې عددونه په دایرو کې د نورې تختې په مخ لیکي.



* بشوونکی په لومړي دایرې کې یوه عدد ته اشاره کوي، زده‌کوونکي د نومورې عدد ګاونډي عددونه په نورو دایرو کې پیدا کوي او په ترتیب یې لیکي لکه :

۲۹۰۰ ـ ۳۰۰۰ ـ ۳۱۰۰ یا ۹۸۰۰ ـ ۹۹۰۰ او نور.

- د ۳۹ مخ په ④ مشق کار کول (بشوونکی دې مرسته وکړي)

* د څوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار/کورنی کار:

۳۹ مخ ③ مشق

* د نورو عددونو عددي ترکیبونو سره کار ته دوام ورکول لکه :

۹۰۰ـ ۱۰۰ ، ۵۰۰ـ ۴۰۰ ، ۸۰۰ـ ۰ ، ۱۰۰۰ـ ۸۰۰ او نور.

۲. تکرار :

– د کورني کار کتل او مقایسه کول

۳. د پوره سلیزو جمع او تفریق :

– د عددي دایرو سره کار کول

* ښوونکی په تور تخته یوه عددي دایره رسموي لکه :



* ښوونکی د دایرې دبانډې یوه عدد لکه ۳۰۰ ته اشاره کوي او زده کوونکي مربوطه عملیه جوړوي :

یعنې : ۴۰۰۰ + ۳۰۰ = ۴۳۰۰

* ښوونکی په دایره کې "۴۰۰۰" لیکي او زده کوونکي په پورتنۍ ډول کار کوي .
* په همدې طریقه په نورو عددونو لکه ۳۰۰۰ ، ۹۰۰۰ ، ۵۰۰۰ ، ۱۰۰۰ او داسې نورو باندې کار ته دوام ورکول

– د ۴۰ مخ د ① مشق په "الف" برخه باندې کار کول

* په لور آواز د خوابونو لوستل او مقایسه کول

– د ۴۰ مخ په ② مشق کار کول

* د ملګري سره کډ کار ، د خالي خانو ډکول (ښوونکی دې مرسته وکړي) .
* د خوابونو لوستل او مقایسه کول (ښوونکی کار څاري)

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار / کورنی کار :

۴۰ مخ ① مشق د "ب" برخه .


۴۰
① الف : د ۶۰۰۰ سره پوره سلیزونه جمع کړئ .
ب : د ۷۰۰۰ څخه پوره سلیزونه تفریق کړئ .
۶۰۰۰
۶۱۰۰
۶۹۰۰
۷۰۰۰
② د چرکاټونو نوټیشن وشمېرئ ، عددونه یې په یکسونو کې ولیکئ او بیا یې سره جمع کړئ .
۳۲۰۰ + ۵۰۰ =

۴۰ مخ - لومړی لوست

عنوان : د پوره سلیزو جمع او تفریق

۱. ذهني روزنه :

– ښوونکی د ۰ ـ ۱۰۰۰ پورې یوه عددي شعاع په تور تخته رسموي او دوه مختلفو عددونو ته په ګډ وخت کې اشاره کوي لکه ۳۰۰ او ۷۰۰ .

* زده کوونکي د ټولو کوچنیو قدمونو شمېر پیدا کوي چې ۴۰۰ قدمونه دي او وایي چې :

۳۰۰ + ۴۰۰ = ۷۰۰



* د نورو عددونو سره کار ته دوام ورکول لکه ۲۰۰۰، ۸۰۰/۳۰۰۰، ۶۰۰/۰، ۱۰۰۰/۱۰۰۰، ۱۰۰۰۰ او داسې نور .

۲. تکرار :

– شوونکی د جمع سوالونه یو یو په توره تخته لیکي، لکه :

[ ] + ۹۵۰۰ = ۵۰۰ + ۷۲۰۰ ، [ ] = ۱۰۰ + ۷۲۰۰

[ ] = ۴۰۰ + ۷۳۰۰ او داسې نور (د پوره سلیزونو لرونکي زیږزونه + پوره سلیزونه)

* زده‌کوونکي یې حلوي .

– د کورنۍ کار کتنه او اصلاح کول

۳. د پورې زیږزونو څخه اوښتل – په دوو قدمونو کې جمع :

– په دوو قدمونو کې د جمع د سوالونو معرفي کول چې د پورې زیږزونو څخه اوړي

* شوونکی یو سوال په توره تخته لیکي لکه ۲۸۰۰ + ۳۰۰ = [ ] او د زده‌کوونکو څخه پوښتنه کوي چې څرنګه دا سوال په اسانه سره حلولی شئ ؟

* زده‌کوونکي بحث کوي او پیدا کوي : موږ سوال په دوو قدمونو کې حلوو ، لومړی باید پوره زیږ تکمیل کړو لکه :

۲۸۰۰ + ۲۰۰ = [۳۰۰۰] بیا پاتې ۱۰۰ ورسره جمع کوو یعنې [۳۰۰۰] + ۱۰۰ = [۳۱۰۰]

* شوونکی دا قدمونه په توره تخته داسې لیکي :




۴۱
① په دوو قدمونو کې جمع د پورې زیږزونو څخه اوښتل .
اول مثال :
۱۹۰۰ + ۴۰۰ = [ ]
۲۰۰۰
دوهم مثال :
۶۷۰۰ + ۵۰۰ = [ ]
لاندې سوالونه په خپلو کتابچو کې د مثالونو په شان حل کړئ.
۳۶۰۰ + ۷۰۰ = [ ]
۷۸۰۰ + ۳۰۰ = [ ]
۶۶۰۰ + ۶۰۰ = [ ]
۵۴۰۰ + ۸۰۰ = [ ]
۸۹۰۰ + ۲۰۰ = [ ]
۴۵۰۰ + ۹۰۰ = [ ]
۲۷۰۰ + ۶۰۰ = [ ]
۱۴۰۰ + ۸۰۰ = [ ]
② په دوو قدمونو کې تفریق د پورې زیږزونو څخه اوښتل .
اول مثال :
۸۴۰۰ – ۷۰۰ = [ ]
۸۰۰۰
دوهم مثال :
۲۳۰۰ – ۴۰۰ = [ ]
لاندې سوالونه په خپلو کتابچو کې د مثالونو په شان حل کړئ.
۵۵۰۰ – ۷۰۰ = [ ]
۲۴۰۰ – ۹۰۰ = [ ]
۱۶۰۰ – ۸۰۰ = [ ]
۴۳۰۰ – ۵۰۰ = [ ]
۷۱۰۰ – ۲۰۰ = [ ]
۹۲۰۰ – ۶۰۰ = [ ]
۸۶۰۰ – ۸۰۰ = [ ]
۶۷۰۰ – ۹۰۰ = [ ]

۴۱ مخ – لومړی لوست

عنوان : د پورې زیږزونو څخه اوښتل په دوو قدمونو کې جمع

۱. ذهني روزنه :

– شوونکی د ۰ – ۱۰۰۰۰ پورې عددي شعاع په توره تخته رسموي او په یوه وخت کې دوو مختلفو عددونو ته اشاره کوي لکه ۵۰۰۰ او ۸۰۰۰

* زده‌کوونکي د هغو ترمنځ د کوچنیو قدمونو شمېر پیدا کوي چې ۳۰۰۰ قدمونه دي او وایي ۵۰۰۰ + ۳۰۰۰ = ۸۰۰۰



* په همدې طریقه خپلې نور سوالونه په توره تخته حل کړه :

۴۶۰۰ + ☐ = ۵۰۰

۸۷۰۰ + ☐ = ۶۰۰

۵۹۰۰ + ☐ = ۸۰۰

او داسې نور .

* زده‌کوونکي هرځل د توري تختې څخه سوالونه خپلو کتابچو ته نقلوي .

– د ۴۱ مخ په ① مشق کار کول

* زده‌کوونکي دواړه مثالونه مطالعه ،تشریح او محاسبه کوي ، بیا خالي خانې ډکوي .

* زده‌کوونکي لومړني څلور سوالونه د مثالونو په شان په خپلو کتابچو کې حلوي .

* په لوړ آواز په دوو قدمونو کې د جمع د سوالونو ویل او بیا په کتابونو کې د خالي خانو ډکول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار :

۴۱ مخ ① مشق پاتې څلور سوالونه

۴۱ مخ - دوهم لوست

عنوان : په دوو قدمونو کې تفریق : د پورې زیږونو څخه اوښتل

۱. ذهني روزنه :

– د عددي دایرې سره کار کول



* بنوونکی د بهرنۍ دایرې یوه عدد ته اشاره کوي لکه ۸۰

* زده‌کوونکي هرځل هغه د منځنۍ دایرې کاونډي عدد یعنې ۸ سره جمع ،تفریق ، ضرب او تقسیموي . مثال :

۸۰ + ۸ = ۸۸ ۸۰ × ۸ = ۶۴۰

۸۰ - ۸ = ۷۲ ۸۰ ÷ ۸ = ۱۰

او داسې نور .

۲. تکرار :

– بنوونکی د کورنۍ کار څخه دوه سوالونه په توره تخته یو یو لیکي لکه : ۸۹۰۰ + ۲۰۰ = ☐ ۱۴۰۰ + ۸۰۰ = ☐

* زده‌کوونکي پې د تېرې وړځې په شان په دوو قدمونو کې حلوي .

– د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

۳. په دوو قدمونو کې تفریق - د پوره زیږونو څخه اوښتل

– په دوو قدمونو کې د تفریق د سوالونو د حل معرفي کول چې د پوره زیږونو څخه اوږې

* بنوونکی د تفریق یو سوال په توره تخته لیکي لکه : ۲۳۰۰ - ۵۰۰ = ☐

* زده‌کوونکو ته رهنمایي کول چې سوال په دوو قدمونو کې په توره تخته حل کړي .

۲۳۰۰ - ۵۰۰ = ۱۸۰۰

۲۳۰۰ ۲۰۰۰ ۵۰۰

* په همدې طریقه د نورو سوالونو سره کار کول لکه ۶۵۰۰ - ۷۰۰ = ☐ او داسې نور .

– د ۴۱ مخ په ② مشق کار کول

* زده‌کوونکي مثالونه مطالعه ، تشریح او محاسبه کوي،بیا په کتابونو کې خالي خانې ډکوي .

* زده‌کوونکي لومړني څلور سوالونه د مثالونو په شان په خپلو کتابچو کې حلوي .

* په دوو قدمونو کې د تفریق سوالونه په لوړ آواز لوستل او بیا په کتابونو کې د خالي خانو ډکول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار :

۴۱ مخ ② مشق پاتې څلور سوالونه

۲. تکرار :

- بښوونکی د تفریق لاندې سوالونه ببل ببل په توره تخته داسې لیکي :

۸۲۰۰ − ۳۰۰ =

۱۳۰۰ − ۷۰۰ =

۳۵۰۰ − ۸۰۰ =

* زده کوونکي یې یو یو بل پسې په توره تخته حلوي.
- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. ورکړل شویو ځوابونو دپاره د جمع او تفریق د سوالونو تشکیلول او د پورته لسیزونو سره کار کول

- ورکړل شویو ځوابونو دپاره د جمع او تفریق د سوالونو موندل

* بښوونکی یو ځواب لکه ۳۲۰۰ په توره تخته لیکي.
* زده کوونکي کوښښ کوي چې د جمع او تفریق مختلف سوالونه پیدا کړي چې د لیکل شوي ځواب خوا ته یې رهنمایي کوي (صحیح یا غلط پیښنهاد) او ټول په توره تخته لیکي لکه :

۳۰۰۰ + ۲۰۰ =

۴۰۰۰ − ۸۰۰ =

۴۰۰۰ − ۶۰۰ =

۲۰۰۰ + ۱۲۰۰ =

۳۱۰۰ + ۱۰۰ =

۳۰۰۰ + ۳۰۰ =

۳۲۰۰

او داسې نور.

* زده کوونکي غلط پیښنهادونه پیدا کوي او هغه چلیپا کوي.
* په همدې طریقه دبل ځواب ۵۵۰۰ سره کار ته دوام ورکول

- د ۴۲ مخ په ① مشق باندې دملګرې سره کار کول (دیو لوري بکسونه)
- د ۴۲ مخ په ② مشق کار کول

* بښوونکی مختلف بکسونو ته اشاره کوي لکه دوهم بکس، زده کوونکي لوټونه شمېري او صحیح ځواب وایي لکه ۲۵۷۰ او په توره تخته یې لیکي. زده کوونکي ځواب په بکس کې صحیح ځواب چلیپا کوي
* زده کوونکي په انفرادي ډول لوټونه شمېري او خالي خانې ډکوي، همېشه د ځواب په بکس کې د ځواب کتل او چلیپا کول

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/ کورنی کار :

۴۲ مخ ① مشق ، درېم بکس

۴۲

① هغه سوالونه چلیپا کړئ چې ځواب یې د چوکاټ د پاسنې عدد سره مساوي نه وي.

۷۹۰۰	۴۵۰۰	۹۱۰۰
= ۵۰۰ − ۸۴۰۰	= ۷۰۰ + ۳۸۰۰	= ۶۰۰ + ۸۵۰۰
= ۴۰۰ − ۴۲۰۰	= ۶۰۰ − ۵۰۰	= ۴۰۰ + ۸۷۰۰
= ۶۰۰ − ۸۵۰۰	= ۷۰۰ − ۵۲۰۰	= ۳۰۰ + ۸۷۰۰
= ۷۰۰ − ۸۶۰۰	= ۸۰۰ + ۳۲۰۰	= ۲۰۰ + ۸۹۰۰
= ۲۰۰ − ۸۲۰۰	= ۱۰۰ − ۴۶۰۰	= ۹۰۰ + ۸۱۰۰

② لوټونه وشمېرئ او صحیح عددونه په بکسونو کې ولیکئ.

		۱۱۱۰
۲۶۰۰	۲۵۷۰ ۳۱۴۰ ۲۰۸۰	۲۱۲۰ ۱۱۱۰

۴۲ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : ورکړل شویو ځوابونو دپاره د جمع او تفریق د سوالونو تشکیلول او د پورته لسیزونو سره کار کول

۱. ذهني روزنه :

- بښوونکی لومړی عدد په توره تخته لیکي :

۱۰۰۰ − ـ = ☐

او تشریح کوي چې هغه به دوهم عدد وایي لکه ۲۰۰۰ ، زده کوونکي باید دا عدد دوه ځلې په شفاهي ډول د لومړي عدد څخه تفریق کړي ، یعنې ۱۰۰۰ − ۲۰۰۰ − ۲۰۰۰ = ۶۰۰۰

د نورو عددونو سره اضافي تمرین لکه :

(لومړي عددونه) ۹۰۰۰ ، ۸۰۰۰

(دوهم عددونه) ۱۰۰۰ ، ۵۰۰ ، ۴۰۰۰ ، ۳۰۰۰

۳. د پورې لسیزونو سره کار کول
(د ۰ ـ ۱۰۰۰ سلسله)

- ښوونکی ۱۱ بکسونه په تخته رسموي او په لومړي بکس کې ۱۰۰۰ لیکي.
- زده کوونکي د ۱۰۰ په قدمونو شمېر کوي او بکسونه په تخته ډکوي یعنې:



د دوو عددونو په کتګ کې دیوه قدم انتخابول لکه د ۱۰۰ څخه ۱۲۰۰ پورې او د هغو ترمنځ په پورې لسیزونو کې شمېر کول

د لومړي کتار د بکسونو لاندې په نورو رسم شوېو بکسونو کې د پورې لسیزونو لیکل



* په همدې طریقه د پورې سلیزونو د نورو قدمونو سره کار ته دوام ورکول لکه ۱۴۰۰ ـ ۱۵۰۰ او داسې نور، هرځلې د بکسونو د نوي کتار رسمول

- په انفرادي ډول د ۴۳ مخ په ① مشق باندې کار کول (ښوونکی مرسته کوي)

* په لوړ آواز د عددونو لوستل او مقایسه کول

- ښوونکی لاندې د بکسونو کتارونه چې په ځینو کې یې عددونه لیکل شوي دي، ببل ببل په تخته رسموي



* زده کوونکي کاونډي پورې لسیزونه پیدا او په خالي خانو کې یې لیکي.
* د ۴۲ مخ په ③ مشق کار کول، د صحیح ځوابونو پیدا کول او په خالي خانو کې یې لیکل
* په لوړ آواز د عددونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار/کورنی کار: ۴۲ مخ ③ مشق



۴۳ مخ ـ لومړی لوست

عنوان: د پورې لسیزونو سره کار کول
(د ۰ ـــ ۱۰۰۰ سلسله)

۱. ذهني روزنه:

- د ۱۰۰ په قدمونو شمېر کول

۹۰۰، ۹۱۰۰، ۰۰۰۰۰، ۱۰۰۰۰
۱۳۰۰، ۱۴۰۰، ۰۰۰۰۰، ۲۳۰۰
۵۵۰۰، ۵۶۰۰، ۰۰۰۰۰۰، ۶۵۰۰
۷۰۰، ۸۰۰، ۰۰۰۰۰، ۱۷۰۰
۶۸۰۰، ۶۹۰۰، ۰۰۰۰۰، ۸۱۰۰

۲. تکرر:

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

۴۴

① د پورې سلیزونو سره پورې لسیزونه جمع کړئ .



۲۴۰۰ + ۵۰ =	۳۴۰۰ + ۸۰ =
۲۷۰۰ + ۶۰ =	۶۴۰۰ + ۱۰ =
۳۶۰۰ + ۷۰ =	۳۱۰۰ + ۲۰ =
۷۲۰۰ + ۹۰ =	۸۹۰۰ + ۸۰ =
۴۵۰۰ + ۵۰ =	۵۷۰۰ + ۷۰ =

② د پورې سلیزونو څخه پورې لسیزونه تفریق کړئ .

۴۳۰۰ − ۱۰ =	۳۱۰۰ − ۱۰ =
۳۲۰۰ − ۲۰ =	۳۱۰۰ − ۲۰ =
۵۵۰۰ − ۵۰ =	۳۱۰۰ − ۳۰ =
۶۳۰۰ − ۸۰ =	۳۱۰۰ − ۴۰ =
۳۹۰۰ − ۹۰ =	۳۱۰۰ − ۵۰ =

۴۴مخ - لومړی لوست

عنوان : پورې سلیزونو سره د پورې لسیزونو جمع کول او د پورې سلیزونو څخه د پورې لسیزونو تفریق (د ۰ ـ ۱۰۰۰ سلسله کې)

۱. ذهني روزنه :

– بنوونکی په تخته لیکي :

۱۰۰۰ + + = ☐

او تشریح کوي چې :

بنوونکی به عدد وایي لکه ۴۰۰۰ ، زده کوونکي باید هغه عدد (۴۰۰۰) دوه ځلې په تخته د لیکل شوي عدد سره جمع کړي یعنې :

۱۰۰۰ + ۴۰۰۰ + ۴۰۰۰ = ☐۹۰۰۰

* د ۱۰۰۰ سره د جمع کولو دپاره نور عددونه : ۲۰۰۰ ، ۵۰۰۰ ، ۱۰۰۰۰ ، ۳۰۰۰ ، ۱۰۰۰ ، ۴۰۰۰ او داسې نور .

۲. تکرار :

– بنوونکی د کورنۍ کار څخه دوهمه عددي شعاع په توره تخته رسموي
* زده کوونکي غیب عددونه پیدا او لیکي
– د کورنۍ کار کنټه او مقایسه کول

۳. پورې سلیزونو سره د پورې لسیزونو جمع کول او د پورې سلیزونو څخه د پورې لسیزونو تفریق (د ۰ ـ ۱۰۰۰ سلسله کې)

– د ۴۴ مخ په ① مشق باندې کار کول
* زده کوونکي مثالونه مطالعه او تشریح کوي چې : په لومړي مثال کې د لوتونو دوه ګروپونه دي . په لومړي ګروپ کې ۲۴۰۰ ، په دوهم ګروپ کې ۵ لسیزه دي او لاندې یې مکمل مساوات لیکلی دی .
* زده کوونکي باید په انفرادي ډول خالي خانې ډک کړي .
* زده کوونکي لومړنۍ ۴ سوالونه د ملګري سره حلوي .
* په لوړ آواز د څولبونو لوستل او مقایسه کول
– په همدې طریقه د ۴۴ مخ په ② مشق باندې کار کول

زده کوونکي یو سوال انتخابوي او په مناسب تعداد لوتونه په توره تخته رسموي .

د لس ګونونو چلیپا کول کوم چې باید تفریق شي .

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنۍ کار :

د ۴۴مخ د ① او ② مشقونو پاتې سوالونه

۲. تکرار :

- بنووونکی (د کورنۍ کار د سوالونو په شان) خپلې سوالونه یو یو په توره تخته لیکي لکه :

۳۰ + ۴۵۰۰ =	۲۲۰۰ − ۱۰ =
۹۰ + ۹۹۰۰ =	۱۰۰۰۰ − ۶۰ =
۵۰ + ۱۰۰۰ =	۳۱۰۰ − ۵۰ =

او نور . او نور .

* زده کوونکي یې حلوي .

- د کورنۍ کار کتل او مقایسه کول

۳. په دوو قدمونو کې د پورې لسیزونو جمع ، د سلیزونو څخه اوښتل

- بنووونکی لاندې عددي شعاع او نړۍ لاندې په دوو قدمونو کې د جمع د سوالونو د حلولو شکل (نمونه) رسموي (لاندې شکل وګورئ !)

* زده کوونکی لومړی د سوال د حلولو قدمونه په عددي شعاع باندې نهیي ،
وروسته عددونه د "شکل" په صحیح ځایونو کې لیکي (لاندې شکل وګورئ !)
توره تخته داسې ښکاري :



* د نورو سوالونو حلولو ته په همدې ډول دوام ورکول لکه :

□ = ۷۰ + ۲۶۶۰ ، □ = ۶۰ + ۲۶۵۰ ، □ = ۴۰ + ۲۶۹۰ ، □

* د دوو زده کوونکو څخه غوښتل چې د ۴۵ مخ د ① مشق مثالونه ولولي او تشریح یې کړي .

۴۵

① په دوو قدمونو کې جمع ، د پورې سلیزونو څخه اوښتل

اولی مثال : دوهم مثال :

□ = ۳۰ + ۱۶۹۰ □ = ۶۰ + ۲۴۸۰

۱۷۰۰ ۲۵۰۰

لاندې سوالونه د مثالونو په شان په خپلو کتابچو کې حل کړئ .

□ = ۴۰ + ۳۴۷۰	□ = ۶۰ + ۹۶۰
□ = ۹۰ + ۶۹۳۰	□ = ۹۰ + ۴۴۲۰
□ = ۸۰ + ۸۴۵۰	□ = ۵۰ + ۵۹۸۰
□ = ۳۰ + ۲۰۹۰	□ = ۷۰ + ۷۵۴۰

② په دوو قدمونو کې تفریق ، د پورې سلیزونو څخه اوښتل

اولی مثال : دوهم مثال :

□ = ۶۰ − ۲۴۴۰ □ = ۹۰ − ۵۷۳۰

۲۴۰۰ ۵۷۰۰

لاندې سوالونه د مثالونو په شان په خپلو کتابچو کې حل کړئ .

□ = ۹۰ − ۴۷۸۰	□ = ۳۰ − ۱۲۲۰
□ = ۶۰ − ۷۴۵۰	□ = ۲۰ − ۶۵۱۰
□ = ۸۰ − ۹۳۴۰	□ = ۷۰ − ۸۰۶۰
□ = ۸۰ − ۵۰۷۰	□ = ۵۰ − ۲۹۲۰

۴۵ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : په دوو قدمونو کې د پورې لسیزونو جمع ، د سلیزونو څخه اوښتل

۱. ذهني روزنه :

- د عددي دایرو سره کار کول



ښوونکی هر ځلې درې لومړني عددونه او یو ورو ستی عدد په توره تخته لیکي . زده کوونکي د ورکړل شوي قدمونو سره سم شمېر کوي .

لکه : ۱ ، ۲ ، ۳ ، ..... ، ۲۱

۲۹ ، ۳۰ ، ۳۱ ، ..... ، ۴۱

۰ ، ۲ ، ۴ ، ۶ ، ..... ، ۲۰

۰ ، ۳ ، ۶ ، ..... ، ۳۰ او داسې نور

- پورته لسیزونه ته د رسیدو دپاره جمع او تفریق لکه :

۱۸ + ۲ =	۱۳ - ۳ =
۴۴ + ۶ =	۲۵ - ۵ =
۹۹ + ۱ =	۱۰۷ - ۷ =
۵۶ + ۴ =	۷۶ - ۶ =
۷۷ + ۳ =	۳۷ - ۷ =
۶۵ + ۵ =	۵۶ - ۶ =

او داسې نور .

۲. د سلو سلو کانو لس کڅوړې برابرول

* ښوونکی د څو زده کوونکو سره د ټولګي په مخ کې د ۱۰۰ کانو یوه کڅوړه ډکوي .
* ۹ نورې کڅوړې د زده کوونکو ګروپونه ډکوي .

۳. پوره سلیزونو سره کار کول

- ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د سلو سلو کانو کڅوړې د ۱۰۰ کانو د یوې کڅوړې سره پرمېز باندې په عملي ډول یوځای کړي او هر ځل مربوطه مساوات په توره تخته ولیکي .

پرمېز باندې	پر توره تخته
	۱۰۰ + ۱۰۰ = ۲۰۰ ۱۰۰ + ۱۰۰ + ۱۰۰ = ۳۰۰ ۱۰۰ + ۱۰۰ + ... + ۱۰۰ = ۱۰۰۰

او داسې نور ... د سلو کانو تر ۱۰ کڅوړو پورې

- ښوونکی زده کوونکو ته لارښوونه کوي چې د سلو سلو کانو یوه یا څو کڅوړې پرمېز د موجودو کڅوړو خڅه لرې کړي او هر ځلې مربوطه مساوات په توره تخته ولیکي .

پرمېز باندې	پر توره تخته
	۱۰۰۰ - ۲۰۰ = ۸۰۰ ۸۰۰ - ۳۰۰ = ۵۰۰

او داسې نور .

- ښوونکی پوره سلیزونه په لوړ آواز وایي ، یو یو زده کوونکی د ویل شوې عدد سره سم د کانو کڅوړې پر مېز باندې وړدي .

لکه : ۵۰۰ ، ۳۰۰ ، ۸۰۰ ، ۲۰۰ ، ۷۰۰ او نور .

- ښوونکی دا ډول پوښتنې کوي : "۸۰۰ څو پوره سلیزونه لري ؟ "(۷۰۰ ، ۹۰۰ ، ۵۰۰ او داسې نور .)

زده کوونکي ځواب ورکوي : "په ۸۰۰ کې ۸ سلیزه دي ." او داسې نور .

- د (۳) مخ په ② مشق باندې کار کول : تشریح کول ځانله ځانله حلول او اصلاحي کتنه

۴. په ټولګي کې د پېښې خولې کار / کورنی کار :

(۳) مخ ① مشق

د ښوونکي د یادداشتونو ځای :

- د ملګرې سره په ګډه د ۴۵ مخ په ① مشق (د دوو وروستیو سوالونو څخه پرته) کارکول ښوونکی مرسته کوي.

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار:

۴۵ مخ ① مشق، وروستي دوه سوالونه

۴۵ مخ - دوهم لوست

عنوان: په دوو قدمونو کې د پورې لسیزونو منفي کول، د سلیزونو څخه اوښتل

۱. ذهني روزنه:

- په عددي دایرو کار کول



۲. تکرار:

- زده‌کوونکي د کورنۍ کار دواړه سوالونه یویو په تخته حلوي، نور یې مقایسه کوي. (په همدې وخت کې ښوونکی کورنۍ کار ورته ګوري)

۳. په دوو قدمونو کې د پورې لسیزونو منفي کول، د سلیزونو څخه اوښتل

- ښوونکی لاندې عددي شعاع او د هغه لاندې په دوو قدمونو کې د منفي سوالونو د حلولو شکل په تخته رسموي. (د همدې مخ دوهم کتار وګورئ!)

* زده‌کوونکي لومړی د سوالونو د حلولو قدمونه په عددي شعاع باندې ښیي، وروسته عددونه د شکل په صحیح ځایونو کې لیکي. تخته داسې ښکاري:



* د نورو سوالونو حلولو ته په همدې ډول دوام ورکول لکه

۴۴۲۰ - ۳۰ = ، ۴۴۴۰ - ۶۰ = ،

۴۴۵۰ - ۹۰ = ، او نور.

- دوه زده‌کوونکي د ۴۵ مخ د ② مشق مثالونه لولي او تشریح کوي.
- د ملګرې سره په ګډه (د دوو وروستیو سوالونو څخه پرته) د ۴۵ مخ په ② مشق کار کول (ښوونکی مرسته کوي.)

۴. په ټولګي کې د پښې خولې کار/کورنی کار:

د ۴۵ مخ د ② مشق دوه وروستي سوالونه

۴۶

① هغه سوالونه چلیپا کړئ چې ځواب یې د پاسنۍ عدد سره مساوي نه وي .

۹۹۵۰	۹۹۷۰	۹۰۰۰
= ۹۸۹۰ + ۷۰	= ۹۹۰۰ + ۷۰	= ۹۸۰۰ — ۸۰
= ۱۰۰۰۰ — ۵۰	= ۱۰۰۰۰ — ۳۰	= ۸۹۳۰ + ۷۰
= ۱۰۰۰۰ — ۶۰	= ۹۹۹۰ — ۴۰	= ۷۲۰۰ + ۱۸۰
= ۹۸۹۰ + ۷۰		= ۹۰۵۰ — ۵۰

② لوټونه وشمېرئ او صحیح عددونه په یکسونو کې ولیکئ .

۲۳۶۹ ، ۱۷۱۷ ، ۲۱۱۴ ، ۴۱۱۶ ، ۱۱۳۵ ، ۲۴۲۵ ، ۲۱۱۳ ، ۲۱۱۵ ، ۱۳۶۸

③ لاندې عددونه په ترتیب سره په خپلو کتابچو کې ولیکئ

۱۰۲۲ ۱۰۲۳

۱۰۲۱	۱۰۲۴	۱۰۴۲	۱۰۴۳	۱۶۳۵	۱۶۳۶	۱۶۳۸	۱۶۳۷	۲۸۸۷	۲۸۸۶	۲۸۸۹	۲۸۸۸
۳۵۶۷	۳۵۶۴	۳۵۶۶	۳۵۶۵	۶۳۳۲	۶۳۳۱	۶۳۳۰	۶۳۳۳	۸۹۹۸	۸۹۹۷	۸۹۹۶	۸۹۹۹

۴۶ مخ - لومړۍ لوست

عنوان : تر ۱۰۰۰۰ پورې په مختلطو (کډو وډو) عددونو کار کول

۱. ذهني روزنه :

- په عددي دایرو کار کول

۲. تکرار :

- د ۴۶ مخ په ① مشق باندې کار کول

* ښوونکي لومړنۍ جدول په تخته رسموي او زده کوونکو ته لاربښونه کوي چې هغه سوالونه پیدا او چلیپا کړي چې د چوکاټ دپاسه د لیکل شوي ځواب سره یې ځوابونه مختلف وي ، لکه څنګه چې په مثال کې ښودل شوي دي .

۹۹۵۰	
۴۰	۱۰۰۰۰
۵۰ —	۱۰۰۰۰
۶۰ —	۱۰۰۰۰
۷۰ +	۹۸۹۰

* د ملګرې سره ګډ په دوو نورو جدولونو په عین ډول کار کول
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل
- د کورني کار کنټرول او اصلاح کول

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې په مختلطو عددونو کار کول

- د ۴۶ مخ په ② مشق د ملګرې سره کار کول
* د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
- په صحیح ډول د مختلطو عددونو ترتیبول (تر ۱۰۰۰۰ پورې سلسله کې)
* ښوونکي خلور پرله پسې عددونه ښي ترتیبه په تخته لیکي او تر ۱۰ لاندې تش بکسونه رسموي (لاندې وګورئ !) .
* زده کوونکي د هغو صحیح ترتیب پیدا کوي او عددونه په ترتیب سره په تشو بکسونو کې لیکي .

۳۱۲۱ ۳۱۲۳ ۳۱۲۴ ۳۱۲۲

۳۱۲۱	۳۱۲۲		

- په همدې ډول نورو عددونو سره کار کول

عددونه : ۷۰۰۰ ، ۶۹۹۸ ، ۶۹۹۹ ، ۷۰۰۱ ، ۱۵۱۱ ، ۱۵۰۹ ، ۱۵۱۰ ، ۱۵۱۲ او نور .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۴۶ مخ ③ مشق

۴۷

① په لاندې بکسونو کې غیب عددونه ولیکئ .

۱۰۳۰			۱۰۳۷			۱۰۳۴		۱۰۲۲	۱۰۲۱
		۱۰۹۸				۱۰۹۴			۱۰۹۱
۱۱۱۰	۱۱۰۹					۱۱۰۴			۱۱۰۱
			۱۱۹۶						۱۱۹۱

② لاندې عددونه په ترتیب سره ولیکئ .

۶۹۹۸	ـــــ	۴۱۹۶	۲۴۱۸ ← ۲۴۱۲
۷۰۰۳	ـــــ	۴۱۹۷	۲۴۱۹ ← ۲۴۲۱
۶۹۹۹	ـــــ	۴۲۰۰	۲۴۱۸
۷۰۰۲	ـــــ	۴۱۹۹	۲۴۱۹
۷۰۰۰	ـــــ	۴۱۹۸	۲۴۲۰
۷۰۰۱	ـــــ	۴۲۰۱	۲۴۲۳

③ په لاندې بکسونو کې غیب عددونه ولیکئ .

۳۹۲۰			۳۹۱۷		۳۹۱۵		۳۹۱۳		۳۹۱۲
	۱۴۶۴			۱۴۶۱		۱۴۵۹			۱۴۵۷
۴۸۹۶			۴۸۹۳				۴۸۸۹	۴۸۸۸	
۵۶۱۲			۵۶۰۹						۵۶۰۴
			۶۳۲۰						۶۳۱۵

۴۷ مخ - لومړی لوست

عنوان : تر ۱۰۰۰۰ پورې د "۱" په قدمونو د غیبو عددونو پیدا کول او لیکل

۱. ذهني روزنه :

- عددي دایرو سره کار کول



لکه : ۲۷۰۰ - ۴۰ = ۲۶۶۰ لکه : ۲۷۰۰ + ۶۰ = ۲۷۶۰

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقایسه

۳. تر ۱۰۰۰۰ پورې د "۱" په قدمونو د غیبو عددونو پیدا کول او لیکل

- بنوونکی لاندې د بکسونو کتارونه په توره تخته رسموي (هر محل یو کتار)

۱۳۳۰				۱۳۲۶			۱۳۲۱	۱۳۲۰	
	۵۰۶۹			۵۰۶۳				۵۰۶۰	
۷۹۹۰				۷۹۹۵					

* زده کوونکي هر محل د "۱" په قدم شمېرکوي او خالي خانې ډکوي.
* زده کوونکي لومړی یواځې په مخ ښۍ په شا او وروسته په ګډه سره (مخ په وړاندې او مخ په شا) شمېرکوي .
* د ۴۷ مخ په ① مشق باندې په انفرادي ډول کار کول (بنوونکی مرسته کوي)
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
- د ۴۷ مخ په ② مشق باندې د ملګرې سره کار کول
* بنوونکی زده کوونکي رهنمایي کوي چې د عددونو ترتیب پیدا او په صحیح ډول یې ولیکي .
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول
- د "۱" په قدم شمېرکول ، د مختلطو عددونو لیکل ، د لسیزونو څخه اوښتل
* بنوونکی یوه عددي شعاع په توره تخته رسموي، لکه :



* زده کوونکي د "۱" په قدم شمېرکوي او غیب عددونه په صحیح ځایونو کې لیکي .
* بنوونکی ټول عددونه پاکوي او نور عددونه پر عددي شعاع باندې لیکي ، لکه :

۴۷۹۷ - ۴۸۰۳ - ۴۸۰۷ / ۸۲۱۶ - ۸۲۱۹ - ۸۲۲۶

(په همدې طریقه کار کول)

- د ۴۷ مخ په ③ مشق باندې کار کول (لومړنۍ دوه عددي پټۍ)
* په لوړ آواز د ځوابونو لوستل او مقایسه کول

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۴۷ مخ ③ مشق ، د پاتې درېوو عددي پټیو تکمیلول

۴۸

① په عددي شعاعو باندې د جمع سوالونه وښيئ او مساواتونه يې تکميل کړئ .



② په عددي شعاعو باندې د تفريق سوالونه وښيئ او مساواتونه يې تکميل کړئ .



۴۸ مخ - لومړی لوست

عنوان : د عددي شعاع په مرسته د خلور رقمي مختلطو عددونو سره د يو رقمي عددونو جمع کول

۱. ذهني روزنه :

– د عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

– د کورني کار کتنه او مقايسه کول

۳. د عددي شعاع په مرسته د خلور رقمي مختلطو عددونو سره د يو رقمي عددونو جمع کول

* ښوونکی يوه عددي شعاع په توره تخته رسموي او د هغه لاندې د جمع مختلف سوالونه يو په بل پسې ليکي .
* زده‌کوونکي سوالونه پر عددي شعاع باندې ښيي او د خطونو په رسمولو سره يې حلوي .

۳۷۲۳ + ۶ = ۳۷۲۹ ، ۳۷۱۶ + ۷ = □

۳۷۲۱ + ۷ = □ او داسې نور .

* ښوونکی د عددي شعاع عددونه د ۹۱۰۵ — ۹۱۲۵ ته بدلوي او بيا يې د ۱۲۳۶ — ۱۲۵۶ ته بدلوي او د هغه لاندې د جمع مختلف سوالونه يو پر بل پسې ښکل ليکي .

(۹۱۰۵ ـــ ۹۱۲۵) (۱۲۳۶ ـــ ۱۲۵۶)

۹۱۰۷ + ۹ = □ ۱۲۳۹ + ۵ = □

۹۱۱۶ + ۷ = □ ۱۲۴۵ + ۹ = □

او داسې نور . او داسې نور .

* زده‌کوونکي يې د مخکښنۍ عددي شعاع په شان ښکل ښکل حلوي .
– د ۴۸ مخ د ① مشق په مثال باندې بحث کول ، بيا د ۴۸ مخ په ① مشق د ملګرې سره کار کول
* په لوړ آواز د ځوابونو ويل او مقايسه کول

۴. کورنی کار : نه لري .

۴۸ مخ - دوهم لوست

عنوان : د عددي شعاع په مرسته د ۴ رقمي مختلط عدد څخه د ۱ رقمي عدد تفریقول

۱. ذهني روزنه :

- د "۱" او "۱۰" په قدمونو شمېر کول

۱۰۰۰ ، ۱۰۰۱ ، . . . . . ، ۱۰۱۲
۵۵۱۰ ، ۵۵۱۱ ، . . . . . ، ۵۵۲۵
۹۹۸۸ ، ۹۹۸۹ ، . . . . . ، ۱۰۰۰۰

۲۰۲۰ ، ۲۰۳۰ ، . . . . . ، ۲۱۲۰
۸۱۶۵ ، ۸۱۷۵ ، . . . . . ، ۸۲۶۵
۴۷۸۳ ، ۴۷۹۳ ، . . . . . ، ۴۸۸۳

۲. تکرار :

- د عددي شعاع په مرسته جمع

* ښوونکی یوه عددي شعاع په توره تخته رسموي او د هغه لاندې د جمع سوالونه یو یو لیکي .
زده کوونکي صحیح حل رسموي او لیکي.



۴۳۵۰ + ۶ = ۴۳۵۶
۴۳۴۶ + ۹ = ☐
۴۳۵۳ + ۸ = ☐

او داسې نور.
(که زده کوونکي د مشکلاتو سره مخامخ وي نو نور دېر مثالونه او سوالونه دې ورکړل شي.)

۳. د عددي شعاع په مرسته د ۴ رقمي مختلط عدد څخه د ۱ رقمي عدد تفریقول

- ښوونکی د جمع ټول سوالونه او د عددي شعاع څخه د نقطو خطونه پاکوي او د تفریق سوالونه یو یو د هغه لاندې لیکي . (د عین عددي شعاع استعمالول) لکه :

☐ = ۹ - ۴۳۶۴
☐ = ۳ - ۴۳۵۱
☐ = ۶ - ۴۳۵۸
☐ = ۷ - ۴۳۶۰

او داسې نور.
توره تخته داسې ښکاري :



۴۳۶۴ - ۹ = ۴۳۵۵

- ښوونکی د عددي شعاع عدد دونه بدلوي لکه ۵۶۷۵ ـــ ۵۶۹۵ او لاندې د تفریق مختلف سوالونه یو یو لیکي لکه ۵۶۹۳ - ۸ = ☐ ، ۵۶۸۵ - ۹ = ☐ او داسې نور.
* زده کوونکي پې د پورتنیو سوالونو په شان یو یو حلوي .
- د ۴۸ مخ په ⑦ مشق باندې د ملګري سره کار کول

۴. په ټولیکي کې دپټې خولې کار / کورنی کار :

زده کوونکي په خپله خوښه یوه عددي شعاع رسموي او عددونه هم پخپله انتخابوي وروسته (لږترلږه) ۳ سوالونه جوړوي او په رسمولو او لیکلو سره پې حلوي .

۴۹

① په دوو قدمونوکې جمع ، د پورو لسیزونو څخه اوښتل .

لومړی مثال :



دوهم مثال :

لاندې سوالونه په خپلو کتابچوکې د مثالونو په شان حل کړئ .

۲۶۸۷ + ۵ =	۵۲۱۷ + ۶ =
۳۲۶۶ + ۹ =	۷۳۰۶ + ۹ =
۸۶۲۵ + ۶ =	۹۱۹۴ + ۷ =
۳۹۹۴ + ۸ =	۲۹۹۸ + ۴ =

② په دوو قدمونوکې تفریق ، د پورو لسیزونو څخه اوښتل

لومړی مثال :



دوهم مثال :

لاندې سوالونه په خپلو کتابچوکې د مثالونو په شان حل کړئ .

۲۴۲۳ − ۷ =	۳۰۰۳ − ۹ =
۵۲۲۲ − ۶ =	۴۱۰۵ − ۶ =
۸۲۰۲ − ۴ =	۶۰۰۱ − ۲ =
۹۳۰۵ − ۸ =	۵۲۰۲ − ۵ =

۴۹ مخ ـ لومړی لوست

عنوان : په دوو قدمونو کې جمع کول د لسیزونو څخه اوښتل

۱. ذهني روزنه :

ـ د ۱۰۰ او ۱۰۰۰ په قدم شمېر کول

۵۶۰۰ ، ۵۷۰۰ ، . . . . . ، ۶۶۰۰

۳۴۲۵ ، ۳۵۲۵ ، . . . . . ، ۴۴۲۵

۸۳۱۰ ، ۸۴۱۰ ، . . . . . ، ۹۳۱۰

۱۰۰۰ ، ۲۰۰۰ ، . . . . . ، ۱۰۰۰۰

۱۲۰۰ ، ۲۲۰۰ ، . . . . . ، ۹۲۰۰

۷۵۰ ، ۱۷۵۰ ، . . . . . ، ۹۷۵۰

۲. تکرار :

ـ د کورنۍ کار کتنه او مقایسه کول

ـ ښوونکی یوه عددي شعاع په تخته رسموي او د هغه لاندې دجمع او تفریق حُینې سوالونه ښه ښه لیکي .

☐ = ۹ − ۶۴۴۸	☐ = ۷ + ۶۴۳۶
☐ = ۸ − ۶۴۵۰	☐ = ۹ + ۶۴۴۲

* زده‌کوونکي یې یو یو حلوي، لکه :



☐ = ۷ + ۶۴۳۶

۳. په دوو قدمونو کې جمع کول ، د لسیزونو څخه اوښتل

ـ ښوونکی لاندې عددي شعاع او "د جمع د سوالونو د حلولو د څرنګوالي" خالي شکل د هغه لاندې په تخته رسموي .

* زده‌کوونکي لومړی په دوو قدمونو کې دجمع د سوال حل پر عددي شعاع باندې ښیي او بیا د رسم شوي شکل په صحیح ځایونو کې عددونه لیکي (لاندې وګورئ !) .

تخته داسې ښکاري :



ښوونکی لیکي :

☐ = ۹ + ۳۲۵۷



زده‌کوونکي یې وکوي :

۳۲۶۶ = ۹ + ۲۳۵۷



* په همدې طريقه د نورو سوالونو سره په توره تخته کار ته دوام ورکول، لکه :

□ = ۸ + ۳۲۶۴

□ = ۷ + ۳۲۵۹

□ = ٦ + ۳۲۵۸

– د ۴۹ مخ د ① مشق مثال باندې بحث کول وروسته د ۴۹ مخ په ① مشق باندې په انفرادي توګه کار کول (شوونکی مرسته کوي) . وروستني دوه سوالونه دې پرېښودل شي .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۴۹ مخ ، ① مشق ، وروستي دوه سوالونه

۴۹ مخ - دوهم لوست

عنوان : په دوو قدمونو کې تفریق، د لسیزو نو څخه اوښتل

۱. ذهني روزنه :

– شوونکی د عددونو یوه جوړه په توره تخته لیکي لکه ۲۳۴ــ۳۵۲ او د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي چې د دواړو عددونو د یو شان رقمونو (مرتبو) مجموعه پیدا او وواېي لکه شوونکی واېي "د یوږزو مجموعه"، زده کوونکي واېي ۲+۴=٦ (یوږزومه) شوونکی واېي "د سلیزونو مجموعه"، زده کوونکي واېي ۲+۳=۵ (سلیزونه) .

* څو نورو جوړو سره کار ته دوام ورکول ، لکه ۵۰۴ــ۳٦۲ ، ۴۳۴۵ــ۲۱۴ ، ۳۵۰۰ــ۵۰۹ او داسې نور .

۲. تکرار :

– د کورنی کار کتنه او مقایسه کول

۳. په دوو قدمونو کې تفریق، د لسیزو څخه اوښتل

– شوونکی لاندې عددي شعاع په توره تخته رسموي او دهغه لاندې "په دوو قدمونو کې د تفریق د یوه سوال د حلولو څرنګوالي" شکل رسموي (دوهم کتار ګورئ !) .

* زده کوونکي لومړی په عددي شعاع باندې د سوال قدمونه ښیي . بیا د شکل په صحیح ځایونو کې عددونه لیکي چې وروسته تر دې توره تخته داسې ښکاري :



۴۴٥٦ = ۷ - ۴۴٦۳

۴۴٦۰

* په همدې دول نورو سوالونو سره کار ته دوام ورکول ، لکه :

□ = ۹ - ۴۴٦٦

□ = ٦ - ۴۴۷۵

□ = ۷ - ۴۴۷۳

او داسې نور .

– د ۴۹ مخ د ② مشق پر مثال بحث کول بیا د همدې مخ په ② مشق باندې په انفرادي توګه کار ته دوام ورکول (د دوو وروستیو سوالونو څخه پرته) ، شوونکی مرسته کوي .

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

۴۹ مخ ، ② مشق ، وروستي دوه سوالونه

۵۰

① د عددي شعاع څخه مساواتونه وليکئ او خوابونه يې سره مقايسه کړئ.



نتيجه : که چېرې د عددونو ترتيب په جمع کې بدل کړو په ځواب کې تغير نه راځي.

② د عددونو د ځايونو په بدلولو سره خپل حساب اسانه کړئ.

لومړۍ پرته لسيزونه ، سليزونه او يا زرزونه په لاس راوړئ (لومړۍ د قوسونو عددونه جمع کړئ) .

لومړۍ مثال : = ۳ + ۹ + ۲۷ = (۳ + ۲۷) + ۹ = ۳۹

دوهم مثال : = ۴۰ + ۶۰ + ۱۵۰ = ۱۵۰ + (۴۰ + ۶۰)

دريم مثال : = ۲۰۰ + ۷۵۰ + ۲۸۰۰ = ۷۵۰ + (۲۰۰ + ۲۸۰۰)

لاندې سوالونه د مثالونو په شان حل کړئ .

۵ + ۹ + ۱ =	۷۳۰ + ۳۰۰ + ۶۰۰ + ۹۰ =	۱۱۰۰ + ۶۰ + ۴۰ =
۵ + (۹ + ۱) =	(+) + (+) =	(+) + (+) =
۵ + ۶ + ۲۵ =	۵۰ + ۱۵۰ + ۸۰۰ + ۱۷۰۰ =	۳۰۰ + ۸۰۰ + ۶۰ + ۵۰ =
(+) + =	(+) + (+) =	(+) + =
۳ + ۸ + ۷۷ =	۳۰۰ + ۸۰۰ + ۸۰۰ + ۶۰۰ =	۱۴۰۰ + ۵۵۰ + ۶۰۰ =
(+) + =	(+) + (+) =	(+) + (+) =

۵۰ مخ - لومړۍ لوست

عنوان : په مختلف ترتيب سره د يوشان عددونو جمع کول او مساوي ځوابونه په لاس راوړل (د جمع تبادلوي خاصيت)

درسي معاونات : د سلو کانو ټوټو کڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- د تېر درس په شان د عددونو جوړه سره کار کول ، لکه ۶۳۴۵ ــ ۳۵۲۴
  د يويزونو مجموعه ۴ + ۵ = ۹
  د سليزونو مجموعه ۵ + ۳ = ۸
  او داسې نور .
- * د نورو عددي جوړو سره کار ته دوام ورکول لکه ۹۱۲۳ ــ ۱۴۵۶ ، ۵۳۴۶ ــ ۳۲۵۲
  ۶۹۸۷ ــ ۳۰۱۲ ، ۲۴۰۱ ــ ۷۶۹۸

۲. تکرار :

- د کورنۍ کار کتنه او مقايسه کول

۳. په مختلف ترتيب سره د يوشان عددونو جمع کول او مساوي ځواب په لاس راوړل (د جمع تبادلوي خاصيت)

- ښوونکی د (۱ ــ ۱۰) پورې دوه عددي شعاع کانې په تورې تخته رسموي او د هغو لاندې په مختلف ترتيب سره د يوشان عددونو د جمع سوالونه ببل ببل ليکي ، لکه :

  ☐ = ۵ + ۳

  ☐ = ۳ + ۵

* زده کوونکي دواړه سوالونه پر عددي شعاع باندې ښيي ، سوالونه حلوي او ځوابونه سره مقايسه کوي .

* په همدې ترتيب د سوالونو د نورو جوړو سره کار ته دوام ورکول ، لکه :

☐ = ۳ + ۲	☐ = ۶ + ۱
☐ = ۲ + ۳	☐ = ۱ + ۶

- ښوونکی د زده کوونکو څوکړوبونه جوړوي او هر ګروپ ته د ۱۰۰ کانو يوه کڅوړه ورکوي.
* ښوونکی د جمع لاندې سوالونه په تورې تخته ببل ببل ليکي .
* زده کوونکي هرځل د ورکړل شوي عددونو مطابق کانې بردي ، لکه :

تورې تخته	د کانو اېښودنه
☐ = ۲ + ۴ + ۳	•• ••• •••
☐ = ۳ + ۲ + ۴	••• •• •••
☐ = ۴ + ۳ + ۲	•••• ••• ••

* زده کوونکي هر ځل عددونه وايي، کاني شمېري او سوالونه حلوي .
* زده کوونکي د سوالونو عددونه او د هغو ځوابونه سره مقايسه او پيدا کوي چې : په ټولو سوالونو کې عددونه او د هغو ځوابونه سره يو شان دي خو په هر سوال کې د عددونو ترتيب مختلف دی .
* ښوونکی د (۱—۱۰) پورې عددي شعاع په توره تخته رسموي او د زده کوونکو څخه غواړي چې د مساوي عددونو د مختلف ترتيب درېواړه سوالونه يو پر بل پسې پر عددي شعاع باندې رسم کړي .
* په همدې توګه د سوالونو د نورو ګروپونو سره کار ته دوام ورکول ، لکه :

۱۰ = ۲۰ + ۵ + □	۸ + ۷ + ۱ = □
۲۰ = ۱۰ + ۵ + □	۷ + ۱ + ۸ = □
۵ = ۱۰ + ۲۰ + □	۸ + ۱ + ۷ = □

۲۰ + ۳۰ + ۵۰ = □
۵۰ + ۳۰ + ۲۰ = □
۳۰ + ۲۰ + ۵۰ = □

— ښوونکی لاندې دوه عددي شعاع کانې داسې رسموي :



□ = □ + □ + □



□ + □ = □

* زده کوونکي د پورتنيو عددي شعاع کانو درېواړه مساوانتونه پيدا ، په دوارو عددي شعاع کانو کې د عددونو ترتيب او د هغو ځوابونه سره مقايسه کوي .

— د ۵۰ مخ په ① مشق کار کول

* قدمونه ، د عددونو ترتيب او د هغو ځوابونه سره مقايسه کول

۴. کورنی کار : نه لري .

۵۰ مخ - دوهم لوست

د عددونو د ترتيب د بدلولو په واسطه په ډېره اسانۍ سره د جمع د يوه سوال حلول

۱. ذهني روزنه :

— عددي دايرو سره کار کول



۲. تکرار :

— زده کوونکي د تېرې وړځې د رياضي د درس عملي کار تشريح او تکراروي .
— ښوونکی لاندې سوالونه په توره تخته ليکي او د مربوطه سوالونو دپاره خالي بکسونه داسې رسموي :

۶ + ۹ + ۱۰ = □	۸ + ۲ + ۳ = □
□ + □ + □ = □	□ + □ + □ = □
□ + □ + □ = □	□ + □ + □ = □

* زده کوونکي خالي خانې ډکوي ، سوالونه حلوي او ځوابونه سره مقايسه کوي .

۳. د عددونو د ترتيب د بدلولو په واسطه په ډېره اسانۍ سره د جمع د يوه سوال حلول

— د ۳ عددونو د جمع کولو دپاره د اسانې طريقې موندل

* ښوونکی د لاندې سوال مطابق د کانو ۳ ډبرې په مېز باندې بردي .

□ = ۳ + ۹ + ۲۷

* ښوونکی د زده کوونکو څخه غوښتنه کوي: تاسې د لومړۍ ډبرۍ کڅوړه چې ۷ کانې په کې دي تر ۱۰ پورې څنګه ډکولی شئ؟
* زده کوونکي پرې بحث کوي او پيدا کوي چې بايد کڅوړه ډکه کړو چې ۱۰ کانې پورې شي (= پورې يو لسيز) . په دې دليل دا اسانه ده چې ۳ کانې د ۷ کانو کڅوړې سره يوځای کړو او بيا ۹ کانې ورسره جمع کړو. يعنې :

۲۷ + ۳ + ۹ =

۳۰ + ۹ =

۳۹

* ښوونکی د هغو مطابق په تخته کانې رسموي :



* زده کوونکي رسم مطالعه کوي ، د عملي کار سره يې مقايسه کوي او عددي قصه وايي : په يوه ډبرې کې ۲ د ۱۰ کانو ډکې کڅوړې وې او يوه کڅوړه کې ۷ کانې وو، په بل ډبرې کې يوه کڅوړه وه چې ۹ کانې يې لرل او په دريم ډبرې(کڅوړه) کې ۳ کانې وو .

وروسته هغوی پيدا کوي چې دا اسانه ده چې د آخرنۍ ډبرې ۳ کانې د لومړۍ ډبرې د ۷ کانو سره يوځای کړو چې د ۱۰ کانو کڅوړه تکميل شي . په دې دول دوه ډبرې په لاس راځي، په يوه کې ۱۰ کانې او په بل کې ۹ کانې . که چېرې دا دوه ډبرې يوځای سره کېږدو نو ۳۹ کانې به ولرو .

* زده کوونکي په توره تخته خالي خانې ډکوي .
* ښوونکی لاندې شکلونه په توره تخته رسموي .
* په همدې طريقه لاندې نيو رسمونو سره کار ته دوام ورکول

□ + □ + □ = □ + □ = □

* په توره تخته د يو څو سوالونو حلول، لکه :

۱۲۴ + ۷ + ۶ = ، ۷۲۰۰ + ۶۰۰ = ۸۰۰

(+) + □ = □ + (+) = □

* د ۵۰ مخ په ⑦ مشق کار کول ، په مثالونو بحث کول ، د دوو لومړنيو کتارونو سوالونه حلول (۶ سوالونه)

۴. په ټولګي کې د پټې خولې کار / کورنی کار :

د ۵۰ مخ د ⑦ مشق ۳ وروستي سوالونه

۴

① د هر چوکاټ د کاپو شمیر معلوم کړئ او په خالي خانونکي یې ولیکئ:

② د ۱۰ په قدم شمیر وکړئ او عددونه په خالي بکسونو کې ولیکئ:

۵۱۰					۵۵۰			۵۸۰	۶۰۰
				۷۳۰	۷۵۰			۷۸۰	
۹۲۰				۹۶۰					

③ د یو په قدم شمیر وکړئ او عددونه په بکسونو کې ولیکئ:

۱۳۱	۱۳۲								۱۴۲
۲۶۴									۲۷۵
۲۶۷									۲۷۸
۴۷۳									۴۸۴

۴ مخ ـ لومړۍ لوست
په سلیزونو او لسیزونو کار کول

درسي معلومات : د سلو او لسوکانو لس لس کڅوړې

۱. ذهني روزنه :

- د پورې لسیزونو جمع کول لکه :

۱۰ + ۱۱ =	۱۰ + ۲۵ =	۱۲۵ + ۱۰ =
۱۰ + ۲۱ =	۱۰ + ۴۵ =	۲۴۵ + ۱۰ =
۱۰ + ۳۱ =	۱۰ + ۶۵ =	۳۶۵ + ۱۰ =

- د ۱۰ سره ضرب :

شوونکی په توره تخته داسې لیکي .



شوونکی پورتنی عمل داسې تشریح کوي چې هغه پرته د ترتیب څخه عددونو ته اشاره کوي او زده کوونکي به هغه عدد د ۱۰ سره ضربوي (عددونو ته باید د یوې وقفې څخه وروسته اشاره وشي).

- شوونکی یو عدد لکه ۳۰۰ په توره تخته لیکي، یو زده کوونکی به په توره تخته په صحیح تعداد د سلیزونو بکسې جوړوي . لکه :

۱۰۰	۱۰۰	۱۰۰	= ۳۰۰

- په نورو پوره سلیزونو په همدې ډول د کار جاري ساتل، لکه : ۴۰۰ ، ۶۰۰ ، ۸۰۰
- زده کوونکي به تر ۱۰۰۰ پورې د ۱۰۰ په قدم مخ په وړاندې او مخ په شا شمېر کوي .
- د کورني کار کتنه او مقایسه کول

۲. سلیزونو او لسیزونو سره کار کول :

- د کاپو د کڅوړو په واسطه د ۱۰۰ څخه تر ۲۰۰ پورې د لسیزونو جمع کول
- شوونکی زده کوونکو ته لاړښوونه کوي چې هرځلې د لسو لسو کاپو کڅوړې د سلو کاپو د کڅوړې سره پرمېز باندې په عملي ډول یوځای (جمع) کړي او مربوطه مساوات په توره تخته ولیکي.

پرمېز باندې	پر توره تخته
۱۰۰ ۱۰	۱۰۰ + ۱۰ = ۱۱۰
۱۰۰ ۱۰ ۱۰	۱۰۰ + ۱۰ + ۱۰ = ۱۲۰
او داسې نور....	۱۰۰ + ۱۰ + ۱۰ + ... + ۱۰ = ۲۰۰

- د بل پوړه سلیز مثلاً ۴۰۰ څخه شروع او د پورتنیو قدمونو تکرارول
- شوونکی یا زده کوونکي مختلف تعداد د لسو او د سلو کاپو کڅوړې پرمېز باندې وړدي . نور زده کوونکي به یې شمېري او صحیح عدد یې په توره تخته لیکي .

لکه : ۴۳۰ ، ۳۵۰ ، ۷۸۰ ، ۵۲۰

- د ۴ مخ د ① مشق تشریح کول ، ځانله ځانله حلول ، د ځوابونو کتنه

۴. په ټولګي کې د پښتې خولې کار / کورنی کار :

۴ مخ ② مشق

د افغان مهاجرینو کمشنر

– د ښوونې او روزنې څانګه –

د ښوونکو لارښود

ریاضي

د دریم ټولګي دپاره



د افغاني مهاجرینو دپاره لومړني تعلیمات

۱۹۹۳

د افغان مهاجرینو کمشنر

– د ښوونې او روزنې څانګه –

د. ښوونکو لارښود

ریاضي

د دریم ټولګي دپاره



۱۹۹۳

د افغاني مهاجرینو دپاره لومړني تعلیمات

بسم الله الرحمٰن الرحيم ط